

# داسې ووېل زردشت

Ketabton.com

## د ټولو او هېچا لپاره یو کتاب

لیکوال فرید رېش نېچه

ژباړن: فرید مړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست


د زردشت مقدماتي وينا ............ 1

د روح د دريو استحالو په اړه ............ 13

د تقوا د چوکيو په اړه ............ 14

هغوی چه په بله نړۍ کې ژوندکوي ............ 16

له جسمه د تېښته کوونکو په اړه ............ 18

د خوندونو او شهوتونو په هکله ............ 19

د لوستلو او ليکلو په اړه ............ 22

په غونډۍ ونه ............ 24

د مرګ د واعظانو په اړه ............ 26

د شخړې او شخړه کوونکو په اړه ............ 27

د نوي بت په اړه ............ 29

د بازار د منګسو په هکله ............ 31

د پاک لمنۍ په اړه ............ 33

د دوست په اړه ............ 34

د يو زره او يوې موخې په اړه ............ 36

دګاونډې سره د مينې په اړه ............ 38

د خلق کوونکي د لارې په اړه ............ 39

د ځوانو او زړو ښځو په اړه ............ 41

دکېچه مار د چيچ په اړه ............ 43

د هلک او واده په هکله ............ 44

د آزادې مړينې په اړه ............ 45

د ببښونکي د فضيلت په اړه ............ 48

ماشوم او هېنداره ............ 53

د زړه وړونکو جزيرو په اړه ............ 55

(c) ketabton.com: The Digital Library


د رحیم په اړه..................................................... 57
دکشیشانو په اړه..................................................... 59
د پرهېزګارانو په اړه..................................................... 61
د اوباش په اړه..................................................... 63
د تارانتولا په اړه..................................................... 65
د مشهورو پوهانو په اړه..................................................... 68
د شپې سندره..................................................... 70
دګډا غږ..................................................... 72
د هدیرې غږ..................................................... 74
پر نفس د غلبې په اړه..................................................... 76
د عالي رتبه کسانو په اړه..................................................... 79
د تعلیمي او فرهنګي سیمې په اړه..................................................... 80
د سپېڅلي درک په اړه..................................................... 82
د پوهانو په هکله..................................................... 85
د شاعرانو په اړه..................................................... 86
د مهمو پېښو په هکله..................................................... 89
فالګیر..................................................... 92
د خلاصون په اړه..................................................... 95
د نارینه اختیار په هکله..................................................... 98
تر ټولو آرام ساعتونه..................................................... 101
لالهانده خلک..................................................... 105
د معما او خوب په اړه..................................................... 107
د ناطلبه نېکبختۍ په هکله..................................................... 111
له لمر ختو مخکې..................................................... 114
د نقص منونکې تقوا په اړه..................................................... 116
د زیتون غره په څوکو..................................................... 121

(c) ketabton.com: The Digital Library


د تېرېدو په اړه........................................................................................................ 123

د مرتدو په هکله ...................................................................................................... 125

ببرته کورته راګرځېدنه............................................................................................... 128

د دريو بديو په اړه ..................................................................................................... 131

د ثقل د روح په اړه .................................................................................................... 135

نوي او زاړه جدولونه.................................................................................................. 138

مخ په روغېدو ناروغ.................................................................................................. 153

ستره لېوالتيا ........................................................................................................... 158

دګډا دوهم غبر.......................................................................................................... 160

اووه ګوتيې (يا د هو او آمين سندر).............................................................................. 163

د شاتو فديه............................................................................................................. 168

د زارۍ غبر .............................................................................................................. 170

له پاچاهانو سره مرکه................................................................................................ 173

وينې زبېښونکې چينجی.............................................................................................. 176

کوډګر ..................................................................................................................... 179

بېکار....................................................................................................................... 186

تر ټولو پست سړی..................................................................................................... 189

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړۍ برخه

## د زردشت مقدماتي وینا

د ستر او اخري سړي په اړه

۱

کله چه زردشت دېرش کلن وو، د سیند خوا کې د اوسېدو ځای یې پرېښود او غرونو ته لاړ. هلته یې لس کاله له خپل یوائیتوب او روحاني حالته خوند واخیست او هیڅ له هغه حالته ستړی نه شو. مګر بلآخره د نوموړي خوښې بدلون ومومند. یوګهیځ د لمر ختو په وخت له خوبه پاڅېد او لمر ته مخامخ ودرید داسې یې ورته ووېل:

"اې لویه ستوریه! هغوي ته چه ته نور ورعطا کوې که نه وای نو ستا نېکبختي به چېرې وای؟
لس کاله کیږي ځان د لوړ ساتلی زما په سومخه ځلیږې، کچېرې زما لپاره زما مار او عقاب نه وای، ته به اوس له خپلې کرې او نور څخه پتنګ شوی وای. هر سهار موږ ستا نور ته انتظار درلود، ستا له نوره مو استفاده کوله او په تا مو درودونه ویل.
افسوس چه زه له خپلې پوهې څخه تنګ راغلی یم، همداسې لکه د شاتو مچۍ چه له حده ډېر شات یې تولیدکړي وي، دې ته اړتیا لرم چه څوک لاس راته ونیسي او هغوی ته یې وروبښم.
هغه څه چه ما راټول کړي په خوښۍ سره به یې وویشم تر څو عاقلان یو ځل بیا له بې عقلۍ خوند واخلي او او غریبان یې بډایۍ ته خوشاله شي. لکه څنګه چه ته اې نور ښبونکیه لمره د شپې له سمندرونو ها خوا ځې او لاندېنۍ نړۍ ته نور ورکوې زه هم باید د درو عمق ته لاړ شم. د هغو خلکو په وینا چه لوري ته یې روان یم، زه هم باید ښکته لاړ شم.

پدې اساس ته، اې آرامې سترګې چه کولای شې بې له کېنې او افسوسه سترو سترو نېکبختیو ته نظر وکړې برکت راکړه ! برکت راکړه، هغه پیاله چه تر څنډو ډکه شوېده او د تویېدو په حال کې ده پرېږده چه اوبه یې زریني شي او له ځانه سره ستا د برکت آیت ولري. افسوس! چه دا جام به بیا خالي شي او زردشت به بیا عادي سړی شي"

پدې ډول د زردشت ښکته راتلل پیل شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲

زردشت د غره له لمنې ښکته راغی خو هېڅوک یې ونه لیدل، کله چې ځنګله ته ورسېد ناڅاپه یې بوډا سړی
ولید چه د لرګیو ټولولو لپاره د خپل اوسېدو ځای څخه بېرون راغلی وو او نوموړي ته یې ووېل:
"زما په نظر دا بې موخې مسافر ناآشنا ندی، کلونه مخکې په همدې لاره تېر شوی وو، نوم یې زردشت وو
مګر اوس هغه بدلون موندلی دی. هغه وخت، تا خپلې ایرې غرونو ته وړې او اوس خپل اور درو او جلګو
ته وړې. مګر د اور سوزېدنې له بدې پایلې نه وېرېږې؟ پوهېږم چه ته زردشت یې؛ د زردشت سترګې ړندې
ندي اوکینه د هغه خوله نه چټلوي. هغه د رقاصو پشان درو ته نه ځي او د نورو ساز ته نه ګډېږي.

زردشت تغیرکړی دی، زردشت لکه ماشوم داسې شوی، زردشت ویښ شویدی. اوس د ویدو په منځ کې څه
کوې؟
په یواځېتوب سره به د په سمندرکې ژوندکولو او سمندر ساتلې. افسوس! اوس اراده لرې چه وچې ته لاړ
شې، غواړې د دوهم ځل لپار د جسد بار په اوږو یوسې؟"

زردشت ځواب ورکړ: "زه له بشر سره مینه لرم!"
زاهد ووېل: "څه فکرکوې چه زه ولې دې ګڼو ونو او ځنګلي ځای ته راغلی یم؟ آیا لدې امله نه چه له
انسانانو سره له حده ډېره مینه لرم؟
اوس له خدای سره مینه لرم او بشر مې نور د خوښې وړ ندی. زما په نظر بشر ناقص دی بشپړ ندی او له
هغوی سره مینه زما د نابودۍ او بربادۍ سبب کېږي."
زردشت په ځواب کې ووېل: "ما له مینې څه ندي ویلي، زه د بشر لپاره ډالۍ لرم."
زاهد ووېل: "هغوی ته څه مه ورکوه مګر ترې وایې خله او په نقل کې یې ورسره مرسته وکړه! پدې ډول
سره هغوی ته ستر خدمت کولی شې اوکېدای شي ستا په کار هم راشي مګر که د غوښتل هغوی ته کوم څه
ورکړې صدقه ورکړه او پرېږده چه هغه هم په عاجزۍ اوګدایۍ سره له تا وغواړي."

زردشت ووېل: "زه صدقه نه ورکوم، ځکه دومره نه یم فقیر شوی چه داسې کار وکړم."
زاهد د زردشت خبرې ته وخندل او ووېل: "بیا نو هڅه وکړه چه ستا خزانه قبوله کړي ځکه هغوی د زاهدانو
او منزویانو څخه په تېښته کې دي او باور نه کوي چه موږ د څه ورکولو (ښښلو) لپاره راغلي یو.
د دوی په غوږونوکې زموږ قدمونه د ښار په کوڅوکې ډېر یواځې غږ لري. بلکل لکه کله چه په پخه شپه کې
دوی پخپلو تختونوکې ویده وي، د پښو غږ واوري او له ځانه سره وایي: غله چېرته ځي؟ د خلکو اړخ ته مه
ځه په همدې ځنګله کې پاتې شه! د وحشیانو په طرف تګ ته غوره والی ورکوې؟ ولې نه غواړې زما پشان

(c) ketabton.com: The Digital Library

شې؛ یعني د خرسانو په منځ کې خرس او د مرغانو په منځ کې مرغه؟ "
زردشت وپوښتل: "زاهد پدې ځنګله کې څه کوي؟"
زاهد ځواب ورکړ: "ما سندرې جوړې کړېدي او هغه وایم او د دې سندرو په جوړولو سره خاندم، ژاړم، بدلې وایم او پدې ډول د خدای ستاینه کوم. هو، په سندرو ویلو، ژړلو، خندلو خپل خدای ستایم. اما ته زموږ لپاره څه ډالۍ لرې؟"
زردشت چه دا توري واورېدل په زاهد یې درود ووېل او اضافه یې کړه: "زه تا ته څه ډالۍ کولی شم؟ هر څومره زر چه کیږي باید لدې ځایه لاړ شم هسې نه له تا کوم څیز واخلم."
پدې ډول سره زردشت او بوډا سړی په خنداګانو د ماشومانو په څېر له یو بله بېل شول. کله چه زردشت یواځې شو نو په زړه کې یې داسې ووېل: "آیا داسې کوم څیز امکان لري! دا بوډا زاهد پخپل ځنګله کې تر اوسه ندي اورېدلي چه خدای مړ دی."

## ۳

کله چه زردشت ځنګله ته نیږدې ښار ته ورسېد د خلکو یوه ډله یې ولیده چه په بازار کې راټوله شوې وه. ځکه ویل کېدل چه ډېر زر به د رسۍ لوبې نمایش پیل شي او زردشت خلکو ته داسې ووېل: "زه تاسو ته (ستر سړی) تدریسوم. انسان داسې موجود دی چه باید لوړتیا ومومي. تاسو لوړتیا لپاره څه قدم پورته کړی دی."
هر موجود تر دې دمه له خپل ځانه مافوق شی پیدا کړي، آیا تاسو غواړئ د دې حرکت برخه واوسئ اوکه غواړئ چه بېرته د بربریت په لور وګرځئ؟
د بیزو له انسان سره څه نسبت دی؟ یو ریشخند یا یو سپک او یو شرمېدلی موجود، زه تاسو ته وایم چه د بشر نسبت به له ستر سړي سره همداسې وي. تاسو له چینجن حالته انساني حالت ته رسیدلې یاست او تر دې دمه ستاسو ډېر ترکیبات په چینجن حالت کې باقي پاتې دي. یو وخت تاسو بیزوګان واست او همدا اوس هم هر انسان له بیزو ډېر بیزو دی.
مګر ستاسو په منځ کې تر ټولو عاقل کسان د نباتاتو او پېریانو تر منځ فاصل حد دی. زه تاسو ته وایم یا د پیري په صورت راشئ او یا هم د نباتاتو!
ستر سړی، د ځمکې معنی او مفهوم دی پرېږدئ چه ستاسو اراده ووایي: "ستر سړی به د ځمکې په معنی وي"
اې زما ورونړو! زه له تاسو غوښتنه کوم، د ځمکې په مقابل کې وفادار اوسئ او د هغو په قول چه د ځمکې ماورا په تاسو کې پوکوي باور نه لرئ. هغه په پوهه یا ناپوهۍ مسمومونکي دي، هغوی د ژوندون

(c) ketabton.com: The Digital Library

محکوموونکي دي. پخپله مړه او مسموم دي او ځمکه د هغوی له شتونه بېزاره ده، هغوی له ځانه وترټېږ.
یو وخت وو، پر خدای کفر له غټو ګناهونو څخه وو مګر خدای مړ دی. لدې امله دا کفرونه هم مړه دي. د نن ورځې غټې ګناوې ځمکې ته بې احترامې، ناوفاداري، او ځمکې ته د غوره والي مفهوم نه ورکول دي.
یو وخت وو چه روح جسم ته په سپک نظرکتل؛ په هغه وخت کې تر ټولو لویه موخه همدا د جسم تحقیر د روح په مقابل کې وه. روح جسم کمزوری، بد او وږی غوښتا، لدې امله روح غوښتل ځان د بدن او ځمکې د تیارو له بنده خلاص کړي. افسوس چه روح پخپله کمزوری، وږی او بد وو او د هغه خوند په بې رحمۍ کې وو. مګر تاسې، اې ورونو! ما ته ووایاست: بدن مو ستاسو د روح په اړه څه وایي؟ آیا ستاسو روح له فقر، چټلۍ اوکرکه راړونکې آرامۍ څخه ندی ډک؟
حقیقت دا دی چه بشر د چټلو اوبو د ویالې پشان دی. شخص باید اقیانوس واوسي تر څو، کله چه چټله ویاله ورسره یو ځای کیږي په ځان کې ورکه کړي.
هوښیار اوسئ! زه "ستر سړی" تاسو ته تدریسوم! هغه داسې لوی اقیانوس دی چه ستاسو عظیمه کرکه به پکې غرقه شي.
تر ټولو لوی څیز چه کېدای شي تاسو یې تجربه کړئ څه شی دي؟
"هغه د غټې کرکې ساعت دی." داسې ساعت دی چه په هغه کې تاسې حتی له خپلو نېکبختیو، نېکیو او عقل څخه کرکه کوئ.
هغه ساعت دی چه تاسو پکې وایاست: "زما نېکبختي څه ارزښت لري؟ زما نېکبختي فقر، چټلي او کرکه راوړونکې آرامي ده او زما نېکبختي باید خپل شتون اثبات کړي."
هغه ساعت دی چه پکې وایاست: "زما عقل څه ارزښت لري؟ آیا هغه له پوهې سره دومره علاقه لري لکه زمری یې چه له خپل ښکار سره لري؟ دا عقل، فقر، کثافت او نفرت راوړنکې آرامي ده."
دې ساعت کې تاسو وایاست: "زما پرهېزګاري څه ارزښت لري؟ هېڅکله یې غوصې ته نه یم اړ کړی. زه څومره له ښو او بدو پتنګ شوی یم! دا ټول الفاظ په ښو او بدو پورې اړوند بې له فقر، چټلۍ اوکرکه راوړنکې آرامۍ څخه بل هېڅ ندي."
هغه ساعت دی چه تاسو پکې وایاست: "زما عدالت څه ارزښت لري؟ زه پخپل ځان کې ګرمي او تودوخه نه حس کوم؛ پداسې حال کې چه عادل کس شغلې لرونکی اور وی."
پدې ساعت کې تاسو وایاست: "زما ترحم څه ارزښت لري؟ آیا ترحم هغه صلیب ندی چه د بشر مینوال پرې مېخ شویدي؟ مګر زما ترحم صلیب کښل ندي."
آیا تر دې دمه تاسو داسې ویلي؟ آیا تر دې دمه مو داسې ژړلي؟ کاشکې ستاسو دا فریادونه او ژړاوې مې اورېدلې وای. یواځې ستاسو ګناه نده چه د عرش په لور فریادونه او ژړاوې کوئ بلکه ستاسو کفایت او بخل

(c) ketabton.com: The Digital Library

حتی په ګناه اخته دي چه د عرش په لوري فريادونه کوئ.
چېرته دی هغه تندر چه تاسو پخپله ژبه وڅټي؟ چېرته دی هغه لېونتوب چه تاسو مسخره کړي؟ هوښيار اوسئ
زه تاسو ته "ستر سړی" تدريسوم: هغه همدا تندر او لېونتوب دی.
کله چه زردشت داسې ووېل، يو نفر چيغې کړې: "موږ په بشپړ ډول سره پدې باره کې اورېدلي، اوس پرېږده
چه هغه پخپلو سترګو ووينو." ټولو خلکو زردشت مسخره کړ او پورې وېې خندل. پدې وخت کې د رسۍ
لوبې لوبغاړي چه وليدل خلک يې د ليدو لېواله دي پخپل کار بوخت شول.

۴

زردشت چه خلکو ته کتل حيران پاتې شو او هغه وخت يې داسې ووېل: "بشر هغه طناب دی چه د وحشيانو
او ستر سړي په منځ کې قرار لري. د يوې درې په سر يو طناب دی چه تېرېدل پرې ډېر خطرناک دي، دا لار
خطرناکه او څټ ته کتل هم پکې خطرناک دي، او هر ډول ښويېدنه او درېدنه پدې لاره خطر لري."
د بشر عظمت پدې کې دی چه هغه پل دی نه موخه، کېدای شي د بشر سره لدې امله مينه وکړو چه د بدلون
يوه مرحله او يوه تېرېدونکې دوره. زه له هغوی سره مينه لرم چه يواځې د نزول لپاره ژوندکوي ځکه هغوی
پورته تلونکي دي. زه له هغوی سره مينه لرم چه ډېر په سختۍ سره شيان مسخره کوي ځکه هغوی تر ټولو
لوی عبادت کوونکي دي. هغوی مقابل لوري ساحل ته لېواله او بې تلوسې غشي دي.
زه له هغوی سره مينه لرم چه د ستورو پلټنه د ځان د قربانۍ او خدای لپاره نه کوي بلکه ځانونه له ځمکې
قربانوي، پرېږده چه ځمکه وروسته په ستر سړي پورې اړونده شي.
زه له هغه چا سره مينه لرم چه د پوهې امرکوي او غواړي پوه شي تر څو په راتلونکي کې ستر سړی ژوند
وکړای شي ځکه هغه پدې ډول سره د خپل نزول غوښتونکی دی. زه له هغو سره مينه لرم چه کارکوي او
غواړي ستر سړي ته کور، ځمکه، وحشيان او نباتات برابرکړي. ځکه هغه پدې توګه د ښکته راتلو غوښتونکی
دی.
زه د داسې چا سره مينه لرم چه له خپل فضيلت سره مينه لري؛ ځکه فضيلت د نزول لپاره اراده او يو لېواله يا
تلوسه ناک غشي څخه عبارت دی.
زه له داسې چا سره مينه لرم چه له خپل روحه د ځان لپاره هېڅ برخه نه غواړي بلکه اراده کوي چه په بشپړ
ډول سره د خپل روح فضيلت و اوسي او پدې ډول روحا له پله تېرېږي. زه له هغه چا سره مينه لرم چه پخپل
فضيلت د ځان لېوالتيا او برخليک ټاکي. ځکه هغه وخت پخپل فضيلت د ژوند د ادامې او يا پای لپاره
تصميم نيسي.
زه له هغو چا سره مينه لرم چه له ډېرو نېکيو سره علاقه ونلري. يوه نيکي له دوو نېکيو څخه غوره ده ځکه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

برخلیک د ځوړندکولو لپاره لویه ګناه ده. زه له هغو سره مینه لرم چه روح یې خپله بشپړ وي، نه د چا مننې ته اړ وي او نه یې هم د بیان ځکه هغه تل ورکول کوي او هېڅ له ځانه سره نه ساتي. زه د هغو سره مینه لرم، چه د لوبې وخت کې کله د لوبې فال د دوی په ګټه تمام شي نو شرمېږي او له ځانه پوښتي: "آیا ما په لوبه کې تقلب کړی؟" ځکه نابودۍ ته مایل دي.

زه له هغوی سره مینه لرم چه زرینې کلمې د خپلو عمالو په مخ کې شیندي او مخکې لدې چه وعده وکړي عمل کوي ځکه هغوی په خپله نابودۍ او نزول پسې دي. زه له هغو سره مینه لرم چه د راتلونکو نسلونو حقانیت مسلم او د تېرو نسلونوکړنې جبران کوي ځکه هغوی اراده کړې چه د حاضر نسل په وسیله پناه شي.

زه له داسې چا سره مینه لرم چه خپل خدای غندي ځکه د خپل خدای پیروي کوي. دوی باید د خپل خدای په غوصې سره نابود شي.

له هغوی سره مینه لرم چه روح یې عمیق دی حتی د ټپي کېدو او جزوي سکالو لپاره کېدای شي هغه نابود کړي ځکه هغوی په خپله غوښتنه سره له پله تېرېږي. زه له هغو خلکو سره مینه لرم چه روح یې ډک دی، پداسې ډول چه خپل ځان هېروي او ټول څیزونه د هغو په ضمیرکې دي. ځکه ټول څیزونه د هغو د نزول سبب کیږي.

زه په هغو خلکو مین یم چه د آزادۍ فکر او زړه لري، ځکه د هغو ماغزه د زړه کولمې دي او د هغو زړه نوموړی د نابودۍ په لورکشوي. زه له ټولو هغو سره چه له تورې وربځې څخه د باران د درندو څاڅکو پشان یو بل پسې را څاځي مینه لرم، هغوی د تندر د راتلو زېری کوي او همدارنګه استازي نابودوي.

هوښیار اوسئ! زه له هغو وربځو څخه چه په بشر سیوری کوي د تندر استازی او د تېز باران دروند څاڅکی یم. مګر هغه تندر چه زه یې استازی یم (ستر سړی) دی.

۵

کله چه زردشت دا خبرې وکړې د دوهم ځل لپاره یې خلکو ته وکتل چوپتیا یې غوره کړه او په زړه کې یې ووېل: "دوی ولاړ دي او خاندي. زما خبرې نشي درک کولای. زه د دوی د غوږو لپاره وړ خوله نه یم. آیا د دوی غوږونه باید له منځه لاړ شي تر څو په سترګو اوربدل زده کړي؟ دوی کوم څیز لري چه ډېر پرې ویاړي. هغه څیز ته یې څه نوم ورکړی؟ هغه ته یې د زدکړې نوم ورکړی، همدا څیز د شپنو او ځان په منځ کې توپیرګني.

لدې امله یې نه خوښېږي چه د ځان باره کې سپکې خبرې واوري ځکه خو باید زه د دوی غرور او تکبر تر پوښتنې لاندې راولم. لدې امله به زه له دوی سره د ډېر پست مخلوق یعني (آخري سړي) په اړه خبرې وکړم."

(c) ketabton.com: The Digital Library

او زردشت خلکو ته داسې ووېل: "د دې وخت رارسېدلی چه بشر خپله موخه وټاکي. هغه وخت رارسېدلی چه بشر يې د ډېرو لوړو هيلو تخم وشيندي. د دوی ځمکې تر دې دمه ډېرې حاصلخېزه دي. اما داسې وخت هم راتلونکی دی چه د دوی ځمکې به شنډې او بې ثمره شي او نور به له مېوو ډکې ونې پکې وده ونکړي.

افسوس! داسې وخت به هم راشي چه بشر د خپلو هيلو غشی له بشر څخه لرې نشي وارتيګلی او داسې وخت راتلونکی دی چه د ليندۍ ګټه به هېره کړي. زه تاسو ته وايم: "بشر بايد پخپل ځان کې تلاطم او دوه رنګي ولري تر څو د يو ستوري موجد ژوندی شي." زه تاسو ته وايم چه همدا اوس ستاسو وجود کې تلاطم او دوه رنګي شتون لري.

افسوس داسې ورځ به هم راشي چه بشر به نور د ستورو په اېجادولو قادر نه وي. افسوس! داسې ورځ هم راتلونکې ده چه تر ټولو پست انسان به د ځان په نسبت دکرکې احساس ونکړي!

هوښيار اوسئ! زه تاسو ته اخري سړی يا آخري بشر ښايم.

مينه څه ده؟ خلقت څشی دی؟ لېوالتيا څه؟ ستوری څه دی؟ دا هغه څيزونه دي چه اخري بشر له ځانه پوښتي او سترګک وهي.

هغه وخت دی چه ځمکه کوچينۍ کيږي، پر مخ به يې اخري سړی ټوپونه وهي او له همدې امله ټول څيزونه کوچيني کوي. د هغه د نژاد ورک کول به لکه د خاورينوګونګټو د نسل له منځه وړل ډېر ستونزمن وي. د آخري بشر عمر به له اوسني بشر څخه اوږد وي.

اخري بشر ځانته وايي: "موږ نېکبختي موندلې او سترګک به وهي."

دې خلکو هغه ځمکې پرېښې چه ژوندون پکې ستونزمن وو ځکه تودوخه د ژوند لپاره اړينه ده. پداسې حال کې چه تر اوسه بشر له خپل ګاونډي سره مينه لري او مکرر ورسره په اړيکه کې دی، ځکه باور لري چه بايد ګرم و اوسي.

هغوی خفګان او بې باوري ګناه بولي او ډېر محطاط په مخ ځي. څوک چه پر سپي يا انسان په بې احتياطۍ سره کار ولري احمق يې بولي. کله ناکله يوه اندازه زهر اړين دي ځکه د خوندورو خوبونو سبب کيږي او د کار په آخرکې بايد ډېر زهر استعمال شي تر څو روح بايلل په آرامۍ سره ترسره شي. تر اوسه هغوی کارکوي ځکه کار د وخت تېرولو وسيله ده. مګر پدې چورت کې دي هسې نه چه دا تفريح د دوی د ملامتېدو باعث شي.

هغوی به نور نه بډای او نه هم فقير شي ځکه دا دواړه د زحمت باعث ګڼي. هېڅوک پر نورو د حکومت کولو لېوالتيا نه لري او څوک به د پيروۍ ولري؟ دواړه د زحمت سببونه دي. نه شپون شته او نه هم غټه رمه، ټول خلک يو شان اراده لري او يو له بل سره مشابه دي. هغه څوک چه ځان د نورو پشان نه ويني دواطلبانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دارالمجانین ته ځي.
دا پرمختللي کسان سترګک وهي او وايي: "یو وخت وو چه ټوله نړۍ لېونۍ وه."
هغوی هوښیار دي او هغه څه چه پېښ شوي ترې خبر دي ځکه خو یې تمسخر انتها نه لري. اوس هم شخړې کوي مګر زر تر زره یو له بل سره سوله کوي تر څو حال یې خراب نشي. اخري بشر وايي: "نېکبختي موکشف کړې او سترګک وهي."
او پدې ځای کې د زردشت لومړنی نطق چه نوم یې مقدمه دی پای ته رسي ځکه پدې وخت کې د خلکو د خوښیو غبړ د نوموړي خبرې پرې کړې. خلکو چیغې وهې: "زردشته! موږ ته د همدې اخري سړي په اړه ووایه او موږ د هغه پشان کړه! ستر سړی د ستا وي" ټولو خلکو خوشالي وکړه اما زردشت غمجن شو او له ځانه سره یې ووېل:
"دوی زما په خبرو نه پوهېږي، زه د دوی د غوږونو لپاره مناسبه خوله نه یم. ځکه ډېر وخت مې په غرونوکې تېرکړی ونو او ویالو ته مې غوږ نیولی. اوس زما خبرې دوی ته د شپانه له خبرو سره ورته والی لري. زما روح همداسې آرام او روښانه دی لکه د نیمې ورځې غرنۍ سیمه خو دوی ته آرام نه ښکارم او داسې اندي چه شوخي او ټوکې کوم.
وګورئ دوی ما ته څرنګه ګوري او خاندي، کله چه خاندي له ما څخه کرکه هم لري! خنداوې یې منجمدې دي."

۶

یو ناڅاپه څه پېښ شول ټول خلک چوپ او په ځیر شول. پدې وخت کې د رسۍ لوبې کوونکي په لوبه پیل وکړ. نوموړی له واړه وره څخه د هغه طناب پر مخ قدم وهل پیل کړل کوم چه دوه برجونه یې سره نښلول او د خلکو په سر په بازارکې په لاړ تلا. کله چه نوموړی د طناب نیمایي ته ورسېدکوچینی ور بیا خلاص شو او بل لوبغاړی په مسخره جاموکې رابېرون شو. هغه په تېزو قدمونو سره د لومړي لوبغاړي په طرف راغی او ورته ووېل: "لېږ وښوره او تېز لاړ شه ای شله او ټنبله کنه زه به د پخپلو پښو تېل وهم. ته د دې دوه برجو په منځ کې څه کوې؟ ستا ځای د برج په داخل کې دی. ته باید زندان ته واچول شې ځکه هغوی چه له تا غوره دي لار ورته بندوې." په هر خبره سره دا لوبغاړی لومړني لوبغاړي ته نیږدې کېدا. یو وخت ډېر ورنیږدې شو او داسې پېښه رامنځته شوه چه د ټولو خولې او سترګې خلاصې پاتې شوې ځکه دوهم لوبغاړي په آخري قدم کې له لومړي لوبغاړي ټوپ کړل. کله چه لومړني لوبغاړي دا خپل حریف بریا ولیده نو ځان ترې ورک شو پښه یې له طنابه وښوېېده او د تعادل لرګی یې له لاسو ولوېد او له لرګي څخه تېز لوبغاړی څرخنده د ځمکې په طرف را ولوېد. د بازار او خلکو حالت د توپاني سمندر پشان شو هر چا تېښته کوله او

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځنګ نفر يې تر پښو لاندې کولو په ځانګړي ډول سره د هغه ځای خلکوکوم چه د لوبغاړي جسد پکې راپرېوتی وو.
مګر زردشت له هغه ځايه هېڅ بې ځايه نشو بلآخره جسد هم نوموړي ته نيږدې په ځمکه ولوېد. پداسې حال کې چه ټول له بينه تللی وو او له انساني حالته بهر شوی وو خو تر دې دمه روح پکې وو. له لږ وخت وروسته ټپي شوی کس په هوش راغی او زردشت يې پداسې حال کې وليد چه نوموړي ته په ګونډو شوی وو. له هغو يې تپوس وکړ: "ته دلته څه کوې؟ زه پوهېدم چه شيطان به مې آخر راغورځوي. کېدای شي اوس مې هغه دوزخ ته يوسي. آيا ته به يې مخنيوی وکړې؟"
زردشت ځواب ورکړ: "اې ملګريه! زما په شرافت د قسم وي هغه څه چه ته يې يادوې شتون نه لري. نه شيطان شته او نه هم دوزخ. روح دکېدای شي له جسده مخکې مړ شي نو له همدې امله نور له هېڅ شي مه وېرېږه."
سړي په شکمن ډول سره زردشت ته وکتل او ووېل: "هغه څه چې وايې که چېرې حقيقت وي ما بې له ژونده بل هېڅ باارزښته شی له لاسه ندي ورکړي. زه بې له هغه حيوانه چه په طناب تلل اوګډا يې زده کړي وي بل هېڅ څيز نه يم."

زردشت ووېل: "نه! داسې نده. تا خطر خپل کسب ګڼلی دی او پدې کې هېڅ عيب نشته. اوس ته د خپل ټاکل شوي کسب په وسيله روح له لاسه ورکوې نو لدې امله به زه تا پخپلو لاسونو خاورو ته وسپارم."
کله چه زردشت دا خبرې وکړې؛ سړي ځانګړی ځواب ورنکړ مګر لاس يې وخوځاوه. لکه چه غوښتل يې د زردشت لاس پيدا کړي او مننه ترې وکړي.
په همدې وخت کې شپه راغله او بازار په تيارو کې ډوب شو؛ خلک تيت شول څکه دکنجکاوۍ او وحشت په حس کې ټول غرق وو خو زردشت د جسد سره پاتې شو. له وخته بې خبره په يوه نړۍ اندونوکې ډوب وو او يخ باد پدې يواځې کس لګېدو. دې وخت کې چه زردشت جګ شو او ووېل: "په ريښتيا چه زردشت نن ښه ښکار وکړ د يو سړي په عوض کې يې يو جسد تر لاسه کړ."
د بشر ژوند عجيبه دی هېڅ منطق پکې شتون نه لري. يوه بې ارزښته شوخي کېدای شي د هغوی د پناه کېدو سبب شي. زه به خلکو ته دوی د شتون معنا ، يعني (ستر سړی) چه تندر دی او له تورو ورېځو څخه راښکته کېږي تدريسوم.
مګر تر دې دمه ډېر لرې يم او زموږ افکار له يو بل سره خبرې نه کوي. د خلکو په نظر زه د يو بې عقل او جسد تر منځ فاصل حد يم. توره شپه ده او د زردشت لارې هم تياره، راځه! اې زما وچ او سوړ ملګريه زه به تا داسې ځای ته يوسم چه وکولای شم تا هلته پخپلو لاسونو خاورو ته وسپارم."

(c) ketabton.com: The Digital Library



پداسې حال کې چه زردشت دا خبرې په خپل زړه کې وېلې جسد يې په اوږو واخيست او په لار روان شو. سل قدمه به نه وو تللی چه څوک غلی نوموړي ته نيږدې شول او ورو يې د ده په غوږ کې خبرې وکړې. زردشت سر پورته کړ او دوهم لوبغاړی يې وليد. هغو ورته ووېل: "زردشته! لدې ښاره لاړ شه، ډېرکسان دلته له تا نفرت کوي. پرهېزګاره او متقي کسان له تا کرکه لري، تا د ځان دوښمن ګڼي او چټل د بولي. معتصب متعقدان هم له تا بېزاره دي او د ټولنې لپاره د لوی خطرګڼي. دا ستا نېکبختي وه چه هغوی تا پورې وخندل، دا ستا بخت وو چه په مسخرو د خبرې وکړې، بخت د وو چه د دې سپي جسد د له ځانه سره واخيست. نن د ځان په سپکولو خلاص کړ. مګر لدې ښاره لاړ شه کنه سبا به د زه پيدا کړم."کله يې چه دا خبرې وکړې نوکس ورک شو.
زردشت په تيارو کوڅوکې خپلې لارې ته ادامه ورکړه.

د ښار له دروازې سره نيږدې د قبرکيندونکو سره مخ شو. هغوی خپل مشالونه د نوموړي مخ ته ونيول او څنګه يې چه هغه وپېژاند ريشخند وهل يې پيل کړل چه: "زردشت مړ سپی په اوږوکړی دی. ښه دي چه زردشت هم بلآخره قبرکن شوی دی ځکه ډېره بده وای که چېرې زموږ لاسونه پداسې جسدککړ شوي وای. آيا زردشت له شيطان څخه د دې مړي د غلا کولو هوډ لري؟ ډېر ښه دا ډوډۍ د تا ته مبارکه وي! مګرکه شيطان دا مړی د زردشت له منګولو واخلي، دواړه غله کړي او وخوري!" په زوره زوره يې وخندل.

زردشت هېڅ ونه وېل او خپلې لارې ته يې ادامه ورکړه. په ځنګله کې له دوه ساعته مزل وروسته يې د ورږو لېوانو غورا واورېده او خپله يې هم د لوږې احساس وکړ. له همدې امله هغه لرې کور ته لاړ چه اور پکې بل وو او داسې يې ووېل: "لوږه لکه غل داسې راباندې راغلې ده. زما لوږې د ځنګلونو او مردارو ډنډونو په عمق کې پر ما بريد وکړ.
زما لوږه عجيبې شوخۍ لري. اغلبا وروسته له ډوډۍ په ما بريدکوي او نن ټوله ورځ د لوږې نښه نه ليدل کېده. چېرته وه زما لوږه؟"
وروسته يې دکور دروازه ټک ټک کړه، سپين ږيری سړی لاس په څراغ راغی او تپوس يې وکړ: "څوک دي چه پدې وخت کې په ما او لعنتي خوب باندې راغلي؟"

زردشت ځواب ورکړ: "يو ژوندی سړی او يو مړ، د خوراک او څښاک کوم څه راکړه ځکه ټوله ورځ مې لوږه او تنده هېره کړې وه چه وايي: "څوک چې وږو ته ډوډۍ ورکوي خپل روح تازه کوي!" بوډا سړی لاړ او له لږ ځنډ وروسته يې لږ څه ډوډۍ او شراب زردشت ته ورکړل او ووېل:"د وږو لپاره بد ځای دی ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مې دلته اوسېدل اختيارکړيدي، حيوان او انسان کله ناکله له لوږې ما ته راځي.خپل ملګري ته هم څه ورکړه چه وخوري او وڅښي ځکه هغه له تا څخه ډېر ژوبل ليدل کيږي." زردشت ځواب ورکړ: "زما ملګری مړ دی او خوراک کول ورته بې امکانه دي." سپين ږيري ووېل: "دا په ما پورې اړه نه لري. هر چا چه زما ور ټک ټک کړ هغه څه چه ورکوم بايد قبول کړي. دارو مو شه!"

دا ځل زردشت دوه ساعته نور مزل وکړ او ځان يې نرۍ لارې او ستورو ته وسپارلو، ځکه د نوموړي شپنی مزل خوښ و او عادت يې درلود چه ټولو موجوداتو ته د خوب په حالت کې وګوري. مګرکله چه ګهيځ شو ځان يې په ځنګله کې پيدا کړ چه د ځنګلي بوټو او ونو له امله هيڅ لاره نه ښکارېده. نوموړي جسد د ونې په يو سوري کې کېښود ځکه د لېوانو په مقابل کې يې د ساتنې مسؤل وو. خپله په شنوکې ځملاست او پداسې حال کې چه ستړکې يې ستړې او روح يې آرام وو درانه خوب يووړ.

٨

زردشت د ډېر وخت لپار ويده شو نه يوازې سهار بلکې غرمه هم په خوب کې پرې تېره شوه. کله چه پاڅېد په حيرانۍ سره يې د ځنګل چوپتيا ته او ځانته وکتل. هغه وخت لکه سمندرګرځېدونکی چه ناڅاپه سپی په اوبوکې ووينې جګ شو او نوی حقيقت يې وليد. په زړه کې يې داسې وېل: "نور پر ما ځلېدلی دی، زه ژونديو ملګرو ته اړ يم نه مړو اجسادو ته چې يوازې جسدونه يې په اوږو نقل کړم.

زه ژونديو ملګرو ته اړتيا لرم تر څو زما اطاعت وکړي ځکه چه د پيروۍ وړتيا په ما کې ويني او هر ځای ته چه د تلو اراده لرم راسره ځي. نور پر ما ځلېدلی دی، نور به زردشت له خلکو سره خبرې ونکړي بلکه له خپلو ملګرو او اصحابو سره به مجلس کوي. زردشت  به د رمې سپی او شپون نه وي.
زه د يوې ډلې خلکو د جذب لپاره راغلی يم، د دې خلکو يوه ډله به غوصه شي زردشت ته به غل او لوټمار ووايي. لوټماران ولې هغوی ځانو ته نېک او پرهېزګاره وايي. وايم رمه مګر هغوی ځانونو ته متعصب متعقدين وايي.
عجيبه ده! دا نېک او پرهېزګاره خلک له هر چا ډېر دکرکې څخه ډک دي؟ له هغوی څخه چه د دوی د ارزښت چوکاټونه ماتوي، يعني د ارزښتونو ماتوونکي او قانون ماتوونکي دي خو همدا کسان نوښتګر (ايجادوونکي) دی.
نوښتګر د ملګرو په لټه کې دی چه په مړو او متعقدو رمو پسې لاړ نشي. نوښتګر د داسې کسانو په لټه کې دی چه لکه دوی نوښت راوړونکي وي او دې ته حاضر وي چه نوي ارزښتونه په نوو چوکاټونوکې رسم کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوښتګر د داسې ملګرو او پلویانو په هڅه کې دی چه له نوموړي سره لو وکړي. ځکه د دوی په نظر ټول ځیزونه رسېدلي او لو ته برابر دي اما دوی په کافي اندازه لرونه نه لري چه وړي راټول کړي لدې امله غوصه دی. نوښتګر د داسې ملګرو په لټه کې دی چه وکولای شي خپل لرونه تېره کړي. دوی به ښه او بد وران کاران وګڼي اما په حقیقت کې دوی لوګري دي.

زردشت د داسې کسانو په لټه کې دی چه له نوموړي سره تخلیق وکړي، له ده سره لو وکړي او له نوموړي سره خوښي وکړي. هغه په رمو او شپنو څه کوي؟ اما ته اې زما لومړنی ملګریه! خدای پامان! ته مې ډېر ښه او له لېوانو څخه پټ په ونه کې خښ کړی یې مګر نور زه باید تا پرېږدم ځکه وخت د تېرېدو په حالت کې دی او نن ما ته نوی حقیقت راڅرګند شوی دی. زه باید لکه شپون او قبرکن داسې نه وم. زه باید له خلکو سره خبرې ونه کړم. ما د اخري ځل لپاره له مړه کس سره خبرې وکړې.

نوښتګر، لوګري او خوښي کوونکي به زما ملګري او یاران وي. د دوی په وسیله زه هغه د بوډۍ ټال ته رسېږم چه له ستر سړي سره وصلېږي. زه مې خپلې سندرې ګوښه ګیرانو یا هغوی ته چه دوه په دوه له خلکو لرې سره تېروي اوروم. د هغوی زړونه چه تر دې دمه یې غوږونه د نه اورېدل شویو ځیزونو اورېدو ته حاضر دي له خپل رحمته ډکوم. زه به خپله موخه پیدا کړم او خپله لاره تعقیبوم. له تاخیرکوونکو څخه به مخکې شم، پرېږده چه زما پرمختګ د هغوی د پناه کېدو سبب شي."

زردشت له ځانه سره داسې ووېل چه لمر د آسمان منځ ته رسېدلی. ناڅاپه یې پورته وکتل ځکه د مرغه لوړ غږ په آسمان کې تر غوږ کېدا. عقاب یې ولید چه په آسمان کې الوت کوي او مار ترې راځړېږي مګر نه د ښکار په ډول بلکه د یو ملګري پشان ځکه مار د مرغه په غاړه کولچه وهلې وه. زردشت ووېل: "دا زما حیوانات دي." او د زړه له تلې خوشاله شو. "ډېر د ویاړ موجودات دي دا عاقلین د ځمکې لیدو لپاره راغلي دي اوس به پوه شي چه زردشت ژوندی دی کنه؟ په ریښتیا هم چه زه تر اوسه ژوندی یم، زه د وحشیانو له منځ څخه د خلکو په منځ کې ډېر خطر تهدیدولم. زردشت په خطرناکه لاره روان دی پرېږدئ چه حیوانات زما لارښوونکي (هادي) و اوسي!"

کله چه زردشت داسې ووېل د هغه زاهد خبرې وریادې شوې چه په ځنګله کې یې لیدلی وو. اوږد آه یې وکړ او له ځانه سره یې ووېل: "کاشکې لدې څخه ډېر عاقل وای! کاکشي د خپل مار پشان بشپړ عاقل وای! مګر زه د بې امکانه ځیز غوښتنه کوم. له همدې امله مې له خپل غروره تقاضا کوم چه له عقل سره مې ملګري وکړي تر څو د اړتیا په وخت کې مې عقل ما پرېږدي. افسوس چه دا عقل تل د تېښتې لېوالتیا لري!

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاشکي غرور مې له احمقتوب سره يو ځای پرواز وکړي."
پدې ډول د زردشت نزول پيل شو.

## د روح د دريو استحالو په اړه:

زه د روح درې استحالې بيانوم چه څرنګه روح په اوښ، وروسته په زمري او بلآخره په ماشوم بدليږي. د روح لپاره بې شميره درانه بارونه شتون لري، همدا چه روح د دې بارونو په وړلو توانا دی د قدر او احترام وړ دی؛ د هغه قوت لدې څخه د داندو بارونو تقاضا کوي. بار وړونکی روح تپوس کوي: "څه شی درانه دي؟" او د اوښ په شان خپې (ګونډو) کيږي دې ته لېواله وي چه سنګين بارونه پرې کيږدو. همدا بار وړونکی روح پوښتي: "اې اتلانو وواياست کوم بار ډېر دروند دی تر څو هغه پخپلو اوږو يوسم او له خپل قوت څخه خوشاله شم؟"

آيا د دې لپاره نه چه ځان پست کړي او خپل عزت خط خط کړي؟ يا خپل بې عقلي نمايش ته کيږدي او خپل عقل مسخره کړي؟ همدا ډول کله چه خپل مقصد ته ورسيږي هر څه پرېږدي؟ يا له لوړو غرونو پورته ځي تر څو ګمراهان امتحان کړي؟ او يا دا چه د بلوطو او وښو په وسيله پوهه تغذيه کړي او د روح د حقيقت په خاطر ځان وږی وساتي؟

يا دا چه د خفګان په وخت کې هغوی ته تسلې ورکوونکي ځواب وکړي او په بدل کې له کڼو خلکو سره د دوستۍ طرحه جوړه کړي تر څو هغوی يې هېڅ وخت غوښتنې ونشی اورېدلی؟ يا دا چه چټلو اوبو ته ځان اچوي (کچېړې د حقيقت اوبه وي) څونګښې او چنجيان له ځانه نه شړي؟ يا آيا دا هغه کسان دي چه له موږ کرکه لري او مونږ ورسره مينه ولرو او خپل لاس هغو ته وغځوو کوم چه زموږ د ډارولو قصد لري؟"

دا ټول درانه بارونه بار وړونکی روح زغمي او په اوږو يې وړي. لکه څنګه چه بار شوی اوښ په بيړه د صحرا لاره نيسي روح هم د خپلې دښتې په طرف بيړه کوي. مګر د صحرا په آرامۍ کې دوهمه استحاله صورت نيسي. هلته روح د زمري په بڼه کيږي او د خپل خوراک په لټه کې کيږي چه آزادي ده او غواړي په دښته کې پخپله خوښه يا خود مختاره فعاليت وکړي. هلته پخپل پخواني ارباب پسې ګرځي او غواړي چه د خپل پخواني خدای ميرڅمن شي او له لوی ښامار سره د آخري فاتح د ټاکنې په خاطر په شخړه شي.

نور روح نه غواړي چه دا لوی ښامار د ځان خدای وګڼي. د دې لوی ښامار نوم (ته بايد) نوم دی مګر د زمري روح وايي: "زه اراده کوم."

"ته بايد" په لاره کې د يو پوښ شوي حيوان پشان پروت دی او لکه طلا ځليږي. د پوښ پر هره ټوټه يې په زرينو تورو د "ته بايد" کلمې ځليږي. د زر کلونو ارزښتونه پدې پوښ باندې ځليږي او له همدې امله تر ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوی ښامار وايي: "د ټولو څیزونو ارزښتونه په ما کې ځليږي. ټول ارزښتونه تر دې دمه منځته راغلي او ټول اېجاد شوي ارزښتونه زه یم. په رېښتیا چه لدې وروسته به د "زه اراده کوم" توري شتون ونلري.
اې وروره! ولې د زمري شتون په روح کې اړین دی؟ او ولې هغه بار وړونکی حیوان چه ټول څیزونه پرېږدي او واړه شیانو ته په احترام قائل دی کافي ندی؟ که څه هم د نوو ارزښتونو په اېجادولو زمری هم قادر ندی اما کولای شي اړینه آزادي د هغې لپاره کسب کړي، د زمري قوت د دې لپاره کافي دی.

اې ورونړو! د ځاني آزادۍ اېجادولو لپاره یو "سپېڅلي نه" ویلو ته اړتیا ده، د دې دندې د انجامولو لپاره په روح کې د زمري غوندې شجاعت ته اړتیا ده. د نوو ارزښتونو د اېجادولو حق تر لاسه کول د متواضع او بار وړونکي روح لپاره ډېر ستونزمن کار دی ځکه په حقیقت کې دا ډول کارونه د لوټمار کارګڼل کیږي او د حیواناتوکار یواځې ښکار دی. یو وخت مو "ته باید" د یوې وحیې پشان ګڼلو او عبادت مو یې کولو اما اوس باید دا وحیې د ظلم او وېرې د تشخیص وحیې وګڼئ تر څو وکولای شو له خپل عشقه ازادي تر لاسه کړئ او د دې کارکولو لپاره د زمري شتون اړین دی.

اې زما ورونړو! وواياست هغه کوم کار دی چه زمری یې په کولو توانا ندی اما ماشوم یې انجامولی شي؟ او ولې باید زمری د ماشوم په بڼه تبدیل شي؟ ماشوم پاک سپېڅلی، هېروونکی، د لوبې نوی پیلوونکی او د یو سپېڅلي هو ویونکی دی. هو ورونړو د لوبې د خلقت لپاره یوه سپېڅلي هو ویونکي ته ضرورت دی.
همدا اوس روح خپله اراده کوي، هغه کس چه جهان یې له لاسه ورکړی خپله نړۍ به پیدا کړي.
ما تاسو ته د روح درۍ استحالې وړاندې کړې چه څرنګه روح په اوښ، وروسته له اوښه په زمري او بلآخره په ماشوم بدلیږي."
داسې ووېل زردشت کله چه په (خالدار غويي) نومي ښارکې ولاړ وو.

## د تقوا د چوکیو په اړه

خلکو د زردشت په وړاندې له یو فاضل واعظ قدرداني وکړه ځکه نوموړي د خوب او غوره تقوا په اړه خبرې کولې او له همدې امله د خلکو د زیات احترام وړګرځېدلی وو او ټول ځوانان له هغه راټول شوي وو.
زردشت هم له ځوانانو سره لاړ او د واعظ خبرو ته غوږ شو او فاضل واعظ داسې ویل:
"د خپل خوب احترام وکړی او له هغوکسان تېښته وکړئ چه بد خوب کوي او د شپې تر ناوخته ویښ پاتیږي! حتی غل هم شرم لري زموږ خوب نه خرابوي په شپه کې تل ورو ورو پټ قدمونه اخلي مګر دا بې سترګو او بې مخه ساتونکي په ډېره بې شرمۍ سره پخپله کړپا زموږ خوب خرابوي. خوب بې مقداره هنر ندی، د دې ارزښت لري چه په ټول عمرکې تر مطالعې لاندې ونیول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ورځ کې باید لس ځله په ځان مسلط شې! دا به ستا لپاره روغه ستړیا برابره کړي او د روح لپاره به دې تریاکو پشان وي. لس ځله باید په ورځ کې له ځانه سره سوله وکړې ځکه فتح تریخوالی منځته راوړي او څوک چه سوله ونکا او ویده شي ښه خوب به ونکړي.
ته باید په ورځ کې لس ځله وخاندې او خوښ و اوسې کنه معده چه د ناروغیو مور ده په شپه کې به د ناراحته کړي؛ هغه خلک چه پدې اړه پوهیږي څومره عجیب دي. یو څوک باید د ټولو ښو ملکیتونو څښتن شي تر څو ښه ویده شي. د دروغو شهادت، زنا او د همسایه ناموس ته کتنه ټول د ښه او آرام خوب سره اړیکه لري. حتي که انسان ټول نیک فضایل ولري بیا هم یو څیز ته کلکه اړتیا لري؛ هغه هم په موقع باندې د ټولو نېکو فضایلو ویده کول دی. کنه دا هم له تا سره د شخړې په حالت کې راتلونکي دي.
آرام خوب حکم کوي چه دګاونډي او خدای سره تل په سوله کې اوسه! حتی دګاونډي د شیطان سره هم په سوله کې اوسه کنه په شپه کې درباندې حمله کوي. د پاچاهانو بشپړ احترام وکړئ حتی که خائن هم وي. آرام خوب دا امرکوي! په ما څه چه قدرت له کوږ لاس سره مینه لري؟

هغه شپون چه خپلې میږې تر ټولو شنې سیمو او چمنونو ته شړي تر ټولو غوره چوپان وګڼه. زه ډېر قدر او سترې سترې خزانې نه غواړم ځکه دا د جسارت سبب کیږي. بلکه هغه سړی چه نیک نوم او جزوي دارایي ونلري هم آرام خوب نشي کولی.
زه له پستوکسانو سره راشه درشه له بدو خلکو څخه غوره ګڼم مګر، دوی هم باید ځانګړی وخت ولري.
دوی هم ښه خوب ته اړ دي. زما بې عقل خلک خوښیږي ځکه هغوی انسانان په خوب وړي، په ځانګړې ډول سره هغه انسانان چه ورته تسلیم شي. پدې ډول سره په متقي شخص ورځ تېرېږي.
د شپې د دې مواظبت کوم چه ویده نشم. خوب چه په ټولو نیکیانو غوره دی احضارول یې مکروه دي. په عوض کې زه د هغه څه په اړه اندم چه په ورځ کې پېښ شویدي او له ځانه په بشپړه حوصله سره پوښتم:
"ستا نني لس فتحې څه وې؟ ستا لس سولې کومې دي؟ لس ریښتیا دکوم دي؟ او هغه لس خنداوې چه زما د خوښۍ سبب شوې کومې دي؟"
پداسې حال کې چه د دې څلوېښتو اندونو په فکرکې وم ناڅاپه ما خوب وړي. هماغه تر ټولو نېکیو غوره بې له ذکرکولو څخه ما تښتوي او له ځانه سره مې وړي. خوب زما په ښو رالوېږي او درنوي یې، زما خوله لمسوي او خلاصه پاتې کیږي.

په ریښتیا هم په بې غږو او ورو قدمونو زما داګران غله راته نیږدې کیږي او زما افکار غله کوي؛ او ما مې لکه د تحریر مېز احمق پخپل ځای پرېږدي. مګر ډېر نه پاتې کیږم زر تر زره غځیږم. کله چه زردشت د واعظ خبرې واورېدې په زړه کې یې وخندل ځکه د غوږ نیولو په وخت کې نوموړي نوی حقیقت کشف کړ او له

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدې امله یې داسې ووېل:

"دا یوه پدې څلوېښتو اندونو سره زما په نظر لېونی دی اما باید اقرار وکړم چه د خوب په فن کې استاد دی. هغه کس نېکبخته دی چه د دې سړي سره نېږدې ژوندکوي. دا خوب سرایت کوونکی دی او حتی له ډېلو دېوالونو څخه هم انسان ته سرایت کوي. هېڅ بې دلیله او عجیبه نده چه دومره ځوانان د نوموړي د پرهېزګارۍ درس ته راټول شویدي. د نوموړي پوهه پدې کې ده چه د ښه خوب کولو لپاره باید ویښ شو. واقعاکه د ژوند معنی نه وای او زه د چټیاتو له منلو څخه ناچار وای، زما په نظر دا چټیات له نورو غوره دي. اوس ښه پوهېږم، هغه وخت چه خلک به د تقوا پر واعظانو پسې تلل څه یې لټول؟ راحت خوب او هغه نېکي چه لکه تریاک خوب راوړونکې وي. ټولو پوهانو چه د علومو چوکۍ اشغال کړې وې له عقل او پوهې څخه یې منظور ښه او راحت خوب وو او په ژوندون کې یې لدې بل غوره مفهوم نه درلود. حتی نن هم د دوی بقایاوې پاتې دي. د همدې واعظ پشان چه همدا اوس یې د پرهېزګارۍ درس ورکاوه. باید ووایو چه ټول د دې واعظ پشان ورځ نه لري، د دوی وخت نور تللی دی. همدا اوس دوی ختم شویدي. خوبیولي نېکبخته دي ځکه زر یې خوب وړي."

داسې ووېل زردشت.

## هغوی چه په بله نړۍ کې ژوندکوي:

زردشت د هغه چا پشان د انسان د خلقت په اړه فکر وکړ لکه دې نړۍ کې چه نه وي او لا پسې ځیر شو. دا د نړۍ خلقت ورته د یو ناروغ او رنځمن خدای کار ښکاره شو. نوموړي ته نړۍ یو خوب، خیال او رنګین دود وځلېده چه د رنځېدلي خدای په مقابل کې شتون لري.

ښه او بد، رنځ او زحمت، زه او ته ټول د نوموړي په نظر د خدای په مقابل کې رنګین دود ښکارو. لکه چه خالق نه غوښتل نور ځانته وګوري نو لدې امله یې دا نړۍ پیدا کړه. خوښي داسې مستي ده چه دردمن خلک له خپل دردېدلي چاپېریال او درد څخه خارجوي تر څو له ځانه بهر نړی ته وګوري. زما په نظر دا نړۍ هم یوه ورځ یوه مستانه خوښي وه.

زما په نظر دې نړۍ یوه ورځ یو تل پاتې ناقص انځور له یو ابدي تناقص پرته د یوې مستانه خوښۍ په بڼه خپل خالق ته وځلېده. لدې امله ما د بلې نړۍ د اوسېدونکو پشان خپل تخیلات د بشر چاپېریال ته رسولي دي، هو د بشر چاپېریال ته.

افسوس ورونړو! هغه خدای چه ما خلق کړ د ټولو نورو خدایانو پشان د بشري فکر زېږنده وو او د بشر په لېونتوب یې دلالت کولو. هغه بشر وو ، د بشر له یوې ناقابله ټوټې او ځان غوښتنې بل هېڅ نه وو. په رېښتیا چه هغه اروا رقمه سړی زما له شغلو او ایرو څخه په ما غلبه کړې وه او هېڅ له بله اړخه نه وو راغلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروڼو! بیا یې یې وپوښتل: "څه وشول؟" هېڅ زه رنځېدلی پخپله پورته شوم او خپلې ایرې مې غرونو ته یووړې او زر مې یوه روښانه شغله ولیده. عجیبه ده! اروا هم زه پرېښوم. زه د ناپوهۍ په حالت کې وم، د دې ډول ارواګانو باور ما ته رنځ او درد پیدا کړ. وروسته له هغو د دې ډول ارواګانو په اړه فکر ما ته درد، رنځ او شرم پیدا کړ. دا هماغه څه دي چه زه یې د بلې نړۍ خلکو ته وایم.

کمزورتیا او درد د دې ډول نورو جهانونو د ایجاد او لنډ مودته نېکبختۍ سبب د بدبخته خلکو لپاره شویدي. ستړیا له یو اړخه د مړینې په طرف غواړي ختمه شي، جاهله ستړیا چه نور نه غواړي اراده وکړي د نورو ټولو خدایانو او جهانونو سبب شوېده.

وروڼو! باور وکړئ زموږ جسم، لکه بدن مایوسه شوی او له ټولو موانعو څخه د تېرېدو په اخرۍ ابلهانه پرېکړه کې دی. له خپل فکر سره یې هڅه وکړه چه اخرۍ موانع له منځه یوسي او ځان بلې نړۍ ته ورسوي. مګر دا نړۍ نوره له خلکو پټه ده. دا غیر بشري نړۍ چه هېڅ آسمان نه لري موږ ته معلومه نده او بې له بشري بڼې له انسانانو سره خبرې نه کوي. په ریښتیا چه دکل وجود اثباتول له کړاوه ډک او ستونزمن کار دی.

اې وروڼو! وواياست آیا تر ټولو ښه څیزونه هغه ندي چه اثبات شوي دي؟

هو دا د (زه) لفظ، زه خلق کوونکی، اراده کوونکی او ارزښت ورکوونکی چه د ټولو څیزونو د ارزښت د سنجولو معیار دی. له ټولو ستونزو اوکړاوونو سره سره له واړه څیزونو غوره وجود دی. او همدا تر ټولو حقیقي وجود یعني (زه) تل له جسمه خبرې کوي. حتی د شعر ویلو او د الوتو په وخت کې د لاس او پښو وهلو په وسیله پخپلو ماتو وزرو سره د جسم طلب کوي. دا (زه) د هرې ورځې په تېرېدو سره د واقعي خبرو په غوره ډول سره ویل زده کوي او هر څومره چه ډېر زده کوي په هغومره اندازه جسم او ځمکې ته په لقبونو او عنوانونو قائل کېږي.

د (زه) لفظ ما ته نوی غرور رازده کړی دی، غواړم دا غرور خلکو ته ورزده کړم. لدې زیات خپل سر د ملکوتي څیزونو په رېګ کې مه ننباسئ! بلکه دا خاورین سر چه ځمکې ته مفهوم ورکوي لوړ او آزاد وساتئ! زه خلکو ته نوې اراده تدریسوم، د هغې لارې اراده وکړئ چه خلکو یې په پټو سترګو پیروي کړېده. هغه په سم صحیح ډول ولولئ او له هغو څخه د نارغو خلکو پشان تېښته مه کوئ.

ناروغ او تېښته کوونکي (ډارن) خلک له خپل بدن او ځمکې تنګ دي ځکه یې آسماني څیزونه او شهادت رامنځته کړي. مګر دې خوږو زهرو په عین وخت کې تیارې له بدن او ځمکې شړلې دي. هغوی پدې فکرکې وو چه څنګه له بدبختۍ خلاصون پیداکړي او ستوري یې په لاس کې نه وو، لدې امله یې ځانته داسې وویل: "کاشکې د ملوکوتي لاروکمښت شتون لرلی نو انسان به د هغه په وسیله نورو جهانونو ته تللی وای او بلآخره به خپلې ارماني نېکبختۍ ته رسېدلی وای." همدوی د حق نه پېژندونکي وو چه د ځان لپاره یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لارې ډېرې کړې، د نرۍ او جسمه يې ځانونه خلاص کړل؛ مګر د دې پوروړي خلاصون لپاره د دوی خوشالۍ ولې وې؟ "د ځان او ځمکې پوروړي". زردشت د ناروغانو په وړاندې مهربانه دی، د دوی د تسلې او حق نه پېژندنې له امله غمجن ندی او دوی ته وايي: "کاشکي تاسو د پرمختګ او ښه والي په طرف تللي وای او د فاتحانو له ډلې شوي وا. د ځانو لپاره مو لدې څخه عالي جسم جوړ کړی وای!"

همدارنګه زردشت دکمزورو او ناتوانه خلکو په وړاندې غوصه نه کوي خو پدې شرط چه د خپلو تېرو او ډار ډکو تصوراتو له امله د ښښنې لپاره په نيمه شپه کې د مړه خدای مزار ته لاړ نشي. ځکه د مړه شوي خدای په قبر باندې د اوښکو تویول د جسمي ناروغیو څخه ده. د دې ناروغانو په منځ کې ډېر داسې شاعران شته چه شعر وايي او خدايان غواړي. د دوی کرکه د پوهانو او نوو فضايلو يعني صداقت په وړاندې تر هر څه ډېره ده. د دوی پاملرنه تل د جهالت ورځو ته ده، هغه ورځې چه له وېرې ډک تصورات او باورونه پکې ډېر په تېزۍ روان وو. شک ګناه ګڼل کېده او نامنظم او پېچلی فهم يې خدای ګڼلو.
زه دا ډول اشخاص ډېر ښه پېژنم. دوی غواړي چه خلک پر هغوی باندې په پټو سترګو باور ولري او غواړي چه شک ګناه وبلل شي او ډېر ښه پوهېږم چه دوی خپل په باطن کې څه عقيده لري. په حقيقت کې دوی خپله په نورو جهانونو باور او شهادت نه لري. هغه څه چه دوی پرې متعقد دي جسم دی او د دوی لپاره يې جسم مطلق دی. د مرګ واعظانو ته غوږ نيسي او خلکو ته د نورو جهانونو وعظ کوي.
"اې ورونو هوښيار اوسئ! سالم جسم ته غوږ ونيسئ! ځکه د هغو غږ نرم او سم دی. بشپړ سالم اوکامل تن ډېر صحي او نرمې خبرې کوي او د هغه خبرې هم د ځمکې د مفهوم په اړه دي."

## له جسمه د تېښته کوونکو په اړه

دلته زما خبرې يواځې د هغو خلکو سره دي چه له ځانه په تېښته کې دي. دوی ته نه وايم چه بل شی زده کړئ او په بل ډول يې تدريس کړئ مګرکاشکي دوی خپل بدن پرېښی وای تر څو نورې خبرې ونکړی شي.
ماشوم وايي: "زه روح او بدن يم" او موږ هم بايد د ماشومانو پشان خبرې وکړو. هغه کس چه هوښيار دی او پوهېږي وايي: "زه يواځې له بدن بل څيز نه يم او روح په جسم کې د موجود شي لپاره يو لفظ دی. بدن او عقل لوي دي او واحد فکر لري، سوله او شخړه دي، رمه او په عين وخت کې شپون هم دی."
اې وروره! پوه شه هغه يو څه عقل چه لرې روح يې بولې او هغه چه د خپل لوی عقل د لوبو شی ګڼې، ندی. ته (زه) وايې او د هغو په آزادۍ وياړې ولې سکالو لدې ډېر اهم دی (هغه چه نه غواړې باور پرې وکړې) ستا بدن او ستا لوی عقل (زه) نه وايي اما عمل کوي. هغه څه چه ذهن احساس او فکر درک کوي پخپل ځان سره هېڅ وخت پای نه مومي.
مګر ستا فکر او ذهن غواړي تا قانع کړي چه د ټولو څيزونو عاقبت همدا دی. ستا فکر او ذهن د لوبوکوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

شی ندي د هغو تر شا ستا نفس ځای لري. نفس د ذهن په سترګو سره پلټنه کوي او د فکر په غوږونو درک کوي. تل د غوږ نیولو او مقایسې په حالت کې دی. ځایونه نیسي او خرابول کوي، نفس حتی په (زه) هم حکومت کوي.

اې وروره! ستا د اندونو او احساساتو په څټ کې یو زورور ارباب او یو ناپېژانده پوه شتون لري چه نوم یې ستا ساه ده. هغه ستا په بدن کې ځای لري او په حقیقت کې هغه ستا بدن دی. په بدن کې د ستا له ټولو علمونو څخه عقل او فهم ډېر ویده دي او بلآخره څوک شته چه ووایي: "دا معلومات او پوهه په کومه لار کې ستا د بدن په درد خوري؟"

ساه د په (زه) ویلو او غرور باندې خاندي او له ځانه سره وایي: "دا د اندونو ټوپونه او الوت څه شی دي؟ د (زه) د موخو د لاسته راوړو لپاره وسیله او په (زه) باندې د باورونو تلقین کوونکی او تحریکوونکی زه یم."

ساه (زه) ته وایي: "دلته د درد احساس وکړه!" (زه) هلته د خوښۍ احساس کوي او په فکر کې لوېږي؛ څنګه کېدای شي چه د خوښۍ احساس مکررا درک کا او د فکر موخه یې باید داسې وي؟" زما خبره له ځانه د تېښته کوونکو سره ده: "هغوی د بدن لپاره احترام لري چه دکرکې سبب کیږي."کوم څیز د احترام، کرکې، ارزښت او ارادې باعث کیږي؟

خلاقیت کوونکې ساه د ځان لپاره احترام، کرکه، ښادي او غم پیدا کړي، خلاقه جسم د ځان لپاره روح پیدا کړی تر څو د ارادې وسیله یې واوسي. تاسې! اې له ځانه تېښتېدونکو! دکرکې په ولکه کې یاستئ او د خپل بدن خدمت کوئ. زه تاسې ته وایم چه ستاسې ساه په مړینه پسې ګرځي او له ژونده بېزاره ده. نور هغه څه نشي کولای چه مینه ورسره لري، نور له خپل ځانه لوړ څیز نشي پیدا کولی. د هغه څه دي چه ستاسو ساه ګانې یې طلب کوي او ټوله تودوخه یې په همدې کې ده.

افسوس! نور مو ساه د پیدایښت لپاره تیاره نده، له همدې امله تاسې د ځان ختمولو په لټه کې یاست. ستاسې ساه ګانې له دې خاطره له جسمه د تېښتې په حال کې ده چه تاسو له خپل ځانه کرکه کوئ ځکه نور تاسې پدې توانا نه یاست چه له ځانه لوړ څیز خلق کړئ. لدې امله تاسو د ژوندون او نړۍ په وړاندې ظلم کوئ. ستاسو په سپک نظرکې د ژوند په وړاندې یو غیر ارادي حسرت پټ دی.

اې له ځانه فرار فرارکوونکو زه له تاسو سره په ډله کې نه یم ځکه تاسې زما موخې (ستر سړي) ته د رسېدو پل نه یاست.

## د خوندونو او شهوتونو په هکله:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما وروره! کله چه د فضیلت درلودونکي یې، هغه ځانګړی ستا دی او یواځې په تا پورې اړه لري. مګر ته په هغه نوم بردې او ناز ورکوې، ته یې غوږونه کشوې او لوبې ورسره کوې. هغه نوم چه تا خپل فضیلت ته ورکړی اوس له خلکو سره شریکوې او ستا فضیلت د خلکو له فضیلتونو سره یوه رمه کیږي. څومره به ښه وای که ویلي د وای: "کوم څه چه زما روح ته رنځ او خوښي ورکوي او هغه څه چه زه ورته لېوالتیا لرم د ستاینې وړ ندي او نوم هم نه لري."

خپل فضیلت ته ډېر ارزښت ورکړه، که چېرې اړینه وه په اړه یې خبرې وکړې د ژبې له بندېدو او توتله توبه هم مه وېرېږه! ووایه په توتله توب سره هم ووایه دا زما فضیلت دی، دا هغه څه دي چه مینه ورسره لرم، دا مې په هر لحاظ خوشالوي او د همدې فضیلت په وسیله زه اراده کوم.

زه د هغو لپاره د خدایي قانون پشان اراده نه کوم بلکه هغې ته د یوې بشري اړتیا په نوم اراده کوم. دا فضیلت ما ته د نورو نړیو او جنتونو نښه نشي کېدای. زه د دنیوي فضیلت غوښتونکی یم، پدې فضیلت کې احتیاط، عقل او منطق کم دي. مګر دې مرغه زما په باطن کې ځاله جوړه کړې لدې امله ورسره مینه لرم او ساتم یې؛ همدا اوس هغه زما په ضمیرکې په خپلو طلایي هګیو لکه کوړکه چرګه ویده دی.

دا هغه څه دي چه کېدای شي ته یې په توتله او بنده ژبه ستاینه وکړې. داسې وخت هم ووکوم شهوتونه چه تا درلودل بد دې ترې وړل مګر اوس ته یواځې هغه فضیلتونه لرې چه له هغو شهوتونو یې سرچینه اخیستې ده. تا تر ټولو لویه موخه د دې شهوتونو په منځ کې ټاکلې وه ځکه دا شهوتونه ستا فضیلتونه او خوندونه وګرځېدل. که څه هم ته شهواتي او عصباني موجود وې خو بلآخره ستا ټول شهوتونه په زهد او شیطانان په پریښتو تبدیل شول.

داسې وخت هم وو چه تا له پوست لاندې وحشي سپي درلودل مګر په خوږو نغمو ویونکو مرغانو تبدیل شول. د خپلو زهرو څخه د ضد زهر جوړ کړل، تا خپله غوا یعني غم ولوشلو او اوس یې د شیدو سر څښې او وروسته لدې ته بدي نه کوې مګر هغه بدي چه له فضایلو څخه د منځته راشي. اې وروره! که چېرې نېکبخته وې له یو زیات فضیلت به ونلرې ځکه پدې ډول سره په اسانۍ له پله تېرېدی شې. د نېکو او بدو فضایلو درلودل که د شهرت سبب کیږي د مصیبت هم کیږي. څومره ډېر دي هغه کسان چه په جګړه کې یې شتون د ډول ډول فضایلو سبب شوی وو خو دښتو ته لاړل او ځانونه یې برباد کړل او له منځه لاړل.

اې وروره! آیا شخړه او جنګ بد دي؟ مګر دا یوه ضروري بدي ده، کینه، بې باوري او توطئه ستا د فضایلو او نېکیو په منځ کې لازمي ده. وګوره! ستا هره نېکي د لوړو فضایلو په نسبت څومره حسدکوي او څومره هر یو ستا واړه روح په ټول قدرت سره ځانته غواړي؛ هر یو غواړي ټوله مینه اوکرکه یواځې د ځان لپاره منحصره کړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر فضیلت د نورو فضیلتونو په وړاندې کینه کوي؟ دا کینه ډېره خطرناکه ده. ځکه، حتی کېدای شي نېک فضیلتونه هم د دې کینې په پایله کې له منځه لاړ شي. هغه کس چه په کینه کې ډوب وي بلآخره د لړم پشان پخپل نېش ځان چیچي او ځان له منځه وړي. اې وروره! آیا تر اوسه د ندي لیدلي چه یو نېک فضیلت په څه ډول ځان متضرر او بربادوي؟

بشر داسې موجود دی چه باید لوړتیا وموميِ؛ له همدې امله ته له خپلو فضیلتونو سره مینه لرې ځکه کېدای شي هغو ستا د ذات د پناه کېدو سبب شي.

## د رنګ آلوتي مجرم په اړه

اې قاضیانو او قرباني کوونکو! باوري یم تر څو چه حیوان سر نه وي ټیټ کړی نه یې وژنئ. هوښیار اوسئ! رنګ آلوتي مجرم سر ټیټ کړی او فوق العاده سپکاوی یې له سترګو ښکاري.

زما ضمیر داسې څیز دی چه باید لوړتیا وموميِ، زما سترګې وایي دا د بشر تر ټولو لوی سپکاوی دی. د ژوند تر ټولو ښه شیبه یې هغه وه چه تر قضاوت لاندې وو. مه پرېږدئ چه دا پست سړی د دوهم ځل لپاره خپل مخکېني حالت ته وګرځي. هغه کس چه په داسې یو رنځ اخته وي د درملنې لپاره یې بې له فوري مرګه هېڅ بله لار شتون نه لري.

اې قاضیانو! ستاسو وژنې د غچ اخیستنې په منزل کې نه بلکه د ښښنې په مقام کې قرار لري؛ نوکله چه قضاوت کوئ داسې قضاوت وکړئ چه که چېرې تاسو خپله هم د مجرم په ځای وای همداسې قضاوت به موکړی وای. ضرور نده له قتل کېدونکي کس سره سوله وکړئ. پرېږدئ! تاسې د (ستر سړي) په غم کې اوسئ! پدې ډول سره د خپلې بقا لپاره خپل حقانیت ثابت کړئ.

په نوموړي د شریر پر ځای د میرخمن نوم کیږدئ! ناروغ به ورته ووایئ خو شقي نه! احمق به یې وګڼئ ولې ګناه کار نه! او ته، اې سورکالیه! هغه څه چه ندي شوي که چېرې یې په اړه ووایې ټول به وایي: "دا زهر لرونکی چینجی او دا چټل ووژنئ!" ولې فکر یو څه او عمل بل څه او د عمل اندېښنه خپله بل شی دي او د همدوی تر منځ څرخ نه ګرځیږي. د دې رنګ آلوتي مجرم رنګ اندېښنې داسې زېړ کړی دی. نوموړي حتی آن د خپل عمل دکولو په وخت کې خپله اندېښنه نشوای زغملی. نوموړي تل ځان د دې عمل د انجاموونکي پشان لیدلو او دا هغه څه دي چه زه یې لېونتوب بولم او د ده لپاره بشپړ یو بل طبیعت وو. یوګچي خط یوه چرګه فلج کړه او هغه ضربه چه منځته راغله د نوموړي کمزوری عقل فلج کړ، دې ته زه وروسته له عمله لېونتوب وایم. اې قاضیانو واورئ! یو بل لېونتوب هم شتون لري چه زه ورته مخکې له عمله لېونتوب وایم. افسوس! تاسې په پوره ډول سره پدې روح کې نفوذ ندی کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سورکالی قاضي داسې وايي: "دې مجرم ولې سړی مړکړ؟ پداسې حال کې چه موخه يې غله وه!" مګر زه تاسو ته وايم د نوموړي روح وينه غوښته نه لوټماري؛ هغه د چاقو د رحمت تږی وو. د نوموړي کمزوري عقل دا لېونتوب درک نشوکړای، قانع يې کړ او ووېل: "د وينې ارزښت څه شی دی؟ حد اقل لوټماري نه پسې اضافه کوې؟ او په هغو سره غچ هم نه اخلې؟"
نوموړي خپل کمزوري عقل ته غوږ ونيو او د عقل کلمو يې لکه سرپ په سر سنګيني کوله. هغه وخت نوموړي د قتل سره سره غله او لوټماري هم وکړه. نوموړی وډار شو او وېل يې داسې نه چه لېونتوب مې وشرموي. اوس يو ځل بيا د هغه جرم د دوهم ځل لپاره د ده په سر سنګيني کوي او يو ځل بيا يې عقل کمزوری، سست، فلج او ويده شوی دی. نوموړي که چېرې يواځې سره ښوروللی وای دا بار يې له اوږو لوېدلا خو څوک وو چه دا سر يې ښوروللی وای؟

انسان څه شی دی؟ يو خروار ناروغۍ چه د روح له لارې خارجي نړۍ ته ځي او هلته په ډوډۍ پسې ګرځي.
انسان څه شی دی؟ د وحشي مارانو يوه ډله چه ډېر په کمه اندازه په سوله کې سره ژوندکوي، پدې ډول سره هغوی د ډوډۍ پيدا کوو لپاره نړۍ ته داخليږي.
دا بېچاره بدن وګوره! هغه رنځونه چه ليدلي يې دي لېواله يې وو، دا بېچاره روح د جنايت کاره روح او حرص لپاره د چاقو رحمت تعبيروي. هغه کس چه له شته ناروغۍ رنځ وړي په بدۍ اخته کيږي کوم چه برحاله بدي ده. غواړي هغه څه چه د رنځ سبب يې شوي وردردوي. مګر داسې وخت هم وو چه بدۍ يې درلودې ولې متفاوتې وې. داسې وخت هم وو چه شک او غوښتنې نفس بدې ګڼلې، په هغو وختوکې يې ناروغ کس ته خدای نه منونکی يا کوډګر وېل او د يو خدای نه منونکي اوکوډګر په ډول رنځېدا او هڅه يې کوله چه خلکو ته آزار ورسوي.

دا خبرې ستاسو په غوږونوکې نه داخليږي، تاسې واياست چه دا د پرهېزګارانوکلمې موږ آزاروي مګر زه تاسو پرهېزګارانو ته څه اهميت ورکوم!؟ بس کوم شی چه په تاسو پرهېزګارانوکې زما دکرکې سبب شي په رېښتيا ترې کرکه کوم، که څه هم بد څيزونه نه وي. کاشکې! دوی هم خاص لېونتوب درلودی چه د دې رنګ آلوتي پشان تلف شوي وای. په رېښتيا که کولی مې شوای، زړه مې غواړي د دوی لېونتوب ته د حقيقت، وفا او عدالت نوم ورکړم. مګر دوی د دې لپاره خپله تقوا ساتي چه راحت او اوږد کرکه راوړونکی ژوند وکړي. زه د يو لرګي پشان په سېل کې رغړم. هر څوک کولی شي ما ته لاس راواچوي، څه لاس راواچوه! زه د چا د لاس لکړه نه يم.

## د لوستلو او ليکلو په اړه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ټولو ليکنوکې له هغو ليکنو سره مينه لرم چه ليکونکي د زړه په وينو ليکلې وي. په وينه ليک وکړه! هغه وخت به پوه شې چه وينه او روح يو دي. د نورو د وينو درک کول آسانه ندي. له همدې امله زه له سرسري لوستونکو څخه کرکه لرم. څوک يې چه لوستونکي وپېژني نور به د هغه لپاره ليکنې ونکړي، که چېرې اوسنۍ سطحي لوستنه همداسې جريان پيدا کا روح به هم خوسا شي. د ټولو خلکو د واقعي لوست زدکړه کېداى شي د ليکلو او حتى اندکولو مخه هم ونيسي. يو وخت د خداى روح وو. وروسته بشر شو او اوس په يوه ډله بدل شوی دی.

څوک چه د زړه په وينو ليکل کوي يواځې دا نه غواړي چه ليکنې يې ولوستل شي مګر دا هم غواړي چه زده کړل شي. د غرونو تر منځ تر ټولو نیږدې لار له يوې څوکې بلې څوکې ته ده مګر د دې لارې د طی کولو لپاره لوړو پښو ته اړتيا ده. مثالونه او حکم يې بايد د غرونو پشان وي او خبرې يې له هغو خلکو سره دي چه روح يې د عظمت درلودونکی دی.

پاکه او رقيقه هوا، يو نيږدې خطر، يو له شيطانت او خوښۍ ډک روح ښه سره جوړيږي. زه غيرتي يم ځکه کولی شم چه پخپل چاپېرکې پيريان ووينم. هغه روح چه د ارواګانو د شړلو سبب کيږي د ځان لپاره پېريان منځته راوړي. شجاعت د خندا غوښتونکی دی. زه نور ستاسو پشان احساس نه کوم. له پښو لاندې چه دا توره او درنه وريځ وينم پرې خاندم او ستاسو لپاره يوه توپاني وريځ ده.

کله چه غواړئ لوړتيا (غوره توب) تر لاسه کړئ پورته ګورئ اما زه ښکته ګورم ځکه همدا اوس ما لوړتيا تر لاسه کړې. ستاسو په منځ کې څوک شته چه هم يې لوړتيا غوره کړې وي او هم وخاندي؟ څوک چه لوړ غرونه تر پښو لاندې کوي په ټولو مصيبتونو باندې بې له شوخۍ په جدي ډول خندا کوي. پوهه موږ آزادوي، په هر څه مو برخمن او بې اړتيا کوي، هغه ښځه ده او يواځې له سرتېرو سره مينه لري.
تاسې ما ته واياست: "د ژوندون زغمل سخت دي." ولې او په کوم سبب تاسې ګهيځ دومره په کبر او غرور کې وئ او د شپې دومره زړه توري؟ د ژوند زغمل سخت دي اما په دومره کمزورۍ کې بايد ځانو ته قرار ورنکړو! موږ ټول ښه بار وړونکي حيوانات او خره يو. د مونږ يې له هغه سره ګل او غنچې سره په شباهت څه؟ چه يو څاڅکی اوبه يې په مخ لړزيږي.

په ريښتيا چه موږ په ژوند مين يو لدې خاطره نه چه له ژوند سره عادت شوي يو بلکه لدې امله چه په عشق پورې تړلي يو. له عشق سره تل يوه اندازه لېونتوب شتون لري او همدارنګه په لېونتوب کې يو څه منطق شته. زما په نظر چه له ژوند سره مينه لرم شاپرک، د صابون دانې او هر څه چه له دوی د انسانانو په منځ کې شتون لري نېکبخته دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې کوچنیو او وزر لرونکو، سپکو، بې فکره او نازکو حیواناتو لیدل زردشت ژړلو او سندرو ویلو ته اړ کوي. زه یوازې پر هغه خدای باور لرم چه ګډا یې زده وي. کله مې چه شیطان ته وکتل هغه مې جدي، دقیق په فکروکې ډوب او سترې ولید. په حقیقت کې نوموړی د ځمکې د روح د جاذبې قوه ده او ټول څیزونه د ده په طرف لویږي، د لوېدو مسؤل یې هم دی.

په خندا وژل کوي نه په غوصه؛ راپورته شئ! چه د روح جاذبه ووژنو، ما په لاره تګ زده کړئ او له هغې وخت وروسته منډه کولی شم، ما آلوتنه زده کړې نور دې ته اړ نه یم چه څوک مې په حرکت راولي. همدا اوس زه وزن نه لرم، همدا اوس زه آلوتنه کوم او ځان له ځېل ځان لاندې وینم، همدا اوس خدای زما په باطن کې په ګډا راغلی دی.

## په غونډۍ ونه:

زردشت په ځلونو یو ځوان لیدلی وو چه له نوموړي څخه یې لرېوالی اختیارولو. یو شپه نوموړي د خالداره غوایي نومه ښار په اطراف کې په غونډېوګرځېدا ناڅاپه یې پر هغه ځوان سترګې ولګېدې چه ونې ته یې څنګ وهلی وو او په سترو سترګو یې درو ته کتل. زردشت په هغه ونه لاس کېښود چه ځوان ورته ډډه وهلې وه او ووېل: "که چېرې مې غوښتي وای دا ونه وښوروم نه مې شوی کولای اما باد چه موږ یې هېڅ نه وینو په خپل زړه هغه ښوروي، ټیټوي او عذاب ورکوي. موږ هم د ورکو او نامعلومو لاسونو په وسیله ټیټ او عذابیږو."

ځوان بې اختیاره له ځایه ولاړ شو او ووېل: "زه د زردشت غږ اورم پداسې حال کې چه زه همدا اوس په بد فکر باندې بوخت وم." زردشت ځواب ورکړ: "پدې کې څه شک دی؟ بشر هم د دې ونې پشان دی. هر څومره چه پورته او لوړو مرتبو او رڼاګانو ته خیژي له هغو یې ډېرې ریښې په ځمکه، تیارو او دروکې پاتې او چتلیږي." ځوان چیغه وکړه :"هو! بلکل د چټلۍ په طرف، په څه ډول ته له هغو څیزونو خبر یې کوم چه زما په روح کې جریان لري؟"

زردشت وخندل او ووېل: "ډېرې ارواګانې نه کشف کیږي لومړی باید هغه منځته راوړو." ځوان دوهم ځل تکرارکړه: "هو! د چټلۍ په طرف، ته سم وایې زردشته! کله چه لوړو مرتبو ته راغلی یم نه مې په ځان باور کړی او نه هم نورو په ما کړی. ما ته ووایه دا څه ډول حالت دی؟" زه ډېر زر زر بدلون مومم، ننی زه پرونی ما نه مني. د صعود په وخت کې ځېنې مرتبې همداسې پرېږدم او ترې تېرېږم او دا مرتبې مې هېڅ نه بښي. کله چه لوړو څوکو ته رسیږم ځان ډېر یوازې احساسم. هېڅوک له ما سره خبرې نه کوي او د یوازېتوب ساړه مې په لړزه راولي. زه په ارتفاعاتوکې په څه پسې یم؟ زما تحقیر او لېوالتیا په یو بل کې وېلې کیږي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

له منځه ځي. هر څومره چه لوړتیا مومم هغه کسان چه د لوړو مرتبو په خوا راځي مسخره کوم. پدې ارتفاعاتو کې څه لټوم؟ لدې لوړ تګ او الوتنې څومر تنګ شوی یم! څومره مې خپله ارواه مسخره کوم! څومره کرکه کوم له هغو چه فرارکوي او لدې ارتفاعاتو څومره ستړی شوی یم"

دلته ځوان چوپتیا غوره کړه او زردشت پداسې حال کې چه ونو ته یې په ځیر ځیرکتل ووېل: "دا ونه دلته یواځې د غره په سر درېدلې ده، له بشر او حیواناتو څخه په ارتفاع کې مخکې ده. که خبرې یې کولی شوای چا یې خبرې نشوای درک کولای ځکه ډېر صعود یې کړیدی. اوس هغه انتظارکوي اوکوم شي ته سترګې په لاره ده؟ د دې لپاره چه ورېځو ته ډېره نیږدې شوې، شاید لومړني تندر ته منتظره وي."

کله ده زردشت خپلې خبرې ختمې کړې ځوان په ډېر لوړ آواز سره ووېل: "هو زردشته ته سم وایې! کله چه زه د لوړو مرتبو په طرف راتلم ښکته راتلون مې غوښت او ته هغه تندر یې چه زه ورته منتظر وم. وګوره! کله چه تا پر موږ باندې ظهورکړی حال مو څرنګه شوی؟ په تا باندې کېنې زه نابود کړی یم" دا یې چه ووېل نو سخت یې وژړل. اما زردشت خپل لاسونه سره ونیول او نوموړی یې یووړ.

له لږ وخت وروسته زردشت دا ډول ووېل: زه د متقلب کړم، ستا په سترګوکې ستا له خبرو خطر ډېر له ورایه ښکاري. ته تر دې دمه نه یې آزاد شوی مګر د آزادۍ شپون یې. ته د ځان په لټه کې له حده زیات ستړی او ستومانه شوی یې، ته د ارتفاعاتو په لور آزادګرځې او روح دې د ستورو تږی دی. مګر ستا بدې غریزې هم آزادي غواړي. ستا وحشي سپیان هم د آزادۍ په لټه کې دي.
کله چه ته غواړې د ټولو زندانونو ور خلاص کړې نو هغوی پخپلو ځالوکې عو عوکوي. تر دې دمه ته هغه د بندي پشان یې چه د خپلې آزادۍ په فکرکې وي. افسوس! دا ډول زندانیان پداسې حال کې چه ډېر ابتکارونه کوي ډېر شریر او موذي هم کیږي. هغوی چه روح یې آزادکړی باید خپل ځان هم پاک کړي ځکه په دوی باندې د پخواني قالب او زندان ډېرې چټلۍ پاتې دي، حتی د دوی سترګې هم باید پاکې کړل شي.
هو! زه تا ته له متوجه شوي خطر څخه خبر یم مګر تا ته دې په مینه او هیله قسم درکوم چه خپل عشق او امېد له لاسه ورنکړې. سربېره په دې ټولو به ته ځان ډېر شریف ومومې او هغوی چه تا ته کاږه او شریرانه کتل کوي شریب کس به ورته شې. مګر پدې هم پوه شه چه ټول خلک شریف کسان د ځان مانع ګڼي.
شریف کسان د ښه شخص د عمل مانع کیږي او خلک د دې لپاره ښه ګڼي چه ترې خلاص وي. شریف کس دې ته لېواله وي چه نوي څیزونه ایجادکړي او د نوې تقوا بنست کیږدي. ښه شخص د دې غوښتنه کوي چه زاړه او پخواني څیزونه وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اما په عین وخت کې شریف کس په خطرکې دی، لدې امله نه چه ښه شخص شي بلکه وېرېږي چه جسور، بدبین او خرابوونکی نشي. افسوس زه داسې شریف کسان پېژنم چه تر ټولو لویې هیلې یې له لاسه ورکړې او وروسته یې په لوړو امیدونو پسې لاس پښې ووهل خو څه یې تر لاسه نشوای کړی. هغه وخت دوی په بې شرمیو او شهوتونوکې ډوب شول او ټولې راتلونکې موخې یې هېرې کړې.
د هغوی په نظر فکر هم د ځان غوښتنې په ډول شوی او د روح وزرې یې ماتې شوې. اوس هغوی پر ځمکه باندې له یو اړخه بل اړخ ته رغړي او هر څه چه پیدا کوي ورانوي یې. یو وخت دوی پدې فکرکې وو چه اتلان شي، اوس یې یوه ډوله شهوت پرستان شویدي او د اتل کلمه یې هم عذابوي. مګر ستا د په عشق او امېد قسم وي اتل روح د لېرې مه غورځوه او خپلې لوړې هیلې سپېڅلې وشمېره.

## د مرګ د واعظانو په اړه:

پدې نړۍ کې د مرګ واعظان زښته ډېر دي او ځمکه له داسې کسانو ډکه ده چه باید د ژوند پرېښودلو ته دعوت کړل شي. ځمکه له زیاتو او بې فایده خلکو څخه ډکه ده او همدوی د واقعي ژوندون موانع دي.
کاشکي! کولی مو شوای چه دوی له دې جهان څخه همېشني جهان ته ولېږو. هغوی چه زېړې او تورې جامې په غاړه لري[1] د مړینې واعظان ګڼل کیږي مګر زه به هغوی په نورو جاموکې هم تاسو ته وښایم.
د دوی په منځ کې داسې کسان شته چه په خپل ضمیرکې یې وحشي ژوو ته ځای ورکړی او بې د شهوت او روح آزارولو څخه بله دنده نه لري. حتی کولای شو شهوتونه یې یو ډول روحي آزار وبولو.
دا کسان حتی انسانان هم ندي. پرېږدئ چه خپل وعظ ته ادامه ورکړي او خپل ځانونه هم له منځه یوسي! د دوی په منځ کې داسې کسان شته چه روح یې ناروغ او رنځور دی؛ دوی نړۍ ته له راتلو مخکې په مړینه پیل کوي او په داسې لارو پسې ګرځي چه غم او هر څه په پټو سترګو مني او تدریس کړي.

هغوی مړینې ته مایل دي او مونږ هم د هغوی اراده تقدیسوو. باید په تېښته کې و اوسو هسې نه چه دا متحرک مړي راویښ یا دا ژوندي جسدونه ټپي کړو. هر ځل چه دوی د یو ناروغ یا یو بوډا سړي په ښه راځي فریادونه کوي او په ژوند لعنت وایي. یواځې دوی او سترګې یې چه یواځې د ژوند یو اړخ ویني لعنت کوي.
پداسې حال کې چه په ستومانۍ اوکړېدلوکې ژور تللي ناست دي خپل غاښ چیچي او د داسې کوچینۍ شېبې په تمه دي چه د مړینې سبب یې شي. یا پداسې حال کې چه د ژوند خوږو ته یې زړه ښه کړی دی

---

[1] س دګنو ټېرونو روحانیون

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل ماشومتوب په یاد راوړي او پرې خاندي او لکه د بوسو ټوټه کله پخپل ژوند چسپېږي او په بل بوس باندې د چسپېدو له امله ځان ملامتوي.

د دوی عقل وايي: "څوک چه ژوندکوي احمق دي، موږ له احمقانوکم نه یو او دا کار تر ټولو لوی بې عقل توب دی." نور وايي: "ژوند بې له رنځه بل څه ندي." او دروغ نه وايي. پدې اساس لاړ شئ او ځانونه د دي شر له غمه خلاص کړئ. راشئ او د زهد بنسټ ته پدې جمله قرار ورکړئ: "ته باید ځانوژنه وکړې او ته باید لدې نړۍ خلاص شې!"

ځينې نور واعظان وايي: "شهوت ګناه ده باید یواځې ژوند وکړو او ماشومان ونه زیږوو." بله ډله بیا وايي: "د ماشومانو زیږول زحمت غواړي. اصلا ولې باید ماشوم وزیږوو؟ یواځې همدا د بېچاره ګانو د ډېربښت سبب کیږي. دوی هم د مړينې واعظان دي." دریمه ډله وايي: "پرېږدئ چه موږ ترحم ولرو! هر څه چه زه یم، لرم هغه رانه وغواړه او پدې ډول سره زه لږ په ژوند پورې تړلی یم."
که چېرې هغوی په ریښتیا سره رحیم وای خپل ګاونډي به يې مرګ ته نه هڅول اما د دوی واقعي ښه والی د دوی خبیث توب دی. هغوی غواړي ځان له ژونده خلاص کړي. زړونه يې سوځي چه نور پدې ډالیو او تحفو سره په ژوند اسیرکړي.

اې هغوکسانو چه وایاست ژوند بې له ناراحتۍ او درده بل څه ندی، آیا له ژوندونه نه یاست تنګ شوي؟ آیا تاسې د مرګ د وعظ لپاره نه یاست رالېږل شوي؟ اې! تاسې چه د تېز، سریع او عجیب کار سره مینه لرئ خپل ځان ناروغوئ او تاسو په ټولوکارونوکې له ژوند څخه د فرار په هڅه کې یاست.
تاسې که چېرې ډېر باور درلودی لږ مو ځان په حال پرېښولا اما ستاسو په ضمیرکې په بشپړه اندازه صبر او انتظارکول نشته. له ټولو اړخونو څخه د هغوکسانو غږونه اورېدل کیږي چه د مړينې وعظ کوي او نړۍ له هغو کسانو څخه ډکه ده چه باید په مرګ او ځانوژنې سره ورک کړل شي. پرېږدئ چه دوی زر تر زره له منځه لاړ شي!

## د شخړې او شخړه کوونکو په اړه:

موږ دې ته زړه نه ښه کوو هغه خلک چه تر ټولوګران دښمنان مو دي او هغوی چه له زړه ورسره مینه لرو امن راکړي. نو پرېږدئ چه حقیقت تاسو ته روښانه کړم! اې هغو ورونو چه د جنګ په حالت کې یاستئ زه له تاسو سره د زړه مینه لرم. زه تل ستاسو پشان وم او یم به، پدې برسېره زه ستاسو ډېرګران میرڅمن هم یم. پرېږدئ چه حقیقت درته روښانه کړم!

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه ستاسو د زړونو له کينې او حسد څخه خبر يم. تاسې دومر نه ياست لوی شوي چه کينه او حسد ونه پېژنئ. نو دومره لوی و اوسئ چه دکينې په لرلو سره د شرم احساس ونکړئ! که چېرې نشئ کولای د علم او پوهې مقدسات و اوسئ حد اقل سرتيري خو يې واوسئ. د علم او پوهې تورزن تل د مقدساتو څښتن او پرمخ وړونکي دي.

زه ډېر سرتېري وينم، کاشکي ډېر تورزن مې ليدلي وای! د هغوی جامې (يونيفورم) نوم لري. کاشکي هغه څه چه په باطن کې يې پټ کړي متحدالشکله نه وای. زه هيله لرم داسې کسان واوسئ چه تل يې سترګې د دوښمن (ستاسو دوښمن) په لټه کې وي او ستاسو په منځ کې د ځينوکينه په لومړي نظر سره منځته راځي. تاسو به د خپل دوښمن په لټولوکې ياست او د خپلو باورونو لپاره به هغو ته د جنګ دعوت ورکړئ. که چېرې چه ستاسو عقايد مغلوب شي صداقت به مو د فتحې او بريا فريادونه وکړي. تاسو به له سولې سره د نوو جنګونو د وسيلې په حيث مينه وکړئ او لنډ مدته سوله به په اوږد مدته سوله غوره وګڼئ.

زه تاسو ته دا توصيه کوم چه دکار په ځای وجنګيږئ، د سولې په ځای فتحې لاسته راوړئ! پرېږدئ چه کار مو جنګ او سولې مو فتحې واوسي! يواځې هغه کس آرام کولی شي چه غشي او ليندۍ لري کنه محاوره او مجادله به ډېر وخت ادامه پيدا کړي. پرېږدئ چه سوله مو فتحه واوسي! آيا ستاسو باور دا دی چه لوی هدف او مقصد شخړه مقدسوي؟

زه تاسو ته وايم يو ښه جنګ هره موخه مقدسوي. پدې نړۍ کې جنګ او شهامت له رحم څخه ډېرګټور کارونه ترسره کړي دي. همدا ستاسو غيرت او شجاعت دی چه د بدبختو خلکو د نجات سبب شوي نه ترحم. تاسې تپوس کوئ چه ښه څه شی دي؟ "شجاعت ښه دی" پرېږدئ چه کوچينۍ نجونې ووايي ښه اوسېدل عبارت دي له: ښکلي، ګلالي، زړه سوانده او مهربان انسان څخه.
آيا تاسو بد ياست؟ ډېر ښه اې ورونو! ځانونه په عظمت سره وپوښئ ځکه لويي (عظمت) د بدو نقاب دی او په تدريج سره ستاسو روح ته تکبر او غرور ورکوي. ستاسو په عظمت کې شرارت نغښتی زه تاسو ډېر ښه پېژنم. د متکبرو اوکمزورو خلکو مشترکه وجه شرارت دی مګر په خبروکې يو پر بل نه پوهېږي. زه تاسو ښه پېژنم.

تاسو به يواځې هغه دوښمنان ولرئ چه بد مو ترې راځي. نه هغه چه کرکه ترې لرئ. تاسو به د داسې ميرڅمنو له شتونه مغروره اوسئ. پدې اساس به ستاسو دې دوښمنانو بريا ستاسو بريا هم وي. نافرماني د مرييانو فضيلت دی. پرېږدئ چه ستاسو فضيلت په اطاعت کې واوسي! پرېږدئ چه ستاسو فرمان له قانونه پيروي وګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو واقعي سرتېرى (ته باید) پر (زه غواړم) باندې ترجیح ورکوي. هر څیز چه تاسو یې ځانته ګران ګڼئ تر هر څه وړاندې یې باید خپل کړئ. پرېږدئ چه له ژوند سره مینه ستاسو له لویو هیلو څخه وشمېرل شي او پرېږدئ چه د تاسو تر ټولو لویه هیله د خپل ژوند په اړه تر ټولو لوی او ښه نظر وي. مګر تاسو به تر ټولو غوره نظر زما له اړخه قانون وګڼئ چه داسې دی: "انسان داسې موجود دی چه باید په ځان غلبه وکړي."
پدې ترتیب په ټول ژوندکې مبارزې او اطاعت ته ادامه ورکړئ! له زیات ژوندکولو څه ګټه تر لاسه کولای شئ اوکوم سرتېرى دې ته لېواله دی چه رحمت او مهرباني د پرې وشي؟ زه تاسو نه پرېږدم ځکه اې زما سرتېرو ورونړو له تاسو سره د زړه له تلې مینه لرم.

## د نوي بت په اړه:

په نورو ملکونوکې تر اوسه ملتونه او قبیلې پاتې دي مګر اې ورونړو! زموږ په منځ کې یواځې دولت شتون لري. دولت؟ د دې ویې مقصد څه دی؟ غوږ شئ! تر څو د خلکو د مرګ په اړه درته خبرې وکړم:
"دولت تر ټولو ډېره یوه سړه هیولا ده. خپل دروغ په ډېر سړه سینه سره وايي او داسې دروغ یې له خولې بادېږي: "زه همدا خلک یم."

دا دروغ دي، هغوی چه ملت یې پیدا کړ خلق کوونکوي وو او په ملت باندې یې یوه عقیده زیاته کړي او پدې ډول سره یې ژوند ته چوپړ وکړ. نابودوونکي دي هغه کسان چه ملت ته دامونه ږدي، ځانته د دولت نوم ورکوي او پر ملت باندې تور او زرګونه شهوتونه تحمیلوي. په هغو ځایونوکې چه تر دې دمه ملت پاتې دولت شتون نلري او دولت ته پداسې بده سترګه ګوري لکه کوم دوښمن یې چه ځایي سنتونه تر پښو لاندې کوي.

زه تاسو ته وایم هر ملت د بدۍ او نېکۍ ځانګړې تعریف لري چه د هغه ګاونډي یې نشي درک کولی. هر ملت د حقوقو او سنتونو څخه ځانته ځانګړې مفهوم لري. مګر دولتي د نېکیو او بدیو په ټولو مفاهېمو سره دروغ وايي. هر څه چه وايي دروغ دي او هر څه چه لري په غله یې لاسته راوړي دي. هغه په غلا شوو غاښونو سره لکه د سپي خوراک کوي او حتی کولمې یې هم تقلبي دي.
د نېکو او بدو په مفهوم غلطي اوګډوډي د دولت نښه ده. په حقیقت کې دا د مړینې نښه ده او حقیقتا دا د مرګ واعظان په نښه کوي. د متولدانو تعداد ته له حده ډېره اړتیا ده. دولت یې د خلکو د زیاتوالي لپاره اختراع کړی دی. وګورئ! دا خلک د هغوی پشان لوېږي او په هغوی کې جذبېږي. دا هیولا داسې وايي:
"په ځمکې کې له ما څخه څوک لوی نشته، زه پدې جهان کې د خدای استازی یم."

(c) ketabton.com: The Digital Library

يواځې لنډ نظره او اوږد غوږي ندي چه د دوی په مقابل کې په ګونډو کیږي. افسوس لویه روحه! دا هیولا حتی ستا په ضمیرکې هم لعنتي دروغ تلقینوي. افسوس! هغوی چه د مهربانه او زړه سواند زړه درلودونکي او ساه قربانوونکي دی هم محاصره کوي. هو، حتی تاسو اې د زاړه خدای فاتحانو! تاسو هم تسخیروي.
تاسو له شخړو څخه ستومانه شوي یاست او همدا ستاسو ستوماني له نوي بت سره لویه مرسته کوي.
دا نوی بت غواړي له ځان چاپیره د قدر وړ خلک او اتلان ولري، خوښیږي یې چه پخپل وجدان کې د لمر پشان وځلیږي. که چېرې یې تاسو د پیروۍ غوښتونکي شئ هر څه به درکړي. پدې ډول سره هغه ستاسو زهد او د سترګو حالت اخلي. ستاسو د مرستې په وسیله ډېرو خلکو ته دامونه ږدي.

هو! هغه وخت ستاسو د ډلې ډېر شمېر ته د مرګ نقشه جوړه شوه خو داسې مړینه چه د ژوند په بڼه یې ځان اظهارکړی دی. زه هغه ځای ته دولت وایم چه هلته ټول کله ښه اوکله بد مسمومیږي. زه هغه ځای ته دولت وایم چه هلته ټول کله ښه اوکله بد ورک کیږي. هغه ځای چه هلته خلک تدریجي مړینې ته د ژوند نوم ورکوي. هیله لرم چه زاید خلک دا په نظرکې ونیسئ! دوی د اختراع کوونکو او نېکو خلکو زحمت غله کوي او دې غلې ته د فرهنګ نوم ورکي او هر څه چه د دوی لاسونه ته لویږي د خفګان او بدبختۍ په اسبابو بدلیږي. هیله کوم زاید خلک وګورئ! دوی ټول رنځوران دي او خپلې صفراوې یې بېرون کړې او د ورځپاڼې نوم ورکوي، دوی یو بل خیري مګر تحلیل کولی نشي.

هیله مند یم د دې زایدو خلکو سیل وکړئ! دوی ثروت غلا کوي او په هغو برسېره نور فقیرکیږي. دوی ناروغان دي په قدرت پسې ګرځي مګر له هر څه مخکې د قدرت په وسیلې پسې یعني پیسو پسې ځي.
وګورۍ چه دا شادیان څرنګ تېز او چالاک پورته ځي؟ هغوی پر یو بل باندې پورته ځي او پدې ټول سره یو بل لاندې د خټو عمق ته بیایي. دوی ټول د تاج او تخت غوښتونکي دي لدې امله لېونیان دي ځکه دوی فکرکوي چه نېکبختي په تاج او تخت کې نغښتې ده مګر د سلطنت په تاج ډېرې چټلۍ ځای لري او تخت یې هم په کثافاتو سره پوښل شوی دی.

زما په نظر دوی پورته تلونکي لېونیان او بیزوګان دي. د دوی بت یعني دا لویه سړه هیولا زما پوزې په خپل خوسا بوی سره آزاروي. همدا بت پرستان زما د بوی حس ټول متعفنوي. اې ورونو! آیا تاسو به هم ځانونه د دوی په شهتونوکې ونغاړئ؟ ښه به دا وي چه پنجرې ماتې کړئ او ځانونه لدې قفسه وغورځوئ!
له تاسو غوښتنه کوم لدې چټل بوی او د دې زایدو خلکو له بت پیروۍ څخه پرهېز وکړئ! لدې متعفنه بوی او بشري قربانیو له دود څخه پرهېز وکړئ!
تر اوس ځمکه د لویو روحونو لپاره آزاده ده. هغه ځایونه چه ښه بوی او آرام سمندرونه شتون پکې لري تر اوسه د یو او دوه متعکفانو، زاهدانو لپاره د امن او خوښۍ ځایونه دي، قحط ندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر اوسه ژوندون د سترو روحونو لپاره آزاد دی. په حقیقت کې یوکس چه هر څومره د لږ څه مالک وي په هغومره اندازه د نورو مملوک دی. په متعدل فقر باندې د درود وي! هلته چه دولت شتون نلري غیر زاید خلک پیدا کیږي. هلته یواځې د خلکو لازم غړ اوربدل کیږي.
اې ورونړو! له تاسو غوښتنه کوم د داسې ځای په لټه کې اوسئ چه هلته دولته شتون ونلري. آیا تاسو د ستر سړي پل او بوډۍ ټال نه وینئ؟

## د بازار د منګسو په هکله:

ګرانه ملګریه د انزوا (یواځېتوب) کنج ته پناه یوسه! ځکه چه د لویو خلکو له غالمغال اوکوچینیو خلکو له چیچلو ډېر په عذاب یې. واښه او ونې په ښه ډول سره ستا د چوپتیا ملګري کېدای شي. یو ځل بیا راشه د هغې ونې پشان شه چه خوښه د وه! وګوره څرنګه یې لوی لوی ښاخونه پر سمندر باندې په ټال راوستي او غوږ ده؟

چېرته چه انزوا نه وي بازار دی. بازار د لویو لوبغاړو د شور او منګسو د بزا ځای دی. په نړۍ کې حتی تر ټولو غوره څیزونه تر څو چه اجرا شوي نه وي اهمیت نه لري او خلک دا اجراکوونکي (ستر سړي) بولي.
هغه چه په ریښتیا لوی دي یعني خلقت کوي خلک یې په اړه خبرتیا نه لري. مګر د لویوکارونو اجراکوونکو او اداکارو ته یې سترګې او غوږونه تل تیار دي.
نړۍ په نامحسوس ډول سره د هغه کسانو په چاپېرګرځي چه نوښت کوي مګر د خلکو سترګې او شهرت د لوبغاړو په طرف دی او پدې ډول سره دنیا ګرځي.

لوبغاړی د تېز هوش لرونکی دی مګر وجدان نه لري. نوموړی یواځې په هغه شي باور لري چه د خلکو په منځ کې له ټولو زیات اعتقاد اېجادوي او هغه په خپل ځان یا نفس باندې باور دی.
کېدای شي نوموړی سبا نوې او بله ورځ بله عقیده ولري، اخلاق یې د هوښیارو خلکو پشان تل په بدلون کې دي. د نوموړي په نظر راغورځول یعني اثبات او ورانول؛ یعني متقاعدول د ده په نظرکې د غوره حجتونو وینه ده.

هغه حقیقت چه یواځې حساس غوږونه یې درک کولی شي د نوموړي لپاره بې معنی او بې مفهومه دروغ دی. په حقیقت کې نوموړي یواځې په هغو خدایانو باور لري چه په نړۍ کې ستر جنجال رامنځته کولی شي.
دا ډول جدي مقلدان په بازارکې زښته ډېر دي او ځینې بیا په همدې لویو خلکو ویاړي، دوی د یو ساعته بازار څښتن دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مګر د هغوی وخت محدود دی، په دوی باندې فشار راوړي او دوی هم په تا فشار راوړي تر څو خپله د موافقت یا مخالفت رایه ښکاره کړې. آیا ته غواړې چه د مخالفت او موافقت په منځ ځای ونیسې؟
اې د حقیقت مینوالو د دې ببړه کوونکوکسانو سره کینه مه کوئ! ځکه حقیقت هېڅ وخت له چا سره کار نلري او د چا خوا هم نه نیسي. لدې ببړه کوونکو څخه لرېوالی اختیارکړئ او په ځان پوه شئ! ځکه یواځې په ښارونوکې څوک د موافقې او مخالفې رایې په وسیله ټکول کیږي. ژورې ځاګانې ډېر پس یو څه درک کوي. ډېر وخت نیسي تر څو پوه شي چه تیره یې تلې ته غورځول شوېده.
ټول لوی کارونه له ښار او شهرته لرې منځته راځي. اختراع کوونکي تل نوي ارزښتونه له بازار، شهرت او نومه لرې ساتي. زما ملګریه! د انزوا کنج ته پناه یوسه! وینم دې چه له سر تر پښو زهرجنو منګسو چیچلی یې. داسې ځای ته لاړ شه چه هلته تېز او خشن بادونه لګیږي.
د انزوا کنج ته پناه یوسه! ته له حده ډېر پستو او ټیټو خلکو ته نیږدې شوی او اوسېدلی یې، د هغوی له بې موقع غچ څخه وتښته! هغوی له تا څخه د غچ اخیستو په فکرکې دي.
نور د دوی په وړاندې لاس مه پورته کوه! هغوی بې شمېره دي او ستا کار د منګسو آلوزول ندي. دا پست او ټیټ خلک بې شمېره دي او ډېری لوی ځایونه د باران څاڅکو او له کاره لوېدلو وښو وران کړیدي. ته تیره نه یې مګر همدا اوس د ډېرو څاڅکو له امله ړنګ شوی یې. لدې څاڅکو لاندې به ټوټه، ټوټه او له منځه لاړ شې.

تا وینم چه لدې زهرجنو منګسو څخه تر خولې تنګ راغلی یې، همدا اوس د په ځان باندې د سلګونو نښونو ځایونه ښکاري او تر اوسه دې د نفس عزت ندی خط شوی. هغوی د بې ګناه توب په کمال سره ستا د وینې تږي دي ځکه د هغوی بې وینې روحونه وینه غواړي او په همدې دلیل د بې ګناهۍ په کمال تا چیچي.
مګر ته چه عمیق یې، په شدت سره له جزوي ټپ څخه رنځ وړې او مخکې لدې چه روغتیا وموم‌ې دا زهرجن موجودات په تا باندې څرخي او په لاسونو د کښېني. پوهیږم ستا غرورو لدې زیات دی چه لاسونه د دې پستو او ټیټو موجوداتو په وینوککړکړې. تښته! هسې نه چه ناچاره شې او ټول زهرجن نښونه وزغمې!
له یو اړخه هغوی ستا چاپېر الوتنې کوي او ستا ستاینې زمزمه کوي او ستاینه یې په بې شرمۍ اوګستاخۍ ختمیږي. ځکه دوی ستا جسم او وینې ته نیږدې کېدونکي دي.
هغوی د خوښېدو لپاره تا خدای یا شیطان نوموي او ستا په وړاندې پر عاجزۍ اوګونډوکیږي همداسې لکه خدای یا شیطان ته چه په ګونډو عاجزي کوي. پوه شه! دوی ټول چاپلوسان او غوړه مالان دي. دوی ستا په وړاندې ځانونه مهربانه ښایي مګر تل د جنګ ټنبلان او وېره کوونکي دي. هو! ټنبل او ډارن دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی پخپل کوچیني خیال کې ستا په اړه ډېر فکرکوي او ستا په وړاندې تل بدګمانه دي ځکه د هر څه په اړه چه زیات واندو په بدګمان بدلیږي. تل ستا ښه صفتونه غندي او بد صفات او بدې ځانګړنې د دوی په ښښنه کې ځای نیسي ځکه ته مهربانه او عادل یې له ځانه سره وایې: "دوی پدې کمزورو او پاکو ځانونو سره ګناه نلري." مګر هغوی چه دکوچینیو او پستو ارواه ګانو څښتن دي وایي: "ټول ستر موجودات ګناهنګار دي." ته زړه سواند او مهربانه یې پر هغوی مهرباني کوې مګر دوی ځان ترکرکه لاندې احساسوي ځکه ستا ښېګڼې د پټو بدګڼو په ضربو سره ځوابوي.

ستا چوپ غرور تل دوی خوشاله کړیدي. کله چه ته په سپکوالي د ځان ښودنه کوې هغوی دومره خوشالۍ کوي چه له ډېرې خوښۍ پخپلو جامو کې نه ځاییږي. نه وینې! هغوی ته چې نیږدې کیږې څومره چپ کیږي؟ او څرنګه د هغوی قوت د اورجن دود په شان په بشپړ ډول سره دوی پرېږدي او ځي؟

هو زما ملګریه! ته د خپلوګاونډیانو ناراحته وجدان یې؛ ځکه هغوی ستا وړتیا نه لري لدې امله د خپل میرځمن ګڼي او ستا د وینې څښنو هیله لري. ستا ګاونډیان به تل لکه زهرجن منګس داسې وي. هغه څه چه تا ستروي هغوی د منګسو پشان بې وړتیا او له زهرو ډکوي. زما ملګریه خپل د یوائیتوب کنج ته، چېرته چه سخت او تېز بادونه لګیږي پناه یوسه! ستا کار او قسمت د منګسو آلوزول ندي.

## د پاک لمنۍ په اړه:

زه له ځنګله سره مینه لرم. په ښارکې ژوند له ستونزو ډک دی ځکه بې شمېره شهوتیان هلته ژوند تېروي.

آیا ښه به نه وي چه انسان ووژل شي لدې نه چه د یوې شهوت پرستې ښځې خوبونو ته داخل شي؟

دې سړیو ته وګورئ! دوی د ښځې په غیږکې له خوبه پرته بل هېڅ غوره څیز نه پېژني. د دوی د روح بنسټ چټل دی. کاشکي! د دوي پدې چټلیو اوکثافاتوکې عقل او دماغ هم پیدا شوی وای. کاشکي دوی په بشپړ ډول سره د وحشیانو پشان شوي وای! خو نه وحشیان بې ګناه او سپېڅلي دي.

داسې فکر مه کوئ چه زه مو وژلو ته هڅوم! زه یوائې او یوائې تاسو پاک او معصوم ساتلو ته رابولم.

داسې هم مه اندئ چه د پاکلمنۍ په اړخ مو رهبري کوم! عفت د یوې ډلې لپاره حسن او د بلې ډلې لپاره غټ عیب دی. ډېر پاک لمني خلک پرهېزګاره دي مګر د شهوت سپۍ د دوی له ټولو حرکاتو څخه بغاوت کوي.

دا ناراحته حیوان تل د دوی په تعقیب کې دی او د پرهېزګارۍ او فکري خلود په انتها کې هم لدوی لاس نه اخلي. څنګه چې د دې شهوتي سپۍ څخه ځان وژغورل شي روح تسخیروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسو له تراژیدۍ او هغو شي څخه چه زړه زخم او تر اغېز لاندې راولي خوند اخلئ؟ خیر دی، مګر ستاسو اصلي تحریک کوونکی بې له شهوته بل هېڅ ندی. زما په نظر تاسو د ظالمو سترګو لرونکي یاست څکه په خوښۍ سره رنځورانو اوکړېدونکو ته ګورئ. آیا فکر نه کوئ چه شهوت مو بڼه بدله کړې او د ترحم په بڼه یې ځان رامخکې کړیدی؟

ډېر خلکه شته چه د پاک ساتلو په خاطر یې یو ځل ځان چټلۍ ته تسلیم کړی دی. چا ته چه عفیف اوسېدل ستونزمن دي غوره ده چه له هغو پرهېز وکړي څکه هسې نه چه دا بې ځایه عفت یې د دوزخ لارښود شي؛ یعني روح یې چټل اوککړ شي. کله چه له چټلیو خبرې کوم هغوی تر ټولو بد آفتونه نه بولم. عاقل خلک دومره له حقیقي چټلۍ او ناپاکۍ نه تښتي لکه څومره چه له سطحي ککړتوبه فرارکوي.
رېښتیا همداسې کسان هم شته چه په واقعي ډول سره پاکلمني او سپېڅلی دي. دوی د پاکو او مهربانه زړنو څښتن دي، هم له تاسو مهربانه او هم له تاسو ډېر خاندي. دوی حتی د عفت په وېي پورې خاندي او له ځانه تپوس کوي: "عفت څه شی دی؟" آیا عفت او پاک لمني لېونتوب ندی؟ مګر دا لېونتوب دی چه پر موږ یې غلبه کړې. موږ یو چه روح او زړه مو ورکړئ او همدا اوس له موږ سره اوسي. پرېږده تر هر وخت چه غواړي له موږ سره د واوسي!

## د دوست په اړه:

زاهد وایي: "زما لپاره یواځېتوب او تنهایي د ډېروالي سبب کېږي. هغه چه په لومړیوکې یو دی په ورو ورو دوه کېږي. زه تل پدې چورت کې یم، څه ډول امکان لري چه بې له دوسته ژوند ته ادامه ورکړو؟
د زاهد لپاره دوست دریم کس دی. دا دریم کس د هغې کښتۍ پشان دی چه زاهد له ځانه سره مجادلې او عمق ته نه پرېږدي. افسوس د متعکفانو اوګوښه ګیرو خلکو لپاره دا ډول ډېر رودونه او ژورې اوبه شتون لري او له همدې امله هغوی په ناقرارۍ سره د دوست په لټه کې دي."

په نورو باندې زموږ باور دا په نښه کوي چه غواړو په ځان اعتماد تلقین کړو. دا تمایل موږ په دوستۍ سره رسوا کوي. اکثرا څوک چه عشق بایلي یواځې دکینې تر پښو لاندې کولو په فکرکې وي. هغه کس چه حمله کوي ځانته دوښمن پیدا کوي او هڅې کوي پدې ډول سره د امکان تر حده پورې د ځان تر حملې لاندې راوستل پټ وساتي.
د دوستۍ لپاره له چا تپوس او هیله نه کوي او په بشپړ احترام سره وایي: "حد اقل دوښمن مې واوسه!"
څوک چې د دوستۍ په لټه کې وي باید د هغه دوست د دوستۍ په لاره کې مبارزې ته هم حاضر شي او د خپلې دوستۍ په لاره کې ناچاره دی چه د چا دوښمني واوسي. د دوستۍ په منلو سره باید دوښمني هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ومنل شي ځکه کله چه د يو چا سره دوستي کړې طرفداري او ملاتړ به يې هم کوې کنه بل ډول امکان لري؟ د دوست په بدن کې بايد تر ټولوګران دوښمنان وپلټو. هغه وخت نوموړي ته دومره نيږدې کېږو چه په مقابل کې يې مقاومت وکړی شې.

آيا د خپل دوست په وړاندې ځان بربنډولی شې؟ آيا دوست ته د احترام په خاطر څه ډول چې يې ځان نه ظاهروې؟ که داسې وکړې نوموړی به له تا وتښتي. څوک چه ځان نه پټوي خلک ترې کرکه کوي. ډېر دليلونه شته چه ولې بايد له لوڅوالي لرې وګرځو؛ هو يوائې که چېرې خدای وای د ځان له پټولو به مو شرم کړی وای.
هېڅ وخت خپل دوست ته په کافي اندازې سره ځان نشې سينګارولی ځکه د هغه په نظر ته د ستر سړي په طرف يو غشی او هيله يې. آيا کله د خپل دوست په خوب ليدلی تر څو پوه شې چه نوموړی څرنګه شخص دی؟ د دوست څېره د په نورو وختوکې څه ډول ده؟ ستا پشان ده چه په ککړه او ناپاکه هېنداره کې منعکس شوې؟
آيا کله د خپل دوست د خوب په حال کې ليدلی؟ په کوم حالت کې د چه خپل دوست ليدلی آيا ترې وېربېدلی نه يې؟ زماګرانه انسان داسې موجود دی چه بايد لوړتيا او پرمختګ ومومي! دوست بايد په غيبي علم او د چوپتيا په فن کې استاد وي، ته بايد ټول څيزونه ونه وينې. کېدای شي په خوب ووينې چه دوست د په ويښتوب کې څه کوي.

پرېږده چه ستا تمايل په غيب ويلوکې واوسي، تر څو لومړی پوه شې چه آيا دوست د له تا څخه د همدردۍ غوښتونکی دی کنه؟ هغه څه چه په تا کې خوښوي کېدای شي ثابتې سترګې او ابدي نظر وي. پرېږده چه ستا همدردي د خپل دوست په وړاندې تر يو ډېل پوستکي لاندې پټه پاتې شي. پدې ډول سره به ستا په ليدکې ظرافت او مهرباني پيدا کړل شي.
آيا ته دې د دوست لپاره د هوا په اندازه د انزوا کنج، ډوډۍ او يا دارو يې؟ ډېر داسې کسان شته چه خپله د تيارو په بندکې دي خو خپل دوست يې له تيارو څخه ژغورلی دی. آيا ته غلام يې؟ که داسې وي پوه شه چه د چا دوست نشې کېدای. آيا ته ظالم يې؟ که داسې وي پوه شه چه له چا سره دوستي نشې کولی.
ډېر وختونه کېږي چه غلام او ظالم ځانونه د ښځې په بدن کې پټ کړيدي. له همدې امله تر دې دمه ښځه له چا سره ملګري نشي کولی. هغه يوائې مينه پېژني، د ښځې په مينه کې نظر نوروکسانو ته چه په وړاندې يې د ميني علاقه لرې بې عدالتي او ړوندتوب ډېر دی. حتی کله چه په خلاصو سترګو مينه کوي د هغوی د مينې له نور سره برق، تيارې او غافېلګيرۍ تل شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر اوسه پر ملګرۍ باندې توانا ښځې شتون نلري. ښځې تر اوسه د پيشو او او مرغيانو پشان دي او يا يې هم په نهايت کې له کښاخې سره تشبيه کولی شو. تر دې دمه ښځې ملګري نشي کولی. مګر اې سړيو! ما ته ووایاست: "په تاسوکې څوک دوستي کولی شي؟"

ستاسو په روحي فقر او سړيا باندې افسوس کوم! کومه اندازه چه تاسو خپلو دوستانو ته ورکوئ زه يې خپلو دوښمنانو ته هم نه ورکوم او له همدې امله نور نه فقيرکيږم. ملګرتيا شتون لري خوکاشکې دوستۍ هم شتون لرلی.

## د يو زره او يوې موخې په اړه:

زردشت ډېر تېرونه او هېوادونه ليدلي. لدې امله د ښو او بدو ملتونو په پېژندنه کې ډېر ماهر دی. هېڅ پدې نړۍ کې د ښو او بدو په اندازه قدرت ندی موندلی. بې له هغو ملتونو څخه چه په لومړيوکې يې ځانو ته ارزښتونه جوړ کړي پدې نړۍ کې نور څوک نه پاتېږي مګر هغه تېرونه چه د بقا هيله لري بايد له خپلو ګاونډيانو سره يو شان ارزښتونه جوړ نکړي.

زما تجربه وايي کومو شيزونو ته چه يو تېر په درنه سترګه ګوري بل ورته سپک او بې قدره نظرکوي. همدا ډول ځينې نور شيزونه يو تېر سپک او بې قدره ګڼي. پداسې حال کې چه بل قوم يې د ستاينې او احترام وړ بولي او پر اجرا کوونکو باندې يې وياړي.

هېڅ وخت دوه ګاونډيانو يو بل نشي درک کولی او تړول تل د خپل ګاونډي له بدۍ اوګمراهۍ څخه په تېښته کې دي. هر تېر ځانګړی جدول لري چه په حقيقت کې د هغو د بريا جدول دی، دا جدول د تېرونو د قوت او غوښتنو د انعکاس جدول دی.

هر شيز چه لاسته راوړل يې ستونزمن وي د ټولو تېرونو لپاره د ستاينې وړ دي. عموما اړين او هغه شيزونه چه لاسته راوړل يې له کړاوه ډک کار وي نېک بلل کيږي. هغه شيز سپېڅلی نومول کيږي چه په سخت او لاس تنګي وخت کې د بريا او خلاصون لامل ګرځي. کوم شی چه د يو تېر د تسلط، فتح او ځلېدو باعث شي د ګاونډيانو د وېرې سبب کيږي. د دې قوم د ارزښتونو په سرکې ځای نيسي او د ټولو شيانو د سنجونې معيار کيږي.

په رېښتيا هم وروره که چېرې ته د يو ملت ګاونډيانو ،اړتياوو، ځمکې او آسمان ته وګورې د هغوی د فتوحاتو قانون به کشف کړې. پدې به هم پوه شې چه څرنګه هغه ملت د خپلو فتوحاتو له چوکاټ څخه د خپلو هيلو او غوښتنو په لور حرکت کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یونانیان دي لاندې فرمان په لړزه راوستل او پدې فرمان یې ستره لاره طی کړه: "ته باید تل لومړی او له ټولو مخکې واوسې. بې له ملګرو د باید هېڅوک په حسود روح کې ځای ولري!" اما هغه ټېر چه زه خپل نوم ترې لرم لاندې وینا او دستور محترم ګڼي: "ریښتیا ووایه او ماهر غشي ویشتونکی اوسه!" دا دستور هم د هغو قوم دی چه عظمت او ابدیت یې پرې پیدا کړ: "د خپل مور او پلار احترام وکړه او په بشپړه خوښه یې د فرمانونو منونکی اوسه!"

په لاندې شریعت او قانون باندې بل قوم صعود وموند او د دې په وسیله یې خپلې لویې هیلې او امېدونه تر لاسه کړل: "خپل باور وساته او د ساتنې په لار، حتی په خطرناکو حالاتوکې له وینې تویونې او شرف خرڅونې اجتناب وکړه!" په ریښتا هم چه انسانان ښه او بد موجودات دي. پدې پوه شئ چه دا ښه او بد پدوی باندې له آسمانه ندي نازل شي.
انسان داسې څیزونه او ارزښتونه ومنل چه ځان پرې وساتلی شي. هغه وو چه په لومړیوکې یې شیانو ته بشري مفهوم ورکړ، لدې امله اوس ځانته انسان یعني ارزښت موندونکي وایي.

اې خلق کوونکو وواړئ: "ارزښت موندل یعنی پیدا کول، ارزښت موندل پخپله د ټولو څیزونو خزانه ده. ارزښت موندونکي دي چه شیانو ته ارزښت ورکوي: بې له ارزښته وجود لکه پوچ بادام داسې دی." آیا اورئ اې خلق کوونکو؟
د ارزښتونو بدلون یعني د خلق کوونکو بدلون، هغه کس چه برخلیک یې پیدا کول دي تل خرابي کوي. د خلقت په لومړیوکې خلک پیدا کوونکي وو او وروسته عادي خلک شول. په ریښتیا هم چه فرد آخرین خلق کوونکی دی.
په تېرو وختونوکې خلکو ځانونو ته د ارزښتونو جدول جوړول. له فرمان ورکوونکو او اطاعت کوونکو سره مینه د دې جدول خالق کوونکي وو. جرګه یې خوند له نفسي خونده پخوانی دی او پداسې حال کې چه ښه وجدان ته جرګه او بد وجدان ته ساه یا نفس وایي.

په ریښتیا هم دا موذي او بې علاقې نفس تل د خپلې ګټې په لټه کې وي. د جرګې مؤسس ندی مګر هڅه کوونکی او ورانکاری یې دی. نېک او بد پیدا کوونکي تل مهربانه او با اخلاقه کسان دي. د ټولو نېکیو، د مینې په اور او غوصه کې ښکاره معلومېږي. زردشت زښته ډېر هېوادونه او تېرونه لیدلی او د عشاقو له آثارو یې لوی قوت په نړۍ کې ندی موندلی او همدې آثارو ته د ښه او بد نوم ورکړل شوی دی.
په ریښتیا چه دا لوی رټلی او ستایلی قدرت ډېر غټ دی. وواياست اې ورونو! "څوک هغه ته ځیرکېدلی شي او څوک شته چه په زرو غاړو یې د بندګۍ ژغ کیږدي؟" تر دې دمه زرو موخو په نړۍ کې شتون درلود ځکه زرو تېرونو په نړۍ کې ژوندکړی دی. اما تر دې دامه داسې ژغ ندی پیدا شوی چه پدې زرو غاړو باندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځای شي او مشترکه موخه په نړۍ کې نده موندل شوې. تر اوسه بشر بې موخې دی.
مګر اې ورونړو ما ته ووایاست! :"کله چه بشر موخه ونلري آیا بشر شتون لرلی شي؟"

## دګاونډي سره د مینې په اړه:

تاسو په خپل ګاونډي چاپېره شوي یاست او دې عمل ته مو ډول ډول نومونه ورکوئ مګر زه درته وایم چه له ګاونډي سره مو مینه له ځانه سره بد محبت دی. تاسو له ځانه تېښته کوئ، ګاونډي ته پناه وړئ او دا عمل مو ستایئ! مګر زه ستاسو دا کړنې یو ظاهري او تش عمل بولم. د (تا) لفظ له (زه) وېي څخه پخوانی دی. لدې امله د (تا) لفظ یو څه وخت کیږي چه سپېڅلی شوی مګر د (زه) لفظ تر اوسه پخپل سر داسې هاله نه لري او لدې خاطره خلک په ګاونډیانو باندې راټولیږي.
زه دګاونډي پر وړاندې مینه نه تدریسوم بلکه تاسو ته وایم چه له ګاونډیانو مو فرار وکړئ او له هغو سره مینه وکړئ چه له هر چا ډېر درنه لرې وي. دګاونډي له مینې له راتلوکې او لېرې سره مینه ډېره ښه ده او زه له شیانو  او پېریانو سره مینه د خلکو په مینه غوره بولم.

اې وروره! هغه پېری چه ستا په مخ کې منډې وهي له تا ډېر ښایسته دی. ولې هغه ته خپلې غوښې او هډوکي نه ورکوې؟ مګر  ته له ډاره خپل ګاونډي ته پناه وړې. تاسو خپل ځان نشئ زغملی او له ځانه سره ډېره کمه مینه لرئ ځکه خو هڅې کوئ چه خپل ګاونډیان مو دسره مینه وکړي تر څو وکولای شئ د دوی په وسیله خپلې غلطۍ پټې کړئ. کاشکي نه مو شوی کولای چه خپل ګاونډیان او دګاونډیانوګاونډیان تحمل کړو او په پایله کې مو له خپل ځانه ځانته زړه سوانده او مهربان ملګری جوړ کړی وای.

هر ځل چه غواړئ د ځان ستاینه وکړئ، داسې څوک شاهد ونیسئ چه ستاسو په اړه ښه نظر وړاندې کړي پدې ډول سره مو د خپل ځان په وړاندې هم نظر غوره کیږي.
هر څوک چه د خپل علم په خلاف خبرې کوي دروغجن دی او هغه څوک چه د خپل جهل په وړاندې خبرې کوي ډېر دروغجن دی. پدې ډول سره تاسو د خپل ځان په اړه په محفلونوکې خبرې کوئ ځان او ګاوډي ته مو فریب ورکوئ. لدې امله خو بې عقل وایي: "له خلکو سره راشه درشه د انسان اخلاق فاسدوي، په ځانګړي ډول سره هغه وخت چه یو انسان خپله د اخلاقو فاقد وي." ځینې د ځان پیدا کولو او ځینې د ځان ورکولو لپاره خپلوګاونډیانو ته پناه وړي. ستاسو په وړاندې خپله بده مینه تاسو ته له یواځیتوبه زندان جوړوي.
هغوی چه لېرې دي د دوستۍ مکافات مو باید ستاسوګاونډیانو ته ورکړي. هر چېرې چه پنځه کسان سره راټول شوي وي شپږم نفر باید مړ شي. زه ستاسو له جشنونو څخه سخت تنګ شوی یم ځکه پدې جشنونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د لوبغاړو شمېر زښته ډېر دی اوکله کله خو لیدونکي هم په لوبغاړو بدلیږي. زه تاسو ته دګاونډيتوب زدکړه نه درکوم بلکه د دوستۍ او ملګرۍ لارښوونه درته کوم. پرېږدئ چه ملګري مو د ځمکې لپاره جشن وګرځي، همدارنګه د ستر سړي په مخکې هم ستاسو جشن شي.

زه تاسو ته ستاسو ملګری او له مینې ډک زړه تدریسوم. مګر هغه څوک چه غواړي له مینې ډک زړه سره ملګري وکړي لومړی باید زده کا چه په څه ډول سره سفنج کېدای شي. زه تاسو ته هغه دوستي تدریسوم چه په وسیله سره یې نړۍ دکمال حد ته رسیږي. زه تاسو ته هغه دوست تدریسوم چه له نېکیو ډک او بشپړه نړۍ پخپل اختیارکې لري.
د هغو له امله نړۍ پراخوالی مومي، بیا ځلیږي او له بدیو یې نېکۍ زیږولې دي. پرېږدئ چه ستاسو ننۍ موخه راتلونکي څیزونه واوسي. د مینې له لارې د خپل ملګري یا په مینه سره ستر سړي ته رسیږي او هغه خپل ننی هدف ټاکې. اې ورونړو! زه دګاونډېي سره د مینې پر ځای له هغو سره د مینې توصیه کوم چه له تاسو په ډېرو لرې واټنونوکې قرار لري.

## د خلق کوونکي د لارې په اړه:

اې وروره! آیا یواځې اوسېدی شې؟ او آیا په یواځېتوب سره خپله لاره پیدا کولی شې؟ یوه شېبه ودرېږه او ما ته غوږ شه!
یوه ډله وايي: "څوک چه پلټنه کوي کېدای شي ګمراه شي. یواځېوالی ګناه ده" او ډېر وخت ته د همدې ډلې غړی وې. په باطن کې تر اوسه د دې ډلې غږ په تا اغېزکوي اوکله چه وایې: "زه نور له تاسو سره مشترک وجدان نه لرم" د رنځ او درد احساس کوې او غمجنیږې.
ته چه د رنځ په لار خپل ځانته رسېدی شې ایا اقدام کولی شې؟ که چېرې کولی شې نو د دې کار قوت ما ته راوښیه! آیا په ریښتیا ته یو نوی قوت ، یو قوي محرک او  په ځان چاپېر څرخ یې؟ او آیا د آسمان ستوري پخپل ځان چاپېر څرخولی شې؟

افسوس لوړو مرتبو ته د رسېدو لپاره مو شهوت څومره ډېر دی او څومره ځان غوښتونکي یو! ما ته وښایه چه شهوت پرست او ځان غوښتونکی نه یې! افسوس! ډېرئ اندونه لکه بالونونه (ډومبکي) داسې دي هر څومره یې چه پوکوې هغومره خالي کیږي. ته ځانته آزاد وایې؟ زه غواړم د اسارت له بنده د فرار پر ځای د فکر واورم.
آیا هغه څوک یې چه د اسارت له بنده د تېښتې  وړتیا لري؟ څومره ډېر دي هغوی چه د اسارت څخه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

تېښتې په صورت کې یې په بشپړ ډول سره خپل ارزښت له لاسه ورکړی دی. د څه له قید څخه آزاد شوی یې؟ پرېږده چه سترګې دې صادقانه راته ځواب ووایي! چه د څه لپاره آزادي غواړې؟

آیا ښه او بد ځانته تحویلولی شې او خپله اراده د نفس قانون کولی شې؟ آیا د ځان قاضي کېدی شې او د ځان لپاره د سرغړونې په صورت کې له ځانه غچ اخیستی شې؟ د خپل قانون او قاضي سره یواځې پاتې کېدل څومره سخت او دروندکار دی. هغه ستوری چه په یخه فضا کې یواځې دی همداسې وضع لري.
اې یواځې کسه! نن ته له خلکو رنځ وړې او تر اوسه په بشپړ ډول سره خپل شجاعت او هیلې له ځانه سره لرې. مګر داسې ورځ هم راتلونکې ده چه له یواځیتوبه څخه به زړه تنګی شې. غرور به د له منځه لاړ شي او شجاعت به د خپل غاښونه چیچي او چیغې به وهې چه :"زه یواځې یم." داسې ورځ به راشي چه خپل غوره څیزونه به نه وینې او بېکاره ټیټ څیزونه به ډېر نیږدې احساسوې. له ځان او مقامه به لکه د پیري پشان په وېره کې وې. هغه ورځ به فریادونه وکړې چه ټول څیزونه دروغ دي!

داسې احساسات هم شته چه تل د منزوي کس په وژلو پسې وي. که چېرې دا احساسات د یواځې کس په وژلو سره بریالي نشي خپله پناه کېږي. مګر ته دومره قدرت لرې چه قاتل شې؟
اې وروره! آیا ته پوهېږې چه سپکاوی څه دی؟ څومره له دردہ ډک دی هغه عدل چه هم ستا سپکاوی کوي او عادل هم وي؟ ته ډېر هڅوې چه تا له سره وپېژني او هغوی له همدې امله تا نه بښي. ته هغوی ته ډېر نیږدې شوی یې او په همدې خاطر نابلده ترې تېرېږې. لدې امله به د دوی هېڅکله ونه بښي.
ته له هغوی ډېر لوړ ځې او هر څومره چه پورته کېږې د هغوی کینه زیاتېږي اوکوچینی د وینې. هغه څوک تر ټول زیات دکینې وړګرځي چه وزر لري. وایي: "څرنګه ستاسو په وړاندې عادل کېدلی شو؟" زه ستاسو بې عدالتي او ظلم د خپل قسمت په عنوان ټاکم.

بې عدالتي او چټلي د منزوي کس په طرف غورځوي مګر اې وروه! که چېرې غواړې چه ستوری شې باید په هر څه سربېر د هغوی په سر وځلیږې! له ښو او صالحو خلکو لرې ګرځه! ځکه دوی له هغوکسانوکرکه کوي چه د نېکۍ او بدۍ نوی معیار جوړوي او منزوي کسان د ځان دوښمنان بولي. له ساده او سپېڅلو خلکو هم لرې تېښته کوه! ځکه دوی یواځې هغه څیزونه سپېڅلي ګڼي چه ساده وي. دوی له اور سره د لوبو څخه خوند اخلي په ځانګړي ډول سره هغه وخت چه اور د مخالفینو لپاره بل شوی وي. او د خپلې مینې له حملو څخه هم په فرارکې اوسه! منزوي کس ډېر زر د هغو په طرف لاس اوږدوي چه د لیدنې لپاره یې راغلي وي. ته باید د ډېرو خلکو ته لاس ورنکړې، مګرکاشکې ستا منګولې تېزې او قوي وای!
ستا همېشنی دوښمن خپل نفس دی. نفس دې په سومڅو او ځنګلونوکې په کمین کې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اې منزوي! ته د خپل نفس په طرف روان يې او ستا لاره له اوو شيطانانو څخه تېرېدونکې ده. ته بايد پخپل نظرکوډګر، دعا ليکونکی، احمق، شکاک او شرير واوسې. ته بايد په خپلو شغلوکې ځان وسېځې، تر څو چه ايره نشې له سره رغونه د څه ډول ممکنه ده؟

اې يواځې کسه! ته د يو خلق کوونکي په لاره پل بږدې، ته به د نفس له اوو شيطانانو د ځان لپاره خدای جوړ کړې. اې منزوي! ته د مينانو په لاره قدم بږدې، پداسې حال کې چه له ځانه سره دومره مينه لرې چه يواځې عشاق يې کولی شي؛ همدومره ځان سپک او له ځانه سره دوښمني هم لرې. مين دوښمن لري، سپک ګڼل کيږي او خلق کولی شي، هغه چه په برخليک کې يې د معشوقې دوښمني نشته په مينه څه پوهيږي؟

اې وروره! د انزواکنج ته په خپله مينه او خلق کوونکي قدرت پناه يوسه! وروسته کېدای شي عدالت درپسې راشي. اې وروه! د خپل يواځيتوب ګوښې ته لاړ شه! زما اوښکې د له تا ځار وي! زه له هغوکسانو سره مينه لرم چه له ځانه لوړ څيزونه خلقوي او په همدې لاره کې سر قربانوي.

## د ځوانو او زړو ښځو په اړه:

اې زردشته! ولې پدې ګردجنه او دوړنه هواکې د غلو پشان ځې؟ او هغه څه شی دي چه په کوت کې د پټ کړي دي؟ آياکوم خزانه چا درته ډالۍ کړې؟ يا خدای کوم ماشوم درکړی؟ کنه اوس ته هم دګناهنګارانو او شريرانو ملګری شوی او غل ګرځېدلی يې؟

زردشت ووېل: "اې وروره! په کوت کې بې له شکه راسره هغه خزانه ده چه چا راته ډالۍ کړې او هغه هم يو کوچينی حقيقت دی. مګر دا حقيقت داسې نافرمانه او شيطان ماشوم دی که چېرې يې لاس له خولې لرې کړم چيغې به ووهې او ما به رسوا کړي."

د لمر لوېدو په وخت مې يواځې قدم وهلو چه يوه کوچينۍ بوډۍ ښځه مې وليده او زما روح ته يې ووېل: "زردشت زموږ په اړه ډېرې خبرې کړېدي مګر تر دې دمه مو خپله له ده څه ندي اورېدلي." او ما ورته ووېل: "د ښځې په اړه يواځې بايد له سړيو سره خبرې وکړل شي."

هغې ووېل: "له ما سره هم د ښځو په اړه خبرې وکړه!" ما ومنله او داسې مې ووېل: "د ښځې ټول څيزونه معما دي او ټول شيان په يوه ځواب چه زېږد دی ختميږي. سړی د ښځې په نظر يوه وسيله ده، تل پای يواځې ماشوم دی اما ښځه د سړي لپاره څه ده؟

حقيقي سړی د دوه څيزونو غوښتونکی دی : خطر او لوبه. لدې امله ښځه د لوبې د يو ډېر خطرناک شي په حيث غواړي. سړی بايد د جګړې او ښځه د جګړنو زيږولو لپاره بايد وروزل شي. بې لدې که هر څه وکړي بې عقلي او احمقتوب دی.

جګړن ډېرې خوږې مېوې نه خوښوي. لدې خاطره له ښځو سره مينه لري ځکه ډېرې خوږې ښځې تر ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېرې ترخې وي. ښځې له سړي ډېرې د ماشومانو په روحيه پوهيږي او سړی د ښځې په نظر ماشوم ته ورته دی. په حقيقي سړي کې د ماشوم روح پټ دی او روح يې د لوبې لپاره الوتنه کوي. اې ښځو راپورته شئ! او ماشومانه روح په سړيو کې ما ته کشف کړئ.

پرېږدئ چه ښځه يو قيمتي او ارزښتناک د لوبو شی پاتې شي او په ځان کې د نړۍ تر ټولو غوره صفتونه پټ وساتي. پرېږدئ چه د ستورو ځلېدونکې شعاوې ستاسو په مينه کې وځليږي! تل دا هيله ولرئ چه کاشکې ما ستر سړی زيږولی وای. پرېږدئ چه مينه مو په شجاعت کې ډوبه وي! هغوی چه تاسو وېروي په مينه باندې تر حملې لاندې ونيسئ! وياړ مو تل په مينه وکړئ! يوه باشرافته ښځې بل شي ته اهميت نه ورکوي. مګر پرېږدئ او افتخار وکړئ هر څومره چه د علاقې وړ ياست له هغې ډېرې علاقه مندې واوسئ او هېڅکله لومړۍ مرتبه له لاسه مه ورکوئ. پرېږدئ چه مين له خپلې مينې په تېښته کې واوسي! هغه وخت نوموړې هر څه قربانوي او هېڅ شی ورته ارزښت نلري. او پرېږدئ سړی له هغې ښځې په فرارکې شي چه کرکه ترې لري! ځکه هغه شرير سړی د روح په عماقوکې بد دی او ښځه له هغه بده.
ښځه له چا ډېره کرکه کوي؟

اوسپنې مقناطيس ته ووېل: "زه له تا څخه تر ټولو ډېره کرکه لرم ځکه ته مې کشکوې خو دومره قدرت نه لرې چه ځانته مې جذب کړې." د سړي خوښي پدې کې ده چه وواييي: "زه اراده کوم." او د ښځې خوښي پدې کې ده چه وواييي: "زه د سړي اراده کوم."
دا هغه څه دي چه ښځه يې د مينې په وخت کې په بشپړ اطاعت له ځانه سره وايي: "وګوره! نړۍ پدې شېبه کې بشپړيږي." ښځه بايد اطاعت وکړي تر څو د خپلې سطحې لپاره عمق پيدا کړي. د ښځې طبيعت سطحي دی او د هغه ځګ په شان چه دکم عمقه اوبو په سر يوې او بلې خوا ته ځي. مګر د سړي طبيعت ژور دی او لاره يې د سمندرونو په تل کې ده. ښځه پدې قدرت پوهه شوې خو نه يې درک کوي."

هغه وخت کوچينۍ بوډۍ راته ووېل: "زردشت په بشپړ او ځانګړي ډول سره هغو ته ښه وايي چه ځوانې دي. هېښوونکې دا ده چه د زردشت پوهه د ښځو په اړه ډېره کمه ده خو بيا هم د دوی په اړه سم قضاوت کوي. آيا علت همدا دی چه د ښځو په باره کې هېڅ شی ناممکن ندي؟
اوس د منڼې په عنوان زما دا کوچينی حقيقت ومنه. زه په بشپړ ډول سره بوډۍ شوې يم نشم کولی پدې اړه درته خبرې وکړم. هغه ښه پټ اوکلک وساته کنه دا کوچينی حقيقت به چيغې وکړي."
نوموړې ته مې ووېل اې ښځې! خپل کوچينی حقيقت ما ته ووايه او هغې داسې ووېل: "هر وخت چه د ښځو په طرف ځې خپله متروکه مه هېروه!"

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دکپچه مار د چیچ په اړه:

یوه ورځ زردشت د ډېرې ګرمۍ له امله د انځیر ونې لاندې ویده شو او مخ یې پخپلو لاسو پټ کړ او هغه وخت کپچه مار راغی د زردشت غاړه یې دومره سخته وچیچه چه له درده یې چیغې وکړې. زردشت لاسونه له مخه لرې کړل او مار ته یې وکتل. مار چه دزردشت سترګې وپېژندې شرمنده شو او په ناراحتۍ سره یې غوښتل لاړ شي.

زردشت ورته وویل: "پدې ډول مه ځه! تر دې دمه دې زما مننه نده اورېدلې؛ تا زه په ډېر ښه وخت ویښ کړی یم او زه ډېره اوږده لار په مخکې لرم." مار په ډېر خفګان سره ورته وویل: "ستا لاره ډېره لنډه ده ځکه زما زهر وژونکي دي." زردشت په خندا ورته وویل: "ایا تر دې دمه د اورېدلي چه ښامار د مار زهرو وژلی وي؟ ماره خپل زهر بېرته واخله ځکه دومره قدرت نه لرې چه ما ته د زهر راکړې." هغه وخت مار خپله غاړه د زردشت غاړه ته یووړه او خپل زهر یې بېرته وزبېښل.

یوه ورځ زردشت خپلو زدکوونکو ته داکیسه کولو او هغوی ترې وپوښتل: "زردشته موږ ته ووایه! لدې قصې د مطلب څه وو او موږ ته څه درس راکوي؟"
زردشت وویل: "ما ته نېک او صالح خلک د اخلاقو مخرب وایي او داکیسه چه تاسو ته مې وکړه د اخلاقي موازینو په خلاف وه.
که چېرې تاسو دوښمنان لرئ د هغوی بد په ښو سره مه اداکوئ ځکه دا عمل د هغوی د شرم سبب ګرځي.
مګر هغوی ته داسې ښکاره کړئ چه فکر وکړي پخپلو بدو سره یې ستاسو لپاره خدمت کړی دی. ستاسو زر ځله غوصه د مقابل طرف پر شرمنده کولو غوره والی لري. که چېرې چا درپسې لعنت وویل تاسو ورته د خیر دعا وکړئ، برعکس تاسو هم په لعنت ویلوکې ورسره برخه واخلئ.
که چېرې چا درسره ډېر او ستر بد وکړل تاسو په هغو باندې پنځه نورکوچیني بد هم وراضافه کړئ ځکه څوک چه یواځې مظلومېږي څېره یې د زړه سوي وړ او بدرنګه معلومېږي. لږ غچ اخیستنه د بشري روح سره تر هېڅ نه اخیستنې ښه جوړېږي. زه ستاسو له غندنو سره مینه نلرم مګر هغه چه د حق او ویاړ سبب کېږي. د خپل حق د احتجاج څخه سترګې پټې کړئ مګر د داسې کار د ترسراوي لپاره باید انسان بې اړتیا وي.

زه ستاسو له عدالت سره مینه نه لرم، ستاسو د قاضیانو په سترګوکې د توره په لاسه جلاد څېره ښکاري. ما ته ووایئ: "داسې عدالت چېرته دی چه په خلاصو سترګو یې ووینو؟"
داسې مینه راته وښایاست چه ټول مجازات اوګناهونه په غاړه اخلي! هغه عدالته راته په ګوته کړئ چه بې له قاضي ټول تبرئه کولی شي! او دا هم واورئ هغه څوک چه د عدالت لټوونکی دی له بشردوستۍ څخه انکار

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي او باطلوي يې. مګر څرنګه په بشپړ ډول عادل کېدلی شو؟ زما لپاره دا کافي ده چه هر څه زما اړوند دي له ټولو قربان کړم.
په آخرکې واړه ورونو ته وايم چه د راهب له بدۍ څخه تېښته وکړئ ځکه، څرنګه يو راهب ستاسو بدي هېرولی شي؟ هغه يې څه ډول په ورته شي تلافي کولی شي؟ راهب د ژور ځاه په شان دی. تيره غورځول پکې اسانه دي خوکله يې چه تل ته ورسيږي، څوک شته چه هغه ترې را وباسي؟
تاسو ته د راهبانو له بدۍ څخه په تېښته ټينګارکوم مګر دا هم درته وايم : "که کوئ بيا يې هېڅکله ژوندي مه پرېږدئ!"

## د هلک او واده په هکله:

اې وروره! زه له تا يوائې او يوائې يوه پوښتنه لرم کوم چه ستا د روح د ژورتيا د سنجولو لپاره مې جوړه کړېده. ته نوی ځوان يې زوی او مېرمن غواړې. زه له تا تپوس کوم: "آيا ته په ريښتيا دومره لوی شوی يې چه د زوی غوښتنه کوې؟"
زه له تا پوښتم: "تر دې دمه پخپل نفس، غريزو او فضايلو باندې په بشپړ ډول حاکم يې؟ کنه پدې برخه کې يوائې يوکوڼ او ړوند د اړتياوو ډک حيوان يې؟ يواځېتوب او له خپل ځان سره مخالفت د محرک دي؟"
کاشکي ستا فتحې او آزادۍ زوی غوښتی تر څو د هغې په وسيله دې د فتحې او آزادۍ يو ژوندی مثال رامنځته کړی وای.
ته بايد له ځانه غوره نسل رامنځته کړې مګر تر هر څه مخکې بايد ځان ښه سم جوړ کړې، په روح او بدن کې بايد بشپړ شې! ته بايد هڅې وکړې چه راتلونکی نسل ته پرمختګ ورکړې او لوړو مرتبو ته يې ورسوې ځکه هغه وخت ستا د واده بنې له تا سره مرسته کولی شي. ته بايد يو روغ جسم، يو اصلي محرک او يو ګرځنده اتومات څرخ يا په بل ډول ته بايد نوښتګر (خلق کوونکی) وزيږوې!

زما په نظر واده هغه دی چه دوه کسان داسې دريم کس رامنځته کړي چه په دوی دواړو غوره وي. هغوی چه د واده په اړه دا ډول نظر لري بشپړ احترام ورته لرم. پرېږده چه ستا د واده حقيقت او مفهوم همدا واوسي مګر هغه چه ډېرئ خلک واده ورته وايي زه يې واده نه ګڼم.
دوی خپل فقر ، اروايي نارغيو او دوه اړخه کرکجنې آرامۍ او رحت ته واده وايي او بيا له ځانه سره وايي چه عقد يې په آسمان کې تړل شوی دی. زه د دې وحشي او بې عقله خلکو سره چه د آسمان په دامونوکې بند پاتې دي مينه نه لرم. دوه کسان يې د يو بل لپاره ندي پيدا کړي خو برکت پکې اچوي؟ پداسې خدای له عقيده د له ما تل لېرې وي. پدې واده پورې مه خاندئ! کوم ماشوم شته چه د خپل والدين له لاسه يې فرياد نه وي لرلی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لومړیوکې لایق او رسېدلی سړی په نظر راغی مګر ښځې ته مې یې چه وکتل ځمکه راته دارالمجانین ښکاره شوه. هوکاشکي! هرکله چه یو سړی له بې ارزښته او بېکاره ښځې سره جوړه کېدلی ځمکه او وخت په لړزه راتللی.

یو سړی د اتلانو پشان د حقیقت په لټه کې روان شو او بلآخره یې داسې یو څه پیدا کړل چه په دروغو او ښځینه جامو پوښل شوي وو او له هغه سره یې  واده وکړ. بل چه له اشرافو وو د مېرمنې په ټاکنه کې ډېر دقیق وو ناڅاپه یې دایمي ملګرې په نصیب شوه او نوموړی ته یې تر ابده نزول ورکړ. بل د داسې چوپړې سره واده وکړ چه د پریښتې پشان د فضایلو او محسناتو درلودونکې وه او اوس پخپله د یوې ښځې خدمتګار شوی دی باید پریښته کېدل زده کړي.
ټول پېرودونکي هوښیار او محطاط دي مګر تر ټولو هوښیار هغه دي چه نالیدلې ښځه ټاکي. هغه چه تاسو ورته مینه وایاست یوه زر تېرېدونکې بې عقلي او یو موټی خوښي ده، واده ستاسو دا بې عقلانه خوښي ختموي او یوه ابدي بې عقلي تل په ځای ترې پاتېږي.
کاشکي ستاسو مینه له ښځو سره او د هغوی ستاسو سره د همدردۍ له امله وای او د یو بل صفتونه مو خوښېدلی اما معمولا وروسته له واده معلومېږي چه دواړه سوچه حیوانات یاست.

داسې ورځ به راشي چه مینه به مو د نفس څنډو ته ورسي، هغه وخت کېدای شي مینه زده کړئ ! ځکه تاسو یې د مینې تریخ جام څښلو ته اړکړي یاست. تر ټولو غوره مینوکې هم تریخ جامونه پیدا کېږي لدې امله تاسو د (ستر سړي) غوښتونکي او نوښت ګرکیږئ. د نوښتګرو تږیتوب د هغو هیلو غشی دی چه د (ستر سړي) په طرف ځي، اې وروره! ما ته ووایه: آیا له واده څخه د مقصد همدا دی؟
که داسې وي دا واده او اراده زه سپېڅلې ګڼم.

## د آزادې مړینې په اړه:

ډېرئ خلک له ټاکلي وخت ډېر پس او ډېر بیا له وخته مخکې لدې نړۍ څخه سترګې پټوي. تر دې دمه هغه شریعت چه وایي (په وخت ومره!) ډېر عجیب ښکاري.
زردشت تاسو ته په وخت مړکېدل تدریسوي.
اما نه، هغه کس چه هېڅ وخت یې پخپله موقع ژوند نه وي کړی څرنګه په موقع مړکېدای شي؟ کاشکي دا کسان هېڅ دې نړۍ ته راغلی نه وای! دا تعلیم زه ډېرو خلکو ته ورکوم. مګر ډېرئ خلک هم خپل مرګ ته اهمیت ورکوي. حتي پوچ بادام هم د ماتېدو هیله لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول خلک مړینې ته اهمیت ورکوي مګر تر دې دمه چا د مړینې لپاره جشن ندی جوړ کړی. تر اوسه خلکو د مرګ سپېڅلی جشن ندی زده کړی.

زه تاسو ته د داسې مړینې نغوته کوم چه د ژوند په نسبت بشپړوونکی، محرک او سپېڅلې وثیقه ده.

بریالی شخص لکه یو فاتح داسې مرګ ته ښه راغلاست وایي. پداسې حال کې چه ګرد چاپېره یې هغه کسان راټول دي چه له ده سره په یوه لار روان او راتلونکي ته هیله مند دي.

پدې اساس باید مړه شو. مګر هغه کس چه له ژوند سره یې خپل قول سپېڅلی ونشماري د جشن وړ ندی.

دا دې مړینې ډېره غوره لاره ده؛ په دوهمه درجه کې هغه مرګ دی چه د مبارزې او جګړې په صورت کې رامنځته شي او د جنګ په میدان کې شهید شي.

د فاتح او شهید له نظره ټول هغه مرګونه چه لکه غل په ورو ورو او تدریج سره زموږ خواوو ته راځي او بلآخره راباندې حمله کوي دکرکې وړ دي. زه تاسو ته د آزاد مرګ تعلیم درکو یعني کله یې چه زه غواړم راځي.

څه وخت باید د مړینې اراده وکړل شي؟ هغه څوک چه موخه او وارث لري کېدای شي په مناسب وخت کې د خپل وارث او موخې په وړاندې د مرګ اراده وکړي. داسې کس به د خپل وارث او موخې د احترام په خاطر هېڅکله د رژېدلو ګلانو ګېډۍ راځوړند نه کړي او ژوند ته به ډېر وخت ورنکا.

پدې پوه شئ! زه د طناب اوبدونکو پشان نه یم. هغوی هر څومره چه طناب اوږدوي هغومره په شا ځي.

ډېر خلک وروسته د حقایقو او فتوحاتو له درکه هم تر ډېره وخت ژوند ته ادامه ورکوي مګر بې غاښو خوله نور د هر ډول حقیقتونو د درک وړتیا نه لري.

هغوی چه په شهرت او ویاړ پسې دي باید په موقع او افتخار سره خدای پاماني وکړي او همدارنګه په موقع د مړینې هنر زده کړي. انسان باید هغه وخت ځان ورک کړي چه د خوشالۍ مزه یې لا په خوله کې پاتې وي. که څوک دا درک کولی شي د ډېرې اوږدې مودې لپاره د خوښې وړ وګرځي.

البته تروشې منې شته چه برخلیک یې همداسې دی، د مني تر آخرو ورځو پاتېږي او خپل نوبت ته په انتظار کې وي او په همدې لړکې زېړې او شوته (رژېږي) کېږي. د ځینو لومړی زړه او د ځینو روح بوډا کېږي او داسې کسان هم شته چه لا ځوانۍ ته نه وي رسیدلي بوډا شوي وي مګر چه پس ځوان شي ډېر دوام کوي.

د ډېرې خلکو لپاره ژوند له ماتو او ناکامیو څخه زیات بل څه ندی. هر شپه د ناهیلۍ چینجی د دوی زړه خوري. پرېږده چه هڅې وکړې او حد اقل په خپله مړینه بریالي شي.

ډېر داسې خلک هم شته چه هېڅکله نه خوږېږي او اوړي ته له رسېدو مخکې په غوټیوکې وچېږي. یواځې ټنبلۍ دوی د ژوند په ښاخونوکې محکم ساتلي دي. داسې اشخاص هم زښته ډېر دي چه له حده زیات د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندون په شاخونو چسپېږي. کاشکي تاسې یو طوفان راغلی وای چه دا ټولې چینجنې مېوې یې د ژوند له ونې څنډلې وای!

کاشکي د مړینې تبلیغیان زر تر زره د دې خلکو په منځ کې پیدا شوی وای! دوی د ژوند په ونوکې د دې چینجنو میوو لپاره د توپان حیثیت لري مګر افسوس تبلیغیان یواځې او یواځې د تدریجي مړینې تعلیم ورکوي او خلک د ټولو هغو څیزنو په وړاندې چه په ځمکه اړوند دي صبر او زغم ته هڅوي.
اې تبلیغیانو تاسو پر ځمکه باندې د مربوطو څیزونو پر وړاندې د صبر او زغم توصیه کوئ! پداسې حال کې چه د دې نړۍ د صبرکاسه ستاسو پشان کافرو خلکو له لاسه ډکه شوېده.
ریښتیا هم هغه یهودي چه د مړینې تبلیغیان یې د احترام وړ بولي له خپل وخته مخکې مړ شو او دا بې وخته مړینه د ډېرو خلکو لپاره خطرناکه او وژونکې وه. کله چه عیسی بې له ځانه د نورو په اړوند د یهودانو، دوښمنانو او صالحینو اوښکې او تشویشونه ولیدل د مرګ غوښتنې پرې غلبه وکړه.
کاشکي نوموړي د څه وخت لپاره له نېکو او صالحو خلکو لېرې په دښتوکې ژوندکړی وای او ځمکې ته یې د ژوندکولو لارې، د ځمکې درلودل او خندا یې پکې زده کړې وای. اې ورونو! باور وکړی هغه زر ومړ، که چېرې نوموړي ژوندی پاتې شوی وای خپل شریعت ته به یې څټ کړی وای. مګر نوموړی تر اوسه خام وو. د ځوانۍ مینه او د نړیوالو پر وړاندې کینه یې تر اوسه خامه وه. تر اوسه د هغو روح د سختو ځنځیرونو په بندکې دی اما د خلکو له نظره د ماشوم روح ډېر او تشویش یې له ځوانانوکم وي. یو عاقل کس له ژوند او مرګ سره له یو ځوان څخه ډېر آشنا دی. هغه د مړینه او مرګ لپاره آزاد دی او هر وخت چه د (هو) ویلو وخت راشي (نه) ورته مقدسېږي او پدې ډول سره له ژوند او مرګ سره ډېر آشنا دی.

د دې لپاره چه ستاسو مړینه د ژوند او بشر پر وړاندې کفر نه وي؛ اې زما دوستانو ستاسو له خواږه روحه غوښتنه کوم چه داسې کار وکړي تر څو د مرګ په وخت کې ستاسو د فضیلتونو او نېکیو له امله ستاسو د لمر لوېدو په وخت کې په آخرۍ درجه وځلېږي. کنه ستاسو مړینه په وخت نده شوې.
زه خپله په همدې ډول غواړم ومرم چه تاسو زما له امله له ځمکې سره ډېره مینه وکړئ. غواړم د دوهم ځل لپاره په خاورو تبدیل شم تر څو وکولی شم د هغې مور په لمن کې ویده شم چه زه یې رامنځته کړي وم.
په ریښتیا هم زردشت موخه درلوده او غشی یې د خپلې موخې په طرف وار کړل. اې دوستانو زما د موخې وارثین واوسئ زه خپل زرین غشی تاسو ته درکوم. هیله مې همدا ده چه زرین غشي مو د خپلو موخو په طرف وارتیګئ. له همدې امله زه یو څه نور وخت هم غواړم په ځمکه کې پاتې شم نو ښښنه راته وکړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ښونکي د فضیلت په اړه:

کله چه زردشت د خپلې خوښې ښار یعني خالداره غوایي نومي ښار څخه لاړ ډېرئ پیروان یې ورپسې شول او له نوموړي سره تر څلور لارې پورې وو. هلته زردشت دوی ته مخ کړ او ووېل: "نور مو پرېږدم ځکه زه له یواځېتوبه خوند اخلم." پیروانو یې د جدایۍ په وخت کې نوموړي ته داسې لکړه ورکړه چه طلایي لاستی او په سرکې یې مار د لمر چاپېرکولچه وهلې وه.

زردشت لدې ډالۍ څخه بې نهایته خوښ شو. په هغې یې تکیه وکړه او خپلو پیروانو ته یې داسې ووېل: "آیا پوهېږئ چه زر ولې له هر شي ډېر قیمته دي؟ ځکه ملایمه او په زړه پورې ځلا لري. طلا تل ځان ښيي." یواځې د انځور په بڼه زرو تر ټولو لوی فضیلتونو موندلي دي. دکریم کس نظر زرین دی. ځلېدونکي زر له لمر او سپوږمۍ سره سوله برقراروي.

تر ټولو لوی فضیلتونه یې کم پیدایښت، بې ګټې توب او ملایمه زړه وړونکې ځلا ده. ښونکی فضیلت تر ټولو غوره فضیلت دی. واقعا ما تاسو پېژندلي یاست. تاسې هم زما پشان په ښونکي فضیلت پسې ګرځئ! تاسو له پیشوګانو او لېوانو سره څه مشترک فصل لرئ؟

تاسو دې ته تږي یاست چه د قربانۍ او ډالۍ په بڼه راشئ. لدې خاطره د خپل روح لپاره د مال او دولت په جمع کولوکې بیړه کوئ.

ستاسو روح تل د خزانو او قیمتي تیږو په پیدا کولوکې دی. ځکه فضیلت مو د ښنلو په اراده کې نه مړېدونکی دی. تاسو هر څیز مجبوروئ چه په خوا مو راشي او په تاسوکې حلول وکړي تر څو له روحه مو د مینې د ډالیو په ډول بهر ته لاړ شي. دا ډول ښونکې مینه په ریښتیا هم باید د ټولو ارزښتونو غله شي مګر دا شان ځان غوښتنه زه پاکه او سپېڅلې ګڼم.

بل ډول د ځان پیروي هم شته چه وږې او غریبه ده او تل د غلې په لټه کې وي، دا د ناروغانو ځان پرستي ده. دا ډول ځان غوښتونکي یا ځان پیروونکي هر څیز ته د غلو پشان ګوري او د هغه وږي پشان چه ډېره کمه ډوډۍ لري په وږې لېوالتیا سره کتل کوي. تل د ښونکو د مېزونو په چاپېرکې عاجزګرځي تر څو د دسترخوان پاتې شوني یې وخوري. پدې ډول لېوالتیا کې پټ فساد او ناروغي موجوده ده. د دې ځان غوښتنې غلګنې هېلې پر یو رنځور جسم باندې دلالت کوي.

اې ورونړو! ووایاست: "آیا فساد زموږ لپاره تر ټولو څیزونو بد ندی؟" هر چېرې چه روح ورکونکی نشته د فساد بوی پکې حس کېږي. موږ د عادي انواعو له منځه لوړو انواعو ته صعودکوو مګر فاسد اندونه مو اوس هم وایي: "ټول څیزونه زما لپاره دي."

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ فکر پورته صعودکوي، اند مو هم د جسم پشان دی او زموږ د ترفيع او صعود يو انځور دی. د ټولو فضايلو نومونه د دې ترفيع او صعود له انځور څخه دي. پدې ډول سره جسم له تاريخه تېرېږي. جسم يو واقعي مبارز او اورېدونکی دی او روح مو د جسم ملګری او استازی دی.

ټول ښه او بد نومونه له انځورنو زيات بل شی ندي. هغوی هېڅکله په صراحت خبرې نه کوي مګر يواځې خپل مقصد ته نغوته کوي. هغوی احمق دي چه پدې برخه کې د علم کولو په فکرکې وي.
اې ورونو! هر هغه ساعت چه ستاسو فکر پکې په انځورنو خبرې کوي پاملرنه وکړئ! دا د فضيلت منشا ده او پدې ډول سره ستاسو جسم لوړو مرتبو ته صعودکوي. د جسم نېکبختي د روح د خوښۍ سبب کيږي او بلآخره په نوښتګر، ارزوونکي، مين او د ټولو څيزونو ښونکی کيږي.
کله چه ستاسو زړه لکه رود داسې پوره ډک شي د اطرافيانو لپاره مو خطر او برکت کېدای شي. دا ستاسو د فضيلت منشا کيږي. هغه وخت تاسو د ستاينې او تقدير وړ وګرځئ چه اراده مو د مين دې ارادې پشان شي او ټول څيزونه تر خپل کنترول لاندې راولئ. پدې ځای کې مو د فضيلت سرچينه قرار لري. همدارنګه کله چه ستاسو له مزه ناکو څيزونو او د خوب له نرمو تختونو څخه بد راشي او په بشپړ ډول سره ترې پرهېز وکړئ، دا ستاسو د فضيلت منشا کيږي. هرکله چه تاسو ټول د يوې جدې اړتيا غوښتونکي شوئ او ټول حاجتونه مو د شتون دې اړتياوو پيرو شول، دا مو هم بيا د فضيلت سرچينه ګڼل کيږي.

بې له شکه دا نوې بدګڼه او ښېګڼه نده. واقعا نوې ژورتياوې جوړيږي او د نوې چينې غږ تر غوږوکيږي. دا نوی فضيلت قدرت دی. دا هغه ستر فکر دی چه په چاپېرکې يې له معما ډک روح آلوت کوي. دا هغه زرين لمر دی چه ګرد چاپېر يې د علم مارګرځي.

۲

دلته زردشت چوپتيا غوره کړه او په مينه سره يې خپلو پيروانو ته وکتل. پداسې حال کې چه غږ يې تغيرکړی وو بيا يې خبرې پيل کړې او داسې يې ووېل: "اې ورونو! زه له تاسو غوښتنه کوم چه د فضيلت په ټول قوت سره د ځمکې په نسبت وفادار پاتې شئ!
پرېږدئ چه ستاسو مينه ورکوونکی او علم د ځمکې په چوپړکې پاتې شي. دا هغه څه دي چه زه يې له تاسو استدعا او غوښتنه کوم!
مه پرېږدئ چه ځمکني څيزونه فرار وکړي او خپل وزر د ابديت دېوالونو ته وسپاري. افسوس! څومره ډېر فضيلتونه د وزرونو په خلاصولو سره ګمراه او د ځمکې له واقعي مقصده په نورو بې ځايه لاروکې لګول شويدي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما پشان خپل ورک شوی مرغه بېرته ځمکې ته راوړئ! هو، هغه بېرته ځمکې او جسم ته راوګرځوئ تر څو ځمکې ته بیا هغه بشري مفهوم ورکړي! تر دې دمه روح او فضیلت سلګونه ځله ګمراه شویدي. افسوس تر اوسه زموږ په بدن کې ټول دا ډول بې بنسټه خیالونه اوګمراهۍ ژوندي دي او زموږ د جسم او ارادې په حیث یې ځان ښکارکړی دی.

روح او فضیلت په سلګونو ځله میدان ته راغلي او هر ځل ګمراه شویدي. هو، خپله بشر یو امتحان دی.
افسوس جهل او اشتباوو په موږکې تجسم پیداکړی! نه یوازې د پېړیو پوهې بلکې لېونتوب یې هم په موږ کې تجسم موندلی؛ وراثت خطرناک دی. موږ په هر قدم کې له سختیو سره مخ یو او تر دې دمه په ټولو انسانانو باندې لېونتوب او ناپوهۍ حکومت کړی دی.
اې ورونو خپل روح او فضیلت د ځمکې د چوپړ لپاره وقف کړئ او پرېږدئ چه د ټولو څیزونو ارزښتونه له سره د تاسو په وسیله وټاکل شي! هغه وخت به د نوښتګرو په ډله کې راشئ.
جسم د علم په وسیله ځان پاکوي او په پوهې سره د غوره توب هڅې کوي، د عالم کس په نظر ټولو غریزې سپېڅلې دي. د هر چا روح چه سپېڅلتیا موندلې له خوښیو ډک دی.
اې رنځورمله! د ځان درملنه وکړه تر څو خپل ناروغ ته هم شفا ورکړی شې! پرېږدئ د نوموړي تر ټولو ښه یار هغه واوسي کوم چه په خپلو سترګو یې د ځان بشپړولو په حالت کې لیدلی.
په زرګونو داسې لارې شته چه تر اوس چا پرې پل ندی اېښی. په ژوندکې په زرګونو پټې دښتې او جزیرې شتون لري. بشر او ځمکه تل د ځان لپاره نه خلاصیدونکي او ناکشف شوي څیزونه لري.
ویښ او غوږ شئ! اې د منزویانو ډلې! له راتلونکې د غرونو په ډډیو پټ بادونه رالګیږي او د اورېدونکو غوږونو لپاره دا بادونه د خوشالۍ زېري لري.
اې د نن یوازې خلکو! اې هغو چه له نورو لرې ګرځئ! یوه ورځ به د یو ټبر په بڼه سره راټول شئ. ستاسو له منځه یې چه ځانونه ټاکلي کېدای شي یو غوره ټاکل شوی قوم واوسي او بلآخره به د دوی له منځه (ستر سړ) ظهور وکړي.
واقعا به ځمکه د شفا ځای شي او همدا اوس خوندور او د نجات بوی تر پوزوکیږي او نوې هیلې په زړونو کې ټوکوي."

### ۳

د دې خبروکولو وروسته زردشت بیا چوپتیا غوره کړه خو ښکاره وه چه خبرې یې تر اوسه پای ته ندي رسېدلې. د اوږد وخت لپاره سرګردانه غوندې ښکارېدا او لکڼه یې په لاسونوکه اړوله. پداسې حال کې چه غږ یې بدلون کړی وو بیا په خبرو پیل وکړ او داسې یې ووېل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

"اوس به نو په یواځېتوب سره لاړې ته ادامه ورکوم او ستاسو څخه هم دا هیله کوم چه یواځې سفر وکړئ.
په ریښتیا درته وایم له ما لرې او په تېښته کې ګرځئ او زما هره خبره مه منئ هسې نه تاسو ته فریب درکړم.
پوه سړی هغه دی چه د دوښمنانو سره په مینه کولو برسېره له دوستانو سره هم دوښمني وکړی شي. د یو ښوونکي تر ټولو بده سزا دا ده چه زده کوونکي یې تر ابده په شاګردۍ کې پاتې شي. لدې امله باید زما له درسونو څخه په استفاده ځانونه قانع نکړئ.
تاسو ما ته بشپړ احترام کوئ مګرکه یوه ورځ ستاسو احترام له منځه لاړ شي بیا؟ په تېښته کې اوسئ هسې نه چه ستاسو د یاد یو بنسټ یوسم، تاسو وایاست چه په زردشت باور لرو مګر د زردشت ګټه څه ده؟ تاسو زما متعقدین یاستئ مګر د دې اعتقاد فایده څه شی ده؟
تاسو تر اوسه ځانونه ندي موندلي زه مو پیدا کړی یم. د متعقدانو ټول رسمونه او لارې پدې ډول ده، لدې امله باور اوګروهنه هېڅ ډول اهمیت نه لري. اوس تاسې ته د دې توصیه کوم چه ما هېرکړئ، ځانونه پیدا کړئ او تر څو چه تاسو ټول له ما انکار ونکړئ زه بېرته نه راګرځم.

اې ورونړو هغه وخت به واقعا تاسو ته په نورو سترګو خپل ورک کسان ولټوم او په بله مینه به له تاسو سره مینه وکړم او یو ځل بیا به تاسو زما ملګري او د نوې هیلې زامن شئ. هغه وخت به زه د دریم ځل لپاره تاسو ته راشم تر څو د سترګهیځ جشن سره ونمانځو.
او سترګهیځ هغه وخت دی چه بشر د حیوان او ستر سړي په منځ کې قرار نیسي او د لمر لوېدني په اړخ د خپلو سترو هیلو په وړاندې دردونه واستوي؛ ځکه دا لار په یو نوي سهار ختمېږي.
هغه وخت هر څوک چه غروب کوي په ځان رحمتونه واي ځکه ډېر لرې تللی او د پوهې لمر به یې د آسمان په منځ کې ودرېږي.
پرېږدئ چه زموږ غوښتنه په سترګهیځ کې دا ډول وي:
ټول خدایان مړه دي. اوس موږ د دې هیله لرو چه (ستر سړی) تل پاتې شي."

داسې ووېل زردشت

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوهمه برخه

... تر څو چه ټول له ما انکار ونکړئ ستاسو په طرف بېرته نه راځم.
اې ورونړو په رېښتيا به هغه وخت په نورو سترګو خپل ورک وپلټم او په بل عشق به تاسو سره مينه وکړم.
(له اولې برخې نقل: د ښونکي فضيلت په اړه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ماشوم او هېنداره:

کله چه زردشت بېرته غره او خپلې سومځې ته لاړ او له خلکو یې لېرېوالی اختیارکړ د هغه بزګر پشان کښېناست چه تخم یې کرلی وي او حاصل ته په انتظارکې وي مګر روح یې ټنبل شوی وو او زړه یې هم په هغو خلکو پسې تنګ شوی وو چه د خوښې وړ یې وو ځکه تر دې دمه یې د هغوی لپاره د ورکولو ډېر څیزونه درلودل. له ټولو سخت‌کار دا دی چه انسان خپل لاسونه وتړي او د مینې له امله د ورکولو او ښښلو څخه خوند واخلي.

پدې ډول سره په مونږ میاشتې اوکلونه په یواځیتوب سره تېر شول او پوهه مو زیاته شوه خو تر ډېره د تشویش سبب شوه. یوه ورځ له سپېده داغ مخکې ویښ شو او د اوږد وخت لپاره پر تخت باندې په فکرکې ډوب وو او بلاآخره یې داسې ووېل:

"زه ولې له خپل خوبه ووېرېدم او ویښ پاتې شوم؟ آیا ماشوم له هېندارې سره راته ښکاره نشو؟ ماشوم راته ووېل: "زردشته! ځان د په هېنداره‌کې لیدلی؟"

څنګه مې چه هېندارې ته وکتل یوه لوړه چیغه مې وکړه او زړه مې په لړزه شو ځکه د خپل انځور پر ځای مې په هېنداره‌کې یو شیطان ولید چه راپورې خندل یې او په ما یې مسخرې‌کولې.

په ریښتیا هم زه د دې خوب په تعبیر ډېر ښه پوهېږم؛ زما شریعت په خطرکې دی اضافي واښه او غنم غواړي. زما دوښمنان قوي شوي دي او زما لاره یې تحریف‌کړېده. بلآخره زما پلویان له هغې ډالیو ندي خوښ وي چه ورکړې مې دي. زما ملګري تیت پرک شوي او اوس هغه شېبه رارسېدلې چه باید پخپلو ورکو ملګرو پسې وګرځم.

د دې تورو په اداکولو سره زردشت په تلوار سره جګ شو مګر د هغه زړه تنګي پشان نه چه د تازه هوا په لټه کې وي بلکې د هغه پیغمبر پشان چه وحیې پرې نازله شوې وي. عقاب او مار یې ورته هیښنده‌کتل ځکه مخ یې داسې ځلېدا لکه دګهېځ سترګه.

زردشت ووېل: "اې زما وحشیانو په ما څه شوي؟ ایا ما بدلون ندی موندلی؟ آیا لکه برېوکۍ داسې رحمت ندی راباندې راغلی؟ زما خوشالي احمقانه ده او دا خوښي تر دې دمه ځوانه ده نو پر وړاندې یې صبر وکړئ!

زه خپلې نېکبختۍ ټپي کړی یم او داغوونکي به مې ډاکتران وي. اوس د خپلو دوستانو په طرف نزول‌کولی شم. هو د هغوی او دوښمنانو په طرف به نزول وکړم. د دوهم ځل لپاره به زردشت تحفې ډالۍ‌کړي او تر ټولو غوره عاشقانه خدمت به د خپلو معشوقو لپاره ترسره‌کړي. زما مینه بې صبره شوې لوېدیځ او ختیځ ته تویېږي. د چوپو غونډېو له منځه او د غم د توپانونو څخه زما روح د درو په طرف بهېدونکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما له حده زيات کړاوونه ليدلي او افق ته چورت وړی يم. زښته ډېره انزوا مې اختيارکړې او لدې امله سکوت رانه هېر شوی دی. اوس يواځې خوله يم او د هغې ويالې پشان شوی يم چه په دنوکې بهېږي. زه لکه ويالې خپلې خبرې درو ته په چيغو او فريادونو سره وايم.
حتی کچېرې زما د مينې وړلو لپاره سېلاب نه وي موجود آيا دا ويالې به بلآخره سمندر ته خپله لار ونباسي؟
واقعا په ما کې کوچينی سمندر موجود دی. دا وړوکی سمندر يواځې، منزوي او مستغني کس دی. مګر زما د عشق سېلاب په زور هغه د سمندر په طرف وړي.

زه نوې لارې طی کوم، په خوله کې نوې نوې خبرې لرم. زه لکه د نورو ټولو نوښتګرو پشان له پخوانيو خبرو څخه ستړی شوی يم. نور مې روح دې ته ندی حاضر چه له زړو بوټونو سره سفر وکړي.
هر ډول خبرې مې په نظر سستې ښکاري او له همدې امله مې اې توپانه! ځان ستا دګاډيو په منځ کې اوچولی او حتی تا هم پخپله غوصه سره په ستونزوکې راګيروم.
په شور او غوغا له لويو لويو سمندرونو تېرېږم تر څو ځان هغو سترو او زړه وړونکو جزيرو ته ورسوم چه دوستان مې پکې اوسېږي او خپلو دوښمنانو ته ځان رسوم. همدا شېبه چه له هر چا سره خبرې وکړی شم مينه ورسره لرم، حتی ميرڅمن مې هم د مهربانۍ وړګرځېدلی شي.
اوکه وغواړم پخپلو سرکښو خروکښېنم نېزه به راسره ډېره مرسته وکړي. نېزه زما د پښو وفاداره خدمت کوونکې ده. دا زما هغه نېزه ده چه د دوښمنانو پر وړاندې يې واروم. له هغو دوښمنانو څخه څومره منندوی يم چه د نېزې ويشتنې په وخت کې رارسېدلي دي.

زما ورېځو له اندازې زيات باران جمع کړيدی. د تندر د خندا په منځ کې به خپلې د ستاينې مرمۍ ښې ژورې وارکړم.
نفس به مې په شدت سره راټول شي او په شدت سره به مې توپان د غرونو سرونو ته ورسېږي.
زما خوښې او آزادي به واقعا لکه توپان داسې وي مګر دوښمنان به مې داسې و اندي چه شيطان پر دوی باندې غلبه کړې.
هو، اې زما ملګرو! تاسو به هم زما له وحشي عقل څخه په وېره کې شئ او ممکن له دوښمنانو سره مې يو ځای وتښتئ.
کاشکي د شپانه پشان تاسو بېرته په خوږه شپېلۍ سره ځانته راوګرځوم! کاشکي زما د عقل زمرۍ په نرمۍ سره غورېدا زده کړي! اما تر دې دمه مو يو بل ته ډېر څيزونه ورزده کړي دي.
زما وحشي عقل په غرنۍ سيمه کې حامل شوی وو او د بوټو او تيږو په منځ کې يې آخري ماشوم زيږولی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس زما وحشي او بوډا عقل لکه لېونيان د وچو بوټو، وښو او دښتو په منځ کې منډې وهي او په چمن پسې ګرځي. اې ملګرو ستاسو د زړونو په ښکلي چمن پسې! ستاسو په مينه پسې او غواړي اخريني مينه مو پاتې شي.

## د زړه وړونکو جزيرو په اړه:

پاخه او خواږه انځير له ونو رالوېږي او په ځمکه لګېدو سره يې سور پوښ چوي. زه د شمالي باد يم او انځيرونه پخوم. اې ملګرو زما لارښوونې د انځيرونو په شان تاسو ته رسېږي د هغو جوس وڅښئ او له خوږو يې خوند واخلئ! له ما څخه پسرلی او صاف آسمان چاپېره شويدي.
وګورئ زموږ په چاپېريال کې څومره ډېر شتون لري! ډېر خوندکوي چه څوک لدې ټولو هغه اړخ د سمندر سيل کوي. پخوا به چه انسانان د سمندر هغو طرفونو ته ځير شول نو د خدای نوم به يې پرې کېښود. اما اوس زه تاسو ته وايم چه (ستر سړی) يې وبولئ.

خدای بې له ګمانه بل هېڅ ندي مګر زه غواړم چه ستاسوګمان د خلق کوونکي له ارادې لوړ لاړ نشي.
آيا تاسو د خدای پيدا کولو قدرت لرئ؟ نو د خدايانو په اړه چوپتيا غوره کړئ! اما د (ستر سړي) د خلق کولو قدرت په تاسوکې ښه ډېر شته. اې ورونو! کېدای شي پخپله دا قدرت ونلرئ، مګر د خپلو پلرونو او نيکونو پشان (ستر سړي) خلق کولی شئ. پرېږدئ چه دا مو تر ټولو لوی خلق واوسي!
خدای يواځې يو خيال اوګمان دی. زه پدې هيله يم چه تاسو په هغه څه پورې ګمانونه محدودکړئ کوم چه د تصور وړ وي او ټول پداسې ځيزونو تبديل کړئ چه د لمس، تصور او ليدلو وړ وي هغه وخت به مو له خپلو حواسو په بشپړ ډول پيروي کړې وي. هغه چه تاسو يې نړۍ نوموئ بايد پخپل لاس يې رامنځته کړئ او بيا به مو جهان همغه عشق، منطق، نظر او اراده وګرځي. واقعا دا به تاسو نېکبخته کړي اې هغوکسانو چه فهم لرئ!

اې بافهمه خلکو څرنګه بې له هيلې او امېده ژوند زغملی شئ؟ ځکه تاسو په نامعقول او بې تصوره جهان کې شتون نشئ منلئ. اې ملګرو اړينه بولم چه د زړه رازونه مې تاسو ته وړاندې کړم. که چېرې خدايانو شتون لرلئ؛ ماکله زغملی شوای چه خدای د نه وای شوی؟ پدې دليل خدای وجود نه لري.
ما دا ډول پايله تر لاسه کړه خو اوس دې پايلې له ځانه سره وړی يم.
خدای له ګمانه زيات څه ندی خو څوک شته چه د دې ګمان تشويش وڅښي او ژوندی پاتې شي؟ آيا له خلق کوونکي بايدګروهنه واخيستل شي او د عقابانو په قلمروکې بايد د عقاب د الوتلو قدرت سلب کړل شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای داسې تصور دی چه سم کږوی او ولاړ ټيټوي. آيا ويلای شو چه نور وخت شتون نلري او بدلون دروغ دی؟

دا ډول تفکر د سرګرځېدنې سبب کيږي او د انسان غړي له کاره غورځوي او حال يې خرابوي. دا ډول ګمان د لېونتوب او عصبيت باعث کيږي. زه پر خدای اړوند واحد، بشپړ، ثابت، لايزال او نه بدلېدونکی شريعت د بشر لپاره دوښمن ګڼم.

بدلون نه منل له ګمانه زيات څه ندي او شاعران ډېر دروغجن دي. مګر تر ټولو غوره ګمانونه له (کېدلو) او (بدلون موندلو) څخه بحث کوي. دوی د بدلون منلو او تحول منلو د اثبات په اړه يواځې ستاينې او خبرې کوي.

خلق کول له رنځ څخه تر ټولو ښه د نجات وسيله ده او د ژوند بار سپکوي. مګر د دې لپاره که خلق کوونکی موجود وي ډېر رنځ، تغيرات او ډول ډول تحولات منځته راځي.

هو، اې خلق کوونکو! ستاسو په ژوندکې تريخ مرګ ډېر اړين دی. ستاسو وضعه هم داسې ده اې د تحول مدافعانو او پلويانو.

که خلق کوونکی وغواړي خپله زيږېدونکی ماشوم شي نو بايد د حاملې او حاملګۍ د وخت درد هم واوسي. واقعا زه په سلګونو ځله په روح، سلګونه ځله په زانګوګانو او د حاملګۍ په درد لاره تېر شوی يم.

بې شمېره ځله مې د ساه ورکولو ځور زغملی دی او د ژوندون د اخرو شېبو زړه ماتوالی ښه پېژنم خو همدا زه خلاقي اراده او برخليک غواړي. که چېرې لدې هم سم ووايم همدا ډول برخليک زما اراده غواړي. زما ټول احساسات او تشويشونه په زندان کې دي مګر زما اراده تل ما ته تسلې او نجات راکوي.

اراده تل انسان آزادوي، دا د ارادې او آزادۍ حقيقي لاره ده او د زردشت تعليم پدې اړه همداسې دی.

هغوی چه بېزاره او له ارادې ډېر ستړي نشول او ارزونه يې ونکړه؛ نه خلق کول منځته راځي او تل د له ما لېرې ګرځي!

حتی پخپل علم کې يواځې شهوت حس کوم چه د خلق کولو اوکېدلو اراده کوي او که چېرې زما علم سپېڅلتيا لري له همدې امله به وي چه د شهوت اراده پکې شتون لري. دا هغه اراده ده چه ما له خدای او خدايانو څخه لېرې ساتي ځکه که چېرې خدايانو شتون لرلی خلق کولو ته څه شی پاتې کېدل؟

مګر زما سوې اراده تل د خلق کولو لپاره ما د بشر په لوري راګرځوي، همداسې لکه څټک چه د تيږو په طرف ځي. هو اې خلکو په تيږه کې ما ته داسې انځور پټ دی چه زما د ټولو تصويرونو انځورونه پکې ليدلی شم. مګر افسوس دا انځور بايد په ډېرو سختو او بدشکله تيږو کې پټ وي.

همدا شيبه زما څټک په ډېر شدت سره خپل ځان د زندان په دېوالونو وهي او د تيږې ټوټې په يو بله خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

آلوزي مګر په ما څه اغېز لري؟ بلآخره به خپل کار ختم کړی. ځکه یوه داسې اوراه راباندې غالبه شوه چه ډېر روښانه او آرامه څیزونه یې راته ښکاره کړل.د (ستر سړي) ښکلا د ارواحه په ډول پر ما غالبه شوه. اه، اې ورونړو زما یې په خدایانو څه؟

## د رحیم په اړه:

اې ملګرو ستاسو ملګري دا مسخره غبږ واورېد چه وېل یې: "زردشت ته وګورئ! آیا هغه زموږ په منځ کې لکه د وحشیانو په منځ کې په لاره نه ځي؟"

غوره به وای که داسې یې ویلي وای: "هغه کس چه پوهه او فهم لري لکه د وحشیانو په منځ کې چه په لاره ځي داسې ښکاري؟ او هغه چه فهم لري بشر یې سور غومبوري حیوان په اسم نوموي.

نوموړئ د دوی په منځ کې څرنګه پیدا شو؟ آیا لدې امله چه ډېر ځله یې دوی شرمنده کړي دي؟" اې بافهمه ملګرو! وواياست: "د بشري تاریخ خلاصه یواځې شرم دی شرم او شرم. لدې امله شریف کسان د چا د شرمنده کولو هڅه نه کوي بلکه برعکس غواړي د ټولو رنځ ښکونکو په مقابل کې شرمنده شي."

زه واقعا له هغو مهربانه خلکو سره مینه نه لرم چه له خپلې مهربانۍ خوند اخلي ځکه هغوی شرم نه لري. که چېرې باید مهربانه واوسم نو هېڅکله نغواړم چه رحیم راته وویل شي اوکه مهرباني مې کوله تل یې له لرې کول غواړم. پداسې وختوکې غوره بولم چه مخ مې وپوښم او مخکې لدې چه وپېژندل شم تېښته کوم، له تاسو هم د دې ډول کړنې غوښتنه کوم.

کاشکي تل ستاسو پشان خوشاله او بې غمه خلکو سره مخ شم تر څو له هیلو خوراک او شاتو څخه مو برخمن شم. بې له شکه ما د رنځورانو لپاره ډېر خدمتونه کړيدي اما تل داسې فکرکوم چه تر ټولو ستر خدمت مې هغه وخت کړی چه پوه شوی یم څرنګه خوشحالي وموم؟

کله چه بشر پیدا شوی ډېره کمه خوشالي مې کړېده. اې ورونړو زموږ اصلي ګناه همدا ده. اوکله مو چه د خوشالولو غوره لارې زده کړې هغه وخت د نورو رنځولو او خفه کولو لارې هېرولی شو.

لدې امله زه هغه لاس وینځم چه له رنځورانو سره کله مرسته وکړم. همدارنګه خپل روح پاکوم ځکه د رنځ وړونکی له لیدو څخه شرمنده شوی یم اوکله مې چه له مریض سره مرسته وکړه د نفس عزت مې یې خط خط کړ.

په منت سره بار وړل د غچ اخیستلو د حس سبب کیږي اوکله چه یوه کوچینۍ نفعه نه هېرېږي ورو ورو په خوړونکي چینجي بدلیږي.

مګر زه ورکوونکی یم او څه چه لرم د ملګرئ په ډول یې خپلو ملګرو ته ډالۍ او ښښم خو بېګانه او فقیران کولی شي پخپله زما له ونې څخه مېوه وشکوي او پدې ډول سره یې شرم هم کمیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوالګر باید له منځه لاړ شي! بې له شکه که څوک په دوی باندې احسان وکړي اوکنه په ځان غوصه کیږي.
همدارنګه ګناهنګاران او داسې کسان هم شته چه له خپل وجدانه ناآرامه وي. باور وکړئ ملګرو یو ناراحته وجدان انسان ته آزارول ورزده کوي.
مګر له ټولو بد هغوی دي چه کوچیني او سپک اندونه لري. ډېره به غوره وي که چېرې انسان د سپک اند پر ځای بد او مخالف عمل تر سره کړي. کېدای شي ریښتیا وي چه تاسو داسې وایاست: "دکوچینیو شرارتونو خوند موږ له لویو شرارتونو څخه لرې ساتي." مګر دلته باید انسان کوم شی ونه ساتي.
یو بد عمل لکه زخم داسې دی بخارکوي سور کیږي او په صراحت خبرې کوي. خلاف عمل په سراحت سره وایي: "وګورئ! زه ناروغ یم."
مګر یو سپک نظر د خرړګۍ پشان دی زرغونیږي او ځان تر هغې پټ ساتي تر څو یې چه ټول بدن خراب او مړاوی کړی نه وي.
هغوی چه شیطان تسخیرکړي په غوږکې یې وایم: "غوره به دا وي چه خپل شیطان ته ډېر خواړه ورکړې تر څو لوی شي. ستا لپاره هم د لویۍ په اطرف لاره شتون لري."

افسوس اې ورونړو! د ټولو خلکو طبیعت له اړین حده ډېر ښکاره دی او ډېرئ خلک زموږ په وړاندې بې پردې او شفاف دي او په همدې دلیل د دوی داخل ته نفوذ نشوکولی. له خلکو سره زموږ ژوند ډېر له کړاوه ډک دی ځکه چوپتیا ډېره سخته ده.
هغوی چه هېڅ یې نه پیژنو او نه اړیکې ورسره لرو د هغو په نسبت چه بد مو ترې راځي ډېر د بې عدالتۍ وړ ګڼو. آیا ستاسو رنځېدل خوښیږي؟ که داسې وي د رنځ دې دردونو لپاره بستر شئ او ښه سخت بستر ځکه پدې لاره کې ورته ډېر غوره خدمت کولای شئ.
اوکه چېرې مو دوست درسره بدي کړي وي ووایاست: "هغه څه چه زما په وړاندې دکړي ببښلي مې دي خو تا دا بدي پخپله له ځان سره کړې څرنګه زه دا ببښلی شم؟"
واقعي مینه پدې ډول سره خبرې کوي او دا رقم محبت رحم تر پښو لاندې کوي.
ټول باید په بشپړکمال سره د خپلو زړونو پاملرنه وکړو ځکه که چېرې د تلو اجازه ورکړو ډېر زر به یې غشی په طرف راشي. د نړۍ په کوم ځای کې د رحم کوونکو له حماقته ستر حماقتونه ترسره شویدي؟ او څشي د رحیمانو له حماقته زیات نړۍ ته تاوان رسولی دی؟

افسوس د هغوی په حال چه عاشق دي خو پخپله مهربانۍ نشي مسلط کېدلی!
یوه ورځ ابلیس راته داسې ووېل: "حتی خدای هم خپل خاص جهنم لري. د خدای دوزخ د نوموړي مینه له بشر سره دی."

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوي مې اورېدلي چه ویل کېږي: "په بشر د مهربانۍ له امله خدای مړ شوی دی."
له ترحمه تېښته وکړئ! له لرې طرفونو څخه درنې ورېځې د بشر په سر راځي او تاوېږي. زه واقعا د ویالو نښې په ښه ډول سره تشخیصولی شم. مګر دې جملې ته هم ځیر شئ: "حتی ټولې لویې مینې د هغوی له ترحم څخه لوړې دي کوم چه غواړي تر اوسه مینه ورسره وکړل شي."
زه مې د مینې په وړاندې قرباني کوم اوګاونډی مې هم. ټول خلق کوونکي همداسې وایي مګر د ټولو زړونه له تورې تیرې جوړ دي.

## دکشیشانو په اړه:

یوه روځ کشیشان په لاره تېرېدل، زردشت یې خپلو پیروانو ته ورښودل او ویل یې: "دا کشیشان دي، که څه هم زما دوښمنان دي خو له تاسو غوښتنه کوم چه په آرامۍ سره یې له څنګه تېر شئ او تورې مو پخپلو پوښونوکې وساتئ. د دوی په منځ کې اتلان هم شتون لري. دوی دېر زیات رنځونه لیدلي له همدې امله غواړي چه نور هم ډېر ورنځیږي.
دوی د شریرو دوستانو له ډلې څخه دي؛ هېڅ شی د دوی په اندازه د غچ اخیستونکي ندي. څنګه یې چه څوک لمس کړي په تېزۍ سره ککړ او نجسیږي. مګر زما وینه د دوی د هغې پشان نده او زه غواړم چه وینه مې د دوی په بدنونوکې محترمه وشمېرل شي."

څنګه چه کشیشان تېر شول تشویش پر زردشت باندې غلبه وکړه او د تشویش سره له لږ مبارزې وروسته یې داسې ووېل: "دکشیشانو پدې حال مې زړه سوځیږي. له دوی کرکه لرم خو دا مهال د داسې خلکو په منځ کې یم چه دا ورته ډېر اهمیت نه لري. زه رنځیږم او له هغوی سره رنځېدلی یم؛ دوی راته د هغو زندانیانو پشان ښکاري چه په تندیو یې د زندان علامه نقش شوې وي. څوک چه نوموړي خپل نجات موندونکي بولي په حقیقت کې یې د دوی لاس او پښې په سختوکلکو ځنځیرونو تړلي دي.
د دوی د اسارت ځنځیرونه ناسم ارزښتونه او خالي کلمې دي. کاشکي دوی ته چا له خپلو ناجیانو څخه نجات ورکړی وای!
کله چه سمندر دوی له یو طرف څخه بل طرف ته وړي تصورکوي چه جزیرو ته یې پناه وړې ده مګر په ځیر شئ د دوی ساتونکی بې د هغې سترې هیولا څخه بل څه ندي چه په اوبوکې ویده ده.
غلط ارزښتونه او خالي پوچې کلمې زموږ پناه کېدونکو لپاره تر ټولو بدې سمندریزې هیولاوې دي. په هغوی کې نیستي ویده ده او ډېر وخت انتظارکوي اما بلآخره په هوش راځي او هر چا یې چه په شا د اوسېدو ځایونه جوړکړي خوري او خپلې مړۍ ترې جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې کشیشانو د اوسېدو ځایونو ته وګورئ چه ځانونو ته یې جوړ کړي! دوی خپلو عطرینو سومڅو او ته کلیسا ګانې وایي. دکلیساوو دې تقلبي نور او چټلې هوا ته وګورئ! پدې ځای کې روح له صعود څخه څټ ته پاتېږي. مګر د دوی شریعت داسې تعلیم ورکوي چه :"اې ګناهنګارانو په ګونډو لوړو زینو ته لاړ شئ!"
لدې امله زه غوره بولم چه دوی بې شرمه ووینم تر څو تحریف شوی شرم او اخلاص د دوی په سترګوکې ولولم.

چا دا سومڅې او د توبې زینې پیدا کړې دي؟ آیا هغوی چه د ځان پټولو قصد لري او له شرمه مخامخ آسمان ته نشي کتلی ندي پیدا کړي؟ او ترکله چه آسمان د دوهم ځل لپاره لدې لوېدلو بامونو څخه دکلیسا منځته په ورانو دېوالونو شنو شوو واښو باندې نه وي ځلېدلی هېڅکله به زما زړه د دوی خدای ته متوجه نشي.
دوی (خدای) هغه څیز ته وایي چه له دوی سره مخالفت کوي او تر هر څه یې ډېر ورته زیان رسولی دی.
واقعا دا د حد څخه زیاته له ځان تېرېدنه د دوی په ستاینه کې نغښتې ده.
دوی پر بشر باندې د صلیب کښلو څخه بله لار د خدای دوستۍ لپاره نه پېژني. دوی غوښتل چه د مړو جسدونو پشان ژوند وکړي. خپلو جسدونو ته یې تور پوښونه وراغوستي او هرکلمه یې چه له خولې راوزي د مړستون بوی ورکوي. او څوک چه دوی ته نیږدې دي په ولاړو ډنډونوکې اوسېږي او پدې ډنډونوکې بې لکۍ لرونکې څونګښې پخپلو خوږو غږونو فکورانه سندرې وایي. تر څوکله چه ښې سندرې ونه وایي د دوی پر ناجي باندې باور نشم کولی حتی که پیروان یې د نجات موندونکو څېره لرونکي هم وي.

زما ډېر خوښېږي چه دوی لوڅ ووینم ځکه یواځې ښکلا ده چه خلک توبې کولو ته اړه کوي. مګر د غم مومیایي څوک په شریعت مؤمن کولی شي؟ لکه د دوی ناجیان د اووم آسمان او آزادۍ څخه بې خبره دي.
لکه چه دوی هېڅکله د معرفت قالینې ندي کښت کړې.
د دې ناجیانو روحونه له خلاوو ډک وو او دوی په هره خلا کې خپلو تصوراتو ته ځای ورکړی او د خدا نوم یې پرې اېښی دی. د دوی روحونه په ترحم کې ډوب وو او د رحم له امله ډېر ډک وو نو ځکه یې یو ډول لېونتوب کړی دی.
د زیات داد او نه داد له امله دوی خپله رمه د پله په طرف وشړله او له ځانه سره یې فکر وکړ چه د راتلونکې په وړاندې یواځې او یواځې یو لرګین پل شتون لري. په ریښتیا هم دا شپانه د میږو له منځه رالتېدلي دي.
د دې شپنو اندونه لنډ او روحونه محدود وو. مګر اې ورونړو تر ټولو لوی او پراخه روحونه تر دې دمه څومره بې ظرفیته وو!

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی په خپله لاره د وینو نښې جوړې کړېدي او د ډېر حماقت له امله يې د خپل فکر تعليم (چه د وینې په وسيله حقيقت ثابتولی شو) خلکو ته ورکړی دی. مگر د حقيقت ثابتولو لپاره وينه ډېر بد شيز ده. وينې تر ټولو سپېڅلې لارې زهرجنې کړي او هغه يې له زړه په کرکجنه کينه اوگمراهۍ تبديلې کړېدي.
که اشخاص د خپل شريعت لپاره د اور ميدان ته لاړ شي څه شی به ثبوت شی؟ واقعا له هر څه ډېر دا ثابتوي چه د دوی شريعت له سوځېدلو څخه سرچينه اخلي.
يو اورجن زړه او يو سوړ مغز هرکله چه سره يو ځای شي يو د خلکو د خوښې وړ ناجي منځته راځي. په ريښتيا هم له ناجيانو ډېرو شريفو او سترو خلکو شتون درلود. زما ورونړو! که غواړئ د آزادۍ لاره پيدا کړئ بايد لدې څخه په سترو ناجايانو پسې وگرځئ.
تر اوسه (ستر سړی) منځته ندی راغلی. ما لوی اوکوچيني خلک دواړه لوڅ ليدلي دي. تر دې وخته دوی دواړه ډېر سره ورته دي او بې له شکه تر دې شېبې لوی خلک د عادي او معمولي خلکو پشان راته ښکاره شوي دي.

## د پرهېزگارانو په اړه:

په ټنبل او خوبجن عقل بايد له آسماني تندر سره مجلس وکړل شي. د ښکلا غږ په نرمۍ سره خبرې کوي او يواځې له بشپړې هوښيارې اروا سره په غله ليدل کوي. نن زما ډال په نرمه خندا سره ټکان وخوړ، دا ټکان او خندا د سپېڅلې ښکلا وا چه پر ما غالب شو.
اې پرهېزگارانو! نن زما ښکلا په تاسو باندې خندل او ما ته يې داسې وويل: "دوی د انعام په انتظار دي."
اې پرهېزگارانو تاسو انعام غواړئ؟ تاسو د خپلې پرهېزگارۍ په مقابل کې د انعام غوښتنه کوئ او د دې ژوند تېرولو په بدل کې د ابدي ژوند غوښتونکي ياست؟
کېدای شي تاسو ما ته ووایاست: " انعام ورکوونکی او مکافات ورکونی هېڅ شتون نلري." غوصه شوي ياست او بې له شکه زه نه وايم چه پرهېزگاري پخپله انعام ده.

افسوس! بشر تل د خپل افسانې لپاره انعامونه او سزاوې جوړې کړې دي او د ټولو شيزونو اساس يې گڼلي.
حتی پرهېزگارانو ستاسو په روح کې هم دې ډول دروغو نفوذ کړی دی. زما ستونزه لدې ټولو شيزونو سره ده.
زما خبرې به د خوگ د پوزې پشان ستاسو د روح ځمکه واړوي اوکله چه واړول شي تر لمر لاندې به استراحت وکړي. هغه وخت دروغ، شړومبې او شيره يو له بله بېلېدلی شي ځکه ستاسو حقيقت همدا دی.
تاسو له هغوی سره ډېر توپير لرئ چه په غچ، انعام او سزا سره خپل روح ککړوي.
تاسو له خپل فضيلت او پرهېزگارۍ سره دومره مينه لرئ لکه چه پلار يې له اولادونو سره لري مگرکله مو هم اورېدلي چه يوه مور د خپلو اولادونو سره د مينې په مقابل کې انعام وغواړي؟ ستاسو فضيلت خپل خوږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان دی. د ترېوالي يوه حلقه ستاسو په ځان کې شتون لري او تل هڅه کوي چه وڅرخېږي او دوباره خپل ځانته ورسېږي. ستاسو هر بې تقوا عمل د ستوري بڼه لري، که خاموش هم شي مګر نور به يې تر ابده په مخ لاړ شي او هېڅ وخت به له حرکته پاتې نشي.

پرهېزګارانو! هغه حقيقت چه ستاسو د روحونو په عماقوکې شتون لري وايي: "همدا تقوا او فضيلت ستاسو جز دی بل شی ندي، ستاسو ماغزه دي نه پوست او هډوکي."
مګر واقعا داسې کسان هم شته چه تقوا د انسانانو لپاره شکنجه بولي او ډېر وخت کېږي چه تاسو دې کسانو ته غوږ ياست. داسې کسان هم شته چه د ګناهونوکموالي او سستوالي ته تقوا وايي اوکله يې چه له نېکو سره کينه زياته شي پرهېزګاري يې سترګې موښي او راوينښېږي. بله ډله داسې کسان دي چه تل ټيټېږي او ښکته مرتبو ته ځي يعني شيطان هغوی ښکته کشکوي او هر څومره چه ښکته کېږي هغومره يې د خدای ليدنې تقاضا زياتېږي.
له بده مرغه د هغوی غږ هم تاسو ته رسېدلی چه وايي: "زما تقوا او خدای هغه څيزونه دي چه زه نه يم."
داسې خلک هم شته چه لکه د تيرو ډکه ګاډۍ په سختۍ کړاونو  او چيغو د غونډۍ ښکته خوا ته ځي. دوی د خپلې تقوا جلال او مرتبې ته ډېر په غوره کې دي اما چه دوی يې تقوا بولي په حقيقت کې هغه څنځير دی چه دوی کشکوي.
داسې کسان هم شته چه لکه ساعت ټول وخت ټک ټوک کوي او همدا ټک ټوک خپله تقوا ګڼي.
واقعا دا ډله تر نورو ډېره زما د تفريح سبب کېږي. هر چېرې چه زه لدې ساعتونو سره مخ شم په مسخرو سره يې کوک کوم. پرېږدئ چه دوی دکوک کېدو په حالت کې په چيغو راشي.
يو بله ډله بيا په يو موټي پرهېزګارۍ ډېر په کبر او غرورکې دي. د همدې يو موټي تقوا له امله د هر شي بې احترامي کوي، پدې ډول جهان د دوی له لاسه په ځورکې دی.

د هر ځل زه پرهېزګاره يم ويلو معنی يې ما غچ اخيستی دی ده، له بده مرغه خپله تقوا يې داسې تحريف کړېده! دا ډله خلک غواړي په تقوا سره د خپلو دوښمنانو سترګې راوباسي او د ځان په ارتقا سره يواځې د نورو د نزول يا ښکته کولو قصد لري. بله ډله بيا د ډنډ اوبو په منځ کې ناست دي او په شپېلۍ غږولو سره داسې وايي: "کوم انسان چه په ډنډ اوبوکې چوپ کښېني تقوادار ورته وايي." مونږ چا ته آزار نه رسوو او له آزاروونکو څخه لرې ګرځو او په ټولو څيزونوکې مو چه ګروهنې پيدا کړې تر نظر لاندې نيسو."
بله ډله کسان بيا له اشارو او نښو څخه خوند اخلي او تقوا د اشارو له نوعو څخه ګڼي. دا شان خلک تل د رکوع په حالت کې عبادت کوي او لاسونه يې تل د تقوا په ستاينو بوخت دي مګر زړونه يې لدې ستاينو او حمدونو څخه خبر ندي. نور کسان داسې وايي: "تقوا اړينه ده." مګر په حقيقت کې هغه څه چه اړين يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګڼي اوګروهنه پرې لري پوليس دي.
ډېرئ خلک چه د بشر د ارتقا او لوړتيا قدرت نه لري تقوا د بشري ټيټوالي او نزول د قدرت درک ګڼي.
پدې ډول د خپلو سترګو چټلۍ ته تقوا وايي.
ځيني کسان تل غواړي چه قدر او احترام وړ وګرځي او لوړو مقامونو ته ورسيږي، دې ته خپله تقوا وايي.
برعکس بعضې بيا تل غواړي چه په ټيټوالي کې ډوب شي او دې نزول ته يې تقوا وايي.
پدې ډول فکرکوي چه تقوا لرونکي او پرهېزګاره دي. حد اقل هر څوک په خپلو ښو او بدو پېژندلوکې ماهر دی.

زردشت د دې لپاره ندی راغلی چه دې دروغجنو بې عقلانو ته ووايي د تقوا په اړه څه پوهيږئ او څه غواړئ چه پوه شئ؟ بلکه د دې لپاره راغلی چه اې ملګرو تاسې له پخوانيوکلموکوم چه د دې دروغجونو په وسيله درزده شوې پتنګ شئ او د (انعام) (سزا) (عادلانه غچ) جملو له ويلو څخه ډډه وکړئ. همدارنګه له هر هغه عمل څخه چه د نورو په ګټه د خير له لارې وي ستړي شئ!
افسوس اې دوستانو! کاشکي تاسو د خپلو اعمالو په مقابل کې داسې شئ لکه مور يې چه د ماشوم په وړاندې وي. ډېر به خوشاله شوی وای که چېرې د تقوا تعريف ستاسو په نظرکې دا شان وای!
په ريښتيا هم کېدای شي ما ستاسو له تقوا څخه سل ډوله ښه تعريفونه او لوب څيزونه اخيستي وي. همدا اوس تاسو د هغو ماشومانو پشان چه د لوبو څيزونه يې ترې اخيستل شوي وي خفه ياست.
هغوی د سمندر په غاړه لوبې کولې ناڅاپه لويې څپې راغلې ټول د لوبو څيزونه يې د سمندر تلې ته يوووړل او دوی اوس ژاړي. همدا موجونه کېدای شي نوي د لوبو څيزونه دوی ته راوړي او نوي رنګين صدفونه به يې تر پښو راورسوي. پدې ډول سره به تسلې پيدا کړي. اې زما ملګرو تاسو به هم تسلې وموموئ او نوي رنګين صدفونه به پيدا کړئ.

## د اوباش په اړه:

ژوند د هغو خوندونو چينه ده چه له کارېز څخه رابهيږي مګر له هر ځايه چه اوباشان وڅښي اوبه يې زهرجنې کيږي. زه ټولو څيزونو ته په صداقت او سپېڅلتيا ګورم خو نه مې خوښيږي چه د دوی ناپاکې او ترېې خولې ووينم. هغوی خپل نظرکارېز ته اچوي او په عين وخت کې زه د دوی کرکجنه موسکا دکارېز په تل کې وينم. دوی پاکې اوبه پخپلو شهتونو مرداري کړې او چټلو خوبونو ته يې لذت وايي. پدې ډول يې کلمې هم مسمومې کړې دي. کله چه دوی خپل مرطوب زړونه د اور په مخ بردي شغلې غوصه کيږي. هر وخت چه اوباشان اور ته نيږدې کيږي روح يې په جوش راځي او دود کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اوباشانو تر لاس لاندې مېوه له حده ډېره پخه او خوړه شوېده. د دوی تر نظر لاندې ونو په وچېدو پیل کړی او ځان غورځېدو ته تیاروي. همدارنګه ډېرئ کسان په حقیقت کې د دوی له لاسه د ژوند څخه پتنګ شویدي او نور نه غواړي له اوباشانو سره یو ځای د اوبو له چینې او اوبو څخه استفاده وکړي. ډېرئ کسان چه دښتو او وچو سیمو ته یې پنا وړې. تنده زغمي او د همدوی امله یې له وحوشو سره سکونت اختیارکړی، هسې نه چه په راتلونکې که لدې چټلو څارونکو سره یو ځای د اوبو په غاړه کښېني.
ډېرو خلکو یواځې او یواځې لدې امله د مخرب په ډول د یو توپاني توپان پشان په کښتونو حمله وکړه چه هر څه د اوباشانو پر غاړه واچوي او خفه یې کړي.

هغه چه تر ټولو یې ډېر زه خفه کړم دا نه وو چه ژوند د مړینې او عذابي صلیبونو لازمي دوښمن دی بلکه دا تپوس وو چه له ځانه مې وکړ: "آیا واقعا اوباشان د ژوند کولو لپاره دي؟" دې پوښتنې زښته ډېر غمګین کړم. آیا زهرجنې څاګانې، متعفنه اورونه، چټل خوبونه او د ژوندون د ډوډۍ چینجي اړین دي؟
هغه چه په بیره سره زما ژوند ژویي کینه نده زما کرکه ده.
افسوس! کله چه پوه شوم ابتکار او فهم د اوباشانو په منځ کې هم پیدا کیږي له فهمه مې زړه تور شو اوکله مې چه ولیدل حکمرانان هم د حکمرانۍ په معاملو او د قدرت پر سر په چنه وهلوکې له اوباشانو څخه کار اخلي له دوی مې هم مخ واړولو. پداسې حال کې چه پوزه مې ټینګه نبولې وه له (اوس) او (پخوا) څخه تېرېدم. بې له شکه ټوله (پخوا) او (اوس) د اوباشو لیکوالانو په وسیله متعفنه شوېده.

له ډېر وخته څخه پدې هیله دکاڼه او ړانده معیوب پشان ژوند تېروم چه د لیکوال اوباش، شهوت پال اوباش او یا هم د قدرت له ښتن اوباش سره مجلس وکړم. زما روح په ډېر احتیاط او ځو ځله له مرتبو څخه صعود کړی او خوښي یې یواځېنۍ هغه صدقه وه چه خوند یې ترې اخیستلو. پدې ډول سره ړوند ژوند د لرګینې لکنې په وسیله وڅښېد او پر مخ لاړ.
ما ته څه اجازه راکړه؟ څه ډول مې له خپلې کرکې څخه ځان آزادکړ؟ سترګو مې څرنګه ژوند له سره پیل کړ؟ څه ډول مې صعود وکړ او هغو ځایونو ته ورسېدم چېرته چه اوباشان او جنجالیان د چینو په غاړه ناست دي؟ آیا دکرکې خارق العاده وزرونه وو چه ما ته یې د چینو دکشف قدرت راکړ؟ اصلا نامکنه وه چه زه دې لوړو لوړو ارتفاعاتو ته د خوندونو د چینو لپاره آلوتنه وکړم.
اې وروڼو پیدا مې کړه. دا هغه ځای دی چېرته چه په لوړو ارتفاع ګانوکې زما د خوند چینه روانه ده. د ژوندون د اوبو جام دلته شتون لري چه جنجالیان او اوباشان پکې هېڅ برخه نه لري.
اې د خوندونو چینې څومره تېزه بهېږې! دومره په تېزۍ سره روانه یې چه د ژوندون جام په عین د ډکولو وخت کې هم خالي او هم ډکوې!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو خلکو ته باید دا تدریس کړم، تا ته باید ډېر په عاجزۍ او تواضع درنیږدې شم. زړه مې ډېر په تندریز ډول ستا په طرف درتلونکی دی. د زړه په داخل کې مې د ژوندون اوړی (لنډ، ګرم، غم انګېزه او سعادت بخشه اوړی) سوزیږي. زما دا اوړنی زړه څومره ستا یخنۍ او مهربانۍ ته لېواله دی.

ډېر وخت کیږي پسرلني شکونه مې سرته راغلي. د پسرلي اخرۍ بده واورې مې نور نه آزاروي. همدا اوس زه د اوړي پشان بیخي تیار او حتی ګهیځ یې شوی یم.

زما د عمر اوړی د ډېرو لوړو ارتفاعو په منځ کې په یخو او خوندورو چینوکې ګرځي او روح ته آرامښت وربښي. اې زما ملګرو راشئ! کېدای شي دا آرامښت لدې نور هم خوندور شي!

ځکه دلته زموږ قرارګاه او لوړتیا ده؛ زموږ د ځای لوړتیا او ارتفاع په هغه اندازه ده چه چټلان په ټوله لېوالتیا سره هم نشي ورته رسېدلی. پخپلو سپېڅلو سترګو سره زما د خوند چینې ته پاملرنه وکړئ! څه ډول کېدای شي ستاسو د نظر په وسیله دا چینه ککړه شي؟ زما چینه به پخپله پاکۍ سره تاسو ته خاندي.

د خپلي راتلونکې ونې په لوړو څانګوکې به خپله ځاله جوړه کړو. عقابان به خپل مړۍ موږ (منزویانو) ته پخپلو منګولوکې راوړي او موږ ته به یې راورسوي.

بې له شکه چټلان به له موږ سره پدې ډوډۍکې برخه ونلري. دوی ته به زموږ ډوډۍ لکه اور داسې وي او خولې به یې سېځي. دلته مو واقعا د پلیدانو لپاره پناه ځای ندی تیارکړی. د دوی د بدنونو او اندونو لپاره به زموږ نېکبختي د یخې سومځې په بڼه ظاهره شي.

مونږ به د تېزو بادونو پشان د دوی په سرونو (لوړو برخو) مسکن وټاکو اوګاونډیان به مو واوره، لمر او عقابان وي. د سختو او تېزو بادونو پناه زموږ وړ ده. زه به د بادونو پشان د دوی په منځ کې یوه ورځ ولګیږم او پخپل روح سره به لدوی څخه نفس واخلم، زما راتلونکې اراده به همداسې وي.

بې له شکه زردشت به د درو او جلګو لپاره ډېر دروند او تېز باد وي. او نوموړی به یې په ټولو دوښمنانو او هغوکسانو چه په ده یې لاړې توف کړې خاورې وشیندي. وایي: "کله چه د باد په خلاف لاړې توف کوئ په تېښته کې اوسئ!"

## د تارانتولا په اړه:

وګورئ! دا د تارانتولا غار دی. آیا لیدل یې غواړئ؟ دلته یې تارونه راځړیږي لمس یې کړئ تر څو په لړزه راشي. وګورئ هغه پخپله خوښه راځي، ښه راغلاست تارانتولا! ستا په څټ تور مثلث چه ستا نښه ده ښکاري. پدې سربېره زه ستا په باطن هم پوهیږم، ستا په باطن کې د غچ روح پټ دی. هر ځای چه وچیچې د هغه ځای پوست توریږي او له منځه ځي. ستا زهر روح له انتقامه بېزاروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه پدې ډول تمثيل له تاسو سره خبرې کوم. او د روح څرخوونکو او اې د برابرۍ واعظانو زه تاسو ته د هغو تارانتولاوو په سترګه ګورم چه د خپل پټ غچ ستاينه هم بيا کوي.
اما زه به په ټول سرعت سره ستاسو پناه ځايونه پيدا کړم او په لوړ غږ قهقه خندا به درباندې وکړم. لدې امله ستاسو د تارونو شبکه لمسوم تر څو له پټو ځايونو څخه مو رابهر شئ او غچ اخيستنه مو د عدالت په هکله له بيانونو سره ظاهره شي. ځکه زما په نظر يوازينۍ هغه زينه چه بشر د سترو هيلو او د ژوندون له توپانه وروسته د لوړ بوډۍ ټال په طرف بيايي د غچ اخيستنې دود له منځه وړل دي.
مګر تارانتولاوې د نورو ځيزونو غوښتونکې دي او وايي: "موږ عدالت په هغه څه کې وينو چه نړۍ د خپل غچ په توپان سره ډوبه کړي." تارانتولاوې په قسم سره په زړه کې وايي "مونږ غچ اخيستونکې يو او هر څوک چه زموږ پشان نه وي تر تجاوز لاندې به يې ونيسو او په راتلونکې کې به د (برابرۍ غوښتنې) ته فضيلت ووايو او د ټولو هغو په وړاندې به چيغه پورته کړو چه قدرت يې په لاس کې دی."

اې د مساواتو واعظانو ستاسو په مساواتوکې ظالمانه لېونتوب او عجز نغښتی دي. ډېرو پټو او ظالمانه شهوتونو پدې ډول ستاسو د فضيلت په جامه کې ځان پټ کړی دی. له مايوسۍ ډک زور زياتی، مهار شوی حسادت اوکېدای شي ستاسو د پلرونو حسادت او زور زياتي هم ستاسو په وجود کې د يوې لمبې او يا هم غچ اخيستونکي روح پشان موجود وي. هر څه چه پلرونو پخپل ځان کې پټ ساتلي وي په زامنوکې ښکاره کيږي او په اغلب ګمان سره ما ته زامن د پلرونو بشپړې ښکاره شوې څېرې ښکاري.
دوی د هغوکسانو پشان دي چه الهام ورته شوی وي اما الهام کوونکی يې زړه نه، غچ دی او هغه چه دوی تينګار ته مجبوروي کينه او حسادت يې دی، نه اند. حسادت دوی د متفکرانو لارې ته راکشوي او د حسادت نښه يې دا ده چه تل افراط کوي. پداسې ډول چه کله کله د ستړيا په وخت کې له ډېرې ناچارۍ د واورې په مخ څملي او ويده کيږي. په ټولو شکايتونوکې يې غچ اوبدل شوی او همدا شان په ټولو ستاينوکې يې چټيات اوکړې خبرې ليدل کيږي او قاضي کېدل د حق د رحمت پای ګڼي.
مګر زه تاسو ته وايم له ټولو هغوکسانو څخه په تېښته کې اوسئ چه په روح کې يې غندنې او سزاوې ډېرې قوي وي. دوی هغه کسان دي چه پخپل منځ کې کورنۍ بدۍ لري. د څېرو په ليدو سره يې د جلادانو او قبرکيندونکو سره توپيرکولی شو.
له هغوی څخه تېښته وکړئ چه د خپل عدالت په هکله ډېرې خبرې کوي! واقعا د هغوی روح په شاتو سربېره ډېر نورکم څيزونه لري اوکه چېرې يې ځانونه نېک صالح معرفي کړل پوه شئ چه يوازې د خپلې رياکارۍ او وچ زهد لپاره کم قدرت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اې دوستانو! نه مې خوښېږي چه تاسو ما له نورو سره غلط کړئ. داسې کسان هم شته چه زما د تعليم تدريسولو سره په عين وخت کې د عدالت واعظان هم دي، په حقيقت کې دوی تارانتولاوې دي. (که څه هم په حقيقت کې دا زهرجنې تارکشکې له ژونده بېزاره شوې او پخپلو پناه ځايونوکې ناستې دي) لدې امله غواړي آزاري واوسي.

دوی غواړي هغوکسانو ته آزار ورسوي چه قدرت يې په لاس کې دی ځکه د دوی لپاره اوس هم د مړينې واعظان د منلو وړ دي. که داسې نه وای تارانتولاوو به په بل ډول تعليم ورکړی وای ځکه لدې پخوا هغوی لدې نړۍ تللو اوکافرانو په سېځلوکې مخکې وو.

هېڅ مې نه خوښېږي چه د مساواتو لدې واعظانو سره مې څوک اشتباه کړي ځکه زما په نظر عدالت وايي: "د بشر افراد سره مساوي ندي." او هېڅکله به هم مساوي نشي. کچېرې ما په بل ډول خبرې کړلای زما مينه د (ستر سړي) په وړاندې به چېرې تلله؟

له زرګونو پلونو او لارو څخه به خلک د راتلونکې په طرف راشي او تل به د دوی منځ کې د عدم مساوات جګړې په ډېرېدو وي. پدې ډول زما ستره مينه زما د خبرو مانع کېږي. د دوښمنۍ له امله به هغوی انځورونه او جسمونه اختراع کړي او د همدې انځورونو او جسمونو له امله به نوې اخري شخړه پيل کړي.

ښه او بد، فقر او بډايي، غوره وای او پست وای او نور د ټولو ډول ډول ارزښتونو نومونه به له شوره ډکې نښې او سلاوې وي چه د لوړتيا موندلو اړتيا به ثبوت کړي. ژوند هڅه کوي چه د زينو او مرتبو په وسيله ځان لوړو پلو ته يوسي او لېواله دی د افق او راتلونکې په طرف ځير شي او جادويي ښکلاوو ته نظر وکړي.

ژوندون ارتفاعاتو ته اړتيا لري نو ځکه لارو، پلو تر منځ مجادله او هغوی چه پدې پورته ځي ورته احتياج لري. ژوند هڅې کوي پورته لاړه شي او په عين وخت کې غواړي لوړتيا هم ومومي.

وګورئ ملګرو! دلته د تارانتولا غار ته نيږدې د پخواني معبد يوه خرابه ليدل کېږي. په ځير دې خرابې ته وګورئ! بې له شکه هغه کس چه پخوا يې خپل افکار د يوې پايې په شان پورته وړل د عاقلو اشخاصو له ډلې وو او د ژوند په معنی پوهېدا. نوموړی په ډېر غوره تمثيل سره راښايي چه حتی د ښکلا او جنګ لپاره د قدرت په حاصلولوکې غوره والی او عدم مساوت شتون لري.

څومره ملکوتي دی د طاقونو اوګنبدو يو له بل سره رقابت! دګهيځ په تياره او رڼاکې د دوی شور څومره ښکلی دی! اې ملګرو پرېږدئ چه زموږ دوښمنان هم ښکلي او په امن کې واوسي، په بشپړ سپېڅلتيا سره به يو له بل سره رقابت وکړو.

افسوس! تارانتولا (زما همېشني دوښمن) زه چيچلی يم. په بشپړ باور، ښکلا او جالبتيا سره هغې زما ګوته چيچلې ده. هغه داسې اندي چه مجازات او عدالت به حتما موجود وي. له همدې امله بې ګټې نده چه هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس دلته د خپل دوښمن د ستاينې په هکله نغمې وايي.
هو هغې غچ اخيستی دی او افسوس چه د انتقام په زهرو سره به زما روح هم ګيچ کړي. د دې لپاره چه ګېچ نشم اې زما ملګرو ما پدې پايه باندې کلک وتړئ! غوره ګڼم چه يو تړل شوی حواری واوسم خو د غچ اخيستنې وړی نه.
په ريښتيا هم زردشت له بړبوګۍ سره ورته والی نه لري اوکه چېرې کومه ورځ نوموړی ګډا کوونکی شي هېڅکله به د تارانتولا ډول ته ونه ګډېږي.

## د مشهورو پوهانو په اړه:

اې مشهورو پوهانو تاسو خلکو او د دوی خرافاتو ته خدمت کړی دی مګر د حقيقت لپاره مو خدمت ندی کړی له همدې امله د دوی د احترام او قدر وړ ګرځېدلي ياست. په همدې دليل يې ستاسو بې اعتقادي زغملې ځکه همدا بې اعتقادي د خلکو د خندا وړ ګرځېدلې ده. لدې خاطره رهبر خپلو غلامانو ته آزادي ورکوي او له کارونو څخه يې خوند اخلي.
هغه چه له خدايه منکر دی د خلکو دومره دکرکې وړ ګرځېدلی لکه د ښکاري سپي چه لېوه ګرځېدلی دی.
يعني داسې څوک دی چه د قيدونو دوښمن دی، داسې څوک دی چه د هېڅ شي پيروي نه کوي او يواځې په يوه ګوښه کې ژوندکوي.

خلک له با امنه پناه ځايونو څخه د داسې کس ترټلو ته د حقيقت ليدلو حس وايي. دوی تل د داسې آزادو کسانو د ښکارکولو لپاره تېره غاښې تازيان شکوري، ځکه دوی تل داسې فريادکوي: "چېرته چه خلک دي يواځې هلته حقيقت پلټل کېدای شي او افسوس د هغو په حال چه تل په لټونه او پلټنه کې وي!"
اې مشهورو پوهانو تاسو هڅې وکړئ چه د خپل ملت د پيروۍ حقانيت ثابت کړئ او دې عمل ته د حقيقت د درک نوم ورکړئ مګر ستاسو ضميرونو تل داسې چيغې وهلې: "زه د خلکو له منځه راپورته شوی يم او د خدای غږ مې هم د دوي په منځ کې واورېد." تاسو تل لکه د موزي خره پشان ياست او انصافا چه د خلکو استازي ياست.
هغه کسان څومره ډېر وو چه غوښتل يې د خلکو څنګ ته راشي او نظر يې ځانته جلب کړي. پدې ډول يو کوچيني خر يعني يوه مشهور پوه د خپلو تېزو آسانو مخه ونيوله.

اې مشهورو پوهانو! زه اوس هيله مند يم چه تاسو د زمري پوست په بشپړ ډول سره وکاږئ. هو! د ښکاري حيوان پوست، خال لرونکی او دکاشف او فاتح پوستکی له ځانه لېرې کړئ.
که چېرې غواړئ زه ستاسو په صداقت باور وکړم نو له هر څه مخکې مو د احترام او قدر غوښتنه له مغزو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وباسئ.
زه هغو چا ته صادق وايم چه بې خدايه يوې ګوښې دښتې ته تللی وي او متواضع زړه يې خراب کړی وي؛
دا ډول کس د زېږ او لمر وهلي رنګ په منځ کې په بشپړه تنده سره د جزيرو طرف ته ګوري. هلته بې شمېره
چينې بهيږي او ژوند د سيوري لرونکو ونو لاندې جريان لري او همدارنګه د ده تنده نوموړی نه قانع کوي
چه دومره د خلک راحت طلبه شي. ځکه هر چېرې چه آبادي وي هلته حتما د پيروۍ لپاره بوتان شتون لري.
زمری غواړي چه اراده يې وړې، څيرونکې، بې ساري او بې خدايه وي.

هغه د بندګانو له سعادت څخه مبرا دی او د خدايانو له بنده او پيروۍ څخه يې خلاصون موندلی. له چا څه
نه وېرېږي او په ټولو زړونوکې ډار اچوي، لوی او بې ساري دي. د واقعي او لويې اروا اراده همداسې وي.
صادقو خلکو تل په دښتوکې ژوندکړی دی او دا آزاد خلک د دښتو څښتن دي، مګر په ښارونوکې مشهور
پوهان يعني باروړونکي حيوانات په نعمتونوکې ژوندکوي. لکه خره داسې دي تل د خلکو په ګاډۍ کشکول
بوخت دي. داسې نه چه په دوی غوصه يم مګر تل په دوی باندې زين اوکته اېښودل شوي او د بار وړونکو
حيواناتو په بڼه يې تيار وينم.
په اغلب ګمان سره دا مشهور پوهان غوره نوکران دي او اجيرکول يې ګټور تماميږي ځکه تقوا داسې حکم
کوي چه پدې ډول سره بايد ته د دوی فکر او فضيلت ته په ځان کې وده ورکړې!

اې مشهورو پوهانو او اې د خلکو ځيره خورانو! بې له شکه تاسو په تدريج سره د خلکو په فضايلو او
افکارو بار شوي ياست او خلک ستاسو له لارې يو ځل بيا خپل افکار او فضيلتونه مني. واقعا بايد دا کار
ستاسو د وياړ او سر لوړۍ سبب وګرځي.
مګر له ټولو فضايلو سره سره تاسو زما په نظرکې له عادي خلکو سره هيڅ توپير نه لرئ او ډېر لنډ فکره
خلک ياستئ ځکه چه د فکر مفهوم مو لا ندی درک کړی. فکر يو ډول ژوند دی چه ځان پر ژوندون
تحميلوي او په زحمت او تکرار سره خپله د پوهې پايه محکموي. آيا پدې پوهېدئ چه د فکر آرامي د
قربانۍ په عنوان سره معطره او په اوښکو سره يې تطهيرکړئ؟
د ړانده کس ړوند والی خپله د لمر د ستر قدرت شاهدي ورکوي چه نوموړي ورته په ځيرکتل، آيا تر اوسه مو
دا درک کړي وو؟
هغه کس چه پوه دی د غرنو جوړول به هم زده کړي.
آيا تر اوسه پوهېدئ چه د غرونو جوړول او ټکان ورکول د فکر لپاره ستونزمن کار ندی؟
تاسو يواځې د فکر شارتي پېژنئ مګر نه وينئ چه فکر سندان دی او همدارنګه له بې رحمۍ څخه يې بې
خبره ياست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ریښتیا چه تاسو د فکر غرور نه پېژنئ اوکه د فکر تواضع په ژبه راشي نه يې شئ تحملولی. هېڅکله مو خپله فکر د واورې څخه ډک څاه ته ندی اچولی ځکه په پوره ډول ګرم نه یاست او له همدې امله تر دې دمه تاسو د یخنۍ له خونده بې خبر یاست! مګر تاسو ځانته ډېر بافکره او آشنا وایاست او له پوهې مو بې ذوقه شاعرانو ته په روغتون او ړوندتون کې نرسه جوړه کړېده.

تاسو عقابان نه یاست او له همدې امله مو هېڅ وخت فکري خوښي، نېکبختي او وحشت ندی درک کړی. هغه چه آلوتونکی ندی په لوړو ځاینوکې باید مسکن انتخاب نکړي.

تاسو راته نیم ګرم ښکارئ مګر علم او پوهه عمیق او سوړ خوندور جریان دی. د مغز تر ټولو باطني چینې د یخ په سړوالي اړوند دي او د ګرمو زحمت کښو لاسونو روح زیاتوي.

اې مشهورو پوهانو وینم مو ډېر صاف او معقول ولاړ یاست. هېڅ شدید باد ستاسو په اراده نه لګیږي. آیا کوم وخت مو په سمندرکې کوم بادوان د شدید تېز باد په وخت کې لیدلی چه په حرکت وي؟

زما وحشي عقل د هغه بادوان پشان پداسې حال کې چه د روح په غوصې سره لړزیږي د سمندرونو په سطحه روان دی. مګر اې ځیره خورانو او د خلکو نوکرانو، تاسو اې مشهورو عاقلانو څه ډول زما هم لاري کېدلای شئ؟

## د شپې سندره:

شپه ده او چینې په لوړ غږ مجلس کوي زما روح هم مسته چینه ده. شپه ده او همدا اوس یواځې د مینانو غږ لګیږي او زما روح هم یو عاشق دی.

هغه چه هېڅکله به آرام ونه مومي زما ضمیر دی او په بیان پسې ګرځي. د عشق میل مې په باطن کې دی او د مینې په واقعي ژبه خبرې کوي. ځلیږم، کاشکي شپه وای! مګر زما یواځېتوب تل پدې کې دی چه تل ناچاره یم او د نور هاله پخپل چاپېر ولرم.

کاشکي زه هم د شپې پشان تیاره وای! هغه وخت مې کولی شوای چه څرنګه د نور له تیو شیدې وڅښم. حتی په تاسو اې کوچینیو او ځلېدونوکو ستورو چه لکه چنجي په فضا کې یاستئ رحمت وایم او هیله مند یم د نور لدې نعمت څخه خوښ واوسئ. مګر زه په خپل نورکې اوسیږم او یواځې هغه لمبې څښم چه له خپله ځانه مې پیلیږي. زه اخیستل شوې نېکبختي او خوښي نشم درک کولی او تل فکرکوم غله باید له اخیستلو غوره وي.

زما بدبختي دلته ده چه هېڅ وخت له خیرات ورکونې لاس نه اخلم او حسرت مې پدې کې دی چه سترګې مې تل له ستورو ډکو شپو لیدو ته منتظرې وي. اې زما د لمرکسوفه! اې د غوښتلو هیلې او اې په عین مړښت کې خارق العاده لوږې! آه خیرات ورکوونکي څومره بدبخته دي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی زما څخه استفاده کوي مګر زه حیران یم آیا زما د روح نور هغوی ته هم رسېږي؟ د اخیستلو او ورکولو تر منځ عمیقه تشه موجوده ده او په آخرکې دا کوچینۍ تشه په پل تړل کېږي.
زما له ښکلا څخه عجیبه ځانګړې لوږه سرچینه اخلي. کوموکسانو ته چه روښنایي رسوم کاشکي آزار مې ورته رسولی شوای! چا ته مې چه تحفې ډالۍ کړې کاشکي غله مې ترې کولی شوای! زه پدې ډول د شرارت تږی یم. داسې د شرارت وږی یم لکه ابشار چه په عین وخت کې تأمل کوي زه هم کله چه یو محتاج کس د مرستې لپاره راته لاس وغځوي ځنې ته یې کش کړم.
د نعمت ډېروالی ما د غچ په فکرکې ډوبوي او خبیثتوب مې تول له یواځېتوب څخه سرچینه اخلي. زما خوښي د ښنلو په وخت کې تمامه شوې او فضیلت مې له خپل زیاتوالي څخه تنګ شوی دی.
هغه چه تل ښنل کوي په خطرکې دي ځکه چه شرم له لاسه ورکوي! څوک چه تل وېش کوي زړه او لاس یې د تقسیم له امله سختېږي او بې حسه کېږي.
زما سترګې نور د ګدایانو په لیدلو سره اوښکې نه تویوي او لاسونه مې دومره بې حسه شوي چه له احساس څخه د ډکېدو په وخت کې هم نه لړزېږي. د سترګو اوښکې، د زړه مهرباني او زړه سوی مې څه شوي؟ اخ ښښونکي څومره یواځې او ځلېدونکي څومره بې ژبې دي!

په فضا کې ډېر لمرونه څرخېږي او له خپل نور سره په تیاره کې خبرې کوي مګر زه چه خپله نور یم راسره خبرې نه کوي. د نور دوښمني د نوراني څیزونو په وړاندې داسې ده! نور په بشپړه بې رحمۍ سره خپل مسیر طی کوي. هر لمر د ځلېدونکي څیز په وړاندې بې رحمه دی او د نورو لمرونو په نسبت سوړ دی. د لمرونو روش همدا دی چه لکه توپان خپله لاره طی کوي او ښه توب یې پدې کې دی چه له خپلې بې رحمه ارادې څخه پیروي کوي.
اې تیاره خلکو، تاسو په شپه پورې اړه لرئ، یواځې تاسو یاست چه د دې نوراني لمرونو حرارت درک کوئ؛ یواځې تاسو د دې نوراني څیزونو له شیدو او ښناک څخه برخمن کېږئ. افسوس زما چاپېره سړو احاطه کړېده او لاس مې د دې انجماد د لمسولو له لاسه سوځي! افسوس په ما کې داسې تنده ده چه ستاسو تندې ته لېواله ده! شپه ده؛ زه باید روښانه پاتې شم او د هغو لپاره لېواله پاتې شم چه په شپه پورې اړوند دي. څومره عجیب یواځېتوب دی! شپه ده؛ لکه د اوبو چینه چه د بهېدو جریان پیدا کوي داسې د خبرو کولو هیله لرم.

شپه ده؛ همدا شیبه چینې په لوړ غږ خبرې کوي او زما روح هم مسته چینه ده.
شپه ده او اوس یواځې د عاشقانو غږ لګېږي او زما روح هم د یو مین غږ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دګډا غبر:**

یوه شپه زردشت له خپلو پلویانو سره په ځاه پسې ګرځېدا ځنګله ته لاړل. ناځاپه یې په یوه تړوړه تازه چمن سترګې ولګېدې چه په ونو او بوټو سره احاطه شوی وو او په منځ کې یې یو شمېر نجونې ګډېدلې. هغوی چه کله زردشت ولید نوګډا یې پرېښوده اما زردشت په ډېره آشنا څېره دوی ته نیږدې شو او داسې یې وویل: "اې خوږو نجونوګډا مه پرېږدئ! ځکه موږ تاسو ته د مزاحمت او آزارولو قصد نه لرو."

زه د شیطان پر وړاندې د خدای استازی یم او شیطان د روح ثقل دی نو څنګه امکان لري چه زه ستاسو د ملکوتي رقصونو او ظریفو پښو مخالف شم؟ په حقیقت کې زه لکه ځنګل او د ونو د سیوري پشان یوه ډله یم. که څوک راځخه وېره ونکړي زما له ونو لاندې به سره سره ګلونه وکړي او بې له شکه داکسان به د دې ونو له سیوري لاندې هغه کوچینی خدای پیدا کړي چه د ټولو نجونو د خوښې وړ دی. دا کوچینی خدای چینې ته نیږدې ډېر آرام او په پټو سترګو پروت دی.

په ریښتیا دا تنبل کوچینی ماشوم په رڼه ورځ ویده دی. آیا په شاپرکو پسې یې ډېرې منډې کړېدي؟
اې ښکلو رقاصوکه دې کوچیني خدای ته مې یو څه آزار ورکړ مه غوصه کیږئ! بې له شکه نوموړی به په چیغو چیغو وژاړي او فریادونه به وکړي مګر په عین ژړا کې خندا لرونکی هم دی. حتی د اوښکو تویولو په وخت کې له تاسو څخه دګډا غوښتنه کوي او زه هم د دې ګډا لپاره سندره وایم. پدې غبرکې هغه سنګین روح او ثقل کوم چه زما په نظر تر ټولو شیطانانو لوی او قوي دی، او په غلطۍ سره خدای ورته ویل کیږي مسخره کوم.

دا هغه سندره ده چه زردشت وویله، د مینې الهه (کوپید) او نورې نجونې ورته وګډېدې:
اې ژونده نوي مې ستا سترګو ته وکتل او داسې راته ښکاره شوه لکه په عمیق سمندرکې چه ډوب شوی وم. مګر تا پخپل زرین چنګک سره را بهرکړم اوکله مې چه د درک نه وړ او فوق العاده عمیقه وبللې په ریشخند سره د وخندل.
او و دې فرمایل چه زما استدلال دکبانو د استدلال پشان دی هر څیز چه نشي درک کولی نو د درک وړ یې نه بولي.
مګر پوه شه زه بې له یو وحشي او وسوسې ډکې ښځې څخه بل څه نه یم او حتی له تقوا څخه هم خبره نه یم.
اې خلکوکه تاسو راته عمیقه، باوفا او راز ساتونکې وواياست په ماکې کوم تغیر نه راځي.
مګر تاسو اې پرهېزګارانو تل ما پخپلو فضایلو سره سینګاروئ او پدې وخت دې عجیب او اسرار ډول موجود وخندل!

(c) ketabton.com: The Digital Library

مګرکله چه هغه خپل بد وايي په خبرو او خندا يې باور نشي کېدلی.
کله چه ما په آرامۍ کې په خپل وحشي عقل سره مجلس وکړ هغې په ډېره غوصه سره ووېل د ژوندون د ستاينې يواځېنی علت د همدا دی چه اراده کوي، او غواړي مينه ورسره ولري.
نيږدې وه چه په غوصه ناک عقل ځواب په قهر سره ورکړم او حقيقت يې غوږونو ته ورسوم. په ريښتيا هم انسان هيڅ وخت دومره نه غوصه کيږي لکه کله چه حقيقت وايي.
دا شيبه زموږ دريوکسانو اړيکه داسې ده. د زړه له تلې يواځې له ژوند سره مينه لرم او په ريښتيا د هغې په وړاندې دکرکې په وخت کې مې علاقه ډېره زياتيږي.
مګر د عقل ګرانښت او له حده زيات ګرانښت يې ما د ژوند په يادکې اچوي.
عقل، سترګه، خندا او حتی د ماهي نيولو چنګک ژوند لري، آيا دا زما ګناه ده چه دا دوه موجودات يو له بل سره دومره ورته والی لري؟
او يو ځل ژوند له ما څخه وپوښتل عقل څشی دی؟ په بېړه مې ځواب ورکړ: "عقل هغه څيز دی چه ټول يې تږي دي او د هغوی تنده هيڅ آخر نه لري. يواځې له لېرې او پردو څخه يې په ستونزو وينم او نه پوهيږم چه ښکلی ده کنه! همدومره ويلی شم چه باتجربه او يا هم تر ټولو ډېر تجربه لرونکي کبان يې هم په دام کې لوېږي.
عقل د وسوسو پلار دی او له داسې چټياتو ډک مې ليدلی چه په عين وېښته ږمنځولو وخت کې شونډې د غاښونو په وسيله چيچي.
کېدای شي هغه شريره او غلط وي خوکله چه خپل بد وايي له هر ځل زيات د ټولو زړونه تسخيروي."
کله مې چه ژوند ته داسې ووېل په مکر سره يې وخندل سترګې يې پټې کړې او داسې يې ووېل: "راته ووايه د چا په هکله د خبرې کولې؟ آيا هدف د زه نه وم؟
که حق له تا سره وي، د مقابل طرف د شتون په حالت کې څوک داسې تريخ حقيقت ښکاره وايي؛ اما اوس له خپل عقله ما سره خبرې وکړه!"
"آه! اې ګران ژونده اوس بيا خپلې سترګې غړوې او داسې راته ښکاري چه زه بيا په عميق سمندرکې ډوبيږم!"

زردشت پدې ډول زمزمه کوله مګرکله چه ګډا خلاصه شوه او نجوني لاړې خفه شو او بلآخره يې داسې ووېل: "ډېر وخت کيږي لمر لوېدلی او چمن لندبل لري او له ځنګله څخه د سړو سوز راځي؛ کوم نامعلوم شی رانيږدې کيږي، په تفکر سره سيل کوي او وايي: "څه ډول؟ اې زردشته تر اوسه ژوندی يې؟ ولې؟ د څه لپاره؟ په کوم منظور؟ د څه مقصد لپاره؟ ايا ژوند ته ادامه ورکول احمقتوب ندی؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

افسوس اې ملګرو ماښام دی او له ما څخه داسې سوالونه کوي، ما ته خفګان راوبښئ!
ماښام رارسېدلی دی. د ماښام رارسېدل ما ته راوبښئ"

## د هديرې غږ:

هغه اړخ ته د هديرې جزيره او چوپتيا محل دی او هملته زما د ځوانۍ قبرونه موقيعت لري. زه به هلته يوه ګېډۍ تل بهاره ګلونه وړسم. د دې مقصد لپاره مې بادوانونه راخيستي وو او له سمندره تېر شوم. اخ اې منظرو او زما د ځوانۍ خاطرو، اخ د مينې منظرو او اې ملکوتي دقيقو، تاسو څرنګه داسې زر تېر شوې ياست؟ نن ورځ همغه شان لکه له ځانه تلونکو پسې اندم ستاسو په هکله هم فکرکوم. اې ګرانو مړو ستاسو له خوا دومره ښه بوی رارسېږي چه زړه مې لړزوي او سترګې مې بهوي. بې له شکه دا بوی د يو او يوائځې زړه کښتۍ ته په سختۍ سره ټکان ورکوي.
تر دې دمه زه تر ټولو ډېر منفرد او غني يم او له ټولو څخه زيات د نورو د غبطې وړ ګرځېدلی يم ځکه يو وخت زه ستاسو مالک وم او اوس تاسو زما مالکان ياستئ. ما ته ووایاست بې له ما د چا لپاره دا ټولې سرې مېنې له ونې څخه رالوېدلې دي؟

اې زما تر ټولوګرانو دوستانو تر دې دمه زه ستاسو د وراثت وارث يم او ستاسو په يادکې ډول ډول د وحشي ګلانو غوټۍ ټوکوم. اې بې ساري او عالي مخلوقاتو موږ د يو بل لپاره جوړ شوي يو او تاسو لکه وحشي مرغان مګر دا مطمئن کسان چه د خپلې خوښې په کس پسې ځي زما په طرف او خوښه راغلي.
هو! تاسو هم زما پشان د وفادارۍ او له بديو سره د مينې لپاره پيدا کړل شوي ياستئ. اې د آسماني خوښيو شېبو آيا اوس تاسو ته د بې وفا نوم درکړم؟ تر اوسه مې بې له بې وفايۍ بل نوم ندی زده کړی.
اې زما فراريانو په ريښتيا هم ډېر زر تېر شوي ياست. مګر په حقيقت کې مونږ يو له بله فرار ندی کړی، زه او تاسو د خپلې بې وفايۍ په وړاندې په بشپړ ډول سره بې ګناه يو.
اې زما د هيلو غزل بوله مرغانو تاسو يې يوائځې زما د له منځه وړو لپاره نابود کړئ. هو! زما ګرانو هغه ميرځمن چه په غشو يې ستاسو اړخ په نښه کړی وو غوښتل يې زما زړه وولي. په ريښتيا يې زما زړه ته سخته صدمه ورسوله ځکه تاسو زما زړه ته تر ټولو ډېر نيږدې وئ او زما واک ستاسو په لاس کې وو. پدې ډول سره تاسو ځوانيمرګ شولئ او ډېر زر مو لدې نړۍ څخه بسترې وتړلې.
غشي زما تر ټولوګرانې دارايۍ تر هدف لاندې نيولې وې، هو! زما دوښمنانو ستاسو پوښ چه د موسکا پشان دی او په يو نظر سره مري تر حملې لاندې ونيو. مګر زه خپلو دوښمنانو ته وايم: "کوم وژنه ده چه تاسو زما په وړاندې کړې او د پرتلې وړ وي؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه خپلو دوښمنانو ته وایم هغه څه چه تاسو په ما راوستلي د هر نفس له وژنې څخه درانده دي. تاسو له ما داسې څه وړي چه هېڅ بیا راګرځېدونکي ندي ځکه تاسو زما د ځوانۍ له ښکلا ډکې منظرې او عجایب وژلي دي. تاسو زما د ماشومتوب لوبې هم رانه وړې ده، د هغو په یاد زه دا ډګلوګېدۍ او لعنت دلته اېږدم.
اې زما دوښمنانو لعنت د پر تاسو وي! تاسو زما ابدیت داسې قطع کړی لکه غږ چه د شپې په سړوالي کې غوڅ شي. یواځې یو ځل زما دا نېکبختي د ژوند په خوښۍ کې په سپېڅلتیا او خلوص راغله داسې یې راته وویل: "زما په نظر ټول موجودات ملکوتي دي."
هغه وخت تاسو چټلو ارواګانو په ما حمله وکړه، په هغه خوښ وخت کې زما ژوند چېرته وو؟
زما د ځوانۍ عقل یو ځل داسې وویل: "زما په نظر هره ورځ به مقدسه وي." او واقعا دا خبره د خوښ عقل له خولې رابهرکېدله.

اې زما دوښمنانو تاسو زما د شپې آرام خوبونه غله کړل او هغوی مو د بې خوبۍ په رنځ تبدیل کړل. آه اوس زما هغه خوشاله عقل چېرته دی؟
داسې وخت هم وو چه ما قسم خوړلی وو چه له هر ډول کرکې څخه به لرېوالی اختیاروم. تاسو چه هر څومره راته نیږدې شوئ زخمي او ټپي موکړم. زما دا واړه شرافت چېرته وتښتېد؟
داسې دوره هم وه چه ما د ړانده پشان د رحمت په لاروکې په خوښۍ قدم وهلو، هغه وخت تاسو زما په لاره کې چټلۍ واچولې او اوس ړوند سړی د خپلې خوښې له لارو څخه بېزاره دی. اوکله مې چه غوښتل خپلې فتحې ولمانځم زما تر ټولو نیږدې خلک مو ولمسول تر څو وو ایي چه زه دوی آزاروم.
بې له شکه تاسو زما تر ټولو خواږه شات او تر ټولو غوره زنبوران مسموم کړل.
تل مو د سوال لپاره تر ټولوګستاخ کسان ما ته راولیږل. زما د ترحم وژنې لپاره مو غټ بې حیا کسان زما په لاره وګمارل او پدې ډول سره مو زما ټول فضایل او نېکیانې په خپل باورکې مشکوک او تر پوښتنې لاندې راوستل. هر ځل چه زما سپېڅلې دارایي قرباني کېدله ستاسو تقدس چاغېدلا او پدې ډول سره مو غوړو قربانیو زما په ډېرو سپېڅلو قربانیو چوپتیا اختیارکړه.

یو ځل مې له ټولو وختو زیات ډګډېدو هوس وکړ او غوښتل مې چه په اسمانونوکې رقص وکړم اما تاسو زما تر ټولوګران سندرغاړي له ځانه سره کړل تر څو په بد غږ سره سندرې ووایي او تند خشن غږ مې غوږونو ته اور ورکړ.
اې قاتل سندرغاړیه، اې د شریرانو د لاس آلې، اې بې ګناه وسیلې! زه د ډېر غوره رقص په انتظار ولاړ وم، هغه وخت تا د ځانوژنې په بېکاره سندره زه ووژلم. یواځې ډګډا په وخت کې د لویو څیزونو تمثیل کولی شم. اوس تر ټولو لوی تمثیلونه زما د پښو په عضلوکې ناویلي پاتې شول. زما تر ټولو لویه هیله ناویلي پاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوېده او د ځوانۍ ټولې خوښۍ مې له منځه تللې دي. تپوس يې وکړ: "څرنګه دا ما زغملي؟ او څه ډول پدې ټولو زخمونو او ټپونو بريالی شوی یم؟ او لدې هدېرو څه ډول دا غبر بیا راژوندی شو؟

هو! نه خښېدونکي او تسخير نه منونکي شيان، داسې شيان چه تيرې دوه پړاکې کوي په ما کې شتون لري او نوم يې زما اراده ده، بې غبره د ډېرو کلونو لپاره ثابت پاتېږي
زما بوډا اراده، خپل مسير زما د پښو پر مخ ساتي. دا زما اراده ذاتا تسخير نه منونکې او سنګ دله ده.
زه يوائحې په پوندوکې تسخير نه منم. هلته ته مسکن لرې او په واقعي بڼه تر ټولو صابرکس پکې ظاهرېږې.
تا تل هديرې ځيرلې دي او اوس به هم داسې وکړې.
په تاکې زما ناکامه ځواني اوس هم ژوندۍ ده. ته د ژوندون او ځوانۍ پشان په ټولو هيلو سره د هديرو په خرابو سطحوکښېنې. هو زما لپاره ته تر اوسه د ټولو هديرو خرابوونکی يې. پر تا د بې شمېره درودونه وي اې زما ارادې! چېرته چه قبرونه شتون لري قيامونه هم امکان لري."

## پر نفس د غلبې په اړه:

اې تر ټولو ډېرو هوښيارانو! هر څه چه تاسو شهواني کوي د (حقيقت غوښتنې درک) ورته واياست. مګر زه ستاسو غوښتنې ته (ټول موجودات د تصور وړ کېدل) وايم. تاسو هڅې کوئ چه هر موجود د تصور وړ وګرځوئ ځکه حق لرئ چه د تصور په وړ کېدو شک وکړئ.
اما هغه تاسو ته تسليم شوی ستاسې لويوالي ته يې سر ټيټ کړی دی. دا هغه څه دي چه ستاسو هيلې يې غواړي او ډېر زر به مو فکر شي، کېدای شي د هېندارې او انځور پشان ستاسو فکر ته درشي. اې تر ټولو هوښيارو! هغه څه چه تاسو يې غوښتونکي ياست توانايي ده.

تاسو غواړئ ممکنه نړۍ رامنځته کړئ او په مخکې يې په ګونډو شئ، همدا مو آخري هيله او لېوالتيا ده. بې عقلان، ناپوهان او يا هم خلک د هغه رود پشان دي چه کښتۍ پر مخ روانه ده او د کښتۍ چلوونکي د اخلاقي ارزښتونو هغه تخمين دی چه په مسخره جامو سره ډېر درانه او سنګين په کښتۍ کې ناست دي.
تاسو مو هيلې او امېدونه د راتلونکي رود پر مخ غورځولي دي. هغه څه چه خلکو اوس د ښو او بدو په بڼه پېژندلي دی زه پکې يوائحې پخوانۍ د (توانايیغوښتنه) وينم.
ستاسو هوښيارانو له امله يې داسې کښتۍ چلوونکي کښېنولي او درانه باحشمته نومونه يې ورکړيدي. هو تاسو او د حکمرانۍ هيلو مو دا ارزښتونه رامنځته کړي دي.

همدا شيبه رود ستاسوکښتۍ پر مخ بيايي او بايد يې مخکې بوزي. که چېرې موجونه ستاسو د کښتۍ په دېوالونو ځګ راوړي او په وړاندې يې مقاومت وکړي کوم اهميت نلري. تاسو ته متوجه شوی خطر په رود

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې ستاسو د نېکو او بدو پای ندی. بلکه خطر تاسو، ستاسو د توانايۍ غوښتنې ته متوجه دی. هو د پاتې شوي ژوند غوښتنې نېک او بد ختموي.

د دې لپاره چه تاسو زما خبرې د نېکو او بدو په اړه درک کړئ خپلو خبرو ته د ژوند او ټولو موجوداتو په هکله دوام ورکوم.

ما ژوندی موجود تعقیب کړی او په پراخو او له کړاوه ډکو لاروکې پسې تللی يم تر څو طبيعت يې درک کړم. په يوه سله وجهي هېنداره کې مې تر هغه له ځيرکتو لاندې ونيو چه خبرې يې په شونډو راوړې څکه غوښتل مې چه له کتو يې پوه شم او سترګو يې راسره خبرې کولې. مګر هر چېرې چه ما ژوندی موجود ليدلی هلته د اطاعت خبره هم موجوده وي، هر ژوندی موجود د اطاعت يوه دستګاه ده.

دوهم مې اورېدلي: څوک چه فرمان ورکوي اطاعت نشي کول، طبيعت داسې يو ژوندی موجود دی.

دريم شی مې چه اورېدلي دا دي: فرمان ورکول له اطاعت کولو ډېر ستونزمن دي او دا ستونزې يوائې د هغو ندي چه فرمان ورکوي بلکه د ټولو فرمان ورکوونکو بار په غاړه اخلي اوکېدای شي دا بار نوموړی له خپل دروند والي لاندې کړی. په خپلو سترګو مې وليدل چه په هر فرمان کې تجربه او خطر نغښتی دی او په فرمان ورکولو سره تل ژوندی موجود ځان په خطرکې اچوي.

هو! حتی کله چه څوک ځانته فرمان ورکوي بايد د تاوان اخيستلو توان يې ولري. نوموړی بايد په يو وخت د خپل پلي شوي قانونو قاضي، قرباني او پرمخ وړونکی واوسي.

ما له ځانه وپوښتل دا څرنګه دی؟ هغه څه دی چه ژوندی موجود اطاعت کولو ته اړه کوي او حتی د فرمان ورکولو په وخت کې فرمان وړونکی کيږي؟ اې هوښيارانو! دقيق شئ اوس ما ته ووايئ ست آيا ما په ريښتيا د ژوند په زړه او ريښوکې رسوخ ندی کړی؟

هر چېرې مې چه ژوندی موجود پيدا کړی د توانايۍ غوښتنې هم شتون درلود. حتی هغوی چه د خدمت کولو هيله لري د ځان لپاره د ځانګړي احترام غوښتونکي دي. کمزوري غواړي له خپل ځانه ضعيفو ته محترم شي، او تل حاضر دي له ځان څخه د قوي خلکو چوپړ واوسي او يوائې د دې لپاره خوشاله دي چه صرف نظر به ونکړي.

لکه څنګه چه کوچيني لويو خلکو ته تسليميږي تر څو په کوچينيو خپله قدرت ښودنه درک کړي، په همدې شان تر ټولو لوی خلک ځانونه فدا کوي او خپل روح د قدرت لاسته راوړو لپاره په لاس کې نيسي. دا د سترو خلکو فدا کاري ده چه خطر او مړينه د فال په واسطه لوبوي.

هر چېرې چه فدا کاري، چوپړ، ظاهري مينه او علاقه شتون لري هلته د ځان لپاره ډېر احترام غوښتل هم شتون لري. کمزوري تل په پټو لارو د قدرتمندو خلکو زړونو ته له مختلفو زاويو څخه په څښېدو داخليږي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلته په غله د ځان لپاره قدرت کسبوي.
او ژوند يې دا راز ووېل: "هوښيار اوسه! زه هغه څوک يم چه تل بايد په ځان لاسبرى وم."
تاسو دا هيله او غوښتنه د توليد، نهايت، لوړو او لېږې برخو په لور متنوع حرکت بولئ اما دا ټولو څيزونه له يو څيز او رازه زيات ندي.

زه غوره ګڼم پناه شم خو دا يو شى له لاسه ورنکړم او په رېښتيا هر چېرې چه فساد او لوېدنه وي هلته د قدرت لاسته راوړلو لپاره ژوند قرباني کيږي. زه بايد د موخو لپاره جګړه، کېدنه اوکشکمش واوسم. هغه چه زما پشان چورت وهي بې له شکه بايد واندي چه کږې او له کږاوه ډکې لارې به طى کړي.
هر څه چه خلق کړم او هر څومره که مينه ورسره ولرم بلآخره ناچاره کيږم مجبور زر د خپلې مينې دوښمن وګرځم. دا هغه څه دي چه زما هيلې يې غواړي.
او حتى ته چه ته يې، د فهم او درک خاوند يې زما د هيلې له وسيلې او پلې څخه بر شى نه يې؛ په رېښتيا هم زما د توانايئ غوښتنه ستا د هيلې پښو ته د حقيقت په طرف ځي. واقعا هغه کس چه د ژوند غوښتنه يې خپله موخه ټاکلې وه حقيقت يې غلط درک کړى وو. داسې څه شتون نلري، هغه څه چه شتون نه لري څنګه يې غوښتنه کولى شو او هغه څه چه ژوندي دي څه ډول يې د ژوندي کېدو لپاره هڅې کولى شو؟
يواځې چېرته چه ژوندون شتون لري غوښتنه هم شتون لري، مګر د ژوندون غوښتنه نه بلکه د قدرت پيدا کولو. دا هغه څه دي چه زه يې تعليم درکول غواړم؛ دا هغه درس دى چه ما ته ژوندون راکړى او په همدې درس او هوښيارانو زه ستاسو د زړونو معما لولم.

اې د ارزښتونو جوړوونکو! تاسو په ارزښتونو او نېکو او بدو لغتونو قدرت لاسته راوړئ. لدې امله ستاسو په اروا کې ځلا، لړزه او تنګسيا نغښتې ده. مګر نوې غلبه او قوي قدرت ستاسو له ارزښتونو څخه سرچينه اخلي. دا قدرت د دې ارزښتونو د هګيو پوست ماتوي او بهر ته راځي. هر څوک چه غواړي نېک او بد واوسي واقعا لومړى بايد مخرب اوسېدلى وي او ارزښتونه يې له منځه وړي وي.
پدې ډول لويې بدئ پر غوره نېکيو پورې اړوند دي او همدا د خلق کولو مفهوم دى.
اې هوښيارو خلکو! حتى که بده هم وي مونږ به يې په هکله خبرې وکړو! چوپتيا ډېره بده ده ځکه ټول نا ويلي حقيقتونه پکې مسموميږي.
پرېږدئ هر څه چه زمونږ د حقايقو په وسيله ماتيږي مات شويدي! ډېرکورونه شته چه اوس هم بايد ورغول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د عالي رتبه کسانو په اړه:

زما د سمندر عمق ډېر آرام دی، څوک فکرکولی شي چه څومره ډاروونکې هیولاوې په هغه ژورتیا کې پټې دي. زما عمق ټکان نخوري مګر پدې ټولو سربېره پر خنداګانو او لامبوزنو معماوو ځلانده دی. نن مې دېر عالیقدر او محترم کس ولید، نوموړی بافکره او پوه توبه ګار وو. اخ زما روح یې څومرپر بدوالي وخندل!

دې لوړ رتبه کس په باد ډکه سینه داسې ولاړ وو لکه څوک چه خپل نفس قیدکړي. نوموړي په هغو حقایقو چه د ښکار غنیمت یې وو ځان سینګارکړی وو او پیوند څیرې جامې یې په تن وې. ډېر اغزي پرې سربېښ وو اما سره ګلونه مې له اغزو سره ونه لیدل.

دې ښکاري تر اوسه خندا او ښکلا نه وه زده کړې په خفګان سره د علم له ځنګلونو بېرته راوګرځېد.

نوموړی له وحشیانو سره د جنګ له امله منزل ته راګرځېدلی اما تر دې دمه پر یو وحشي حیوان ندی غالب شوی، دا حیوان ډېر دروند او سنګین ګرځي او لکه پلنګ د منډې په حالت کې ولاړ وي. مګر زه لدې وچو او سختو ارواوو سره مینه نه لرم او دا کسان مې نه خوښېږي.

اې زما ملګرو تاسو وایاست چه د خوند او مزې کتلو په هکله هېڅ بحث شتون نلري؟ مګر د ژوند ټول ابحاث د خوند په اړه دي! خوند په عین وخت کې هم تله ده او هم وزن، افسوس د هغوی په حال چه د خوند او تلې له بحثه پرته ژوندکوي.

هرکله چه دا لوړ رتبه سړی له خپل مقام او منزل څخه ستړی شي هغه وخت زه له نوموړي خوند اخلم او خوښوم یې او یوازې پداسې وخت کې د هغه ښکلا پیلیږي.

هغه وخت چه له خپل ځان مخ واړوي له خپل سیوري الوتلی شي او مستقیما ځلیدونکي لمر ته واردیږي.

ډېر وخت کیږي چه په سیوري کې ناست دی او له همدې امله د دې توبه ګار د غومبورو رنګ آلوتی دی او د خپلو ټولو وړو توقعاتو په منځ کې د مړینې په حالت دی. تر اوسه یې په سترګوکې سپکاوی او په خوله کې کرکه له لېرې ښکاري. که څه هم نوموړي استراحت کړی مګر تر دې دمه په لمرکې ندی پټ شوی.

نوموړی باید لکه ځوان خوسندر داسې واوسي، نېکبختي یې باید له ځمکې څخه کرکه او د ځمکې بوی ورنکړي. هغه به په بشپړه لېوالتیا سره د سپین غوایه په بڼه د نعرې په حالت کې ولیدلی شي مګر نعرې به یې د هغو څیزونو د ستاینې په اړه وي کوم چه پر ځمکه اړوند دي. تر دې شیبې د نوموړي څېره تیاره ده د لاس سیوری یې پر مخ لوېدلی دی او تر اوسه یې د سترګو لید مبهم دی. عمل یې هغه سیوری دی چه پرې لوېدلی دی، د لاس سیوری یې عامل دی او تر اوسه پخپل ځان ندی غالب شوی.

واقعا زه د نوموړي غوایه ته ورته غوایه خوښوم مګر دې ته لېوال یم چه سترګې یې د ملایکو پشان ومومم.

اوس باید د اتلولۍ غوښتنه هېره کړي، اوس باید هغه کس شي چه لوړتیا یې موندلې، د نوموړي لپاره لوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

رتبه پاتې کېدل غوره ندي. اثیر باید نوموړی پرته له کوم تمایله له خپل اړخه جګ کړي. نوموړي لويې لويې هيولاوې د ځان پیروانې کړې او معماګانې یې حل کړېدي. مګر اوس باید د خپل نفس اړوند هيولاوې او معماوې حل کړي او هغه په آسماني ماشومانو تبدیل کړي.
تر دې دمه نوموړي له خپلې پوهې موسکا کول او اوښکې نه تویول ندي زده کړي، تر اوسه یې فوق العاده شهوت په ښکلا کې پر چوپتیا او آرامۍ پیدا کولو ندی توانېدلی.
بې له شکه د نوموړي غوښتنه باید په مړېدو او پوره کېدو سره شونډې ونه ګنډي بلکه باید په ښکلا کې خفه شي. ښکلا او مهرباني د ښبونکي کس د ښښنې یوه برخه ده. اتلان باید د استراحت په وخت کې لاس پر سر کېږدي او پدې ډول سره پخپل استراحت هم غالب شي. مګر ښکلا د اتلانو لپاره ډېر ستونزمن څیز دی، ښکلا د شوره ډکو ارادو په لاسرسي کې نده.

ستاسو عالیقدرو لپاره تر ټولو ستونزمن کار په آرام او بې ډاره حالت کې ولاړ دریدل دي. هرکله چه قدرت په التفات راشي او په ښکاره څیزونو لطف او مهرباني وکړي دې ډول لويی ته زه د ښکلا نوم ورکوم.
اې قوي او تکړه انسانه له هر چا ډېر ستا څخه د ښکلا تمنا لرم. پرېږده چه نرمي د په نفس باندې تر آخره واوسي! ستا له نفس څخه د هر ډول شرارت انتظار لرم، له همدې امله له تا څخه د نېکۍ هیله لرم.
ډېر وخت مې پرکمزورو باندې خندا راځي، ځکه د دوی منګولې د فلج منګولو پشان دي او شرارت نشي کولی ځکه ځانونه نېک او صالح معرفي کوي.
ته باید د فضیلت قطار ته ځان ورسوې! لیدلی د دی ځرنګه قطار؟ هر څومره چه لوړېږي هغومره ښکلی او ظریفېږي اما په باطن کې قوي کېږي او د بار وړلو ډېر قوت پیدا کوي.
هو، اې عالیقدر انسانه! داسې ورځ به راشي چه ښکلا به شې او د خپلې ښکلا په مخ کې به هېنداره ونیسې! هغه وخت به ته لدې الهي غوښتنو خوند واخلې او حتی ځانغوښتنه به د دې ستاینې وړ وګرځي، ځکه د روح قانون دا دی چه لومړی باید فعلي اتل ترې خارج شي تر څو د خوب په حالت کې تر هغه غوره بل اتل پرې وارد شي.

## د تعلیمي او فرهنګي سیمې په اړه:

د راتلونکې په اړه مې ډېر زیات واټونه ووهل او ناڅاپه مې ټول وجود وحشت واخیست، کله مې چه له ځان چاپېر وکتل ومې لیدل چه یوازې زما د عصر وخت وو! هغه وخت په ډېره بیړه سره خپل کورته راوګرځېدم او په همدې ډول ستاسو معاصرو خلکو په طرف او د تعلیمي سیمې په اړخ راغلم. د لومړي ځل لپاره په بشپړه لېوالتیا سره ستاسو د لیدو په هیله راغلم او زړه مې ستاسو د لیدو سخته لېوالتیا درلوده.
مګر پوهېږئ چه دې کې څه وشول؟ له ټولې وېرې سره سره مې وخندل! ځکه سترګو مې هېڅکله داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خندا لرونکې بې نظمه منظره نه وه ليدلې.
د ډېر وخت لپاره مې داسې وخندل چه پښې او زړه مې لړزېدل او له ځانه سره مې وويل: "بې له شکه دا د رنګولو لوښی دی." اې معاصرو خلکو تاسو چه مخ او د بدن غړي مو په پنځوس ډوله رنګ کړي وو هلته ناست وئ او زه مو معتجب کولم او له ځانه سره مې پنځوس هېنداري درلودې تر څو تاسو ته ډول ډول رنګونه بيا وښايي.

په ريښتيا هم ستاسو واقعي څېرې د خپلو مخونو لپاره تر ټولو غوره نقابونه کېدلی شي، څوک شته چه ومو پېژني؟ هغه نوې نښې او علامې مو چه پر مخ نقش کړې د نښو او علامو تعبيروونکي څرنګه هغه پېژندلی شي؟
حتی که د قربانۍ له علامو چا غيب ويلی شوای څرنګه يې باور کولی شو چه تاسو افسار لرونکي ياست؟
تاسو د چسپ لرونکي کاغذ د رنګ او ټوټو د ترکيب پشان ښکارئ. ټول ټېرونه او دورې ستاسو له حجابه په پټه کتل کوي. ټول عادتونه او ډول ډول ګروهنې مو په اخلاقو او رفتارونوکې ډول ډول خبرې کوي.
که چېرې څوک له تاسو څخه حجاب، جامې او رنګونه لرې کړي پاتې شوني به مو د مرغانو يا کبانو د ډارولو لپاره مناسب وي.

بې له شکه زه يو فراري مرغه يم او تاسو مې د لنډې شېبې لپاره بې رنګه او لوڅ وليدلئ. کله چه دې شکلونو وډارکړم وزرونه مې وکړل او وتښتېدم.
ډېر غوره ګڼم ستاسو پر ځای په سفلی نړۍ کې د ورځني مزدکارکوونکي واوسم او يا هم د مړو او تلليو خلکو په ارواوو کې پاتې شم، ځکه د سفلی نړۍ اوسېدونکي له تاسو ډېر چاغ او بشپړ دي.
اې معاصرو خلکو هېڅ زما د خوښې وړ نه ياست! نه مو په لباس او نه بې لباسه زغملی شم. له نامعين راتلونکې ډار او هغه څه چه تښتېدونکي مرغان وېروي په مراتبو ستاسو له حقيقت څخه په زړه پورې او راحت دی. ځکه تاسو داسې واياست: "موږ حقيقت پيروه خلک يو او هېڅ وخت پر خرافاتو باور نه کوو." پدې ډول تاسو بې له پراخې سينې او اوږينې باډۍ لرلو په خپله سينه کې باد اچوئ.
اې خلکو! ټول هغه څيزونه چه تر دې دمه د اعتقاد وړګرځېدلي تاسو يې د ترکيب انځور ياست. څرنګه امکان لري چه په کوم شي ګروهنه ولرئ؟ تاسو د اعتقاد د ذات محرک او د مفصلونو بې ځايه کوونکي ياست، اې حقيقت پرستانو زه په تاسو باور نه لرم.
ستاسو په مغزوکې ټولې پخوانۍ دورې يو له بل سره په جګړه بوختې دي. تاسو ته د تېرو دورو چټيات او خوبونه له ويښو افکارو څخه غوره دي! تاسو عبث او بې ګټي ياست ځکه ګروهنه نه لرئ مګر ذاتي خلق کوونکی تل خپل خوبونه او هيلې په آسمان کې پيدا کوي او په ګروهنه باور لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسو نيم خلاص ورونه ياست چه په نيږدېوالي کې ورته قبرکيندونکي انتظارکوي او ستاسو حقيقت دا دی: "ټول څيزونه د نابودۍ وړ دي."

عجيبه ده څومره مو ډېڅکر او عبث وينم! ستاسو له ډلې ډېر په همدې پوهيږي او وايي: "کله چه زه ويده وم کېدای شي خدای کوم څيز غله کړي وي؟ واقعا کوم څه يې چه له ما وړي د يوې ښځې د پيدا کولو لپاره کافي وو."

معاصر خلک څومره ډېر وو چه ويلي دي: "زما د سينې د قفس د هډوکوکمی څومره حيرانوونکی دی." په ځانګړي ډول که زه نه وم تاسو راپورې خاندئ. افسوس پر ما که چېرې ستاسو په ستاين ډوله تعجب ونه خاندم او دا کرکجن ترشحات مو هضم نشم کړی!
زه ډېر درانه او سنګين بارونه په غاړه لرم تاسو زما لپاره وزن نه لرئ. څو وزر لرونکې حشرې اوګونګټې زما پر واقعي بار څه اهميت درلودلی شي؟ بې له شکه هغه زما بار نشي درنولای. اې معاصرو خلکو! زما لويه ستړيا له تاسو څخه سرچينه نشي اخيستلی.

افسوس! پدې لېوالتيا سره به اوس چېرته صعود وکړم؟ د هر غره له سره مې د بابا او پلار ځمکه لټولی مګر تراوسه مې خپل ځای ندی موندل. زه په هېڅ سيمه کې استراحت نه کوم او له هرې دروازې بهرکيږم.
پدې آخروکې چه معاصرو خلکو زما لېوالتيا د ځان په لوري کش کړې زما په نظر ناآشنا او خنداوره ده، زه د پلار او نيکه له ځمکې شړلی شوی يم. لدې امله زه يواځې د خپل اولاد ځمکه يعني هغه ځمکه چه تر اوسه نده کشف شوې او له سمندرونو ډېره لرې پرته ده، مينه ورسره لرم. د هغې موندلو لپاره هېڅ وخت له هڅو او لټونو لاس نه اخلم. بادوانونه را اخلم او په کښتيو سره په سمندرونوکې ګرځم.
هغه بلاګانې چه له پلاره راته پاتې شوې دي د اولادونو لپاره به يې جبران کړم او حاضره بده وضعه به په راتلونکي کې تلافي کړم.

## د سپېڅلي درک په اړه:

تېره شپه چه کله مياشت راوختله دومره لويه ډکه وه او په يوه ګوښه کې يې پر افق تکيه کړې وه. داسې ښکارېده چه ډېر زر به لمر نړۍ ته راوړي. اما هغه حامله نه وه او دروغ يې ويل، زه له ښځې غوره ګڼم چه سپوږمۍ د نر په بڼه وپېژنم.
د دې وخت دی اقرار وکړم چه دا شپه ګرځېدونکې ډارنه نر هم ندی. واقعا هغه له ډېر ناآرمه وجدان سره په بامونوګرځي. ځکه هغه عابد چه پدې مياشت کې ژوندکوي شهوت پرست او حاسد دی. هغه د ځمکې او عشاقانو څخه يې خوند اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه هېڅ کله دا پر بام ګرځېدونکې پېښو نه خوښوم، هغوی چه له نیمکښوکړکیو څخه په غله داخل ته راګوري ډېر بد مې اېشي.!
نوموړې په سپېڅلي ډول پر ستوریز پرش قدم وهي مګر هغه سړي چه ډېر آرام بې غږه حرکت کوي او د پښو کړپا يې غوږ ته نه رسي زما هېح نه خوښېږي.
سم سړی په شور او زوږ قدم اخلي اما پیشو په ځمکه ورو او پښه نیولې ځي. وګورئ میاشت څومره خاینانه لکه پیشو په لار ځي.

اې چالاکو چلبازانو او اې سپېڅلو پاکو پوهانو زه دا تمثیل تاسو ته راوړم، زه تاسو شهوت پرست او عبث خلک ګڼم او بې له شکه تاسو مې ډېر ښه پېژندلي یاست. تاسو ځمکه او هغه څیزونه چه په ځمکه کې دي مینه ورسره لرئ اما ستاسو له شرمېدلې مینې او ناراحته وجدان څخه هر څه واضح ښکاري. تاسو د میاشتې پشان یاست پدې يې ستاسو فکر قانع کړی چه له ځمکې سره دوښمني وکړئ مګر معدې مو دا خبر نده منلې. دا ستاسو په باطن کې تر ټولو قوي عوامل دي.
اوس مو فکر لدې امله شرمنده دی چه دکلمو او معدې پیروي کوي. پدې خاطر پر ورکو لارو ځي او دروغ وايي تر څو له خپل خجالت او شرم څخه تېښته وکړي. او ستاسو دا دروغجن فکر ځانته وايي: "زما لپاره تر ټولو غوره کار دا دی چه ژوندون ته بې له کومې هیلې او غوښتنې نظر وکړم لکه سپي داسې نه چه له ډېرې لېوالتیا څخه یې تل د خولې څخه لاړې روانې وي. همدارنګه راضي واوسم چه په مړه اراده، بې حرصه او له ځانغوښتنې څخه په سترپا سره ژوند ته ادامه ورکړم، پداسې حال کې چه ټول وجود مې سوړ او ایره ډوله دی اما سترګې مې لکه د میاشتې سترګې مخمورې دي."

منحرف کس چه ځان منحرفوي داسې وايي: "زما ټاکنه دا ده چه له ځمکې سره دومره مینه وکړم لکه میاشت يې چه ورسره کوي او یواځې د ښکلا په سترګو سره یې لمس کړم.
او دې ته زه سپېڅلی د ټولو څیزونو سپېڅلی درک وایم. بې لدې بل څه نشم کولی چه د هغو په مخ کې واچوم او لکه یوه هېنداره سل سترګې شم."
اخ اې عبثه شهوت پرستانو! ستاسو هیلې سپېڅلې ندي او لدې امله ورته سپکاوی کوئ.
په رېښتیا چه تاسو ځمکه لکه خلق کوونکي او هغوی چه له بدلونه خوند اخلي نه خوښوئ. اما بې ګناه توب او معصومیت چېرته دی؟ چېرته چه د خلق کولو هیلې شتون لري، زما په اند هغه کس د ډېرو سپېڅلو هیلو او ارمانونو درلودونکی دی چه له ځان څخه د لوړو او لویو څیزونو د پیدایښت اراده کوي.
ښکلا چېرته ده؟ "چېرته چه زه له ټولو هیلو سره ناچاره اوسم، چېرته چه زما خوښېږي اراده وکړم او پناه شم ترڅو د بیکاره صورت انځور له منځه لاړ شي."

(c) ketabton.com: The Digital Library

"مینه درلودل  او پناه کېدل د خلقت له ابتدا څخه یو له بل سره یو ځای وو. د مینې لرلو غوښتنه، د مړه کېدو هیله هم شته. دا خبر مې ستاسو لپاره ده اې ټنبلانو! مگر اې تباه کوونکو تاسو خپلو شریفو سستو نازونو ته د تفکر نوم ورکوئ او هغه څه ته په ډارنو سترگو د لمس کولو اجازه ورکوئ، د (ښکلي) نوم پرې اېږدئ.

اې پاکو او سپېڅلو پوهانو لعنت او افسوس د پر تاسو وي چه تر اوسه د هېڅ شي نوښت نشئ کولای. حتی که چېرې د افق په څنگ کې تکیه وکړئ او دروغ ووایاست.  واقعا تاسو دروغجن له شریفوکلمو خولې ډکوئ او غواړئ چه موږ باور وکړو زړونه مو له هغو ډک دی. مگر زما خبرې پستي او له سپکاوي ډکې دي. زه حاضر یم هغه څه چه تاسو ځان ترې لرې ساتئ پخپله غوښتنه له ځانه سره راټول کړم.
همدا کلمې ببېخي سمې دي ځکه د دوه مخیو لپاره باید حقیت روښانه کړل شي. زما اغزنو پاڼو، خالي صدفونو او د ماهي تېغونه به د مزدورانو او دوه مخو پوزې په خاربښ راولي. ستاسو د اطراف هوا او شاوخوا جشنونه ټول متعفن دي ځکه شهواني افکار، دروغ او ستاسو خفیه اعمالو دې حد ته رسولي دي.
که جزأت لرئ لومړی مو پخپل ځان، معدو اوکولمو اعتقاد حاصل کړئ! هر څوک چه پر ځان باور نلري تل دروغ وایي. په ریښتیا هم تاسو پداسې حال کې ځانونه په نقاب کې پټوئ چه چټل چینجي د پریښتو په نقابونوکې څښیږي.

بې له شکه تاسو متفکران مکرکوئ. خپله زردشت هم یو وخت ستاسو فرېب خوړلی وو اما په هغه وخت کې نه پوهېدا چه څه ډول باطني چینجیانو ستاسو ملکوتي صورتونه ډک کړیدي. یو وخت مې داسې تصورکولو چه د خدای روح ستاسو سپېڅلو پوهانو په لوبوکې نغښتی دی او یو وخت ستاسو هنرونه راته تر ټولو ښکلي هنرونه ښکارېدل.
واټنونو، د مارانو چټلیو، متعفن بوی، شهواني مکر او چلپاسې چه ستاسو په داخل کې څښېدل زما له نظره پټ وو اما کله چه تاسو ته تیږدې شوم ورځ په ورځ راته روښانه شول. اوس ستاسو ورځ رارسېدلې ده او د میاشتې د مینې لوبې سرته راغلې دي.
وگورئ! مخکې له سپېده داغ څخه میاشت څه ډول کشف شوېده او رنگ یې الوتی ولاړه ده!
همدا شیبه په نړۍ ځلېدونکی لمر په افراطي ځلا سره د خپلې مینې له امله په ځمکه ځلیږي، د لمر ټوله مینه معصومیت او د خلقت غوښتنه ده.
وگورئ! د سمندر په سطحه څومره بې پروا راځي! آیا تاسو یې د مینې تنده اوگرم نفس نه احساسوئ؟
کېدای شي هغه سمندر وزبېښي او عماق یې د ارتفاعاتو په اړخ راوړي. د سمندر هیله زرگونه تي د لمر خولې ته تقدیموي.
سمندر د دې لېوالتیا لري چه لمر دې تندې په وسیله ښکل او وزبېښي او هیله لري چه غاز شي او پورته شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نور د تېرېدو لار او یا هم خپله نور وګرځي.
زه هم د لمر پشان له ژوندون او ټولو ژورو سمندرونو سره مینه لرم او دا هغه څه دي چه زه یې درک بولم، هر څومره که عمیق دی زما په ارتقاعاتو پسې به راوښکل شي.

## د پوهانو په هکله:

پداسې حال کې چه ویده وم یوه مېږه راغله او وابښه مې چه پر سر درلودل ویې خوړل او د ژوولو په حالت کې یې وویل: "زردشت نور د یو پوه بڼه نه لري." لدې خبرې وروسته په خندا او غرورکې لېرې شوه. دا مطلب زما ماشوم راته وویل.
زما خوښېږي چېرته چه ماشومان ړنګو دېوالونو ته نیږدې د اغزیو او لاله ګلونو په منځ کې لوبې کوي هلته ویده شم. تر دې دمه زه د ماشومانو، اغزیو او لاله ګلونو په منځ کې یو پوه یم، دوی حتی په شرارت کې هم معصوم دي. مګر مېږې نور ما پوه نه ګڼي؛ قسمت مې همدارنګه دی او پدې قسمت د رحمتونه وي!
ځکه حقیقت دا دی چه ما د پوهانو ځای پرېښی او ور مې یې په ځان پسې محکم تړلی دی.
ډېر وخت زما وړی روح د یوې مړۍ لاسته راوړو لپاره د دوی پر دسترخوان کښېناست او منتظر شو مګر زه نشم کولی چه علم ته د دوی پشان د بادامو ماتول ووایم.

زه د ځمکې له آزادې هوا او آزادۍ سره مینه لرم. د دوی د تختونو له ویاړونو او قدرونو څخه غوره ګڼم چه د غوایي پر څرمن استراحت وکړم. زه د خپلو اندونو په وسیله فوق العاده تود شوی او سوی یم. تر ډېره دا افکار زما نفس قبضوي. لدې امله زه مجبور یم چه د آزادې هوا په لور لاړ شم او له ګردجنوکوټو او خارو څخه لرېوالی اختیارکړم.
مګر دوی په سړه سیوره کې ډېر آرام او بازغمه کښېني. دوی تل غواړي چه سیل کوونکي واوسي او هڅه کوي داسې ځای کښېني چه لمر یې پر زینو باندې ونه سېځي. لکه بېکاران چه په کوڅوکې ولاړ وي او عابرانو ته ګوري دوی هم درېږي اوکله چه نور خلک اندونه په خپلو سرونوکې الوزوي سیل یې کوي.
که چېرې کوم څوک دوی ونیسي د اوړو د خالي بوجیو پشان بې ارادې ګرد کوي مګر څوک پوهېږي چه د دوی ګرد د غنمو دی او د طلایي رنګه مزرعو خوندونه یې له اوړي څخه سرچینه اخلي؟
کله چه دوی له خپل علم او پوهې وایي زما یې د مثالونو او سپک حکم له امله ساړه کېږي. د دوی پوهه غالبا د مردارو ډنډونو پشان متعفن بوی کوي او بې له شکه ما یې په علم کې د څونګښو غږ اورېدلی دی. دوی باهوشه دي او ډېرې چالاکه کوترې لري. زما ساده توب د دوی له چل او فرېب کارۍ سره څه اړیکه لري؟ د دوی ګوتې د اوبدلو قدرت لري او لدې امله یې خپلو مغزو ته جرابلې اوبې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښه ساعتونه دي مګر فکر مو وي چه سم يې کوک کړئ! کله چه په تواضع سره ټک ټک کوي وخت به بې له کوم فرېبه تاسو ته ووايي. دوی لکه د ژرندو تيږې بې لدې چه غنم يې داخل ته واچول شي واړه کوي. هغه غنم چه د دوی داخل ته اچول کيږي په ډېره اسانۍ سره يې ميده او په سپين ګرد بدلوي.
هغوی ډېر د يو بل په طرف دي او پر يو بل ډېر باور نه لري. خپل ابتکارات په بې ارزښته فرېبونو باندې لګوي او د داسې چا په تمه انتظارکوي چه د ناقصو معلوماتو درلودونکي وي او د غنيو پشان انتظارکوي.
ښه مې ليدلې چه څومره په احتياط زهر تياروي او هېڅ وخت يې دسماغو د زهر تيارولو په وخت کې نه هېرېږي.
پدې هر څه برسېره دوی په تقلبي فال لوبوکې هم استادان دي او په لوبوکې دومره ګرم راځي چه په خولو کې ډوبيږي. مونږ د داسې نابلدو پر وړاندې قرار لرو؛ زما په نظر نېکۍ يې له دروغو او تقلبي لوبو څخه ډېرې کرکجنې دي.
دوی نه خوښوي د هغه چا غږ واوري چه پښې يې له سر د پاسه ږدي او لدې خاطره يې زما او خپلو سرونو تر منځ خاورې او اشغال دانۍ اېښې دي. پدې ډول سره يې زما غږ چوپ کړی دی لدې وروسته به د دوی نړۍ تر ټولوکم زما غږ واوري.
هغوی د بشرکمزورۍ او دروغو ته زما او خپلو ځانو په منځ کې قرار ورکړی دی، دې څيز ته پخپلوکورونوکې جعلي بام وايي. لدې ټولو سره سره زه او اندونه مې د دوی پر سر تېرېږو او حتی که غلط قدمونه کيږدم بيا به هم د دوی له سره لوړ وي. ځکه عدالت داسې وايي: "خلك مساوي ندي او هغه څه چه زه يې غواړم دوی يې نه غواړي."

## د شاعرانو په اړه:

زردشت يې يو پيرو ته ووېل: "کله مې چه ځان سم وپېژاند روح راته هسې څيز ښکاره شو او همېشه توب مې همدې ته يو څه وموندل."
د زردشت پيرو ووېل: "مخکې مې هم دا خبره له تاسو اورېدلې وه مګر هغه وخت مو لاندې خبره هم ورسره کړې وه: "اما شاعران زموږ د اندازه کولو له حدودو او سنجولو څخه وتلي دی. ولې مو شاعران زموږ د سنجش له حدودو څخه بهرګڼل؟"
زردشت ووېل: "له ما ولې تپوس کوې؟ اما پوه شه چه له ما (ولې) نشې پوښتلی. آيا فکرکوې چه زما تجربې له پرونه پيل شوېدي؟ کلونه کيږي چه خپلي عقيدې مې د تجربې په مېخ وهلې دي.
آيا که وغواړو خپل وضعه وساتو نو د خاطراتو مجموعه بايد ونه اوسو؟
حتی د عقيدې ساتنه مې راته ډېره ستونزمنه ده او تر دې دمه زما زښته ډېرو عقايدو رانه الوتنې کړې دي. کله

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله مې د اهلي کوترو په ځاله کې ورک لاری مرغه مومم ډېر عجیب ښکاري اوکله یې چه د نازولو لپاره لاسو اوږدوم په لړزه راځي.
مګر آیا زردشت مخکې تا ته ویلي وو چه شاعران د سنجش له حده بېرون دي؟ زردشت خپله هم شاعر دی.
د زردشت پیرو ځواب ورکړ: "زه په زردشت ګروهنه لرم" اما زردشت یې سر وښوراوه او په خندا سره یې وویل: "اعتقاد، په ځانګړي ډول پر ما اعتقاد مې هېڅکله نه خوشالوي حتی که چا ډېر له صداقته هم ویلي وي. شعر د بشري سنجشونو له حدودو وتلی دی، هغه سم وایي موږ هم د بشري سنجشونو له حدودو بهر یو. که څه هم معلومات مو ډېرکم دي او بد پوهان یو، له دې امله د دروغ ویلو په لور شړل کیږو. او په موږ شاعرانوکې څوک شته چه خالص بې اوبو شراب ولري؟ څومره ډېرې زهرجنې ویالې زموږ تر ځمکو لاندې تخمیر شوې او څومر د نه ذکرکولو وړکارونه هلته ترسره شویدي. د علم سطحه مو ټیټه ده ځکه د زړه له تلې دکم فکرانو پیروي کوو په ځانګړي ډول سره کله چه د ځوانو ښځو په بڼه وي.

موږ د هغو داستانونو اورېدلو ته لېواله یو چه بوډۍ ښځې یې د شپې یو بل ته نقل کوي او دې ته موږ د خپل ضمیر د اناثیت ابدي روح وایو. موږ متعقد یو، خلکو او د هغوی خبرو ته داسې فکرکوو لکه چه مخفي لاره یې عقل ته رسېدونکې وي او هغه کسان چه واقعا په څه پوهیږي دا لار بشپړه پرې بنده ده اما ټول شاعران باور لري که چېرې څوک یو غوږ په چمن کیږدي، آرام څملي او ځیر شي هغه شیزونه چه د آسمان او ځمکې تر منځ واقع کیږي ترې خبریږي.
پدې وخت کې ډېر رقیق احساسات پر شاعرانو راځي حتی فکرکوي طبیعت یې عاشق شویدی. تصورکوي چه ټول طبیعت پرې عاشق او شیدا دی. په پټه دوی ته نیږدې شوی او په غوږونوکې یې د مینې محبت خبرې او راز نیازکوي. لدې امله شاعرانو ځانونه د نورو مخلوقات په مقابل کې واقع کړي او پر هغوی خپله ځانښودنه خرڅوي.

بې له شکه د ځمکې او آسمان تر منځ هغه شیزونه زښته ډېر دي چه یواځې شاعرانو یې تخیل او فکرکړی دی خو له بده مرغه حقیقت نه لري. د آسمانونو پر سطحو په فکرکې نورو شیزونو ته ځای ورکوي ځکه ټول خدایان د شاعرانو له تشبیو او فرېبنده تمثیلونو څخه پرته بل شی ندي.
موږ هم د خپل قلمرو (ورېځو) په طرف آلوتنه کوو، په سطحو یې نانځکې جوړوو او بیا ورته د خدایانو او سترو سړیو نومونه ورکوو. په ریښتیا هم دا نانځکې، خدایان او ستر سړي د خپلو ځایونو لپاره ډېر سپک او نالایقه دي.افسوس، دا ټولې نادودودې چه د حقایقو په بڼه ښودل کیږي زه یې څومره تنګ کړی یم! اخ! له شاعرانو څومره ستړی شوی یم!"

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چه زردشت دا ډول خبرې کولې پیرو یې پر وړاندې غوصه شوی وو خو څه یې نه ویل او زردشت هم د څه وخت لپاره چوپتیا غوره کړی او سترګې یې خپل ضمیر ته متوجه وې. داسې ښکارېده چه ډېرو لېرې سیمو ته په نګرانۍ کې دی خو بلآخره یې اسوېلي وایست او داسې یې وویل:

"زه د نن او پرون له خلکو څخه یم مګر زما ضمیر داسې یو څیز دی چه په سبا، بل سبا او لېرې راتلونکې پورې اړوند دی.

زه له نویو او پخوانیو شاعرانو څخه ستړی شوی یم؛ هغوی ټول راته ډېر سطحي او بې دوامه ښکاري او له کم عمقه سمندرونو سره یې تشبیه کوم. د هغوی فکر هېڅکله په بشپړه اندازه عمق نه درلود او لدې امله یې احساسات د سمندر تل ته ندي رسیدلي. د دوی تر ټولو غوره اندونو یو څه ځان پیروي او یو څه ټنبلي رامنځته کړېده.

د دوی د رباب غږ زما په نظر د بلاوو او پېریانو آه او خشنو غږونو ته ورته دی؛ دوی تر اوسه د موسیقۍ په حرارت او شوق څه پوهېدلي دي؟ همدارنګه دوی راته په بشپړه توګه دومره پاک او سپېڅلي نه ښکاري، خپلې اوبه چټلوي تر څو عمیقې ښکاره شي. ډېر یې خوښېږي چه سوله راوستونکي او دریمګړي وبلل شي اما زما په نظر د محبت دلالانو او فضولانو ته ورته دي او له یو سره دوه مخي او چټل کسان دي.

زه به خپل دامونه د دوی په سمندر کې واچوم خو پدې هیله چه ښه کبان ښکارکړم مګر هرکله مې چه ښکار کړی بې د پخواني خدای له سره بل څه په لاس ندي راغلي.

پدې ډول سمندر وږو ته د یوې مړۍ ډوډۍ په ځای د تیږو ټوټې ورکوي. کېدای شي هغو یخپله هم لدې سمندره پیدا شوي وي.

بې له شکه انسان د سمندرو په منځ کې غمي لټوي مګر په همدې اندازه دوی صدف لرونکوکبانو ته ډېر ورته دي او غالبا ما په دوی کې د یو روح په ځای یو څه اندازه تروې لاړې هم موندلې دي.

دوی له سمندرونو څخه هم یواځې ځان ستاینه زده کړېده. آیا مګر سمندر تر ټولو ښه طاووس او تر ټولو ښه ځان ستایونکی ندی؟

هغو خپل وزر د ډېرو بدو وحشي غوایانو په وړاندې اچولی او هېڅکله له خپلو نقرې او ابرېښم جوړو باروړونکو څیزونو څخه نه ستړي کېږي. وحشي غوایي د وحشیتوب په کمال سره ورته ګوري پداسې حال کې چه روح یې د ځنګله رېګ ته ورته او د ډنډ پشان دی.

هغه د سمندر ښکلا او طاووس جذابیت ته څه اهمیت ورکوي؟ زه دا تمثیل د شاعرانو لپاره راوړم.

په ریښتیا هم د هغوی فکر تر ټولو طاووسانو ښه طاووس او د ځان ستاینې یو نه ختمېدونکی بحر دی.

د شاعر روح په سیل کوونکو پسې ګرځي حتی که چېرې سیل کوونکي یو شمېر وحشي غوایان هم وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اهمیت نه ورته لري. مګر زه لدې روحه ستړی شوی یم. د داسې ورځې وړاندوینه هم کوم چه دا روح به هم له ځان تنګ شي. اوس ما داسې شاعران لیدلي چه بدلون یې کړی او ځانته په بد نظرګوري. ما د توبه کوونکو پوهانو ورود پخپلو سترګو لیدلی چه د شاعرانو له منځه راپورته شوي وو."

## د مهمو پېښو په هکله:

د زردشت ښکلو او په زړه پورې جزیرو ته نیږدې یوه جزیره موقیعت لري چه تل اورغورځېدنه پکې جریان لري. د دې جزیرې خلک په ځانګړي ډول بوډا مېږونه وایي: "دا اتشفشانونه هغې لویې تیږې ته ورته دي چه د ښکته نړۍ دروازه پرې تړل کیږي مګر د دې ټولو اورونو له منځه یوه نرۍ لاره تللې چه ښکته جهان ته رسیږي."

همغه شېبه چه زردشت په زړه راښکونکو جزیروکې وو یوه پېښه رامنځته شوه. یوه کیښتۍ د هغې جزیرې سره ودرېده چه اورغورځېدنې پکې جریان درلود او چلوونکي یې ساحل ته د سویو ښکارولو لپاره لاړل. ګهېځ ته نیږې کپیتان اوکسان یې سره راټول شوي وو، ناڅاپه یې یو سړی ولید چه د آسمان له طرفه د دوی به اړخ راځي او غږ یې ډېر واضح اورېدا چه وېل یې: "وخت دی، بې له شکه ډېر وخت دی." اماکله چه دوی ته په بشپړه ډول نیږدې شو په ډېر سرعت سره تېر شو او لکه بلا د الوتنې په حال کې د اور غورځېدنې په طرف لاړ. هغوی ډېر تعجب شول کله چه پوه شول زردشت دی ځکه بې له کپیتان نورو ټولو هغه مخکې له مخکې لیدلی وو او هغوی له نوموړي سره د نورو خلکو پشان مینه درلوده یعنې په مینه او ډار سره یې خوښېدا. د کښتۍ کپیتان ووېل:

"هلته ګوره! زردشت مستقیما د دوزخ په طرف ځي."

کله چه دکښتۍ چلوونکي اورغورځېدونکې جزیرې ته لاړل د خلکو په منځ کې داسې ګنګوسې خپرې شوې وې چه زردشت ورک شوی دی. اماکله یې چه د نوموړي له ملګرو تپوس وکړی هغو ووېل: "زردشت بې لدې چه خپل هدف ووایي په کښتۍ کې سفرکړی دی."

لدې امله ټول ووېرېدل؛ د دې کسانوکیسې د خلکو ډار لا زیات کړ او ټولو وېل: "شیطان زردشت تسخیرکړی دی." پیروانو یې دې ډول خبرو ته خندل او حتی یو خو وېل چه: "برعکس زه باوري یم چه زردشت شیطان تسخیرکړیدی." ټول غمجن او د زردشت لیدلو لېوال وو. کله چه د پنځو ورځو وروسته زردشت بېرته راوګرځېد دوی دومره خوښ شول چه خوشالۍ یې حد نه درلود.

او دا له اورجنې تازې سره د زردشت د خبرو داستان دی:

"ځمکه پوستکی لري، دا پوستکی له رنځوریو ډک دی او د دې رنځونو له ډلې یو بشر نوم لري. او د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرضونو بل مرض اورجنه تازي ده چه په هکله یې خلکوکیسې ویلې او دروغ اورېدلي دي.
د دې راز پیداکولو لپاره سمندرونو ته لاړم او له پښو تر سره مې ټول حقیقت لوڅ ولید. اوس زه د اورجنې تازي د حقیقتونو په اړه پوهیږم او همدارنګه نور ټول هغه حقیقتونه چه په انقلاب او ورکېدونکو شیطانانو پورې اړوند دي او پر زړو ښځو سرببره نور هم وېروي کشف کړي مې دي."
ما چیغه وکړه: "اې اورجنې تازي! له خپل عمق څخه پورته راشه او موږ ته ووایه چه ستا حقیقي ژورتیا څومره ده او بوی د له کوم ځایه راځي؟
ته له سمندر په ډېر عمیق ډول څښاک کړې او ستا د شور فصاحت د دې شاهدي ورکوي مګر بې له شکه ستا پشان څوک چه د سمندرونو له اعماقو او اوبو څخه استفاده کوي ډېر سطحي وي او عمق نه لري.
تر ټولو ښه لقب چه تا ته یې ترکولی شو د نړۍ ونټریلوکیست[2] دی او هر ځای مې د انقلاب د شیطانانو غږ او ورکېدل اورېدلی هغوی هم ستا پشان له شوره ډک اوکم عمقه راته ښکاري."
تاسو ښه پوهیږئ چه څرنګه وغاپئ او څرنګه آسمان په ایروککړکړئ؟ تاسو د فرېب ورکوونکو په منځ کې له ټولو مخکې یاست او دکثافاتو او چټلو اوبو جوشولو فن مو ډېر ښه زده کړی دی.هر ځای چه تاسو یاست د هغو ځای د اوبو ډنډونه ډېرئ خوسا شوي او ستاسو په لاس کې وي، دا هغه څیزونه دي چه د بېرون غورځولو هیله لري.
آزادي هغه فریاد دی چه تاسو یې پر نوروکلمو غوره ګڼۍ اما زما په باور له هغو مهمو پېښو څخه سلب شوی چه په فریاد او دودکې پېچلې دی. اې بد غږه ملګریه باور وکړه زموږ تر ټولو مهمې ورځې له شور او غالمغاله ډک ساعتونه ندی بلکه تر ټولو آرام یې دي.
د نړۍ مدار د نوو غږونو لرونکو مخترعانو په چاپېر نه راڅرخي بلکه د نوو ارزښتونو لرونکو په مخترعانو راڅرخي او ګرځېدنه یې عجیبه بې غږه ده! همدا اوس اعتراف وکړه! کله واقعا ستا دود او غږ خپور شو فوق العاده پېښه ونشوه؟ د یو ښار مومیایي کېدل او تر خاورو لاندې کېدل یا د یوې مجسمې لوېدل په ختو کې څه اهمیت لري؟"

هغوی چه مجسمې چپه کوې زه ورته وایم: "بې له شکه تر ټولو ستر حماقتونه د انسان په وسیله سمندر ته د مالګې اچول او ختو ته د مجسمې غورځول دي. "په خرابه کې مجسمه ستاسو دکرکې له امله غورځېدلې ده اما د ژوند ناموس یې دا دی چه دکرکې له امله یو ځل بیا ژوند او ښکلا مومي.
اوس هغه په ملکوتي قیافې سره نه راپورته کېږي او د رنځېدلو له امله جذابه شوېده او ستاسو له هماغه ړنګولو او ورکولو څخه به مننه وکړي.

---

[2] هغه چا ته وېل کیږي چه بې له شونډو خوځولو له خېټې آواز بهرکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نصیحت مې باچاهانو، کلیساګانو او هر هغه څه چه د زړښت یا فضایلو د قدامت له امله کمزوري شوي دا دی: "ځانونو ته مو اجازه ورکړئ چه له منځه مو یوسي! پرېږدئ چه یو ځل بیا احیا شئ او فضیلتونه مو یو ځل بیا راوګرځي."

اورجنې تازي ته مې همداسې ووېل هغې زما خبرې ریشخندکړې او تپوس یې وکړ: "کلیسا؟ کلیسا څه شی ده؟"

ځواب مې ورکړ: "کلیسا یو ډول دولت دی او د دولتونو ډېر دروغجن ډول دی. مګر اې دوه مخې تازي ته چوپه اوسه! فکرکړم ته خپل ډول ډېر ښه پېژنې.

دولت ستا پشان دوه مخې او منافقه تازي ده او ستا پشان ډېر یې خوښېږي چه په فریادونو سره په دودکې خبرې وکړې او داسې فکرکوي چه د خلکو په زړه خبرې کوي ځکه ټوله هیله یې همدا ده چه د ځمکې تر ټولو مهم حیوان وګڼل شي او خلک هم داسې اندي."

کله مې چه دا خبره وکړه اورجنه تازې داسې ښکارېده لکه دکینې څخه چه لېونۍ شوې وی او چیغه یې وکړه: "څرنګه هغه د ځمکې تر ټولو مهم حیوان ګڼې او خلک هم داسې اندي؟" او ناڅاپه یې له ستوني ګرم وېروونکی غږ رابهر شو او داسې فکر مې وکړ چه د ډېرې کینې او غوصې له امله به خپل ځان هلاک کړي. وروسته لږ آرامه شوه او او ساه اېستنه یې غوڅه شوه اما کله یې چه چوپتیا غوره کړه ما په خندا سره ووېل: "اې اورجنې تازي! ته غوصه شوې یې او لدې امله ما ته ښه پېژندلې یې!"

د دې لپاره چه حق مې ساتلی وي همدا اوس د یو بلې داسې تازي څخه هم خبرې واوره چه واقعا د ځمکې له زړه خبرې کوي! د هغې نفس طلا ده او طلا راوړي. د هغې یې په دود ایرو او بې کاره مواده څه؟

لکه وریځ د خندا سورګل ترې راون دی او ستا له لاړې توکولو، غر غر او معدوي موادو څخه بېزاره ده. هغه طلا او خپله خندا د ځمکې له زړه څخه لاسته راوړي ځکه زړه د ځمکې طلا ده او بلآخره ته ترې بې خبره یې"

کله چه اورجنې تازي دا مطلب واورېد نور یې د غوږ نیولو زغم ختم شو او له شرمه یې لکۍ ښکته واچوه او په هر ځومره زور چې غپېدای شوی پیل یې وکړ او خپل غار ته لاړه.

زردشت پدې ډول خپله کیسه وکړه مګر خبرې یې د پیروانو غوږونو ته سمې ونه رسېدې ځکه ډېر لېواله وو چه د دوهم ځل لپاره ورسره سویې، کېپتان او سړی الوتنه او خبرې وکړي.

زردشت ووېل: "زه پدې هکله څه ډول فکرکولی شم؟ آیا باید ووایم چه زه د بلا پشان یم؟

اما امکان لري چه زما سیوره وي. تاسو د سرګردانه کس او سیوري داستان اورېدلی دی. بلکه یوکار حتمي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی چه وکړم، هغه دا چه باید خپل سیوری ترې لنډکړم ځکه هسې نه چه شهرت ته به مې صدمه ورسوي."
او زردشت یې سر وخوځاوه، حیران شو او تکرار یې کړه: "پدې اړه څه ووایم."
هغې بلا ولې چیغه کړې وه: "بې شکه وختي دی"
وختي د څه لپاره؟

## فالګیر:

ما لیدلی ټول بشر غمونو په سر اخیستی دی او تر ټولو غوره خلک یې هم له کارونو ستړي دي. خلک داسې تلقین او باوري شوي وو چه وایي: "ټول څیزونه پوچ دي او ټول یو شان دي او هر څه چه کېدونکي وو، شوي دي."

له ټولو تپو او غونډو څخه د همدې خبرو غبرونه منعکسیږي: " ټول څیزونه پوچ دي او ټول یو شان دي او هر څه چه کېدونکي وو، شوي دي."
موږ ټولې مېوې شکولې او خپلې څرمنې مو په ځان راټولې کړې مګر ولې مو ټولې مېوې خوسا او مړاوې شوېدي؟ پرونۍ بدمرغې میاشتې څه پرې کړیدي؟ ټولې هڅې مو بې ګټې دي. شراب مو په زهرو بدل شوي او د بزګر تپې سترګې او زموږ زړونه یې مړاوي او رژولي دي.
موږ ټول سوځېدلي او ستي شوي یو، که چېرې اور راباندې راشي په ایرو به بدل شي. هو حتی اور هم له مونږ څخه پتنګ شوی دی. ټولو چینو مایوسه کړي یو. هر څومره چه په سمندرونو پسې لاړو ځان یې څټ ته واچاوه. ځمکه خوله خلاصوي او عمق یې موږ په ځان کې ورکوي.
په لړو ژورو ډنډونوکې زموږ د آه، چیغو او شکایتونو انعکاس دا ډول دی. کاشکي وای! چېرته داسې سمندر پاتې، تر څو ځانونه پکې دوب کړی شو؟ بې له شکه اوس له مړینې ستړي شوي یو، موږ ویښ شوي یو او ژوندون ته ادامه ورکوو مګر د مړو په سړو خونوکې!

دا هغه څه دي چه زردشت د فالګیر په فریادونوکې واورېدل او د فالګیر دې وړاندوینې یې په زړه کې رسوخ وکړ او تغیر یې ورکړ. نوموړی یواځې، ستړی، سرګردانه او هغوکسانو ته ورته وو چه فالګیر یې په هکله وېناوې کولې.
او خپلو اصحابو ته یې داسې وویل: "دګهیځ رارسېدنه به بې له شکه ډېر وخت ونه نیسي. آه څرنګه د دې ګهیځ تر رارسېدنې خپل نور وساتم؟ کاشکي دا روښنایي په هغه غم کې نه چوفېدلی! ځکه دا نور لېرې شپې او هغه نړۍ چه تر اوسه نده رارسېدلې باید رڼا کړي."
لدې وروسته زردشت خپلې لارې ته ادامه ورکړه. پداسې حال کې چه د غم بار یې په زړه درلود تر درېو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځو پورې يې څښاک، خوراک، آرام او خبرې ونکړې. بلآخره يوه داسې پېښه رامنځته شوه چه نوموړی سخت خوب يووړ مګر پيروان يې ګرد چاپېر ورته ناست وو او ساتنه يې کوله. دې ته منتظر وو چه آيا زردشت به بيا بېدار شي؟ خبرې به وکړي؟ د غم له درده به شفا پيدا کړي کنه؟

دا هغه څه دي چه زردشت وروسته له ويښېدو ووېل خو غږ يې دومره ورو وو تا به وېل چه ډېر له لرې ځايه خبرې کوي: "اې ملګرو کوم خوب چه ما ليدلی واورئ او په تعبيرولوکې يې راسره مرسته وکړئ!
خوب مې زما په نظرکې تراوسه معما ده، تر دې دمه يې په مفهوم نه پوهېږم. خوب مې ليدا چه په بشپړ ډول مې له ځانه لاس اخيستی وي. زه د مړينې په څوکو يواځې او ډېر لرې د شپنې ساتونکې او د هديرو د ساتونکې په شان وم.
هلته مې دکفنونو ساتنه کوله. د مړو د سړو خونو نم لرونکې تاخچې تړلې د فتحې او بريا له علامو څخه ډکې وې. ژوندون په مغلوب او رنځېدلي ډول د ښيښه يې تابوتونو څخه راته کتل.
هلته مې دګردجن او خاورو ډک ابديت بوی احساس کړ؟ زما روح دګردونو او خاورو په وسيله پټ او پوښل شوی وو. پداسې حالت کې څوک خپل روح په شمال وهلی شي؟"
د نيمې شپې روښنايي مو تل په خوا کې وه او يواځېتوب مې له ډاره څنګ نيولی وو، بله ملګرې راسره مړينه وه چه له نورو څخه يې ځان ډېر برخمن ښکارولو.
زما په لاسونوکې زنګ وهلې کليانې وو او د هغو سره په شور او شرنګ په لار ګرځېدلی شوم. کله چه د هغه ور پخپلو پايو وڅرخېد ډېر بېکاره او وحشي غږ يې ټول دالانونه او سړې خونې ونيو. په ډېر عجيب ډول داسې تورکڼاخ چه نه يې خوښېدل څوک يې له خوب ويښ کړي فرياد وکړ.
مګر تر ټولو وحشي او سخت زړه ته د چوپتيا بېرته راوړل وو. په هغه وخت کې ټول څيزونه ارامېدل او زه له همغې وحشي چوپتيا سره پاتې کېدم. پدې ترتيب وخت (که چېرې نور وخت وي، زه لدې څخه په بشپړ ډول بې خبره يم) تېرېدا اما بلآخره کومه پېښه وشوه او زه يې ويښ کړم.

درې د تندر پشان ضربې په وره ولګېدې؛ درې ځله د سړو خونو سقفونو دې لوی غږونه منعکس کړل او ويې ژړل. بيا زه د وره په طرف لاړم او فريادونه مې وکړل: "آلپا چا خپلې ايرې غره ته راوړې دي؟ آلپا! آلپا! چا خپلې ايرې غره ته راوړې دي؟" هغه وخت مې کلي په قلف کې وڅرخوه او هڅه مې وکړه ور خلاص کړم مګر ور حتی د يوې ګوتې په اندازه چوله هم ونکړه.
ناڅاپه غوصه ناک او سخت باد دواړه وزرونه خلاص کړل او له فريادونو ډک تور تابوت يې زما په مخ کې په ځمکه راوغورځاوه او د فريادونه، چيغو او زګېرويو په منځ کې تابوت خلاص شو او زر ډوله خنداوې تر راوتوکېدې او په زرګونو بڼو ماشومان، ملايکې، کونګان احمقان او د ماشومانو په اندازه الوتونکو په ما

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورې وخندل او زه یې ریشخندکړم.
همدې حالت زه سخت ووېروم او په ځمکه ولوېدم له ډېر وحشته مې داسې چیغې وکړې چه تر دې دمه ما ندي اورېدلې او همدې فریادونه زه له خوبه ویښ کړم او په هوش راغلم."

پدې ډول زردشت خپل خوب ووېل او چوپ شو ځکه تر اوسه یې په تعبیر نه پوهېدا مګر یو پیرو چه د زردشت ډېر د پاملرنې وړ وو راجګ شو او زردشت یې له لاسه ونیو ووېل:
"اې زردشته! پدې خوب کې ستا ژوند موږ ته واضح شوی دی؛ آیا ته پخپله له شوره ډک او په فریاد راوستونکی باد نه یې چه د مړینې د تصور ور په زور خلاصوي؟
آیا ته پخپله د دې ډول ټولو شرارتونو او بدلو ملکوتي بڼو څخه تشکیل شوی تابوت نه یې؟
بې له شکه زردشت هم د زرګونه ډوله ماشومانه خنداګانو پشان د مړو سړې خونې ته داخلېږي په شپنیو ساتونکو، د هدیرو په ساتونکو او هر څوک چه زنګ وهلې کلیګانې په لاس کې لري خاندي.
ته هغوی پخپله خندا تباه او وېروې اوکله چه د ستړیا اوږد سهار راورسېږي، اې د ژوند له مینوال او مدافع د آسمان څخه به غروب ونکړې!
تا موږ دې ته هڅولو چه د نوې شپې نوي ستوري او ویاړونه ووینو. بې له شکه تا خندا لکه رنګه څادر زموږ په سر واچوله. اوس کېدای شي د تل لپاره ماشومانه خندا له تابوتونو څخه واورېدل شي. اوس به د تل لپاره تېز باد په فاتحانه ډول سره د بشر په کسالت او تنبلیو ولګېږي. پدې هکله فالګیره! ته خپله زموږ شاهد یې.
بې له شکه تا اوس خپل دوښمنان په خوب لیدلي، دا خوب د تر ټولو دردناک خوب وو. اما څرنګه چه ته له دې خوبونو څخه بیدار شوی یې او په خود راغلی یې همدا ډول هغوی هم ویښ شوي او ستا په طرف راتلونکي دي."

د زردشت پیرو چه دا ووېل نور پیروان یې ترې ګرد چاپېر راټول شول او تر لاس یې ونیو غوښتل یې چه له تخت څخه یې راجګ کړي او له ځانه سره یې کړي اما زردشت یې پخپل ځای کې ناست وو ډېر په تعجب سره یې کتل کټ مټ لکه یو څوک چه د ډېرې اوږدې مسافرۍ څخه کورته راغلی وي. خپلو پیروانو ته یې کتل او سر تر پښو یې وکتل، ناڅاپه یې سترګو تغیر وکړ او هر څه چه پېښ شوي وو پرې پوه شو. پخپله ږېره یې لاس تېرکړ او داسې یې ووېل:
"جګ شئ! وخت شته خو فکرکوئ چه ډوډۍ مو ښه وي او زر تیاره شي! پدې ډول غواړم د یو بد خوب کفاره اداکړم. فالګیر به هم له ما سره خوراک او څښاک وکړي او هغه سمندر چه ځان پکې ډوبولی شي بې له شکه ورته په ګوته به یې کړم."

(c) ketabton.com: The Digital Library

زردشت داسې ووېل او ورسته يې د ډېر وخت لپاره د هغه پيرو مخ ته کتل چه خوب يې تعبيرکړی وو او سر يې وغوځاوه.

## د خلاصون په اړه:

يوه ورځ کله چه زردشت د ښاره له يو مشهور پله څخه تېرېدا سوالګرو او فلج شوو محاصره کړ او له نوموړي وروسته کس ته يې ووېل:

"زردشته حتی خلک هم له تا څخه شيان زده کوي او ورو ورو ستا په تعليمونو متعقديږي مګر مخکې لدې چه هغوی په تا ايمان راوړي مونږه فلج شوي بايد قانع کړې! بې له شکه ډېر مناسب وخت دی او په عين وخت کې په يو غشي څو نښې ويشتی شې. ته ړندو ته ليد او شلو ته روغې پښې ورکولی شې او هغوی چه له حده ډېر بار په ځان لري ترې اخيستی شې. زما په اند پدې ډول معلول او فلج شوي خلک متعقدولی شې!"

زردشت يې مخاطب ته داسې ځواب ورکړ: "خلک داسې وايي که چېرې څوک ړانده ته ليده ورکړي جوړ شوی ړوند به په نړۍ کې ډېرې چټلۍ ويني او پخپل شفا ورکوونکي باندې به لعنتونه ووايي. که څوک شل ته روغتيا ورکړي تر هر چا ډېره صدمه ورته رسوي ځکه تر اوسه يې منډه نده زده خو شيطانتونه او چټلۍ يې په منډه خوا ته راځي.

دا هغه څه دي چه خلک يې د معلولو په هکله وايي او څرنګه چه خلک له زردشته زدکړه کوي. آيا زردشت له هغوی څخه دا پندونه زده نه کړي؟"

کله چه د خلکو منځ ته راغلی يم ډول ډول معيوب خلک مې ليدلي، د چا سترګه، د چا پښه، د چا ژبه، د چا پوزه او د چا سر ناقص وي او زما په نظر دا ډېر جزوي عيبونه دي. ما لدې ډېر مهم عيبونه ليدلي ځينې يې دومره بدرنګ او بد دي چه حتی په ذکرکولو يې راته شرم راځي. د ځينو په اړه چوپتيا هېڅ غوره نه ګڼم. له هغې ډلې ځينې ټول لري خو يو شی نه لري او هغه شی بې اندازې لري؛ داسې کسان شته چه يواځې سترګې دي يا يواځې غوږونه يا يواځېستره خېټه او يا يو بل غټ شی. زه دې ډول خلکو ته معکوس مفلوجان وايم.

کله مې چه يواځېتوب پرېښود او د لومړي ځل لپاره پدې پله تېرېدم کوم څه مې چه ليدل خيره خيره مې ورته کتل خو هېڅ باور مې نه کېدلا او بلآخره مې له ځانه سره داسې ووېل: "دا يو غوږ دی بلکه هغه غوږ چه د انسان په اندازه لوی شوی او ټول يې نيولی او تحليل کړی دی!" يو ځل بيا مې ډېر په ځير غوږ ته وکتل ومې ليدل چه تر غوږ لاندې ډېر عجيب او بېچاره څيز په حرکت دی او رېښتيا هم دا ستر غوږ له ډېرې نرۍ او نازکې تنې سره وصل وو او دا تنه خپله د غوږ ښښتن وو. که چېرې چا په ذره بين کې ورته کتلي وای ممکن

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوکوچینی او له حسده ډک مخ یې په هغه تنه لیدلی وای. په بدن سربېره یو باد وهلی کوچینی روح هم لدې نرۍ تنې سره وصل وو اما خلکو ما ته ووېل چه دا ستر غوږ یوائځې یو سړی ندی بلکه ستر نابغه هم دی. مګر خلک چه کله د نابغه ګانو په هکله خبرې کوي زه هېڅکله باور پرې نه کوم. زه تر دې دمه پخپله نظریه ګروهمن یم: "دا کس د معکوس فلج شوي نفر پشان دی چه له ټولو څیزونو ډېرکم او له یو څیز ډېر زیات لري."

زردشت چه کله اوټ شا (ګوژ پشت) د مفلوجانو استازی او د حقوق مدافع ته دا خبرې وکړې خپلو اصحابو ته مخ کړ او داسې یې ووېل:
"اې ملګرو په ریښتیا هم د خلکو په منځ کې داسې په لاره ځم لکه د انسانانو څخه په بېلو شوو او ټپي غړو کې چه حرکت کوم. زما لپاره ډېره ستونزمنه ده چه خلک ټوټې ټوټې او یو په بل کې لوېدلي د جګړې په میدان او یا هم اشغال دانۍ کې وګورم."
زما سترګې له نن څخه تېرو وختونو ته متوجه کیږي او هلته هم له همدې ډول منظرې سره مخ کیږي، د انسانانو ټوټې ټوټې غوځ شوي غړي او بدې پېښې بېخي ډېرې دي. په هېڅ ځای کې یو روغ او جوړ سړی نشم موندلی.
افسوس، د ځمکې تېر او اوس حال زما تر ټولو درانه بارونه دي! هغه څه چه راتلونکي دي که چېرې ترې خبر نه وای هېڅکله مې خپل ژوند ته ادامه نشوی ورکولای.
زردشت په عین وخت کې یو پیغمبر، یو بااراده سړی، یو خلق کوونکی، یو راتلونکی، او د راتلونکې په طرف یو پل او بدبختانه داسې دی لکه یو فلج شوی کس چه د دې پل په مخ پروت وي.
او تاسو ډېرځ له ځانه تپوس کوئ: "زردشت زموږ لپاره څه شی دی؟ او موږ یې په څه نوم ونوموو؟" او بې له شکه په خپلو فکرونوکې مو زما پشان سوالونو ته پراخه ځوابونه تیارکړیدي. لکه لاندې:

"آیا زردشت د خبرو سړی دی که د عمل؟ آیا هغه فاتح دی که وارث؟ منی دی که پسرلی؟ رنځورمل دی که ناروغ؟ آیا شاعر دی که د حقیقت ویاند؟ آزادوونکی دی که پیروي کوونکی؟ ښه سړی دی که بد؟"
زه د خلکو په منځ کې لکه د راتلونکي د ټوټو په منځ کې (هغه راتلونکې چه زه وینم) په لاره ځم ټول فکر او هڅه مې دا ده چه دا ټول قطعات، معماګانې او بدې پېښې یو له بلې سره پیوند او راټولې کړم.
که چېرې شاعر انسان، معما ویونکی او له پېښو څخه نجات ورکوونکی نه وای ما به څرنګه زغملی وای چه انسان واوسم؟
له پخواني حالت څخه د خلکو واقعي نجات او بدلون په (داسې وو) او (زه داسې غواړم) کې دی.
هغه شی چه آزادي جوړي او خوښي منځته راوړي (اراده) بلل کیږي او ملګرو دا هغه څه دي چه ما تاسو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

درزده کړیدي اما اوس دا حقیقت هم زده کړئ: "تر دې دمه (اراده) بندي ده."
دا منفرد ماتم او غوصه ناکه اراده (داسې وو) نوم لري. هغه د سیل کوونکي په مخ چټلۍ بردي او هغه څه چه ترسره شوي په مقابل کې یې قدرت نه لري. د ارادې وژونکی ماتم دا دی چه نشې کولای د پخوا پر وړاندې اراده وکړې او د شهوت ، زمان او وخت ته ماتې نشې ورکولی تر څو پرې غالب شې.
اراده د آزادۍ سبب کیږي اما د زندان له غم او شر څخه د نجات لپاره مو څه تیارکړیدي؟
کاکشي هر زنداني لېونی کېدلی! او په همدې ډول سره یې خپلې محبوسې ارادې ته هم لکه د لېونیانو پشان احمقانه خلاصون وربښلی. اراده لدې امله په غوصه ده چه ولې زمانه شټ ته نه ګرځي. نوموړی هغه تیره چه د ټکان خوړلو حوصله نه لري د (هغه څه چه وو) په نوم نوموي.
لدې خاطره تیږې په غوصه له ځایه پورته کوي او بدلوي یې، او خپل غچ له داسې ځیزه اخلي چه د ده پشان بدلون او غوصه نشي حس کولی. پدې ډول سره یوه خلاصوونکې اراده په یوه آزاروونکې اراده بدلیږي.
پخوا ته لاسرسی نه لري ځکه له هغه شي څخه چه رنځیږي انتقام اخلي.
هو د ارادې دا فوق العاده کرکه د وخت او (داسې وو) له انتقام څخه زیږېدلی دی.

بې له شکه زموږ په اراده کې ډېر ستر لېونتوب پټ دی او تر ټولو بده دا چه دې لېونتوب لږ لږ فکرکول هم زده کړي دي. اې زما دوستانو پوه شئ! د پخوانیو خلکو غچ او دا نظریه چه هر چېرې مصیبت شته باید مجازات هم شتون ولرې تر ټولو غوره نظریه ده.
خپل غچ مجازات نوموي او په یو دروغ ډوله لفظ خپل راحت وجدان جعل کوي.
څوک چه اراده کوي لدې امله غمګین دی چه د پخوا په وړاندې اراده نشي کولی، پدې اساس غواړي ژوند یې د مجازات په بڼه واوسي.
بلاآخره، وروستنیو وریځو د عقل مخ پټ کړ او د لېونتوب تدریس کوي او وایي چه ټول ځیزونه له منځه ځي.
لدې امله ټول ځیزونه د نابودۍ وړ دي.
د لېونتوب درس دا وو چه، د اخلاقو له نظره ټول ځیزونه د عدالت او مجازاتو په ټول ترتیب شویدي.
افسوس د شیانو له بدلون او وجود له مجازاتو څخه خلاصون یا نجات ممکن ندی.
که چېرې ابدي عدالت شتون ولري خلاصون او نجات هم ممکن دي. له بده مرغه د (داسې وو) تیره د حرکت وړ نده. لدې امله مجازات هم باید ابدي وي، دا هغه څه وو چه لېونتوب تدریس کړل.
هېڅ عمل نشو نابودولی، څرنګه یې د مجازاتو په وسیله له منځه وړلی شو؟ هغه څه چه د مجازاتو په (وجود)کې ابدي دي دا دي: نفس (وجود) بایدګناه تکرارکړي. مګر د دې لپاره چه اراده بلاآخره نجات وموميي او غوښتل په نه غوښتلو تبدیل شي اې ورونو تاسو دا د جنون کیسه اورېدلې ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه وخت چه ما تاسو ته تعلیم درکړ: "اراده خلق کوونکې ده." تاسو مې لدې جعلي کیسو او افسانو څخه په تېښته کې کړئ.
(داسې وو) یوه معما، یوه ټوټه او یوه ډاروونکې پېښه ده تر څو چه د ارادې خلق کوونکی ورته ووایي: "مګر زه هغه ډول غواړم او هغسې به وکړم." اما آیا هغه تر اوسه داسې ویلي دي؟ او څه وخت به داسې ووایي؟
آیا ارادې تر اوسه د خپل لېونتوب له شره نجات موندلی دی؟
آیا اراده خپل ځانته نجات ورکوونکې او نېکبختي ورکوونکې شوېده؟ آیا هغې تراوسه غچ او د غاښونو چیچل هېرکړیدي؟ او چا هغې ته په وخت سوله او تر ټولو غوره لارې ورزده کړې دي؟
اراده یعني (د توانایۍ غوښتنه) کوم شی چه له هر ډول سولې څخه غوره وي باید اراده یې وکړي اما لدې ټولو سره به څنګه هغې ته ورسیږي؟ او څوک شته چه د تیرو په وړاندې یې اراده زده کړې وي؟
پدې وخت کې ناڅاپه زردشت اوسوېلی وکړ په وحشي او وحشت وهلي نظر یې خپلو پیروانو او اصحابو ته په ځیرکتل او لکه د هغوی په افکارکې یې د غشي پشان نفوذ وکړ اما لږ وروسته یې وخندل. پداسې حال کې چه چورت یې راحت شوی وو ووېل:

"د خلکو په منځ کې ژوند ستونزمن دی ځکه چوپتیا ډېره سخته ده په ځانګړي ډول ډېرې خبرې کوونکي ته."

زردشت داسې ووېل:
اوتې شا چه د زردتش خبرو ته غوږ وو او خپل مخ یې پوښلی وو څنګه یې چه د زردشت خندا واورېده په تعجب سره سر پورته کړی او ورو یې ووېل:
"دا څه ډول دي، زردشت یې له پیروانو سره په یو ډول خبرې کوي او له مونږ سره په بله طریقه؟"
زردشت ځواب ورکړ: "ولې د تعجب وړ دي؟ ولې له اوتې شا سره پخپله ژبه خبرې ونکړم؟"
اوتې شا ځواب ورکړ: "همداسې ده او د زدکړیالانو په منځ کې هم د ښوونځي په ژبه خبرې کولی شو."
اما څرنګه زردشت له خپلو زده کوونکو سره په یو ډول خبرې کوي او له ځان سره په بل ډول؟"

## د نارینه اختیار په هکله:

هغه څه چه خطرناک دي ارتفاع نده بلکه له لوړو ځایونو څخه رالوېدل دي. په کوم ځای کې چه ړانده لوړ ځایونه لټوي هلته زړه د دوه ارادو له امله ګېچ کیږي.
اې زما ملګرو! آیا تاسو زما د زړه دوه ډوله ارادو په هکله صحیح قضاوت کړئ؟ کوم دی؟
زما ځای او ما ته متوجه خطر دا دی چه زما نظر پورته ځي خو پداسې حال کې چه لاس مې غواړي عمقونه لمس او تکیه پرې وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما اراده بشر جام کړي او ما خپل ځان د ځنځیرونو په وسیله په بشر پورې تړلی دی ځکه د (ستر سړي) په طرف کشکول کیږم او په هغو طرف چه زما بله اراده یې هیله لري. او لدې امله د خلکو منځ کې داسې اوسم لکه چه نه یې پېژنم. په تړلو سترګو ژوندکوم ځکه هسې نه زما له لاسه پر خپل قوت باندې باور وبایلي.
اې خلکو زه تاسو نه پېژنم؟ دا تیاره او بې غمي ما اشغالوي.
زه د دروازې په خوله کې ناست یم او پداسې حال کې چه د هر سم سړي چوپړ ته مې ملا تړلې پوښتم:
"څوک غواړي ما ته فریب راکړي؟"
زما لومړی نارینه هوډ دا دی چه له رنځ او فریب سره ځان آشنا کړم تر څو نور له فریب او رنځ څخه د ساتلو په هڅه کې ونه اوسم.

افسوس! که چېرې ما غوښتی ځان د خلکو څخه په امن کې وساتم بشر څرنګه زما د بالون چنګک کېدلی شوای؟ هغه وخت یې زما بالون فورا په هوا کولو.
زما برخلیک همداسې ټاکل شوی باید له هوښیارۍ او احتیاط څخه لېرېوالی اختیارکړم. څوک چه نه غواړي د خلکو په منځ کې له تندې مړه شي باید یاد ولري چه له هر جام او پیالې څښناک وکړي. څوک چه غواړي د خلکو په منځ کې پاک پاتې شي باید زده کړي چه څه ډول ځان په چټلو اوبوکې تطهیرکړي.
ډېری وخت زه د خپلې تسلې لپاره داسې وایم: "اې زما زړه، غیرتي اوسه! ته له مصیبته خلاص شوی یې همدې ته خوښ اوسه او نېکبختي یې وګڼه!"
اما زما دوهم نارینه هوډ دا دی: "له متکبر څخه ځان ستایونکي په امن ساتلوکې غوره بولم." ځکه ټپي شوې ځان ستاینه د ډېرو مصیبتونو سبب نه کیږي؟ مګر تکبر چه کله زخمي شي له تکبر څخه غوره څیز د هغه ځای نیسي.
د دې لپاره چه ژوند یو ښکلی نمایش واوسي باید په پوره مهارت سره ولوبول شي اما د دې کار ترسراوي لپاره ماهرو لوبغاړو ته اړتیا ده.
ما لیدلي ځان ستایونکي تل ښه لوبغاړي وي. لوبه کوي خو هیله یې دا وي چه سیل کوونکي یې له لوبې خوند واخلي او ټول په همدې بوخت وي. هغوی ځان شته اوکشف کوي. زما خوښیږي چه له دوی سره په بنداړ ژوند ته وګورم ځکه د تشویش تر ټولو غوره درمل همدا دی.
لدې امله ځان ستایونکي کسان چه زما د تشویش لرې کولو دوا ده او همدارنګه د یو جالب داستان پشان ما د بشر په طرف جذبوي له ځانه سره ساتم.

پدې سربېره څوک شته چه د ځان ستایونکي واقعي عمق اندازه کړلی شي؟ زه د نوموړي د تواضع او خپله ده پر وړاندې دېر مهربانه او بښونکی یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان ستایونکی غواړي ستاسو په وسیله ځانته اعتقاد زده کړي. نوموړی ستاسو له کتلو تغذیه کوي او له لاسونو مو تعریف او تمجید اخلي. نوموړی ستاسو دروغ هغه وخت مني چه د ده په اړه مدحه او ستاینه پکې کوئ ځکه له ځانه د زړه له تلې پوښتي: "زه څه شی یم؟"
که چېرې واقعي تقوا له نفسه بې خبره وي ځان ستایونکی کس باید متقي وبولي ځکه د ځان له تواضع بې خبره دی.

زما دریم نارینه هوډ دا دی چه اجازه نه درکوم ستاسو وېره ما د شریر او ګناهګارکس له سیل کولو لېرې کړي. زه لداسې عجایبو خوند اخلم چه ګرم او سوځنده لمر منځته راوړي یعني د پلنګانو له کتلو، خرما له ونو او ډول ډول مارانو په لیدلو خوشاله کیږم.
د بشر په منځ کې هم ګرم لمر د ښکلي اولاد لرونکی دی او د شریرانو او ګناهګارانو په وجود کې هم ډېر د لمر عجایب شتون لري.
واقعا څومره مې چې پوهان ډېر پوه ندي موندلي په همدې اندازه مې بشري شرارت بې لدې حقیقته ډېر ندی موندلی. ډېری وخت پداسې حال کې چه سر خوځوم له ځانه تپوس کوم: "اې ډول ډول مارانو ولې خپل غږ ته ادامه ورکوئ؟"
بې له شکه د شرارت لپاره هم راتلونکې شته! او د جنوبي سیمو تر ټولو سوځنده سیمې تر اوسه د بشر په واسطه ندي کشف شوې. اوس شرارت هغه موجود ته وایي چه دوولس شپې عرض او درې میاشتې طول لري! اما یوه ورځ به لوی ښاماران په ټوله نړۍ پښه کیږدي.
د دې لپاره (ستر سړی) بې له خپل ښاماره یعني بې له ستر او د ده وړ ښامار ه باید د ډېر وخت لپاره په مرطوبو او تازه ځنګلونو وځلیږي. له وحشي پیشوګانو څخه باید غوره پلنګان منځته راشي او له اوسنیو زهرجنو څونګښو څخه باید وړ تمساوې نړۍ ته راشي ځکه ښه ښکاري ته باید ښه ښکار په نصیب شي.
ریښتیا اې صالحانو او پرهېزګارانو! په تاسوکې ډېر مسخره څیزونه شته. تر ټولو خندا لرونکی یې هغه ډار دی چه تر دې دمه مو شیطان نومولی دی.
عظمت ستاسو په ذهن کې دومره د نه درک کولو وړ دی چه د (ستر سړي) غوره والی مو په نظرکې وحشت ښکاري. اې پوهانو او عالمانو ، تاسو به د پوهې له هغه سوځوونکي لمر څخه تېښته وکړئ چه (ستر سړي) پکې ځان خولې او وینځلی دی.
اې لوړ رتبه او د لوړو مقاماتو خلکو زما شک ستاسو په وړاندې او ستاسو د پټو خنداګانو په هکله دا دی چه فکرکوم (ستر سړي) ته به شیطان ووایاست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

افسوس! نور لدې لوړ رتبه او نېکو خلکو څخه سخت تنګ شوی یم! غواړم د لوړو ځایونو یعني د دوی له مقامونو څخه الوتنه وکړم او د (ستر سړي) خوا ته لاړم شم. کله مې چې دا لوړ رتبه مقامات لوڅ ولیدل وډار شوم او ځانته مې وزرونه جوړ کړل تر څو د لېرې راتلونکې په لوري الوتنه وکړم.

هو د لېرې راتلونکې په لور او د هغو جنوبي سیمو په طرف چه تر دې دمه هېڅ اداکار په خیال کې نه وي تصور کړي او بلې هغو ځایو ته چه حتی خدایان پکې په جامو اغوستلو شرمیږي!

اما اې زما ګاونډیانو او معاصرو خلکو غوره ګڼم ځان په نازکو جامو کې ښکاره کړئ او ځانونه ښه سینګار کړئ او په ځان مغروره واوسئ او د پرهېزګارانو په عنوان د خپلو اطرافیانو په خوا کې ځای ونیسئ.

" زه هم ستاسو په منځ کې په نازکو جامو کې کښېنم تر څو نه تاسو ما وپېژنئ او نه زه خپل ځان ځکه دا زما اخرین نارینه هوډ دی.

## تر ټولو آرام ساعتونه:

اې ملګرو په ما څه شویدي؟ تاسو ته غمګین او خفه ښکارم؟ زړه مې مات شوی، بې هیلې حاضر او درحلت ته اماده دی، افسوس هغه هم ستاسو له منځه رحلت ته! هو زردشت به یو ځل بیا باید د یوائېتوب کنج وپلټي اما دا ځل له درانه غم سره د خپلې سومڅې په طرف ځي.

په ما څه شوی چه دا د رحلت فرمان مې يې صادر کړی دی؟ افسوس زما غوصه ناکې آغلې داسې غوښتي دي! هغه ما لولي. آیا تر دې دمه مې د هغې نوم ستاسو په شتون کې اخیستی دی؟

پرون شپه يې په آرامو ساعتونوکې له ما سره خبرې وکړې او زما د آغلې نوم هم هغه ده. د دې لپاره چه له تاسو څخه په رحلت کوونکي پسې مو زړه تنګ نشي هر څه چه پېښ شوي باید نقل يې درته وکړم:

"آیا د هغو چا وحشت مو درک کړی چه په خوب کې سقوط کوي؟ له سر تر پښو وحشت کیږي ځکه ځمکه ترې تښتي او خوب پیل کیږي.

زه تاسو ته دا د اداکارۍ پشان وایم، پرون شپه په ډېرو آرامو ساعتونوکې ځمکه له ما وتښتېده او خوب پیل شو. عقربې خپل حرکت ته ادامه ورکړه او زما د ژوند ساعت تنفس کولو. هېڅ وخت مې داسې آرامي پخپل چاپېر نه وه لیدلې ځکه مې زړه لاړ او لاندې کلمې بې غږه راته راورسېدې:

"زردشته! آیا ته هغه پېژنې؟ او ما د دې فس فس له وېرې چیغه وکړه وینه مې له مخه وبهېده او ژبه مې بنده شوه. هغه وخت یو ځل بیا بې غږه کلمې راته راورسېدې: " اې زردشته! ته هغه پېژنې خو په اړه يې خبرې نه کوې؟"

بلآخره مې ځواب ورکړ: "هو زه هغه پېژنم اما په اړه به يې خبرې ونکړم." او یو ځل بیا بې غږه کلمې واوربدل شوې: "زردشته! آیا دا حقیقت دی چه نه غواړې د هغه په اړه خبرې وکړې؟ ځان د خپل مخالفت

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پوستون کې مه پټوه!" زه ولړزېدم او په ژړا مې ووېل: "ما ته ښښنه وکړه! ځکه زما له قدرته بهرکار دی."
وروسته مې بيا غوږ ته بې غږه کلمې راورسېدې: "اې زردشته! ځانته په څه ډول اهميت قائل يې؟ خپلې خبرې وکړه او وروسته ټوټه ټوټه شه!"
ما ځواب ورکړ: "افسوس آيا دا زما کلام دی؟ زه څه ارزښت لرم؟ زه له ځان څخه د غوره په انتظار يم.
حتی زه د دې وړتيا هم نه لرم چه ټوټه ټوټه او ووړ شم."
بيا مې نوې بې غږه کلمې تر غوږ شوې: "ځانته په څه ډول اهميت قائل يې؟ ته تر اوسه په بشپړ ډول متواضع نه يې. تواضع او عاجزي ډېرې سختې معماوې لري."
او ما ځواب ورکړ: "تر دې دمه مې فوق العاده تواضع کړې او زغملې ده. هر څومره مې چه څوکې لوړې وې زه يې په ښخ کې اوسېدنه اختياروم. هېچا راته ندي ويلي زما چه د څوکو ارتفاع څومره ده. اما زه خپلې درې ډېرې ښې پېژنم."

بيا مې نوې بې غږه کلمې واورېدې: "اې زردشته څوک چه غواړي غرونو ته حرکت ورکړي درو او جلګو ته هم بايد حرکت ورکړي."
ما ځواب ورکړ: "تر دې شېبې زما خبروکوم غر ندی ښورولی او څه مې چې ويلي تر اوسه خلکو ته ندي رسېدلي. واقعا زه خلکو ته ورغلم اما تر اوسه هغوی ته نه يم رسېدلی او اړيکه مې نده ورسره نيولې."
وروسته مې بيا نوې بې غږه ويي واورېدل: "ته څه پوهېږې؟ شبنم هغه وخت د وښو په مخ لوېږي چه شپه تر ټولو چوپو دقيقوکې وي."
او ما ځواب ورکړ: "کله مې چه خپله لار ومونده او قدم مې پرې کېښود زه يې ريشخندکړم او په ريښتيا پس له هغې مې پښې سستې شوې."
او هغوی راته ووېل: "ته لاره ورکه کړېده او اوس دې د لارې موندل هم هېرکړيدي."
بيا بې غږه کلمې واورېدل شوې: "د هغوی ريشخند څه اهميت لري؟ ته هغه څوک يې چه اطاعت کول د هېرکړي. اوس کېدای شي فرمان ورکړې."
آيا نه پوهېږې تر ټولو ډېره اړتيا چا ته ده؟ هغه چا ته چه لوی فرمانونه ورکوي.
د لويوکارونو ترسراوی له کړاوه ډک دی اما لدې سخت يې بيا د فرمانونو ورکول دي. په تا کې د نه ښنلو يواځېنی شی دا دي چه، اړين قدرت لرې خو حکومت نه کوې."
او ما ځواب ورکړ: "د زمري پشان غږ چه د فرمان ورکونې لپاره اړين دی زه يې نه لرم. "هغه وخت مې يو ځل بيا د بې غږه خبرو فس فس او ورو ورو خبرې تر غوږ شوې:
"تر ټولو آرامې کلمې تل له ځانه سره توپان راوړي. هغه اندونه چه دکوترو په پښو مخکې ځي نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

تسخیروي. اې زردشته! د سیوري پشان کوم څیز چه له وروسته راځي لار به پیدا کړي او ته به فرمانونه ورکړې او د فرمان ورکوونکو په مخ کې به وې."
ما ځواب ورکړ: "زه شرمېدلی یم."
بیا بې غږه کلمې واورېدل شوې: "ته باید د ماشوم پشان بې خجالته شې! تراوسه د ځوانۍ غرور په تا کې شتون لري. ته ډېر مخکې ځوان شوی یې اما که څوک غواړي ماشوم شي لومړی باید پخپله ځوانۍ غالب شي." ما د اوږد وخت لپاره فکر وکړ او ولړزېدم اما بلآخره مې د اول ځل پشان ووېل: "زه نه غواړم."
هغه وخت مې پخپل چاپېریال کې خندا واورېده. عجیبه ده! دې خندا مې څه ډول معده اوکولمې وشیرې او څرنګه مې یې زړه ټوټې کړ.
او د اخر ځل لپاره راته ووېل شول: "زردشته ستا مېوې رسېدلې خو ته تراوسه د خپلو مېوو لپاره پخېدو ته نه یې رسېدلی. له دې امله باید بیا د یواځېتوب او انزوا په طرف لاړ شې ځکه تر اوسه پخېدو ته نه یې رسېدلی."
دا ځل مې خندا تر غوږ شوه خو لېرې شوه او بیا سترې چوپتیا زما چاپېریال ونیو. زه په ځمکه څملاستم او خولې مې له بدنه لاړې. هغه څه چه پېښ شوي وو تاسو واورېدل او اوس د یواځېتوب کنج ته زما په بېرته راتګ پوهېږئ. اې زما ملګرو له تاسو مې هېڅ ندي پټ کړي. او دا چه تر ټولو چوپ کس یم او غواړم تل واوسم تاسو له ما څخه اورېدلي دي.
افسوس ملګرو تر اوسه ستاسو لپاره ډېر د ویلو او درکولو څیزونه لرم! څه ډول امکان لري چه تاسو ته یې درنکړم؟ آیا زه بخیل او تنګ نظره یم؟
کله چه زردشت دا خبرې وکړې ناڅاپه سخت اضطراب پرې غالب شو ځکه د خدای پامانۍ په وخت کې له ملګرو سره ډېر نیږدې شوی وو او له همدې امله یې په لوړ غږ ژړل او هېڅا تسلې نشوی ورکولی تر څو آرام شي. د شپې یواځې په لار روان شو او خپل ملګري یې پرېښودل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دریمه برخه:**

هر وخت چه تاسو غواړئ لوړو مرتبو ته ورسیږئ پورته ګورئ او زه ښکته نظر اچوم ځکه همدا اوس مې غوره توب او لوړتیا موندلې ده. ستاسو په منځ کې څوک شته چه هم وخاندي او هم لوړتیا ومومي؟
څوک چه هسک غرونه تر پښو لاندې تېروي پر ټولو مصیبتونو له شوخۍ خاندي.
(د زردشت لومړۍ برخه: د لوستلو او لیکلو په اړه)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لالهانده خلک:

د نيمې شپې په شاوخوا کې زردشت د دې لپاره چه سهار وختي د جزيرې لېرې ساحل ته ځان ورسوي د مرکزي غرونو له سلسلو څخه تېر شو ځکه د جزيرې په بل طرف کې ډېر ښه بندر وو اوکښتۍ پکې ولاړې وې. هر چا چه له ښکلو جزيرو څخه د سمندر په طرف د مسافرت هوډ درلود زردشت له ځانه سره يوړل. پدې خاطر زردشت په غونډيو او غرونوکې قدم وهلو چه ناڅاپه د ځوانۍ د وختونو سرګردانۍ ورته رايادې شوې. په غرونو او تپو پورته تلا او له ځانه سره يې وويل:

"زه هغه نړۍ او غرګرځېدونکی يم چه جيلګې مې نه خوښيږي او د بېکاره کښېناستو توان هم نه لرم. هر څه چه زما د راتلونکي تقدير او تجربې په هکله وي نړۍ ګرځېدنه او غرګرځېدنه به هم پکې برخه ولري. ځکه بلآخره هر څوک بې له خپل ځانه بل څوک نشي درک کولی.

هغه وخت چه زه د ښو پېښنو شاهد وم تېر شو او اوس څه کولی شي چه په ما تېر شي او زما نه وي.

اوس زما نفس او هغه څه چه ډېر وخت مخکې له خپل وطن او مسکن څخه لېرې وو او د ټولو حوادثو په وخت کې يې شتون درلود ما او خپل مسکن ته بېرته راخي. په يو بل څه هم پوهيږم، هغه دا چه اوس زه د خپلې آخري لوړې څوکې کوم په مقابل کې قرار لرم کوم چه ډېر وخت کيږي راته باقي پاتې شوېده. افسوس! اوس بايد تر ټولو سخت صعود تجربه کړم، افسوس زه بايد تر ټولو ډېر له کړاوه ډک مسافرت وکړم!

اما هر څوک چه زما پشان دی پدې وخت کې داسې ورته وايي: "اوس ته د لويئ او عظمت په لاره کې قدم اخلې. فرار نکړې. اوس لوړه څوکه او عمق يو شی شويدي. ته پخپله لويه لار ځې، اوس ټول هغه څيزونه چه تر دې دمه ستا لپاره ستر خطرونه وو ستا لپاره په لوی پناه ځای تبديليږي.

ته پخپله لاره ځې او ستا تر ټولو غټ غيرت بايد دا واوسي چه پوه شې د بېرته راګرځېدو لار نوره شتون نلري. ته پخپله لويه لاره ځې. دلته به هېڅوک درپسې پټ په غله رانشي. ستا ګامونه د څټ تګ لاره له منځه وړې او په مخکې يې د غير ممکن کلمه ليکلې چسپ کړېده.

او وروسته لدې کچېرې پوه شوې چه زينې ته د اړتيا نشته نو زده کړې د دې چه څرنګه پخپل سر لوړو ځايونو ته لاړ شې. آيا بې لدې څخه د صعود لپاره بل ډول هوډ لرې؟ بايد پخپل سر او زړه پښې کيږدې او لوړو ځايونو ته لاړ شې! اوس بايد ستا تر ټولو نرمې برخې په ډېرو سختو برخو تبديلې شي.

څوک چه په ځان رحم کوي بلآخره به د ترحم له افراط څخه ستړی شي. په هغوی د رحمتونه وي چه سختۍګالي! زما هغه ځمکې نه خوښيږي چه ډېر غوړ او خواږه لري. د ښه کتلو لپاره انسان بايد له ځانه نظر واخلي، دا ډول خشونت د هر غرګرځېدونکي لپاره اړين دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اما ځوک چه په علم پسې وي او سترګې يې له حده ډېره لېوالتيا لري د ځيزونو له ظاهري دلايلو څخه پرته څه ډول نور شيان ليدلی شي؟
اې زردشته ته غواړې چه د ټولو ځيزونو برخې او چاپېرچلونه ووينې لدې امله بايد له ځانه ډېر وړاندې لاړې شې او دومره صعود بايد وکړې چه خپل ستوري له ځانه لاندې ووينې!
هو زه بايد ځان او خپل ستوري تر پښو لاندې ووينم. دا هغه څه دي چه زه يې خپله ځوکه نوموم، دا هغه څه دي چه د آخرۍ ځوکې په حيث زما لپاره ذخيره شوي دي."
زردشت د صعود په غونډۍ باندې د صعود په حال کې له ځانه سره داسې ووېل او خپل زړه ته يې په خشونت ډوله ويلو تسلې ورکړه ځکه له هر وخت څخه زيات خفه او ستړی وو او څنګه چه د غره سر ته ورسېد په مخ کې يې پراخه او لوی سمندر وموند. ودرېد او د اوږد وخت لپاره چوپ پاتې شو اما هلته سړه، روښانه او له ستورو څخه ډکه شپه وه.

بلآخره يې ووېل زه مې د خپل برخليک په اړه ښه سم پوهېږم. ځئ چه ځو! زه حاضر يم چه اخري يواځېتوب مې له همدې ځايه پيل کړم. اخ لدې تور او غمجن سمندره! اې دروند او ډاروونکيه مصيبته! تقدير او سمندره! زه اوس بايد ستاسو په خوا نزول وکړم.
زه د خپلو ډېرو لوړو غرونو او ډېرو اوږدو مسافرتونو په مقابل کې قرار لرم. لدې امله له ټولو مخکينو نزولونو څخه بايد عميق نزول وکړم. بايد په عذاب او رنځ کې ژور لاړ شم او حتی بايد له حده زياتو تيارو ته لاړ شم. دا هغه څه دي چه زما برخليک يې غواړي. ځئ چه ځو! زه حاضر يم.
يو ځل مې له ځانه وپوښتل چه تر ټولو لوړ غرونه له کوم ځايه راځي؟ هغه وخت وپوهېدم چه د سمندرونو له عمقه راځي. د دې ځوکو تيږې او دېوالونه پدې شاهدي ورکوي. له ډېرو ژورو تلو څخه ډېرې لوړې ځوکې راپورته کيږي."

کله چه زردشت د سړو ځوکو په سر قرار درلود داسې ووېل، اما کله چه په بې نهايته يواځېتوب او تنهايۍ کې سمندر ته نيږدې شو د غونډيو په بېخ کې يې زښته ډېره ستړيا حس کړه او له مخکې ډېره لېوالتيا يې په ځان کې ومونده او ويې وېل:
"اوس ټول ځيزونه ويده شويدي، حتی سمندر هم خوبيولی دی. د هغه سترګې ما ته په عجيب او مست خوب ګوري اما نفس يې ګرم دی او زه يې حس کوم. همدا اوس خوب وينې او په سختوکلکو بالښتونو باندې رغړي.
غوږ شئ! غوږ ونيسئ! هغه څه ډول له بدو خاطرو او ناخوښو انتظارونو څخه ژاړي؟ اخ لويه سمندره زه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا په غم کې شریک یم او ځانته ستا لپاره سزا ورکوم! افسوس چه زما لاسونه په بشپړه اندازه قوي ندي کنه تا ته مې له دې وحشي خوبونو څخه نجات درکاوه!"

پداسې حال کې چه زردشت دارنګه وېل په اغېزمن ډول یې پر ځان خندل او ځانته یې ووېل: "څنګه؟ اې زردشته! آیا غواړې سمندر ته هم پخپل غږ باندې تسلې ورکړې او آرام یې کړې؟ اې خوښ زړیه زردشته! اې چه بې نهایته ړوند یې او په ټولو باورکوې! ته تل همداسې وې، ته تل همداسې ویروونکو څیزونو ته په دوستۍ او محبت بې نهایته نیږدې شوی یې.
ته غواړې هر شي ته ناز او مهرباني ورکړې. هغه وخت به ښه وای چه تا لدې شیانو سره مینه او دوستي کړې وای، ناز د ورکړې وای چه دوی ډګرمو نفسونو درلودونکی وای او په منګولو یې څه اندازه نرم وېښتان لرلای.
هغه چه یواځې دی خطر یې مینه ده. په څېړنې سره زما لېونتوب او حقارت په مینه کې خندا لرونکی دی."
زردشت داسې ووېل او د دوهم ځل لپاره یې له زړه وخندل اما ناڅاپه د هېرو شوو ملګرو په یادکې ډوب شو او داسې لکه د هغوی سره یې چه بدکړي وي ځانته په غوسه شو او د خندا په حالت کې یې وژړل...
د غوصې او هیله مندۍ له امله یې ډېر سخت وژړل.

## د معما او خوب په اړه:

دکښتي وانانو په منځ کې آوازه خپره شوې وه چه زردشت کښتیو ته راغلی، په ښکلي جزیره کې لوی او د ټولو د خوښې سړی وو ځکه ټول په کنجکاوۍ سره ورته منتظر وو. اما زردشت تر دوه ورځو پورې د غم، سړوالي اوکونټوب له امله همداسې پاتې شو. له همدې امله ټول سوالونه او نوموړي ته حیران کتل بې ځوابه پاتې شول. د دوهمې ورځې تر ماښامه هم همداسې چوپ پاتې شو اما غوږونه یې خلاص شول ځکه د لارې په اوږدوکې په کښتیوکې ډېر عجیب او خطرناک غږونه اورېدل کېدل. زردشت د ټولو مسافرینو ملګری وو او نه یې غوښتل چه بې خطره سفر وکړي. عجیبه ده کله یې چه غوږ نیولی وو ناڅاپه یې ژبه هم په خبرو راغله د زړه یخ یې مات شو او پدې ډول یې خبرې پیل کړې:

"اې کاشفانو او تجربه کوونکو او اې هغوکسانو چه په عجیب بادوانونو سره په ډاروونکي سمندر روان یاست. اې چه له معماوو خوند اخلئ او د مېږې لېوه پشان هوا مو خوښېږي او خوند ترې اخلئ. له هرکوره زما د غږ پشان غږ پورته کېږي او ستاسو روح مجذوبوي ځکه ستاسو هغه ډارن لاس نه خوښېږي چه په تیارو کې خپله لار لټوي او هر چېرې چه په الهام څه درک کړئ له منطقه مرسته نه اخلئ. یواځې تاسو ته هغه معما وایم چه لیدلې مې ده او د ډېرو منزویانو خوب دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تازه مې په غمګينۍ سره په تيارو او رڼاوو کې لکه د مرګ پشان په آلوتي مرګ قدم وهلو، هو د غمجنتوب په کمال او خلاصو شونډو مې قدم پورته کړ. له يو لمره ډېرو زما په خاطر غروب وکړ.

زما لاره په عجيبو خبرو له غرنۍ، خالي مسکن او د کرنې نه وړ ځمکه کې قدم وهلو او پورته تلله. پداسې حال کې چه په مسخره ډوله آوز مې تيرې تر پښو لاندې کولې او خاينې ښويې تيرې مې له پښو لاندې ټوټې کولې پخپله لاره مې صعود ته ادامه ورکړه. د سنګين روح، هماغه لوی دښمن او ابليس په خلاف چه تل يې زه ښکته د ژورو عماقو په طرف شړلم پورته تلم.

که څه هم هغه نيم لنډ او نيمه کاڼه روح او هغه شل او شل کوونکي روح به سنګيني کوله او د سرپو څاڅکي يې زما په غوړ کې راڅڅول او د سرپو پشان درانه اندونه يې زما په مغزو کې اچول، اما صعود مې وکړ.

په ريشخندۍ يې زما په غوړ کې ووېل: "اې زردشته! اې د عقل تيرې! تا خپل عقل ډېر لوړ بېولی دی اما پوه شه هره تيږه چه پورته واچول شي له ځنډ پرته بېرته ښکته راځي! زردشته! اې د عقل تيرې، اې قلابي تيرې او اې د ستورو ورانوونکيه تا ځان ډېر لوړ کړی دی اما پوه شه هره تيږه چه پورته واچول شي له ځنډ پرته بېرته ښکته راځي. اې د خپل نفس محکومه او د خپلې تيرې غورځوونکيه، اې زردشته! بې له شکه تا خپله تيږه ډېره لرې وارتيګلې ده اما ياد ساته دا تيږه به پخپله تا باندې رالوېږي!"

د لنډ وخت لپاره چوپ شو او وروسته يې چوپتيا د اوږد وخت لپاره ادامه پيدا کړه. چوپتيا يې په ما سنګيني کوله ځکه دا ډول بنداري واقعا له تنهايۍ څخه ډېر بد وي. زه پورته لاړم او لاړم او خوب مې وليد فکر مې وکړ اما ټولو څيزونو په ما سنګيني کوله. د هغه ناروغ پشان وم چه د بې رحمه وېرې او ضطراب له امله ستړی ويده شوی وي اما د خوب له امله له اضطرابه د ځايه پورته شي.

اما زما په باطن کې يو شی دي چه زه شجاعت ورته وايم. تر اوسه هغې زما هر شان ناهيلي له منځه وړې ده. دا شجاعت يعني هغه شجاعت دی چه حمله کوي، د ډېرو غورو نابودوونکو له ډلې څخه دی ځکه په هر ډول حمله کې د شوره ډک جنګ نغښتی دی.

اما انسان تر ټولو ډېر شجاع حيوان دی او لدې امله په نورو ټولو لاسبری شوی دی. د شوره ډک جنګي غږ په وسيله يې پر ټولو دردونو غلبه کړې ده. لدې ټولو انساني دردونو سره د ټولو دردنو عمق دی. هر ډول سرګېچې چه انسان ته د ليدو له امله رامنځته کيږي شجاعت يې نابودوي او چېرته دی هغه سړی چه د تلې په څنډو ولاړ وي! او آيا بې له تلو څخه د بل شي ليدونکي ياست؟

شجاعت د ورانوونکو او نابودوونکو څخه ډېر ستر دی. شجاعت حتی رحم هم له منځه وړي او د ډېرو ژورو تلو رحم دی. هر څومره چه انسان ژوند ته ژور وګوري په عميق ډول يې درد او رنځ ته کتلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اما شجاعت هغه شجاعت دی چه حمله کوي او ډېره غوره له منځه وړونکی دی. حتی مړینه هم له منځه وړي ځکه وايي: "آیا دا د ژوند معنی وه؟ ډېر ښه! نو بېرته يې له سره نوی پیلوو!"
پدې ډول خبرو کې د شوره ډک جنګ غړ نغښتی دی، پرېږدې هغوی چه اورېدونکي غوږونه لري دا واوري!

۲

ما ووېل: "اې لنډېه او ټېټه! یا زه او یا ته اما پدې پوه شه چه زه له تا قوي یم ته زما د پراخ فکر په اړه نه پوهیږې اوکه چېرې پوهېدلی زغملی د هم نشوای."
کومه پېښه وشوه او زما د بار د سپکېدو سبب شوه ځکه لنډ قده کنجکاو شوی وو زما له اوږو څخه ښکته شو او د یوې تیږې په مخ د پښو په سرکښېناست. بیا مو له دروازې سره توقف وکړ او ما ووېل: "اې لنډېه! دې دروازې ته وګوره چه څرنګه دوه مخه لري؟ دوه لارې هغې ته رسیږي او هېچا تر دې دمه د دې دوه لارو انتها نده لیدلې.
دغه لار چه تر شا مو پرېښوده د ابدیت په لور ځي او هغه لار چه مخکې يې لرو بل ابدیت په مخکې لري.
دا دوه لارې یو بل ته مخامخ قرار لري او یو له بل سره مخالفت کوي او پدې دروازه کې یو بل ته رسیږي. د دې دروازې نوم د هغې په مخ لیکل شوی او (شېبه) نوم لري.
اما ټول مجبوره دي چه په همدې لاره لاړ شي او له مبدا څخه لرې شي. اې لنډه! ایا فکرکوې چه دا دوه لارې به تر ابده یو له بل سره مخالفت وکړي؟"

لنډ قدي په بشپړ حقارت سره ورو ووېل: "سم او مستقیم پکې شتون نه لري ټولې سمې کږې دي او وخت پخپله د حلقې په ډول دی."
زه غوصه شوی وم او مې وېل: "اې د ثقل سنګین روحه زما ځواب ډېر د ډک زړه له سره مه راکوه! کنه اې شله همدلته چه د پښو په سر ناست يې پرېږدم دې او پدې پوه شه چه ډېر لوړ مې راوستی يې!"
او ادامه يې ورکړه: "دې شېبې ته وګوره! دا دروازه چه شېبه نوم لري ډېره اوږده او لایتنهاي لاره يې تر شا پرېښې او زموږ تر شا هم ابدیت ویده دی.
آیا هر څوک چه د منډې وهلو قدرت لري دا لار يې باید نه وي طی کړې؟ هر څه چه پېښ شوي، تر سره شوي او تېرشي باید نه واي پېښ شوي؟ اوکچېرې ټول څیزونه وای اې لنډېه تا د دې شېبې په هکله څه اندل؟ ایا دا دروازه هم باید له پخوا موجوده وای؟ او آیا ټول شیان یو بل کې ندي سره اوبدل شوي، هر څه چه په راتلونکي کې پښیږي باید همدا شبېه يې په ځان پسې راکش کړي؟ او پدې اساس خپل ځان هم وټاکي؟ ځکه هر څه چه کولی شي پدې لاره منډې وکړي باید بیا يې هم طی کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او آیا دا غنه چه په سپوږمۍ کې ځښېږي او خپله سپوږمۍ، زه او ته چه پدې دروازه کې د ابدي ځیزونو په اړه خبرې کوو آیا موږ ټول باید له مخکې موجود ونه اوسو؟ او آیا موږ باید دوهم ځل رانشو تر څو د دې اوږدې لارې بل طول چه په مخکې لرو طی کړو؟ آیا موږ باید د تلولۍ په لور لاړ نشو؟"

پدې ډول ما خبرې وکړې او په تدریج مې غږ له مخکې نرم شو ځکه ما له خپلو اندونو او مخکنیو افکارو وېره درلوده، هغه وخت مې ناڅاپه ډېر نیږدې د سپي د ږګېروي غږ واورېد.
آیا د سپي داسې ږګېروی مې اورېدلی وو؟ زما افکارو شټ ته وکتل، هو! کله چه ماشوم وم! د ماشوموتوب په ډېرو لېرې وختونوکې مې داسې ږګېروی اورېدلی وو. په نیمه شپه کې مې هغه وخت یو سپی لیدلی وو چه کله سپي هم د بلاګانو په شتون متعقد وو. ښه مې په یاد دي یو سپی دومره وېرېدلی وو چه د بدن وېښتان یې ټول سیخ درېدلي وو او له وېرې رپېږدېدا. هغې حالت زه سخت په رحم راوستم او په هماغه شېبه کې سپوږمۍ زموږ له کوره په وژونکې چوپتیا سره تېرېده. په هماغه شېبه کې زموږ د بام په سر یوه نوراني او بې حرکته ګرده حلقه د متجاوز غله پشان ولاړه وه.
له همدې امله سپی وېرېدلی وو. ځکه سپي د غلو او پېریانو په شتون متعقد دي او څنګه مې چه هغه عجیب ږګېروی بیا واورېد زړه مې له رحمه ډک شو.
لنډ قدی، دروازه، غنه او زموږ بنډار ټول همدا اوس څه شول؟ آیا دا ټول ما په خوب ولیدل که په ویښه؟
ناڅاپه مې ځان په وحشي تیوکې د غمجنې سپوږمۍ لاندې غمګین او یواځې وموند اما هلته یو سړی پروت وو او عجیبه ده هغه سپی هم هلته وو په سیخ شوو وېښتانو او چیغو سره یې یو بل طرف لټوو. وروسته سپی ما ته متوجه شو او د دوهم ځل لپاره یې ږګېروي پیل کړل او بیا یې وژړل.
آیا تر اوسه مې سپی د مرستې لپاره په ژړا لیدلی وو؟ بې له شکه هغه څه چه اوس مې ولیدل تر دې دمه هېڅ وخت نه وو لیدلي. داسې ځوان شپون مې ولید چه په ځان راټول شوی وو رپېږدېدا او د مړه کېدو په حالت کې وو. ټولې بڼې یې بدلون کړی وو او یو اوږد تور مار یې له خولې راځوړند وو. هېڅکله مې په یو مخ کې دومره وحشت اوکراهت نه وو لیدلی. دا سړی به ویده ووکېدای شي د خوب په وخت کې یې مار تر غاړې چاپېرکلچه وهلې او چیچلی وي.
د هغه سړي له غاړې د مار لرې کولو لپاره مې لاس بې ګټې هڅې کولې او مار یې راکشکولو اما له غاړې څخه یې د مار ایستل امکان نه درلود. ناڅاپه مې له باطنه غږ واورېد او وېل یې: "خوله ولګوه خوله ولګوه!" هغه وخت زما وحشت، زما کرکې، زما نفرت، زما رحم او ټولو ښو بدو ځیزونو زما په ضمیرکې چیغه کړه: "د هغه سر د غاښونو په وسیله له بدنه بېل کړه! خوله ولګوه!"

(c) ketabton.com: The Digital Library

اې خلکو چه زما چاپېر یاست، اې کاشفانو او تجربه کوونکو او اې هغوکسانو چه په عجیبو بادوانونو سره په نه‌کشف شوو سمندرونوکې روان یاست او تاسو اې چه له معماوو څخه خوند اخلئ. زما لپاره دا معما تفسیر کړی او زما لپاره د منزوي خلکو خوب ښکاره کړئ! ځکه هغه څه چه ما لیدلي د راتلونکې په هکله خوب وو. هغه څه چه ما مخکې د تمثیل په بڼه ولیدل معنی یې څه ده؟ او هغه‌کس چه بلآخره باید ظهور وکړي څوک دی؟

هغه شپون چه مار یې په ستوني کلچه وهلې وه څوک دی؟ او هغه سړی چه باید پدې ترخه او تیاره حلقوم کې داخل شي څوک دی؟ شپانه زما په امر غاښونه په ټول قوت سره ټینګ کړل او خوله یې ولګوله او تر څو یې چه د مار سر توکولو په ښو ودرېد اما نور د چوپان یا حتی انسان په بڼه نه وو. څېرې یې بدلون وکړ، نور یې چاپېر ونیو او خندل یې. هېڅکله چا د ځمکې په مخ د هغه پشان نه وو خندلي؛ اې ورونو ما داسې قهقه خندا اورېدلې چه له بشري خندا سره ورته والی نه لري او اوس تنده ما عذابوي او نه تسکینېدونکې لېوالتیا په ځان کې حسوم.

د هغې خندا فوق العاده لېوالتیا ما ته عذاب راکوي. اخ نور څه ډول ژوندون وزغمم؟ او څه ډول پس لدې پېښې مړینه تحمل کړم؟

## د ناطلبه نېکبختۍ په هکله:

زردشت په زړه‌کې د ترخو معماوو په لرلو سره له سمندرونو تېر شو اوکله یې چه له ښکلو جزیرو څخه د حرکت څلور ورځې تېرې شوې او له دوستانو یې لېرې شو پخپل رنځ لاسبری شو. په بریالي ډول سره یو ځل بیا په قوت پخپل برخلیک پسې روان شو. هغه وخت یې خپل خوشاله وجدان ته داسې ووېل:

"یو ځل بیا له شنه آسمان او پراخه سمندر سره یوائې یم او یوائې به پاتې شم او یو ځل بیا غرمه رارسېدلې ده. د لومړي ځل لپاره مې چه خپل ملګري وموندل غرمه وه او دوهم ځل هم غرمه وه،کله چه نور نرم او ملایمېدلا هغوی مې یو ځل بیا پیدا کړل.

اې زما د ژوند غرمې! یو ځل مې خوشالۍ هم د پناه موندلو لپاره د درو سرونو ته وختې او هلته یې دا ښکلی او مینه ناک روح وموند. اخ زما د ژوند غرمې! زما د ژوندیو افکار دکښت او زما د لوړو هیلو د سهارني نور لپاره مې کوم کوم څېزونه له لاسه ورنکړل!

یوه ورځ خالق پخپلو ملګرو او ماشومانو پسې ګرځېد او ناڅاپه داسې عجیبه پېښه وشوه چه هېڅوک یې د خپلو مخلوقاتو په منځ کې د دې کار وړ پیدا نه کړی شو. پدې ډول زه هم پخپلو ماشومانو پسې ځم او هغوی د دوهم ځل لپاره پرېږدم. زردشت باید د خپلو ماشومانو په خاطر ځان بشپړکړي ځکه انسان په باطن کې یوائې له خپل ماشوم او یا هم د هغه څه سره مینه لري چه پخپلو لاسو یې جوړکړي وي. په پایله کې دې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسیږم چه زیاته مینه لرل د حاملګۍ نښه ده. اوس زما ماشومان، د باغ ونې او غني خاوره د لومړي پسرلي په تازه توب او ښېرازۍ کې لاره طی کوي. ډېر نیږدې یو بل ته کرل شویدي او د باد په وسیله ښورېږي.
واقعا هر ځای چه نالونه دا ډول نیږدې یو بل ته وکرل شي ښکلې جزیرې دي. اما یو ورځ به زه هغوی له باغونو څخه بېل کړم او یواځې به یې وکرم تر څو د یواځېتوب پر وړاندې مبارزه او احتیاط زده کړي.
زه غواړم هغوی د سمندر په غاړه یو بل سره اوبدلي او په سختۍ سره انحنا ډوله په پښو ودرېږي او د پنا منونکي ژوند لپاره ځان لرونکي سمندري فانوسونه واوسي.

کله چه د سمندرونو په سطحو توپانونه راشي او غرونه خپلې ډډې اوبو څښلو کې یوسې کېدای شي دا نالونه شپه او ورځ ساتنه وکړي او خپل حقانیت ثابت کړي. د دوی هر یو به وپېژندل شي او اثبات به کړي چه زما له خپلوانو او عقابو له جملې څخه دي او د یو بادوامه اردای څښتنان دي. د خبرو په وخت کې به چوپتیا غوره کړي او داسې به تسلیم شي چه په عین ورکولوکې به اخیستونکی هم وي.
د دې لپاره چې داکسان زما ملګرتیا وکړی شي ، له ما سره خلق وکړي، له ما سره ورېبي او داسې کسان شي چه وصیتونه مې په تختو ولیکي او د دې لپاره چه د ټولو څیزونو لپاره دکمال حد شي او د مثالونو لپاره یې باید پخپل کمال کې هڅې وکړو. لدې امله زه اوس له خپلې نېکبختۍ څخه تېښته کوم او ځان بدبختۍ ته سپارم تر څوم د اخري ځل لپاره تر ازموینې لاندې ونیول شم او وپېژندل شم.

بې له شکه زما د تلو وخت ډېر مخکې رارسېدلی دی. د سرګردانه کس سیوري، تر ټولو ډېر اوږد توقف او آرامو ساعتونو ټولو راته ویلي چه د تلو وخت د رارسېدلی دی." باد زما د قفل له سوري څخه راداخل شو او ما ته یې ووېل: "راشه!" زما ور ډېر عجیب پخپله خلاص شو او ما ته یې ووېل "لاړ شه!"
اما زه په هماغه شان د خپلو زامنو د مینې له امله لاس او پښې تړلی وم. د مینې له امله پدې دام کې ولوېدم تر څو د خپلو زامنو مړۍ شم او په دوی کې ځان ورک کړم. زما لپاره غوښتل د ځان ورک کولو په معنا دی اما اې زامنو تر څو چه تاسې لرم او پدې ملک کې به سراسر امنیت وي او غوښتنې به پکې کوم رول ونلري.
اما زما د مینې لمر په متفکر او غمګین ډول پر ما ځلیږي او زردشت یې پخپله شیره کې جوش کیږي. هغه وخت سیوري او شکونه په ما غلبه کوي. زړه مې ژمي او یخونو ته د بېرته ګرځېدا لېوال کیږي. کاشکې د ژمي یخونو زه بېرته کوچینی او ماتولی شوای. ما اسوېلی وکړ او هغه وخت ټول یخ شوي غبارونه له ما جګ شول.

زما پخوا خپل قبر خلاص کړ او ډېر دردونه چه ژوندي هدېرو ته سپارل شوي وو له قبره سرونه راپورته کړل. دې دردونو په کفن کې خپل خوبونه پوره کړي وو. پدې ډول ټولو څیزونو په اشارو فریادکولو او ما ته په خطاب کې یې وېل: "ټاکل شوی وخت رارسېدلی! ما نه اورېدل ځکه مې بلآخره عمق حرکت وکړ او زما

(c) ketabton.com: The Digital Library

فکر یې وچیچ."

"اې عمیق فکره چه زما فکر یې څه وخت به پخپلو مغزوکې ستا دکیندلو د غږ اورېدو لپاره داسې بشپړ قوت پیدا کړم چه له وېرې هېڅ لړزه ونکړم؟"

کله چه ستا دکیندلو غږ اورم زړه مې له هرې لارې سر ته راځي او حتی ستا چوپتیا هځې کوي چه چوپ او خفه مې کړي. اې لکه څاه داسې چه ساکت یې تر اوسه مې هېڅکله ستا د ویښولو هڅه نده کړې او همدا چه ته مې په ځان کې حمل کړې یې زما لپاره کافي ده.

تر دې دمه په بشپړ ډول دې اخري بې قیده او زمرۍ شوخۍ ته نه یم اماده شوی. ستا د وزن وړل تر اوسه زما لپاره بس دي. اما داسې وخت هم راتلونکی دی چه د ویښولو لپاره به د زمري د نارې پشان د غږ بشپړ قوت پیدا کړم.

کله چې پدې کارکې په ځان لاسبری شم لدې په مهموکارونو هم بریالی کېدلی شم او زما دکمال اخري بریا به وي. د دې حالاتو په لړکې زه په خطرناکو سمندرونوکې سفرکوم. پېښې په تملق سره په غوړه او نرمه ژبه راته خبرې کوي او هر څومره چه مخکې وروسته ګورم د دې اوږد او لېرې سفر پای نه مومم.

تر دې دمه مې د اخري هڅو وخت ندی رارسېدلی، یا آیا همدا اوس دا ساعت د رارسېدو په حال کې دی؟ اې زما د ژوندون غرمې! اې له لمر لوېدو مخکې خوښۍ! اې د اقیانوس تر منځ پناه ځایه! او اې د شک او دوه زړه توب تر منځ سپېځلتیا او سولې څومره زه په تاسو باندې بدګمانه یم!

بې له شکه زه ستاسو په فرېبي ښکلا بدګمانه یم! د هغه مین پشان یم چه د خپلې معشوقې له ډېرې خوږې موسکا بدګمانه شوی. په همغه شان چه حاسد مین په عین خشونت کې نرمي هم کوي او معشوقه له ځانه شړي، په همدې ډول زه له ځانه سپېځلتیا او سوله شړم. له ما لېرې شه اې د نېکبختۍ او سپېځلتیا ساعته! له تا سعادت سره زما غوښتنې زما په خلاف راورسېدې. زه دلته ولاړ یم تر څو خپل تر ټولو عمیق درد او رنځ وزغمم او ته بې موقع راته راورسېدې.

له ما لېرې ځه اې د سعادت پاک ساعته! غوره به دا وي چه وروسته بیا زما د ماشومانو په منځ کې مسکن وټاکې. بېړه وکړه او مخکې له غروبه په خوښۍ هغوی نېکبخته کړه!

وګوره! شپه نېږدې کېږي لمر لوېږي. لدې ځایه لېرې لاړه شه اې زما نېکبختۍ!"

زردشت داسې وویل او ټوله شپه یې مصیبت او بدبختۍ ته انتظار وکړ اما انتظار یې هم بې ګټې وو. شپه صافه او آرامه باقي پاتې شوه او سعادت هر شېبه نوموړي ته نېږدې کېدا. اما سهار ته په نېږدېوالي کې زردشت په خپل باطن کې وخندل. پداسې حال کې چه په ځان یې مسخرې کولې وېل یې نېکبختي ما څاري او علت یې همدا دی چه په ښځو پسې منډې نه وهم او ښځه نېکبختي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## له لمر ختو مخکې:

اې زما په سر لوړ آسمانه! اې د نور عميق او پاک ځاه! پداسې حال کې چه تا ته ګورم له آسماني غوښتنو او هيلو لړزيږم. ستا په ارتفاع کې مې غورځېدل عمق او په سپېڅلتيا کې پټېدل زما معصوميت دی.
لکه څنګه چه ښکلا د ښاپېريانو حجاب دی همغه شان ته هم د خپلو ستورو حجاب يې. ته خبرې نه کوې او پدې ډول خپل عقل ما ته اظهاروې.

نن ته د مستو سمندرونو په سطحو او زما په سر چوپ او ساکت ولاړ يې. ستا مينه او خجل زما مست روح ته رازونه وايي. ته د ښکلا په حجاب کې په بشپړ پټ سره راظاهر شوې او په چوپتيا د راسره خبرې وکړې.
څه ډول کولی شم چه ستا د روح خجل درک نکړم؟ مخکې له لمره ته يواځېنی کس وې چه راښکاره شوې. مونږ له لومړيو د يو بل ملګري وو. موږ په غم، کرکه او ځمکه کې يو له بل سره شريک يو او حتی په لمرکې هم دواړه شريک يو. مونږ سره خبرې نه کوو ځکه معلومات مو له اندازې زيات دي. موږ په چوپتيا کې يو بل ته ګورو او خپله پوهه په موسکا کې يو بل ته ورکوو.
آيا ته زما د اور لپاره نور نه يې؟ آيا ته روح زما د عقل او بصيرت خورلڼه نه يې؟
موږ يو ځای ټول شيزونه زده کړي. مونږ يو له بل سره له ځانه لوړ صعود او د ځان په طرف صعود زده کړي او همدارنګه بې ورېځې موسکا مو هم زده کړېده. هو چه په پرانيستو سترګو له لرې او بې ورېځې فاصلې د خپلو پښو ښخ ته موسکا کوو، پداسې حال کې چه هلته ځور، قصد او تقصير د باران پشان بخارکيږي.
کله چه زه يواځې په دښتوکې وم روح مې په نيمه شپه او ورکو لاروکې څه غوښتل؟ اوکله چه زه له غرونو لوړ تلم بې له تا مې څوک د غرو په سرونو لټول؟ زما ټولې سرګردانۍ او واړه لوړ تګونه زما د بېچارګۍ، ستړيا او احتياج پايله وه. زما د ټولې ارادې هيله دا ده چه يواځې ستا په طرف او ستا په داخل کې الوتنه وکړي.

زه له تلونکو ورېځو او ټولو هغه شيزونو څخه تر هر شي ډېره کرکه لرم چه تا چټلوي. او حتی له کرکې هم بېزار يم ځکه هغه هم ستا دککړېدو او چټلېدو باعث کيږي. زه د دې تلونکو ورېځو او دې غل شانته پيشوګانو په وړاندې غوصه يم. هغوی هڅه کوي هغه څه چه زموږ او دوی تر منځ مشترک دي له ما او تا څخه واخلي يعنې بې پايانه هو او امين ويل.
موږ لدې دلالانو او واسطو يعني تېرېدونکو ورېځو څخه خفه يو، دې دوه مخو تر اوسه صميمانه دعاکول او لعنت کول ندي زده کړي. اې له نور ډکه عرشه زه په تاکې له اوسېدو څخه په هغې حجره کې اوسېدو ته ترجيح ورکوم چه هېڅ آسمان پکې ونه ليدل شي او يا د عميقې تلې ليدل ستا تر ليدو په ملوثېدو غوره ګڼم.
تر ډېره مې هيله کړې چه وکولی شم هغوی د برق په طلايي مېخونو په فضا کې مېخ کړم او يا يې د تندر

(c) ketabton.com: The Digital Library

پشان د غوصه ناک ډوهل چي په رقم په غټو او راوتلو خپټو خالونه ووهم ځکه، اې پاک او روښان آسمانه او اې د نور ښاه هغوی زه پر تا له امین او هو ویلو محروم کړی یم او ته یې په ما له آمین او هو ویلو محروم کړی یې.
ځکه زه د تندر او توپان غوغا او مستي پدې محتاطه اوګډوډه چوپتیا غوره ګڼم. همدارنګه له ټولو څخه زیات زه لدې ډول خبرو، دوه مخیتوبه او ورېځو وړونکوګډوډیو څخه کرکه لرم. هغه چه دعا نشي کولی غوره به وي چه حد اقل لعنت او بده دعا کول خو زده کړي! دا سنګین دستور له آسمانونو ما ته نازل شوی او دا ستوری همدا اوس زما په آسمان کې حتی په ډېرو تیارو شپوکې ځلیږي.

هو زه د دعا کوونکو او ویونکو له ډلې څخه یو یم. اې د نور ښاه او اې سپېڅلیه نوراني وجوده که چېرې ته زما په اطراف کې وې، زه هو وېل او او خپل رحمت حتي ډېرو ژورو تلو ته هم وړلی شم. زه هغه کس شوی یم چه هو وایي او برکت ورکوي او دې مقام رسېدو لپاره مې دېرې هڅې او مبارزه کړېده. بلآخره به یوه ورځ خپل لاسونه د برکت ورکولو لپاره آزادکړم.
زما برکت دا دی د هر شي په سر چه درېږم د هغو لپاره د آسمان پشان منحني، اوبي او ابدي پیشتول (سقف) شم. هغه کس چه دا ډول برکتي وي نېکبخته دی ځکه ټولو څیزونو د ابدیت په چینه او ښو، بدو په چاپېرکې د پاکۍ غسل موندلی اما خپله نېک او بد بې له بېلوونکو سیورو، باراني مصیبتونو او تېرېدونکو ورېځو څخه بل شی ندي.

واقعا کله چه تعلیم ورکوم د ټولو څیزونو په سر بې ګناه آسمان، مخکښ آسمان، د تصادف آسمان او تفریح آسمان ځای نیولی دی زه کفر نه وایم اما رحمتونه لیږم. تصادف په ځمکه کې د اشرافیت تر ټولو پخواني لقبونه لري او د هغې له امله مې ټول څیزونه بایللي او هغوی ته مې له بندګۍ خلاصون وربښلی دی.
کله مې چه هغوی ته ورزده کړل په سرونو او ضمیر یې هېڅ ډول ابدي شتون نلري دا آزادي او اسماني رڼا مې هم د یوې اوبه ډوله ګنبدې پشان د ټولو څیزونو په سر ځای کړه.
کله مې چه هغوی ته په تعلیم کې ووېل په ټولو شیان کې امکان وجود لري او هغه منطقي اوسېدل دي. دا شوخي او لېونتوب مې د هغې ارادې ځای ناسته کړه. که څه هم یو څه انصاف او لږ عقل د ستورو په منځ کې خپور شوی دی. د ویاړ ځای دی چه په ټولو څیزونوکې مهم دي اما د عقل یو څه اختلاط په هر شي کې د لېونتوب او حماقت په خاطر دی.
یو څه عقل بې له شکه امکان لري اما ما دا راز په ټولو څیونوکې وموند چه هغوی غوره ګڼي د تصادف او پېښې په پښوکې وګډېږي. اې پاک او لوړ آسمانه زما په نظر ته پاک او سپېڅلی یې ځکه په تا کې د منطق ابدي غنې، عقل او د هغو تارونه شتون نلري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه ته د پېښې لپاره دګډا میدان یې، ځکه ته د ملکوتي فالونو لپاره د لوبې مېز یې او ملکوتي فالګیر یې؛
لدې ټولو سره ته ولې سور کېږې؟ آیا کوم شی چه باید نه مې وای ویلي بیان کړي مې دي؟ آیا پداسې حال
کې چه ستا ستاینه وکړم کفر مې ویلی دی؟
یا د دې دواړو خجل ته شرمېدو او سور کېدلو ته اړکړی یې؟ آیا امرکوې چه چوپتیا غوره کړم او د سکوت
ورځ رارسېدلې؟ نړۍ عمیقه ده او ورځې هغه له هر وخته ډېره عمیقه کړېده. ټول څیزونه په ورځ کې نشو
کولی اما ورځ رارسیږي اوس به غوره وي چه یو له بل جدا شو.
اې زما په سر خجل او نوراني آسمانه، اې له لمر ختو مخکې نېکبختۍ! ورځ رارسیږي اوس به غوره وي چه
یو له بله جدا شو.

## د نقص منونکې تقوا په اړه:

کله چه زردشت له کښتۍ څخه ښکته شوی مستقیم د غره او خپلې سومځې په طرف ولاړ نه بلکه دې او هغه
طرف ته یې سفر وکړ او له ځانه یې پوښتنې وکړې او زیات څیزونه یې زده کړل. د ځان په اړه یې په طعنې
سره وېل: "وګورئ له ډېرو کږلېچونو او لارو وروسته سیند بېرته د خپلې سرچینه په طرف راغلی دی!"
ځکه غوښتل یې پوه شي چه پدې وخت کې په بشر باندې څه راغلي دي. غوښتل یې پوه شي چه بشر لوی
شوی اوکه کوچینی شوی دی. څه نوي کورونه یې ولیدل او په حیرانۍ سره یې ووېل: "د دې کورونو معنی
څه ده؟ واقعا چه لوی روح دوی د ځان پشان ندي جوړ کړي. آیا بې عقل ماشوم دوی د لوبو د څیزونو له
صندوقه رابهرکړېدي؟ افسوس بل ماشوم هغوی بېرته د لوبو صندوق ته راوړي! آیا واقعا خلک پدې کورونو
او خوب کوټوکې ژوندکولی شي؟ زما په نظر دا کوټې یې د وریښمیني نانځکو یا د خوږو مصرفوونکو او
هغوی چه د نورو خواږه خوړل هم زغمي جوړې کړېدي."

زردشت د لنډ وخت لپاره ودرېد فکر یې وکړ بلآخره یې له ځانه سره په غمجن حالت ووېل: "ټول څیزونه
یې تاوان ته پرېښې دي. په ټولو ځایونوکې زه لنډ ورونه وینم؛ هغوی چه له خپلوانو څخه مې دي اوس هم د
هغې له بینه تېرېدلی شي اما د تېرېدو په وخت کې ځان ټیټوي.څه وخت به خپل منزل ته بېرته لاړ شم او چه
نور ټیټېدو ته اړتیا ونلرم او مجبور نشم چه کوچینیتوب ته ټیټ شم؟" او زردشت اسوېلی وکړ لېرې ځایونو ته
یې وکتل.
په هماغه ورځ یې د هغې تقوا په اړه بیان وکړ چه نقصان مني.

۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه د خلکو منځ ته ځم او ستړکې نه پټوم، دا خلک ځکه ما نه ښښي چه په تقوا باندې يې افسوس حسودي نه کوم. هغوی په ما ريشخند وهي ځکه زه ورته وايم: "کوچيني خلک دکوچينۍ تقوا لرونکي دي." ما مسخره کوي ځکه ما ته دا ستونزمن کار دی چه باور وکړم نړۍ کوچينيو خلکو ته اړتيا لري.
زه هغه چرګ ته ورته يم چه يوې غريبې مزرعې ته داخليږي او حتی چرګانې يې هم آرام نه پريږدي اما زه د دې چرګانو په وړاندې هيڅ ډول کينه نلرم. لکه څنګه چه د نورو ټولو ناراحتيو په وړاندې مؤدبانه عمل کوم د دوی په وړاندې هم داسې يم، باادبه يم او اوکوچينيانو ته کيشپ د لوبو وړګنم.
ټول وخت د شپې د اور چاپيره کښېني او زما په اړه مجلس کوي اما زما په هکله هيڅوک فکر نه کوي. دا مې نوې چوپتيا او آرامښت زده کړی دی. د هغوی غالمغال زما چاپير زما پر افکارو چپنه اچوي.
هغوی په خپل منځ کې غالمغال او فريادونه کوي: "دا توره او تياره وريځ زموږ منځ کې څه کوي؟ بايد پام مو وي چه هغه زموږ منځ ته سرايت کوونکې ناروغي رانه وړي!"
يو ماشوم چه غوښتل يې ما ته راشي مور يې چيغه پرې وکړه: "خپل ماشومان مو لدې ځايه لېرې کړئ. دا ډول روح د ماشومانو ستړکې سوځوي."

هغوی زما د خبرو په وخت ټوخی کوي او ورته ته د شديد باد په وړاندې اعتراض وايي. زما توپاني سعادت نشي درک کولی او په اعتراض سره وايي چه موږ د زردشت د خبرو اوريدو لپاره وخت نه لرو اما هغه عصر چه د زردشت د بيان اوريدو لپاره وخت نه لري څه ارزښت لري؟ که چېرې په ندرت سره هغوی زما تعريف وکړي څرنګه د هغوی په تعريف کولوکې استراحت وکړم؟
د هغوی تعريف د اغزيو له کمربند سره ورته والی لري حتی که له ځانه يې لرې هم وساتم ځای سېځي. د دوی له منځه مې دا ټکی هم زده کړی دی، څوک چه د چا تعريف او ستاينه کوي داسې انګيري چه کوم څه جبرانوي. پداسې حال کې چه په حقيقت کې د نوو ډاليو منتظر وي.
له پښو څخه مې تپوس وکړه! آيا هغوی ستاينه او تملق خوښوي؟ بې له شکه خوښيږي يې چه بې سور او تاله سندرې ته وګڼيږي خو آرامې به ونه دريږي. هغوی غواړي په مدحه، ستاينو او چاپلوسۍ ما د بې قابليته او ناچيزه تقواګانو په منلو سره مجبورکړي او زما پښې د بې سور او تاله سندرې په وسيله په حرکت راولي.
زه د دې خلکو په منځ کې حرکت کوم اما ستړګې مې خلاصې دي. هغوی نور هم کوچيني شويدي او هره شيبه کوچيني کيږي او علت يې هم د سعادت او تقوا په اړه د دوی شريعت دی. ځکه هغوی حتی په تقوا کې هم معتدل دي، ځکه هغوی د راحت او آرامۍ غوښتونکي دي اما يوازې معتدله تقوا ده چه له راحتۍ سره جوړيږي او مني يې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

واقعا هغوی په خپل سبک او لاره مخکې تلل زده کوي اما زه د دوی پرمختګ کوډتوب یادوم او لدې امله دوی د ټولو هغوکسانو مانع ګرځي چه بېړه لري. د دوی ډېرئ په عین مخکې تلوکې ځتې ته ګوري. ډېر مې خوښېږي چه د داسې کسانو په خېټه وخېژم، سترګې او پښې باید دروغ ونه وایي او یو بل ته باید دروغ ورنکړي اما دکوچینیو خلکو په منځ کې دروغ ویل زښته ډېر دي.

د دوی ځینې اراده کوي اما تر ډېره د نورو د ارادې پیروي کوي. ځینې یې اصل دي اما زیات یې مقلدان او بې ګټې لوبغاړي دي. د دوی مابین کې ځینې بې خبره لوبغاړي دي او بعضې بې غوښتنې او بې هیلې لوبغاړي دي اما حقیقي کسان او په ځانګړي ډول سره واقعي لوبغاړي د دوی په منځ کې ډېرکم دي.

د هغوی په منځ کې سړیتوب (مردانګي) ډېرکم پیدا کیږي. له همدې امله یې ښځې ځانونه د سړیو په بڼه جوړوي ځکه یواځې هغه څوک چه په بشپړه اندازه سړی وي یوې ښځې ته د ښځې په بڼه نجات ورکولی شي. دا دوه مخیتوب د هغوی په منځ کې ما تر هر څه ډېر موندلی دی حتی قومندانان یې هم هغه تقواګانې په ځان پورې تړي کوم چه نور عسکر او فرمان وړونکي یې مني. د هغوی حکومت کوونکي داسې ادعا کوي: "زه چوپړکوم، ته چوپړکوې، موږ چوپړکوو." او افسوس په هغو باندې چه تر ټولو لوی حاکم یې تر ټولو ډېر غټ بنده وي.

افسوس! حتی زما د سترګوکنجکاوي د دوی دوه مخیتوب موندلی شي او په بشپړ ډول سره یې منګسي نېکبختۍ د شیشو له څنډه په لمر وهلي حالت کې درک کولی شي.

زما په نظر هر څومره چه نېکي شتون لري هغومره کمزوري هم شته او هر څومره چه عدالت او رحم شته په همغه اندازه کمزوري هم شتون لري. هغوی د یو بل پر وړاندې نرم، مهربانه او با انصافه دي، هو همداسې لکه د ربګ شګې چه د یو بل پر وړاندې نرمې او مهربانه دي.

د یو بې اهمیته سعادت په منلوکې تواضع ته دوی (تسلیم) وایي او په عین وخت کې د یوې بلې بې مقداره نېکبختۍ په انتظارکې سترګې په لاره وي. هغوی له ټولو څیزونو څخه زیات یو شی ډېر زیات غواړي او هغه دا ده چه هېڅوک یې آزار نکړي او لدې امله ټول خلک راضي ساتي او له هېچا بدي نه ویني. اماکه څه هم دوی تقوا ورته وایي خو په حقیقت کې بې له ټنبلۍ بل څه ندي اوکه داکمزوري کسان په زور زیاتي سره خبرې وکړي زه یې زور زیاتی له سینو تشخیصوم ځکه هر استشناق یې د سینې هوا تنګوي.

هغوی محتاط دي او تقواګانې یې محتاطې ګوتې لري اما موتې یې تل خلاص وي اوګوتې یې نه پوهېږي چه څرنګه د موټې پشان شي ځکه د دوی په نظر تقوا هغه شی ده چه دوی بې حاله او متواضع کوي. لدې امله هغوی لېوه په سپي بدل کړی دی او بشر یې ډېر غوره اهلي حیوان ګرځولی دی.

او پخپله بې عقلانه خندا ما ته وایي: "موږ اعتدال خپل کسب ګرځولی دی او په هغومره اندازه له هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګلادېټورانو لېږې یو چه ځان په خطرکې اچوي. له ځانه راضي، بې آزاره او لېږې یو."
که څه هم دوی خپل دې صفت ته د اعتدال نوم ورکوی خو زه ورته د ټيټوالي او پست توب لقب ورکوم.

## ۳

زه د خلکو منځ ته ځم او زښته ډېرې خبرې خپروم اما هغوی له اخیستو اوکتلو خبر نه لري. هغوی حیران دي وایي چه زه ولې د شهوتونو او عیبونو د تقبیح لپاره نه یم راغلی او په ریښتیا هم زه د دې لپاره نه یم راغلی چه هغوی له جیب وهونکو څخه په تېښته کې کړم.
هغوی تعجب دي او وایي چه ولې زه د دوي په خوږولو او د باهوشۍ په لور بېولو ته حاضر نه یم. لکه د دوی په منځ کې په پوره اندازه بې عقلان نشته چه زما غوږ داسې له خراشه ډک کړي لکه مشوانۍ چه لوحه کوي. اوکله چه زه فریادکوم: "لعنت په هغو شیطان چه تاسو تضرع او زاریو ته هڅوي او ستایي مو!" هغوی چیغې وهي "زردشت خدای نه منونکی دی."
او له ټولو زیات د اطاعت تعلیم ورکوونکي دا ډول چیغې وهي. زړه مې دي چه د دوی په غوږ کې چیغې کړم "هو زه خدای نه منونکی یم!"دا د اطاعت او پیروۍ تعلیم ورکوونکي لکه سپږې په هر چټل او ناروغ ځای کې ګرځي او زماکرکه یواځې له هغو څخه ده چه د دوی د ماتولو اوکوچیني کولو مانع ګرځي.

وګورئ! دا هغه نصیحت دی چه زه یې د دوی لپاره کوم: "زه هغه خدای نه منونکی زردشت یم چه تپوس کوي: "څوک له ما ډېر خدای نه منونکی دی تر څو زه یې له شریعته اغېزمن شم؟ زه خدای نه منونکی زردشت یم خپله نوعه چېرې پیدا کړم؟ "او هغوی زما پشان دي چه د خپلې ارادې په کنترول کې وي او د اطاعت او پیروۍ تر بار لاندې نشي. زه خدای نه منونکی زردشت یم؛ زه تل هره پېښه پخپل دېګ کې جوشوم او تر څو چه په پوره ډول نه وي جوش شوې د مړۍ په عنوان به یې هېڅ قبوله نکړم."
واقعا ډېرې پېښې په آمرانه ډول پر ما راغلې اما زما ارادې هم په آمرانه ډول هغوی ته ځواب ورکړی دی.

وروسته هغوی په تېزۍ سره په تضرع او زارۍ راته په ګونډو شول تر څو وکولی شي په غوږه مالۍ سره زما په زړه کې ځای پیدا کړي او داسې یې ویل: "اې زردشته! وګوره ملګری څرنګه د ملګري لیدنې ته راځي!"
اما ولې زه پداسې ځای کې بیان وکړم چه څوک راته غوږ کېږي نه؟ پدې دلیل زه خپلې خبرې ټولو بادونو ته وایم.
اې کوچینیو خلکو تاسو ورځ په ورځ کوچیني کېږئ. اې راحت غوښتونکو تاسې د نشتون په طرف نموکوئ او یوه ورځ به مو نشتون راورسېږي. تاسو به د ناچیزو تقواګانو او ناچیزو حذفولو د افراط له امله تلف شئ.
په ترحم او ځمکې تسلیمېدنه کې افراط ستاسو روزنه ده! اما د یوې ونې غتېول دکلکو تیرو په چاپېرکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سختو ريښو ته اړتيا لري.

حتى هغه څيزونه چه تاسو يې هېڅ نه ترسره کوئ په راتلونکې کې په بشر تار اچوي؛ حتى ستاسو هېڅ شی د غښې تار او غنه دي چه د راتلونکې له شيرې څخه تغذيه کيږي.

اوکله چه تاسو بې قابليته پرهېزګاران کوم څه وایاست داسې بيان کوئ لکه د چا څخه مو چه غله کړي وي.

پداسې حال کې چه د غلو په منځ کې شرافت داسې حکم کوي: "کله چه کوم شی په زور نشې اخيستی غله يې کړه!"

ستاسو د فرمان وړلو يوه لار دا ده چه وایاست: "فلانی شی ورکړلی شويدي." اما اې راحت طلبه خلکو زه تاسو ته وايم: "فلانی شی اخيستل شويدي او په تدريج سره به ډېر او زيات درنه واخيستل شي."

کاشکې تاسو دا اراده او بې کاره هيله پرېږدئ. حتى په کار وخت او همدارنګه بېکارئ کې هم د دا ډول هوډ لرونکي واوسئ!

کاشکې زما په خبرو پوهېدلای: "هر څه چه غواړئ وکړئ اما په لومړيوکې د هغو خلکو په ډله کې واوسئ چه اراده کولی شي.

خپل ګاونډي سره د ځان په ډول مينه وکړئ اما لومړی له ځانه سره مينه وکړئ او په لوی عشق اوکرکې د ځان سره ملګري وکړئ!"

خدای نه منونکی زردشت داسې وايي.

اما ولې زه په داسې ځای کې خبرې وکړم چه څوک غوږ نه راته نيسي؟ تر اوسه زما په خبرو د پوهېدو او درک وخت ندی راغلی. زه د دې خلکو په منځ کې د د لښکر د مخکښ پشان او د چرګ د آذان پشان په کوڅوکې تياره يم.

د هغوی وخت به هم راورسيږي او زما هم. ساعت په ساعت هغوی کوچيني، فقير او بې ثمره کيږي. لکه سبزي کم ودې او همدارنګه لکه ځمکه فقير، شنډ او خرابيږي. ډېر زر به زه دوی د وچو وښو او شنډې وچې دښتې پشان ووينم. بې له شکه هغوی به له ځانو هم ستړ ي ږي او له اوبو څخه به زيات د اور غوښتونکي وي!

اې د نور نېکبخت وخته او اې له غرمې مخکې رازه! يوه ورځ به زه هغوی سوځونکی اور او د اورجنې ژبې قاصدان کړم. هغوی به پخپلو اورجنو ژبو داسې اعلان کړي: "لويه غرمه رارسيږي او نيږدې کيدونکې ده."

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د زیتون غره په څوکو:

ژمی، یعني نا بللی مېلمه له ما سره کور ناست دی او لاسونه مې هغه ته د دوستانه ورکړې له امله شنه شویدي. زه دې نابللي مېلمه ته احترام لرم اما هغه پخپله خوښه یوائې پرېږدم او په لېوالتیا سره ترې تښتم. ریښتیا هم که څوک په تېزۍ سره ترې منډه وکړي له شر څخه یې ځان خلاصولی شي.
په ګرمو پښو او افکارو له باده آرام ځای ته منډې وهم یعني د زیتون غره هغه ځای ته ځم چه لمر وي. هلته مې زه په بدخویه مېلمه پورې خاندم او پدې تولو سربېره له هغه بد نه وېړم ځکه زما په کورکې منګس او ډېر نورکوچني شور او غالمغالونه له منځه وړي. ځکه هغه حتی د یوې غوماشې غږ هم نشي تحمل کولی.
نوموړی حتی کوټې له اوسېدونکو خالي کوي پداسې ډول چه سپوږمۍ هم د شپې په وېره کې له هغو ځایونو تېره شي.

هغه سخت مېلمه دی اما زه یې محترم ګڼم او د کمزورو پشان د پخو خټو خدای ته د زارۍ او التجا لاس نه اوږدوم. غوره ګڼم چه غاښونه مې له سړوالي وکړېږي او ولړزېږم خو د بوتانو پیروي ونکړم. دا زما پشان د سړي اراده ده. له چا سره چه مینه لرم په ژمي کې یې له اوږي څخه ډېر غواړم او همدا اوس چه ژمي زما په کورکې مسکن غوره کړی دوښمنان مې له مخکې ډېر مسخره کوم.
حتی کله چه په تخت کې ویده کېږم همغه پټ سعادت او فریب ورکوونکی خوب په بشپړ شجاعت سره خاندي او شوخي کوي. هېڅکله مې په ژوندکې د اقتدار په مقابل کې سر ندی ټیټ کړی اوکه چیرې مې دروغ ویلي وي د مینې په خاطر مې ویلي دي. له همدې امله زه له ژمني یخ تخت څخه خوند اخلم.
یو فقیرانه تخت ما له غني تخت څخه ډېرګرموي ځکه زه د خپل فقر په وړاندې حسود یم او فقر مې په ژمي کې له نورو وختو ډېر باوفا وي. زه هره ورځ په ځانګړي شیطانت سره پیلوم او ژمی د یخو اوبو په حمام سره مسخره کوم. له همدې امله مې فقیر او بدرنګ کور غر غرکوي. پدې سربېره خوښېږم چه د موم په کوچینۍ شمعه باندې هغه ګرم کړم تر څو په پایله کې راضي شي او آسمان له یو اېرې رنګه سپېده داغ څخه خلاص شي. ځکه زه په سهارکې په ځانګړي ډول هغه وخت چه د اوبو سطل په څاه کې غږکوي او آسونه په خاورینوکوڅوکې په ګرمو نفسونو سره هنګېږي ډېر غوږ کېږم. په بې صبرۍ سره انتظارکوم تر څو روښانه آسمان یعني زوړ او سپین ږیری ژمنی آسمان له خپلې واورینې ږیرې سره ما ته ښکاره شي.
هماغه آرم ژمنی آسمان چه تر ډېره خپل لمر هم پټوي. آیا د هغه له امله مې اورد او ځلېدونکی سکوت زده کړی دی؟ اوکه هغو له ما څخه خپل سکوت زده کړی دی؟ اوکه نه موږ هر یوه بېل بېل کشف کړی دی؟

هره نېکي زر منشاوې او مبداوې لري، هر ښه او بد د خوښۍ لپاره پیدا کېږي نو څنګه امکان لري چه یوائې یو ځل ایجاد شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا اوړد سکوت په ریښتیا هم ښه او بد شی دی او واقعا ما دا هنر او ژمنی شیطانت ښه زده کړی دی چه لکه ژمنی آسمان په برګو سترګو او خندانه څېره په ځیر ورته وګورم او د هغو پشان مایل اوسم چه لمر او خپله لمرینه نه بدلېدونکې اراده پټه وساتم. زما تر ټولو غوره جنایت او هنر همدا دی چه سکوت مې زده کړی، ځان سکوت ته هسې له لاسه ورنکړې.

دکلمو او فالونو په ښورولو سره به ټولو منتظرینو ته فرېب ورکړم. زما اراده او هوډ به دا ټول ساتونکي بې لارېتوب ته یوسي. که چېرې څوک زما په زړه او اخري اراده پوه نشي دا ادامه لرونکی او ځلانده سکوت مې ورته اماده کړی دی.

ډېر هوښیارکسان مې ولیدل چه نقابونه یې ټرلي وو او خپلې اوبه یې ختې کولې تر څو څوک یې له ځنګونو باطن ونه ویني اما پدې کسانو داسې هوښیار بې عقیدې مغز ماتوونکي پېښ شوي چه د دوی په عماقوکې ډېر پټ او عمیق ماهیان یې ښکار او رابهرکړیدي؛ بلکه د ساکتو خلکو په منځ کې مې روشنفکران، شجاعت لرونکي او شفاف خلک تر ټولو ډېر عاقل موندلي دي ځکه د هغوی تله دومره ژوره ده چه حتی ډېرې صافې اوبه هم نه ورته رسیږي.

اې ژمنی او ساکت آسمانه! اې د واورینې ږیرې آسمانه او اې د برګو سترګه سپین ږیریه، اې زما د روح آسماني مظهره او د هغه خوشالئ؛ آیا زه باید د هغه کس پشان ځان پټ نه کړم چه طلا یې خوړلې وي، هسې نه چه خلک زما روح وڅیري؟ آیا په لرګینو پښو باید سپور نشم تر څو زما د اطراف بدجنس او حسود خلک زما اوږدو پښو ته متوجه شي؟

د اروا له درد څخه ډکه، چټله، مستعمله او ځګ وهلې کینه څه ډول زما نېکبختي زغملی شي؟ د واورې او یخو څوکو سربېره دا هم نه ورته ښایم چه څرنګه لمر زما غر احاطه کړی دی. هغوی به یواځې زما د ژمنیو توپانونو غبږ واوري اما وبه نه ګوري چه څرنګه له ګرمو سمندرونو څخه دګرمو او درنو بادونو پشان په لېوالتیا جنوب ته ځم. دوی به زما په سوانحو او پېښو ترحم وکړي اما زما کلام دا دی: "پرېږده چه پېښه په خپله خوښه زما په طرف راشي! هغه دکوچیني ماشوم پشان معصومه ده."

که چېرې ما خپله نېکبختي په حوادثو ، ژمنیو سختیو او پوستي خولۍ سره خپله واورین اسمان نه وای پوښلی، که چېرې ما د هغوی په ترحم چه د یو موتبې خبیثو او حسودو خلکو ترحم دی رحم نه وای کړی، که چېرې ما د هغوی په شتون کې ساړه اسوېلي نه وای کړي، له یخنۍ نه وای لړزېدلی او په صبر مې د هغوی په ترحم ځان نه وای پوښلی څرنګه مې تحمل کولی شوای؟

زما د روح بد ذاتې علاقه او مهرباني یواځې ژمی او د واورې توپانونه نه پټوی بلکه خپلې یخ وهنې هم له چا څخه مخفي نه ساتي. یو ډول یواځېتوب دی چه د ناروغانو پناه ځای دی او بل ډول تنهایي ده چه

(c) ketabton.com: The Digital Library

انسانان د ناروغانو له ضرره په امن کې ساتي. پرېړده زما په چاپېرکې دا ټول لوڅ بې عقلان واوري چه زه د ژمي له يخنۍ څخه لړزېږم! په سړو اسوېليو او لړزېدو سره د دوی له ګرمو سالونونو څخه فرارکوم. پرېږده چه راباندې رحم وکړي او په يخنۍ مې وژاړي او په غمجن حالت سره ووايي: "يوه ورځ به مو نوموړی د خپل علم او پوهې په يخنۍ سره ووژني." په همدې حالت کې زه په ګرمو پښو سره د زيتون غره دې خوا او هغې خوا ته ځم. د زيتون غره په يوه لمرينه برخه کې بدله وايم او په ترحم مسخرې کوم.

## د تېرېدو په اړه:

زردشت له ډېرو خلکو اوګڼو ښارونو څخه تېر شو تر څو بلآخره له غېر مستقيمو لارو څخه خپل غره او سومڅې ته ورسېږي. حيرانونکې ده پدې شان پخپله لار روان وو چه ناڅاپه د لوی ښار دروازې ته ورسېد. هلته يو لېونی چه له خولې څخه يې ځګونه تلل د ده مخې ته په منډه راغی او په غيږکې يې ونيو. دا هماغه لېونی وو چه خلکو به ورته د زردشت شادي وېل ځکه د زردشت په ډول خبرې يې زده کړې وې او يا کېدی شي د زردشت له پوهنيزې خزانې څخه يې په ناپوهۍ سره کوم څيز پورکړي وي.

لېوني زردشت ته داسې ووېل:

"اې زردشته! دا لوی ښار دی. دلته به کوم نوی شی پيدا نکړې اما د دې وېره شته چه ټول څيزونه له لاسه ورکړې. ولې پدې جنجالي او خټين ډنډکې پل بږدې؟ په خپلو پښو رحم وکړه! غوره به وي که چېرې د دې ښار په دروازه توف کړې او بېرته لاړ شې!

دا ځای د منزوي خلکو لپاره دوزخ دی. دلته لوی افکار ژوندي ژوندي جوشوي او نابودوي يې. دلته لوی احساسات زنګ وهي، دلته يواځې کوچيني اوکمزوري احساسات د ودې او نمو اجازه لري.

آيا همدا اوس د هغوی د روح د پخو شوو تيکو بوی نشې حس کولی؟

آيا دا ښار د قتل عام شويو ارواګانو متعفن بوی نه کوي؟

آيا نه وينې چه له ارواګانو يې څه ډول دکاغذ پشان نرمې او چټلې ټوټې جوړې کړې او ځوړندکړېدي؟ او له همدې ټوټو څخه ورځپاڼې جوړي.

آيا نه اورې دلته څه ډول رح په کلمو تبديل شوی دی؟ نه ګورې څرنګه بې خياله کلمې له خولو غورځوي او لدې کلمو څخه بيا ورځپاڼې ډکوي؟

هغوی ټول يو بل پسې دي خو نه پوهيږې چه لدې کار څخه يې هدف څه دی؟ بې لدې چه پوه شي يو بل غوصه کوي. همدارنګه خپلې تقلبې پيسې او طلايي سکې شرنګوي. دوی يخ دي او په مقطرو اوبوکې ګرمي لټوي. هغوی ګرم دي او په منجمدو عقيمو ارواګانوکې ساړه ګوري هغوی ټول د عمومي نظرياتو له امله ناروغ او مجروح دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ځای د ټولو شهوتونو او عیبونو سرچینه دی. دلته پرهېزګارکسان او ډېرې ګټورې عملي تقواګانې هم موندل کېږي. ګټورو تقواګانو د منشیانو ورنونه لدې امله سخت وچ کړي چه په انتظار د مېز څنډ ته ناست دي او بې ارزښته نښې یې په سینو وهلې دي او بې ورنونو لونړو یې ځانو ته له پښې ورنونه جوړ کړیدي.
دلته زښته ډېره پرهېزګاري او جاري غوړه مالي د رب الجنود په مقابل کې ادامه لري. ځکه له پورته څخه ویاړونه، نښانې او له فیضه ډک توفونه را اوري. هره بې نښې سینه په لېوالتیا سره ورته پورته ګوري او انتظار کوي.
میاشت هم د دربار درلودونکې ده او په دربارکې یې احمق خلک زښته ډېر دي اما د سوالګرو یوه ډله په ګدایي تقواګانو سره هر څه چه له درباره راځي د دعا لاس پورته کوي: "زه چوپړکوم، ته چوپړکوې او موږ چوپړکوو."
دا هغه ډول ګټور زهد دی چه د خپل شاهزاده لپاره یې په دعا کې غواړي تر څو د ستوري نښه د هغه په کوچینۍ سینه وچسپېږي. اما میاشت د ټولو هغو څیزونو په چاپېرګرځي چه له ځمکې سرچینه اخلي او پدې دلیل شاهزاده هم په هغو څیزونو پسې ګرځي چه تر هر څه ډېر ځمکني وي یعني د دوکاندارانو په طلا پسې ګرځي. رب الجنود د طلا د سکو خدای ندی، تدبیر د شاهزاده دی او تقدیر د دکاندار!

د هغو پر نوم چه په تا کې سپک، قوي او غوره دي اې زردشته! د دې ښار په دکاندارانو توف کړه او خپله لارکږه کړه لاړ شه! دلته د ټولو په شریانونوکې چټله نیمه ګرمه او ځګ وهلې وینه جریان لري. پدې لوی ښار او چټل ډنډ چه بقایاوې پکې د جوش په حالت کې دي توف کړه!
د دې ارواګانو په بند، نریو سینو، فضولو سترګو، چسپناکو لاسونو؛ دا د فضولو او بې شرمو لیکونکو، ویاندانو او هغوکسان په ښار چه د ځان غوښتنې په خولوکې ډوب دي توف کړه او خپله لارکږه کړه لاړ شه!"

اما دلته زردشت د لېوني خبرې غوڅې کړې او ویې ویل: "چوپ شه! ډېر وخت کې زه تا او ستا پشان خلکو سره له مجلسه کرکه لرم! نو ولې تا تر دې دمه پدې ډنډکې وخت تېرکړی چه په څونګښه بدل شوی یې؟
ته پدې ډول ناسزا وایې او لکه څونګښه غړ باسې، آیا ستا په شریان کې چټله وینه نده روانه؟
ولې ته ځنګلونو ته نه یې تللی؟ ولې د ځمکه نده کښت کړې؟ آیا له جزیرو ډک سمندر ښېرازه ندی؟
زه ستا له کرکې متنفر یم؛ ته ما تېښتې ته مجبوروې، ولې د ځان ندی اړکړی؟
یواځې د مینې په خاطر زما اخطار او د تحقیر مرغه اوج ته رسېږي نه د دې چټل ډنډ له امله.

اې لېونیه ته یې زما شادي نومولی یې اما زه تا خپل خرخرکوونکی خوګ بولم او پدې غالمغال سره حتی زما لېونتوب هم خرابوې. هغه څه وو چه ته یې د لومړي ځل لپاره په شور راوستې؟ چا د په پوره اندازه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاپلوسي ونکړه چه ته د دې ډنډ په غاړه کښېناستې تر څو د ځان غوصې کولو لپاره بهانه پیدا کړې او غچ واخلې. اې بېکاره لېونیه ستا ټوله غوصه او قهر د غچ اخیستنې له امله دی او بې له شکه ما ډېر ښه پېژندلی یې! اما ستا احمقانه خبرې که چېرې ریښتیا هم وي ما آزاروي اوکه چېرې د زردشت خبرې سل په سلوکې صحیح هم وي ته یې غلطې کاروې."

زردشت داسې ووېل وروسته یې د اوږد وخت لپاره لوی ښار ته په ځیر وکتل سوړ اسوېلی یې وایست او بلآخره یې داسې ووېل: "واقعا زه یواځې لدې لېوني څخه متنفر نه یم بلکه لدې لوی ښار څخه هم یم. په هېڅ یوه کې داسې څه نه پیدا کېږي چه یا یې ښه او یا یې هم بد وګڼم. پدې لوی ښار افسوس! کاشکې همدا اوس لدې ښاره یو اورجن تنور راپورته شي ټول وسېځي او زه یې هم ووینم! ځکه دا ډول اورجن تنورونه باید په غرمه کې پیل شي اما دا هم ټاکلی برخلیک او موقع لري.
اما اې لېونیه تا ته په خدای پامانۍ کې دا نصیحت کوم: "چېرته چه نور له انسان سره مینه نشي کېدلی باید ترې لاړ شو." زردشت داسې ووېل له لېوني او لوی ښار دواړو څخه تېر شو.

## د مرتدو په هکله:

افسوس ټول هغه څیزونه چه پخوا پدې چمن کې ښېرازه او له ګلونو ډک وو اوس مړاوي او له منځه تللي دي! څومره د هیله مندۍ شات ما له هغې ځای څخه خپلوکندوانو ته نقل کړي دي. دا ځوان زړونه ټول بوډا شوي دي، زاړه شوي هم دي اما ستړي او ټنبل شوي او ځانته وایي:
"مونږ یو ځل بیا متمدن شوي یو"
پخوا مې لیدلي وو چه په بې پروایۍ سره یې سهار وختي منډې وهلې اما د پوهې پښې یې ستړې شوېدي او اوس له خپل سهارني شجاعت څخه بدې ورځې کا. واقعا کله چه زما د پوهې خندا هغوی ته اشاره کوله ښه یې د رقاصې پشان پورته کوله دوی په ځان پوه شول اما اوس یې وینم چه د صلیب په مقابل کې یې له ډاره خپل څټ دوې دېرې کړی دی.

یو وخت لکه د پتنګانو او ځوانو شاعرانو پشان د نور او آزادۍ په چاپېر څرخېدل. له بوډا توب سره سم یې زړه توروالی هم ډېر شو او د اصلاحاتو او روښن فکرۍ مخالف شول او بې شمېره توري یې ادا کړل او په کور کښېناستل.
آیا انزوا او یواځېتوب زه لکه نهنګ له ځانه سره واخیستم او خپل زړه یې وبایلود؟ آیا د هغوی غوږونو د یو څه وخت لپاره عبث زما د (حاضر اوسه) غږ ته انتظار وکړ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

افسوس یوه معدوده ډله د هغوی په منځ کې د پایېدونکي غیرت او شجاعت درلودونکې ده چه پدې ډول ارواګانوکې صبر هم وجود لري اما پاتې نور یې ټنبل دي. پاتې نور یعني د هماغې ډلې ډېرئ خلک ټول ټنبل دي. هغه کس چه زما دی زما تجربې او مشاهدات به هم ورته ورسیږي. پدې دلیل به د یې لومړي ملګري او رفیقان ټوکماران او جسدونه وي.

اما دوهمه ډله ملګري یې چه ځانونه مؤمنان او متعقدان معرفي کوي له مینې، لېونتوب او ماشومانه احترام څخه ډک کندوان دي. د خلکو په منځ کې هغه څوک چه زما له نوعې څخه دي خپل زړه به په داسې متعقدانو باندې مقید نکړي. چا چه د انسانانو ټنبلي درک کړې وي هېڅ وخت به پدې ډول ښېرازو او رنګارنګ چمنونو اعتماد ونکړي.

دوی که چېرې بل ډول کارکولی شوای بل ډول اراده یې هم کوله، دا نیمګړتیاوې هر ډول ګل نابودوي. پاڼې رژېږي نو ولې باید افسوس پرې وکړو؟

اې زردشته! پرېږده چه لاړې شي توی شي او افسوس مه پرې کوه! بلکه برعکس د شور څخه ډکو بادونو سره یوځای شه او په منځ کې یې ولګیږه! اې زردشته! د دې پڼو په منځ کې ولګیږه، تر څو هغه پاڼې چه وچې او رژېدلې دي زر له در څخه وتښتي!

٢

دا مرتدان وایي: "مونږ یو ځل بیا متدین شوي یو." په دوی کې ځینې دومره ډارن دي چه حتی پدې هم اقرار نه کوي.

زه د هغوی سترګو ته مخامخېږم او په مخ او سرو غومبور یې په خجالت سره ورته وایم: "تاسو هغه خلک یاست چه لمانځه او دعا ته بېرته راګرځئ" اما دعا د شرم وړ ده نه ټولو خلکو ته بلکې ما، تا او هغه چه پخپلو مغزوکې وجدان لري. هغه دېو چه ستا په مغزوکې قرار لري غواړي لاسونه د سره یو ځای کړي اوکوم څېزونه چه غواړې په لمن کې درونغاړې اوکارونه د اسانه کړې. دا ډارن دېو د دې ته اړکوي چه ووایې: "خدای شته" لدې امله ته له هغه قومه یې چه له نور څخه وېرېږي او په نورکې خپله ارامي له لاسه ورکوې. اوس باید له هرې ورځې ډېر خپل سر په شپه او وربځوکې ټیټ کړې!

بې له شکه تا خپل وخت ټاکلی دی. ځکه آسمان ښکالي بیا په الوتو راځي. د ټولو هغوکسانو وخت رارسېدلی چه له نوره وېرېږي. د داسې جشن وخت چه واقعي جشن ندی او د غروب وخت رارسېدلی دی.

زه هغه اورېدلی او بویولی شم: "د هغوی د ښکار او پرمختګ وخت رارسېدلی اما د وحشیانو د ښکارولو لپاره نه بلکه د اهلیانو، جاسوسانو، دعاکوونکو او معلولانو."

(c) ketabton.com: The Digital Library

د موږکانو لپاره دوه مخو بیا ټول تلکونه په کار اچولي دي تر څو زړونه په دام کې واچوي او هر ځای چه پرده ایسته کوم شپنۍ حشرې رابهرکیږي. آیا دوی هلته له بل آسمان څکالي سره وو؟ ځکه زه په هره څنډه کې د دوی د تجمع بوی حس کوم او په هر سالون کې کوچیني فدایان او تازه نفسه معتصب پیروان وینم. نوموړي اوږدې شپې یو له بل سره کښېني او وایي: "راځئ یو ځل بیا لکه ماشومان داسې شو او وایي: "اې ګرانه خدایه! " خولې او معدې یې د سپېڅلو خوړو جوړونکو په وسیله اختلال کړېدي."او اوږدې شپې ورسره د یوې غښې په کمین کې ناستې دي او هغه شعبده باز چه د صلیب لاندې غښو ته تعلیم ورکوي (د صلیب بېخ د تار اچولو لپاره ښه ځای دی) ځېرکیږي.

ټوله ورځ د ماهي نیونې چنګکونو سره د اوبو په څنډوکښېنې او له همدې امله ځانته ډېر عمیق تصورکوي اما هغه کس چه بې ماهیانو ځای کې د ښکار قصدکوي زه یې له سطحي کسانو هم ډېر پست ګڼم. هغی په ایمان او لېوالتیا سره له سندرو رباب وهل زده کوي ځکه له بوډا ښځو او ستاینو څخه یې ډېر تنګ شویدي او غواړي پدې ډول د ځوانو ښځو زړونو ته لار پیدا کړي.
یا له نیمه لېوني حکیم سره په تیاره کوټوکې د ارواګانو ورود ته منتظرکیږي او لړزېدل زده کوي. پداسې حال کې چه عقل یې کامل له منځه لاړ شي د هغه بوډا سړي شپېلۍ او غمجنو سندرو ته غوږکیږي چه له زړه تنګه بادونو څخه یې زده کړېدي. اوس نوموړي لکه باد یږدا کوي او غم له غمجنو مقاماتو سره موعظه کوي. ځینې یې د شپې ساتونکي کیږي او زده کوي چه څرنګه پخپلوکرناووکې بادونه جوړ کړي. د شپې له طرفه دې او هغې طرف ته لاړ شي او هغه موضوع ګانې برسېره کړي کوم چه ډېر وخت کیږې ویدې شوېدي.

پرون شپه مې د باغ دېوال ته نیږدې لدې زړو موضوع ګانو څخه پنځه دانې واورېدې. داکلمې مې له پنځو بوډا، ستړو او رژېدلو ساتونکو څخه واورېدې:
لومړي ساتونکي وېل: نوموړی د خپلو ماشومانو ډېره بده پالنه کوي حتی بشري پلاران له هغه ډېرې غوره کړنې کوي.
دوهم ساتونکي وېل: ډېر بوډا شوی دی او نور هېڅ د خپلو ماشومانو په اړه فکر نه کوي.
دریم ساتونکي وېل: آیا ماشومان هم لري؟ که چېرې نوموړی خپله دا مسئله ثابته نکړي نور هېڅوک یې نشي ثابتولی. زه هیله لرم چه نوموړی خپل دا قضیه په یو ځل بشپړه ثابته کړي.
دوهم ساتونکي وېل: ثبوت یې دکا؟ ته داسې وایې لکه نوموړي چه تر اوسه کوم څه ثبوت کړي وي، د هغه اثبات ښه نه ایښي. هغه دې ټکي ته ډېر اهمیت ورکوي چه خلک پرې ایمان لري.
لومړي ساتونکي وېل: هو، هو په دې سره د خلکو له ایمانه ډېر خوند اخلي.
دوهم ساتونکي وېل: ټول زاړه خلک همداسې دي موږ به هم یو وخت همداسې شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پدې ډول دې شپنيو ساتونکو او له نور وېرېدونکو خبرې کولې او وروسته خپلو ځايونو ته لاړل. دا هغه څه وو چه پرون شپه زما د باغ دېوال څنې ته تېر شول اما زما زړه له خندا دومره ډک وو چه نيږدې چاودلی وو. بې کنترولـه وو او په مانع حجاب کې پټېدا.

واقعا بلاآخره مې د شپه ساتونکو په منځ کې يو مست خر ليد او له شپنيو ساتونکو څخه مې د خدای په وجود د شک خبرې واورېدې چه خندا مې چوپه شوه. آيا د دې ډول شکونو بشپړ وخت اوس او يا مخکې ندی رارسېدلی؟ څوک شته چه جرأت وکړي او داسې زړې او خوب راوړونکې او له نوره په تېښته کې موضوع ګانې رابرسېره کړي؟ ځکه د قديمي خدايانو سره عهد وختونه پخوا پای ته رسېدلی دي او واقعا چه دې پای خوشالي درلوده.

هغوی لکه تياره او رڼا ورو مړه نشول، که څه هم دا دروغ هم ګڼل شوي خو هغوی په خندا کې د افراط له امله مړه شويدي. دا هغه وخت پېښ شول چه يو خدای يوه ډېره پې تناسبه خبر وکړه:

"خدای يو دی او ته به بې له ما د بل خدای پيروي ونکړې!"

او پدې ډول يو بوډا او غصه ناک خدای يو حاسد خدای ورک کړی. هغه وخت ټولو خدايانو وخندل او په لړزېدلو غږونو يې ووېل: "آيا دا د الوهيت پاي ندی؟ چه څو خدايان شتون لري او واحد خدای نه؟"

څوک چه غوږ او روح لري غوږ د شي!

داسې ووېل زردشته په هغه ښارکې چه خالدار غوايي نوم لري او نوموړی ورسره مينه لري.

له هغه ځايه يې خپلې سومڅې او حيواناتو ته دوه ورځې لاره وه او ادامه يې ورکړه. روح يې هدف رسېدلو ته نيږدې شوی وو نو ځکه ډېر خوښ وو.

## بېرته کورته راګرځېدنه:

اې زما يواځېتوبه، اې زما دکور يواځېتوبه! دومره په نا آشنا ځايونوکې اوسېدلی يم اوس چه بېرته تا ته راځم د خپلو اوښکو توييدو مخه نشم نيولی. اوس د مورانو پشان راسره رويه وکړه! لکه د مورانو راته وخانده او وروسته راته ووايه: "هغه څوک وو چه يوه ورځ د توپاني باد پشان رانه وتښتېد؟ هغه ورځ چا د تللو چيغې وهلې:" بې حده په انزواکې اوسېدلی يم او لدې امله مې چوپتيا هېره شوېده" کېدای شي بېرته د زده کړې وي!

اوس پوه شوی يې چه د ملګرۍ او يواځېتوب په منځ کې ډېر توپير دی او دا د هم زده کړي چه تر ابده پورې به د عجيبو غريبو خلکو په منځ کې وې. حتی که هغوی درسره مينه هم ولري په منځ کې يې نا آشنا او عجيب يې ځکه هغوی له هر څه مخکې غواړي په امن کې واوسي! اما دلته ته پخپل کورکې يې. هر څه د چه زړه وغواړي دلته يې ويلای شې، هېڅوک دلته د خپلو محبوسو او مخفي احساساتو له امله شرمګين

(c) ketabton.com: The Digital Library

ندی. دلته ټول ستا خبرو ته ارزښت ورکوي او ستا غوږه مالي کوي ځکه هغوی غواړي پر تا سپاره شي. دلته ته پر هر چا چه وغواړې سپرېدلی او د هر حقیقت په لور چه غواړې سپرلي کولی شې. دلته په ریښتینولۍ او صداقت سره د هر شي په اړه صمیمانه خبرې کولی شې. هغوی ریښتیا ویونکي ستایي او د شخصي نېکیو له ډلې یې ګڼي.

اما له ملګرو څخه تلون او ځانته کېدل بېل سکالو دی ځکه اې زردشته! کله چه په ځنګله کې ولاړ وې، ورک وې او نه پوهېدې چه په کومه لار لاړ شې؛ په یاد د دي؟ تا ته نېږدې یو جسد پروت وو او مرغه د له بره چیغه وکړه او تا ورته ووېل: "پرېږده چه وحشیان مې لارښوونکي شي ځکه له وحشیانو څخه مې د خلکو په منځ کې ډېر خطرونه ولیدل."همدا خبره دې د تلون او ځانته کېدو نښه وه.
کله چه پخپله جزیره کې ناست وې او د شرابو د چینې پشان په خالي جامونوکې د قرار درلود. خرڅ دکولو او په ترږو د ډالۍ وېشلې، آیا هغه د په یاد دي؟ بلآخره ته د یو شمېر مستو خلکو په منځ کې یواځې تږی پاتې شوې، غمجن شوې او داسې د ووېل: "آیا اخیستل له ورکولو غوره ندي؟ او حتی غله کول له اخیستلو غوره ندي؟" دا هم ستا د تلون او ځانته کېدو نښه وه.
اې زردشته په یاد د دي ستا تر ټولو آرام ساعتونه راورسېدل او ته یې له ځانه وترټلې. کله یې چه تا سره خبرې کولې په شیطانت سره یې د غوږ کې ووېل: "خبرې وکړه او ځان ټوټه ټوټه کړه!"کله چه هغه ته له صبر کولو او سکوت څخه بېزارولې ته یې وشرمولې؛ هغه هم تلون او ځانته کېدل وو.
اې یواځېتوبه، اې زما دکور یواځېتوبه ستا غږ څومره خوږ او نرم دی له ما سره خبرې کوي!
مونږ له یو بل څخه پیروي نه کوو او یو بل نه وېشو بلکه بې تکلیفه یو له بل سره له خلاصو ورونو تېرېږو ځکه د نته ټول څیزونه روښانه او ښکاره دي. حتی ساعتونه هم په سپکو پښو دلته منډې وهي ځکه په تیارو کې د وخت بار له رڼاوو څخه ډېر دي.
دلته کلمې او د ټولوکلمو د شتون دفن کوونکی ناڅاپه زما مخته راځي. دلته ټول (شتون یا هستي) غواړي خبر شي او په ژبه وګرځي او ټول (کېدل) هڅه کوي له ما څخه خبرې زده کړي. اما هلته ښکته هر ډول مجلس بې ګټې دی. هلته عقل وایي انسان هېرکړه او تېر شه. واقعا ما نېکي زده کړې ده. هغه کس چه غواړي په انسان کې په ټولو څیزونو پوه شي باید د ټولو سره په اړه یکه کې شي. اما تر دې دمه زه د دې کار لپاره بې حده پاک یم.

هېڅ مې نه خوښېږي چه د دوی نفس استنشاق کړم. افسوس د دوی په شور، جوش او چټلو نفسونوکې مې بې حده وخت تېرکړی دی! اې زما چاپېر خوندور آرامښته! اې زما چاپېر پاک بویه! اخ دا آرامښت له عمیقو سږو څخه څه پاک نفسونه رابهروې! او دا د روح آرام څومره ښه غوږ کېږي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلته ښکته ټول څيزونه خبرې کوي او د ټولو خبرې خوشي چتې اوربدل کيږي. که څوک خپله پوهه په زنګ راوړي دکانداران يې غبر په بازارکې د مسينو سکو په وسيله چوپ کوي. هلته ټول څيزونه خبرې کوي اما هېڅوک نه پوهيږې چه خبرې يې څه ډول درک کړېدي. ټول څيزونه په اوبوکې لوېږي اما هېڅ شی ژورو ځاګانو ته نه لوېږي. هلته ټول څيزونه خبرې کوي اما هېڅوک خپل مقصد ته په رسېدو نه بريالی کيږي. ټول کړت کړت کوي اما څوک شته چه پخپلو ځالوکې په هګيوکښينې ګرمې يې کړي تر څو بچيان شي؟

هلته ټول شيان خبرې کوي اما ټول څيزونه په خبروکولو ټوټې کيږي. کوم شی چه پرون خپله د وخت او غاښونو لپاره ډېر سخت وو نن ژوول شوي او واړه شوي د خلکو له خولو بېرون توييږي. هلته ټول څيزونه خبرې کوي او ټول شيان رسوا کيږي. کوم څه چه يو وخت د عميقو ارواګانو رازونه وو نن دکوڅو خبرې شوېدي.

اې عجيب بشره! ته په تياره کوڅوکې شور جوړوې، اوس يو ځل بيا ته زما په څټ کې قرار لرې او تر ټولو ستر خطر مې تر شا دی. زما لوی خطر تل په ښښلو او زغملوکې وو. هر ډول بشر د هغو غوښتونکی دی تر څو هغوی ته ښښل وکړي او تحمل يې کړي.

د نا ويلو حقايقو، د جاهلو، دروغجنو او بې ارزښته رحم په وړاندې رحم داسې دی لکه زه چه تل د خلکو په منځ کې واوسېدم. زه د هغوی منځ کې په بدلو جاموکې کښېناستم. پداسې حال کې چه تل حاضر وم انکارکوم او وهغوی تحمل کړم. ځان پدې قانع کوم: "اې احمقه ته خلک نه پېژنې!"

کله چه څوک د خلکو په منځ کې ژوندکوي پېژندل يې هېروي، د ټولو خلکو په مخ کې ستر خان شتون لري. دوربينه او متجسسې سترګې دلته څه کولی شي؟

کله چه دوی زه ونه پېژندم د حماقت له امله مې ور ته له حده زيات څه ور وبښل ځکه په ښښلو معتاد شوی وم او د ځان لپاره ډېر سخت وم. له ځانه مې د دې ښښلو لپاره څومره ډېر غچ اخيستی دی.

پداسې حال کې چه سر او پښې مې زهرجنو حشراتو چيچلي وو او لکه تيره د شرارت اوګناهونو د ځاځکو له امله سوری شوی وم د انسانانو په منځ کې کښېناستم او ځانته مې ووېل: "ناچيز او بې مقداره شی په خپله ناځيزۍکې بې ګناه دی."

په ځانګړي ډول هغوی چه ځانونو ته ښه وايي له ټولو زهرجنو غوماشو څخه مې ډېر زهرجن ومونديل. هغوی په بشپړه بې ګناهۍ سره چيچ کوي او دروغ وايي. هغوی څرنګه زما په وړاندې عادل کېدلی شي؟

څوک چه د غوره او ښو خلکو په منځ کې ژوندکوي دروغ ويل د ترحم په وسيله زده کوي. رحم د آزادو ارواګانو لپاره تنګوي ځکه د ښو خلکو حماقت ډېر عميق دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ښکته ځایونوکې مې زده کړل چه باید خپله دارايي او مال پټ وساتم ځکه ټول د روح په دليل فقير او غريب راته ښکاره شول. زما د ترحم دروغ دا وو چه ټول مې يو يو پېژندل او په سرعت سره مې په هغوی هر يوه کې هغه څه چه د روح لپاره يې د تحمل څخه زيات وو وليدل او استشمام مې کړل.
د هغوی مصنوعي او وچ عاقل خلک مې عاقلان ونومول او پدې ډول مې د لغاتو چټلول زده کړل. د هغوی قبرکيندونکي مې محققان او څېړونکي ونومول او پدې ډول مې په لغاتو فرېب کول زده کړل. قبرکېندونکو د ځان لپاره له هديرو څخه ناروغۍ رابهرکولې او د اشغال دانيو لاندې په متعفن بويونوکې پراته وو. انسانان بايد د چټلو اوبو ډنډونه وران نکړي او بايد په غرونوکې واوسي.
په بختورو پوزو يو ځل بيا د غرونو آزادي استنشاق کوم. بلاخره زما پوزې د انسانانو له بويه خلاصې شوېدي. د جوش شرابو پشان د تېز شمال له امله مې پوزې خارښت کوي او روح مې پرنجېږي. روح مې پرنجېږي او په خوشحالۍ سره چيغې وهي: "خدايه ما ته برکت راکړه!"

## د دريو بديو په اړه:

د نن ورځې سهار په آخروکې مې خوب ليدا چه د جهان په څنډه ولاړ وم او تله مې په لاس کې وي نړۍ مې اندازه کوله. افسوس ګهيځ دېر زر پر ما راغی! هغه حاسد زه له خوبه ويښ کړم او تل زما په سهارنيو خوبونوکينه کوي.
په خوب کې مې نړۍ د هغو لپاره د وزن کولو وړ وليده چه وخت لري او د هغو لپاره مې د توزين وړ وګڼله چه په وزن کولوکې مهارت ولري. همدارنګه د ممتازو معما پېژندونکو لپاره مې د قوي وزرونو په لرلو سره د لاسرسي اوکشف وړ وموندله.
زما خوب دې بې باکه سمندرګرځېدونکي، د نيمې کښتۍ او نيم ګرد باد پشان چه د شاپرک په رقم چوپ او د شاهين په رقم لېواله دی نن د څه له امله دومره صبر او فرصت پيدا کړی چه نړۍ اندازه کوي؟
آيا زما خندان او نوراني هوښيار عقل چه ټول بې انتها جهانونه تر مسخرو لاندې نيسي هغه ته ورو خبرې وکړې؟ ځکه وايي: "چېرته چه زور وي هلته (شمېر) حکمران کيږي ځکه چه ډېر قوت لري." پداسې حال کې چه له هېڅ شي څخه يې وېره او غوښتنه نه درلوده زما خوب ځومره باورې او په کنجکاوۍ سره دې محدودې نړۍ ته وکتل.
د يوې پخې، رنګينې، نرمې او لطيفې مڼې پشان يخ يې چه زما لاس کې راکړی وي نړۍ يې ما ته راکړه. د هغې کلکې او پراخه څانګو لرونکې ونې پشان چه ځان يې د سرګردانو خلکو لپاره ځاي ناستی کړی وي، خپله نړۍ يې ما ته راکړه.
پدې ډول نړۍ زما په مخکې برقراره شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه صندوق چه د جواهرو څخه ډک وي او سر يې د خجولو او تحسين کوونکو سترګو د خوند لپاره په مخ خلاص وي لطيف او ظريف لاسونه يې ما ته ډالۍ کړي. په همدې ډول نن ورځ نړۍ خپل ځان ما ته تقديم کړ. دا نړۍ دومره معما درلودونکې هم نه وه چه بشري مينه ووېروي او نه هم داسې د حل لاره وه چه بشري عقل په خوب يوسي. دا جهان چه په اړه يې بدې خبرې وايي نن زما لپاره غوره او بشري شی وو. له نني سهارني خوب څخه مې ډېر منندوی يم څکه د هغه په وسيله مې نن ګهيځ نړۍ وزن کړه. دا خوب زما د زړه تسکين کوونکي او يو ښه بشري څيز په ښه را ته ظاهر شو.
د دې لپاره چه وکولی شم په رڼا ورځ کې هم هغې ته ورته څه تر سره کړم د خوب تر ټولو غوره برخه مې اولګو ټاکم. همدا شېبه درې تر ټولو بد څيزونه په تله کې ږدم او په بشري غوره ليد سره يې وزن کوم.

چا چه دعا کول زده کړی لعنت ويل يې هم تدريس کړل: "د نړۍ تر ټولو لعنتي درې څيزونه څشی دي؟ زه غواړم همدا په خپله تله کې د وزن کولو لپاره کېږدم. شهوت پرستي، قدرت غوښتنه او ځان غوښتنه تر دې دمه دا تر ټول لعنتي، بدنام او بد دری څيزونه دي. غواړم دا درې څيزونه په بشري ډول ښه وتلم!
نو راپورته شئ! دلته زما د غره لمن او هغه سمندر دی يعني هغه ستر، زوړ او سل سره وفادار سپی په متملق ډول چه زما محبوب دی په لوېدو او ځښېدو سره زما طرف ته راځښېږي.
نو راجګ شئ! دلته زه د مست سمندر په سر تله دلته تله نيسم او د وزن کولو او سنجولو لپاره يې شاهد هم ټاکم. هو اې خوښبويه، منزوي او د پراخه ځانګو درلودونکې ونې تا د توزين د نظارت کولو لپاره ټاکم.
دکوم پله په وسيله به (اوس) پر (يوه ورځ) پيوست شي؟ دکومې مجبورۍ له امله به (عالي) د (ادنی) په مخ کې قدم ټيټ کړي؟ هغه څشی دي چه حتی ډېر لوړ د جګوالي په طرف نمو ته هڅول کوي؟
همدا اوس تله هم سطحه او بې حرکته ده. ما درې درانه سوالونه پکې اېښي دي او دريو سنګينو ځوابونو په بله پله کې ځای نيولی دی.

۲

شهوت پرستي د ټولو وېښتان لرونکوکاليو اغوستونکو لپاره د اغزو په اندازه، د ځينو لپاره د دار پشان او د نورو جهانونو د پيروانو لپاره خپله د نړۍ پشان د نفرت او طعنې وړ ده ځکه شهوت پرستي ټول اشتباه او شورشي تدريسوونکي ريشخندوي او فرېب ورکوي. شهوت پرستي د ولګردانو لپاره ملايم اور دی او دوی ګرموي. د هر ډول چنجن لرګي او تنور د زړو متعفنه ټوټو لپاره شهوت حاضر او تيار دی. شهوت پرستي يواځې د مړاوو او رژېدلو لپاره خواږه زهر دي اما هغه کسان چه د زمري اراده لري د زړه قوي کېدو درمل او زاړه شراب ورته د پاملرنې وړ دي. شهوت پرستي تر ټولو لويه نېکبختي، سعادت او د هيلې ډېره لوړه مرتبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده ځکه د ډېرو لپاره چه ځانونه يې ورته د سړي له غرابته د ښځې په نسبت ډېر غريب دي؛ يوه ډله واده او حتی بله ډله له واده زيات دي. څوک شته چه پوه شي ښځه څومره د سړي پر وړاندې عجيبه ده.

د شهوت پرستۍ له امله زه پخپلو افکارو اوکلمو محدوده ودانم، هسې نه چه خوګان زما با غ ته داخل شي. قدرت غوښتنه د ډېرو سخت زړو خلکو اورجنه بلا او زښته ډېر بې رحمه عذاب دی چه سخت زړي او کلک خلک يې د ځان لپاره ذخيره کوي. همدارنګه د لرګيو وحشي لمبه ده چه د خلکو د سوځولو لپاره استعماليږي. قدرت طلبي هغه مؤذی د خره مچ دی چه د هيلو او مدعا څخه ډکو خلکو باندې په سپين سترګۍ کښېني او د ټولو نامعلومو تقوا ګانو طعنه کوونکی دی چه په هر آس او هر تکبر سپريږي. قدرت غوښتنه هغه زلزله ده چه ټول خراب او فاسد څيزونه ماتوي او له منځه يې وړي. د سپينو هديرو ماتونکې او د هغه سوال نښه ده چه د بې ځوابه سوالونو په مخکې قرار لري.
قدرت طلبي په ستره کرکه کې هغه برخمنه ښوونکې ده چه د امپراطوريو په صورت کې په ښارونوکې چيغې وهي: "ورک شئ!" بلآخره يې غبر منعکس کيږي او داسې وايي: "ورك او نابود د شو!"
قدرت غوښتنه په ټول خوږوالي سره د سپېڅلو، منزويانو او د نفس د رضايت ارتفاعاتو ته صعود کوي. د مينې په بڼه په ټول خوږوالي سره ځمکې ته سور رنګه نېکبختۍ ورکوي او ځليږي. څوک هغې ميل ويلای شي کله چه ټول حتی غټ خلک يې هم په وړاندې سرونه ټيټوي؟

واقعا پدې ډول لېوالتيا او تواضع کې هېڅ ډول ناروغي او عيب شتون نلري. ځکه د هغه منظور دا دی چه ارتفاعات تر ابده په يواځېتوب او د نفس په رضايت کې پاتې شي. غرونه د درو په طرف ښکته راشي او د ارتفاعاتو بادونه په جلګوکې ولګيږي.
څوک دې ډول هيلمندۍ ته صحيح لقبونه او نومونه پيدا کولای شي؟ "هغه تقوا چه ببنل کوي"، دا هغه څه دی چه زردشت يو ځل (د ويلو نه وړ) بللي وو.
هغه وخت داسې پېښه رامنځته شوه او د لومړي ځل لپاره کلمې او بشپړه سالمه ځان پرستي چه له لوی روح څخه يې سرچينه اخيسته ودرېده.د دې لوی روح ګرد چاپېر ټول څيزونه د هېنداري حالت لري، په مايل ښکلي، فاتح او خلق کوونکي جسم پورې اړوند دي. همدارنګه د انحنا وړ، قانع کوونکی، رقاص دی او ظاهري بڼه يې خوښه او خندانه ده. د دې ډول اجسامو او ارواګانو خوشالۍ ته دوی د (تقوا) لقب ورکوي. د نفس دا ډول خوشالي ځان په ښو او بدوکلمو سره پخپلو باغونوکې محاصره وي او د سعادت په نوم هغه څه چه د حقارت وړګرځي له ځانه شړي.

څه چه بزدل او ډارن دي نوموړی له ځانه لرې ساتي او وايي: "بد شی هغه دي چه ډارن وي." د سپکاوي وړ هغه څيزګڼي چه تل غم لري او اسوېلي کوی وايي هغه کس بدبخته دی چه له ډېرکوچيني موقيعت څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم استفاده‌کوي. هر ډول عقل چه په بدخبتۍ‌کې غوټې خوري هغه ترې متنفر دی ځکه واقعا داسې عقل هم موجود دی چه په تیاروکې نموکوي. دا ډول عقل چه د شپې په سیوري کې نموکوي تل په آه او فریاد سره داسې وایي: "ټول څیزونه بې‌ګټې دي." اما شرمساري، بې اعتمادي او هر هغه څه چه قسم ته په‌کتو او لاس ورکونه ترجیح ورکوي د نفرت وړګڼي. همدارنګه هر ډول بې اندازې بې باوره عقل دوښمن‌ګڼي ځکه دا د بزدله او ډارنو ارواګانوکار دی.

کوم‌کس چه ډېر په تېزۍ سره د نورو په خوشالۍ او مننډوی‌کولوکې دی د هغه سپي پشان دی چه فورا په څټ ویده‌کیږي او پښې هوا ته نیسي او ډېر د نفرت وړګرځي. داسې پوهه هم شته چه مطیع، متقي ده او په سپیتوب سره د نورو خوشحالولو په فکرکې ده.

نوموړی له هغوکسانو چه ،د ځانه دفاع نه‌کوي، چه زهرجن چټیات او شریرانه‌کتل زغمي، چه وروځې نه برګوي، څوک چه له حده ډېر صبرکوي، له حده ډېر رنځ زغمي او بې حده ډېر تسلیمیږي ترې بېزار دی او کرکه ترې‌کوي ځکه دا د غلامانو رسم او لار ده.

کله‌کله څوک د خدایانو او رباني رکابونو په مقابل‌کې معبودیت او بندګي اختیاروي، کله‌کله د بشر او احمقانه بشري عقایدو پیروي‌کوي. دا مبارکه ځان پرستي په ټولو ټېرونو او ډول ډول بندګانو لاړې توف کوي. دا ځان پرستي هر څومره‌که شا ټیته او په‌ګونډو شي بیا په نیمه خلاصو غیر آزادو سترګو، درانده زړه اوکاذبه پیروۍ سر په مختلفو ټېرونو چه په لویو شونډو زیارت (عتبه) ښکلوي، بد وایي.

د بندګانو او پیروانو ټولو مسخرو او په ځانګړي ډول سره دکشیشانو له حده زیات حماقت ته د دروغجن علم نوم ورکوي. اما افسوس چه دې ټولو دروغجنو پوهانو،کشیشانو، هغوی چه له جهانه ستړي دي او هغوی چه لکه د ښځو او غلامانو پشان روح لري ټولو ځان پرستي په غلطه تعبیرکړېده. دې ځان پرستۍ، دې ناسم‌کارولو ته هغوی غواړي د تقوا نوم ورکړي او تقوا یې وګڼي. دا بزدلان، له نړۍ څخه بېزاره او د صلیب غڼې غواړي چه (بل غوښتونکي) واوسي.

اوس په ټولو باندې ورځ راتلونکې ده، اساسي بدلون راتلونکی دی؛ عدالت او لویه غرمه رارسیږي. هغه وخت دی چه ډېر څیزونه باید ښکاره شي. هغه‌کس چه نفس پاک سپېڅلی او ځان پرستي له برکته ډکه‌ګڼي واقعا هغه څه وایي چه نوموړی پرې پوه شوی دی او پوه دی. وګورئ لویه غرمه په لاره ده او رانیږدې شوېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ثقل د روح په اړه:

زما ژبه د خلکو ژبه ده، زه تېزې او خشنې خبرې کوم اما خبرې مې د سويو او او وحشي پيشوګانو په غوږونو عجيبې لګېږي. زما لاس د ټولو هغو لېاره احمق لاس دی چه په تختو، دېوالونو او آزاده هوا يې خرچنګ او د ځونګښو احمق رسمونه کړي وي. زما پښې د آس زهر دي چه د تيږو او ونو په ټوټو باندې د آس پشان په مزرعوکې د تېز او بې قراره عاشق پشان دې طرف او هغې طرف ته ځم.
معده مې لکه د عقاب معده داسې ده ځکه له هر څه ډېره يې د مېږې غوښه خوښېږي. لدې خاطره دا ډول معده بايد د عقاب معده وبلل شي. پداسې حال کې چه له معدودو او بې ګناه ځيزونو څخه تغذيه کوم، تل الوتو ته حاضر او بې قرار يم غواړم لېرې فاصلو ته آلوت وکړم. زه همدا شېبه دا ډول يم څرنګه ممکن دی چه د الوتونکو له لارې او روش څخه کوم شی زما په لار او روش کې ظاهر نشي.
له هر څه ډېر د روح د ثقل دوښمن يم. الوتونکو ته ورته يم ځکه دا لاره او رواج د الوتونکو دی او واقعا دا د ثقل روح زما د وينې دوښمن، ستر دوښمن او له موره زيږېدلی دوښمن دی. زما دا ګمراه دوښمن چېرې دی چه تر اوسه يې پرواز ندی کړی؟

زه کولی شم پدې هکله سندر ووايم او حتی که چېرې په يوه کورکې يواځې وم او اړينه وي چه خپله يې ځانته ووايم دا سندر به ووايم. ريښتيا ده نور داسې سندرغاړي هم شته چه کله کور ټول له خلکو ډک وي حنجره يې نرمېږي او لاسونه يې خبرې، سترګې يې روښانه او زړونه يې ويښېږي اما زه هغوی ته نه يم ورته.

۲

ځوک چه فکرکوي يوه ورځ انسانانو ته الوت ورزده کړي بايد لومړی هر ډول د پولو تيږې په ځمکه کې له منځ يوسي. په ځمکه کې ټولې تيږې او د پولو نښې به وزر وکړي په الوتو به راشي. هغه وخت به ځمکې ته د هماغه سړي په وسيله د تعميد نوی غسل ورکړل شي او د (سپک موجود) نوم به پرې کيږدي.

شتر مرغ له هر ډول آس څخه تېزې منډې وهي اما سر يې په سنګينۍ سره د ځمکې په لور ښکته کوي. د هغه سړي کار چه تر دې دمه يې الوت ندي زده کړي همدا ډول دی. ځمکه او ژوند هغه ته دروند دی ځکه د روح ثقل همداسې غواړي اما ځوک چه لکه مرغه سپک شي بايد له ځانه سره مينه ولري. دا هغه څه دي چه زه يې تعليم ورکوم. البته نه په رنځور او ناروغ عشق سره ځکه پدې ډول کسانو حتی ځان پرستي هم فاسده شوې او خوسا بوی کوي.

هرکس بايد زده کړي چه څرنګه له ځانه سره په بشپړ او سپېڅلي ډول مينه ولري، ژوند د زغم وړ وګڼي او سرګردان ونه اوسي. زه دا تعليم تدريسوم. دې ټولو خپلو سرګردانيو ته يې دګاونډې سره د مينې نوم ورکړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی. همدا نړۍ چه ورته درنه پرېوتې دا ورته تر ټولو غوره فرېب او دروغ دي او تر دې دمه يې په منځ کې ساري دي. واقعا د نفس سره د مينې لرلو زدکړه د نن او سبا لپاره دستور ندی بلکه د ډېر غوره، له کړاو او صبره ډک آخري هنر دی.

څوک يې چه درلودونکی دی، هغه څه چه لري کاملا مخفي دي. دا د ځان غوښتنې څاه له ټولو هغو څاګانو څخه وروسته اماده کېږي کوم چه د خزانې د پټولو لپاره کيندل دي او دا د ثقل د روح کار دی. حتی کله چه مونږ په زانګوکې وو مونږ ته سنګين ارزښتونه اوکلمې راکوي او دې جهيزيې ته (نېک او بد) وايي. د همدې جهيزيې له امله موږ ته د ژوندکولو اجازه راکوي.
د دې مقصد لپاره ماشومان ځانته بولي تر څو په موقع يې د ځان له مينې لېرې وساتي او دا هم د ثقل د روح کار دی. موږ هر هغه څه چه د جهيزيې په نوم اخيستي په بشپړه وفادارۍ سره په صعب العبوره غروکې په اوږو وړو. که چېرې د دې درندو بارونو لاندې خولې وکړو او ستړيا حس کړو مونږ ته ويل کيږي: "هو د ژوندون د بار زغمل سخت دي."
اما يواځې انسانان دي چه حمله يې مشکله ده ځکه له ځان سره نور ډېر څيزونه انتقالوي. د اوښ پشان خې کيږي هغه سنګين بار چه پر اوږو يې اېښودل کيږي تحمل کوي. په ځانګړي ډول سره هغه کس چه ډېر زور ولري او د دې بار په وړلو قادر وي د ټولو د احترام وړګرځي. نوموړی پخپلو اوږو ډېرې خبرې، سنګين او عجيب ارزښتونه حمل کوي. اوس د نوموړي په نظر ژوند يوې بې اوبو او بې وښو دښتې ته ورته دی. واقعا هم ډېر څيزونه چه پر انسان اړوند دي تحملول يې ډېر سخت دي. همدارنګه د انسان ډېر باطني څيزونه د صدف باطن ته ورته دي يعني زشت، لړزاند او فرار دي.

لکه څنګه چه يو ممتاز صدف د يو ممتاز قيمتي څيز لرونکی دی مجبور دی چه لدې وضعې شکايت وکړي اما د صدف لرلو هنر، يوه ظاهري ښکلا او يو عاقلانه کوښتوب زده کولو ته هم محتاج دي. بيا هم د بشر په وجود کې ډېر فريب ورکوونکي څيزونه شتون لري. پدې ترتيب ډېر صدفونه ټنبل او پست دي او له بل هر شي څخه ډېر نرم دي. د بشر د مينې او پټې قوې عمده برخه هېڅکله نه کشف کيږي. همدارنګه تر ټولو غوره او قيمتي خوراکي څيزونه يې هېڅ خوړونکی نه پيدا کوي!
ښځې دا صدفونه ډېر غوره ګڼي، دا مسئله يې ډېره ښه درک کړې او پوهيږي چه د هغوی مقدارونه څه ډول په ناقابله ناچيزه مسئلو، يو څه ډنګرتوب او يا يو څه چاغتوب پورې تړلي دي.

د انسان پېژندل سخت دي اما لدې څخه ډېر سخت خپله انسان ته د ځان پېژندل اوکشفول دي. تر ډېره فکر د روح په هکله دروغ وايي او دا د ثقل د روح کار دی اما چا چه ځان کشف کړی دی وايي: "دا زما ښه او بد دي، پدې ترتيب سره يې هغه لنډ قدی اوکيني کبر چوپ کړي او وايي: "ښه د ټولو لپاره او بد د ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره."

واقعا هغه کس مې نه خوښېږي چه ټول ځېزونه ښه او دا نړۍ تر ټولو غوره ممکنه نړۍ ګڼي او دوی ته (له ټولو ځېزونو راضي) نوم ورکوم. زه د ټولو ځېزونو څخه د راضي کس سليقه چه ټول شيان حتي نه خوښوم اما هغه سرسختې او مغرورې ژبې او معدې مې خوښېږي چه (زه، هو او نه) يې زده کړې وي.

د ټولو ځېزونو ژوول او تېرول د خوګانو رسم او رواج دی او عر عرکول يواځې هغه څه دي چه خره او هغه ته ورته موجوداتو زده کړي دي. پوخ زېړ او اورجن سره زما سليقه خوښوي او وينه له ټولو رنګونو سره مخلوطوي اما هغه کس چه کور يې سپين کړی ما ته ځان افشا کوي.

ځينې په موميايي شوو مينېږي او ځينې نور د ارواګانو عاشقان کيږي؛ دواړه د غوښې او وينې دوښمنان دي. عجيبه ده د دوی سليقه څومره زما له سليقې سره توپير لري! ځکه زه له وينې سره مينه لرم. چېرته چه ټول خلک توف کوي او دروغ وايي هلته به هېڅکله ژوند ونکړم، دا مې سليقه ده. په مراتبو غوره ګڼم چه د غلو او مکارو په منځ کې ژوند وکړم ځکه هېڅوک طلا پخپله خوله کې نه حمل کوي.

اما زما لپاره د لاړو څټل ډېر ناوړه دي او تر ټولو بدبخته حيوانات مې چه تر دې دمه پېژندلي چاپلوسان دي. هغوی له چا سره مينه نلري اما غواړي په مينه ژوند وکړي.

هر څوک چه مجبور دي د لاندې دوه ځيزونو په منځ کې د يو وټاکي يعني يا يو شرير حيوان شي او يا هم د حيواناتو يو شرير رام کوونکی شي خو زه د ناشکره نوم ورکوم. د دې ډول کسان په مرسته هېڅکله نه غواړم چه خپل معبد بنا کړم. همدارنګه ټول د ميخانو څښتن، دکانداران، او ټول د ځمکو ساتونکي چه تل انتظار ته مجبور دي بدبخته بولم. دوی ټول زما د خولې خوند راخرابوي.

په ريښتيا ما هم انتظارکول او صبرکول بشپړ زده کړيدي اما يواځې د ځان انتظارکول او صبرکول مې زده کړيدي. همدارنګه زده کړي مې دي چه په هر شي ودرېږم، په لار لاړ شم، منډه وکړم، الوت وکړم، صعود وکړم او وګډېږم. دا زما شريعت دی: هر څوک چه غواړي الوت زده کړي لومړی بايد دريدل، په لار تلل، منډه وهل، صعودکول اوګډېدل زده کړي.

هېڅوک آلوتل په آلوتلو نشي زده کولی!

په طنابي زينو باندې مې له پنجرو څخه ډېر لوړ تګ زده کړ او په تېزو چالاکو پښو له لوړو ستونو څخه پورته لاړم. لکه يوه کوچينۍ نېکبختي د پوهې په لوړو څوکو د ستونونو په سرکښېناستم. تر څو په هغه لوړو څوکو لکه دکوچيني اور شغلې وکړم.

مګر پدې ټولو سربېره د هغو سمندرګرځېدونکو لپاره چه له لارې څخه يې منحرف شوي اوکښتي ماتوونکي دي ستره تسلې وه اما زما لپاره کوچينۍ نېکبختي نه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ګډوډو لارو او عجیبې طریقې سره زه خپل حقیقت ته ورسېدم؛ یواځې د یوې زینې په وسیله مې داسې ارتفاع ته صعود وکړ چه سترګو مې ډېر لرې ځایونه لیدل. تل مې په ډېره ناهیلۍ له نورو څخه د لارې تپوس کړی دی او دې کار تل زما د خولې خوند خراب کړی دی. تل مې هڅه کړې چه لار خپله له لارې ومومم او له ازمویلو څخه یې خپله لار پیدا کړم.

ټول سفر مې بې له یوې پوښتنې او ازموینې بل څه نه وو. واقعا یو شخص باید دې ډول پوښتنو ته ځوابونه هم زده کړي ځکه دا زما د سلیقې او ذائقې سره موافقت دي. او دا نه ښه دي او نه هم بد بلکه زما سلیقه ده. که هر څه وي زه نه پرې شرمیږم او نه یې له چا پټوم. دا زما لاره ده، ستاسو لارکومه ده؟ دا د هغوکسانو لپاره ځواب دی چه زما د لارې پوښتنه یې کړېده ځکه لار او طریقه په فرد پورې منحصره نده.

## نوي او زاړه جدولونه:

### ۱

دلته زه د نویو نیمه تمامو جدولونو او تختو په منځ کې ناست یم او انتظارکوم. څه وخت به زما ساعت راورسیږي؟

زما د نزول او پناه ساعت به څه وخت راورسیږي؟ ځکه کېدای شي بیا هم د انسانانو په طرف راوګرځم.

زه د دې ډول ساعت لپاره انتظارکوم ځکه لومړی باید داسې نښې ووینم چه زما د نزول د وخت په رارسېدو دلالت کوي او دا نښې له یو خندان زمري او یوې ډلې کوترو څخه عبارت دي. او د دې وخت تر رارسېدو پورې له ځان سره خبرې کوم. هېڅوک ما ته اطلاع نه راکوي نو لدې امله پخپله ځانته د هغو اطلاع ورکوم.

### ۲

کله چه د انسانانو په طرف راغلم هغوی مې د خپلې بې عقلۍ په تخت ناست ولیدل او واړو فکرکولو چه له ډېره وخته په ټولو هغو څیزونو پوهیږي کوم چه د بشر لپاره ښه او بد دي. د تقوا په هلکه هر ډول خبرې ورته قدیمي او پخوانۍ ښکارېدې او هر چا به چه غوښتل آرام ویده شي مخکې له خوبه یې هم د ښو او بدو په اړه خبرې کولې.

تر اوسه څوک نه پوهیږي چه ښه او بد څه دي مګر پخپله باید خلق کوونکی وي؛ د دې شریعت په تدریسولو سره مې دا خوب له منځه یووړ. اما خلق کوونکی هغه څوک دی چه د بشر لپاره هدف وټاکي او ځمکې ته مفهوم او راتلونکې ورکړي. نوموړی لومړی د ښو او بدو امکانات او بیا دوی منځته راوړي.

زه دوی د پخوانیو چوکیو او ټولو هغو تختونو د ورانولو لپاره راجګوم چه پخوانۍ ګستاخۍ پرې ناستې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه دوی د تقوا د ستر استادانو، سپېڅلو، شعراوو او د خپلې نړۍ نجات ورکوونکو پر وړاندې خندا ته دعوت کوم.

دوی د دې ټولو ریشخندکولو ته راغواړم: د سترو پوهانو، تور زړو حکیمانو او هر هغه څوک چه لکه کڼاخ د دوی په مخ کې ناست دي او د ژوندون ونې ته له نیږدې کېدو څخه یې وېروي. زه د هغوی د لویانو د هدیرو په لاره کې ناست یم؛ هو مردارو او لاش خوړنوکو ته نیږدې کښېناستم او په ټولو پخوانیو او فاسد او خوسا عظمت پورې مې وخندل. واقعا لکه د توبې واعظان او احمقان داسې د دوی په لویو اوکوچنیو څیزونو غوصه شوم او د دوی ورکېدل مې وغوښتل. اما د دوی ښه او بد څیزونه مې ډېرکوچیني، بېکاره او بې مقدار وګڼل او له همدې امله مې خندا ته زور ورکړ.
لدې خاطره زما په باطن کې عاقله لېوالتیا چه په غرونوکې زیږېدلې په وحشي عقل سره پخپلو ټولو لوړو څوکو او سرونو خندا او ژړا دواړه وکړل. زه یې ډېرو لېرې او لوړو ځایونو ته وړی یم او دا کار یې هم د خندا په جریان کې کړی دی. هغه وخت یې داسې اظهاروله چه زه لړزیږم او لکه غشی چه په خوشالۍ له لمره تېر شي او په سرعت سره یې د دومره لرې راتلونکې په لور وشړم چه چا په خوب کې هم لا نده لیدلې. له هغو څخه ډېرګرم جنوب ته یې انتقال کړم کوم چه نقاشانو یې په ډارکې تصور کړی دی او داسې ځای ته چه هلته شرمېدونکو خدایانو بې جامو لوڅ رقص کولو لاړم. (پدې ترتیب زه د شاعرانو پشان په اشارو خبرې کوم او ځنډکړم ژبه نیسم او ریښتیا شرمیږم چه شاعر یم!)

هو هغې ځای ته لاړم چه (ټول کېدل) زما په نظر لکه د بې شرمه خدایانو یو رقص داسې ښکارېدل او آزاد شوی خوښۍ ښښونکی جهان لکه له ځانه تېښته او ځانته راګرځېدنه په زرګونو ځله خدای د ځان په طرف غواړي.
هغې ځای ته لاړم چه ټول وخت یې زما په نظر مبارکه بې اعتنایي د شېبو په وړاندې کوله. اجبار له آزادۍ سره یو وو او د آزادۍ له نېش سره یې په بشپړه نېکبختۍ سره لوبې کولې. داسې ځای ته لاړم چه یو ځل بیا مې خپل اصلي او قدیمي ابلیس دوښمن یعني د ثقل روح پکې ولید. چېرته چه نوموړي جبر، قانون، الزام، پایله، مقصد، اراده، ښه او بد پیدا کړي وو.

آیا داسې ځای باید نه وي چه رقاص پکې وګډیږي؟ او آیا د رڼا راوړو او رڼا ساتلو لپاره بایدکبرکینی او لنډقدي کسان شتون ونلري؟

۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلته مې پر نورو څيزونو سربېره د (ستر سړي) کلمه واورېده او پوه شوم چه بشر بايد لوړتيا ومومي. بشر مقصد ندی پل دی او هغه د خپلې غرمې او غروب څخه خوند اخلي کوم چه ګهيځ ته د رسېدو وسيلې دي.

د لويې غرمې او نورو څيزونو په اړه د زردشت خبرې: ما خلکو ته غروب په سره بڼه مستقرکړ.

واقعا هغه مې د نويو ستورو او شپو په ليدو مجبور کړی او په وريځ، ورځ، شپه او ټولو ځايونو مې يوه د خندا رنګه پرده پرېښوده.

نوموړي ته مې ټولې هغه هيلې او خپل خيالونه ورزده کړل چه څرنګه په يو انسان کې د بدې پېښې او معما په بڼه رامنځته کيږي، يو له بل سره متصل کړل او زده مې کړل.

د يو شاعر په شان، د يو ستونزې حلوونکي پشان او د پېښو د يو منځګړي پشان مې هغه ته ورزده کړل چه څرنګه د راتلونکې لپاره کار وکړي په همدې ډول سره خپله ټوله پخوا بيا وپېږي. هو، انسان د پخوا بيا وپېږي او هر (داسې وو) ته د نوی ارزښت ورکړي تر څو چه اراده يې ووايي: "اما ما داسې غوښتل او داسې به وغواړم."

دې ته ما نجات ووېل او دا مې يواځې هغه ته ورزده کړل چه خپل نجات يې وګڼي. اوس د خپل نجات په انتظار ناست يم او غواړم د اخر ځل لپاره د خلکو منځته لاړشم ځکه بيا هم غواړم د هغوی په منځ کې واوسم. زما غروب او مړينه به د خلکو په منځ کې وي. زه هغوی ته خپله تر ټولو قېمتي ډالۍ ورکوم.

دا مې د غروب وخت لمر څخه يعني ډېرو ښښونکوکسانو څخه زده کړيدي. په هغه وخت کې نوموړي په سمندر باندې له خپلې نه خلاصېدونکې خزانې څخه زر شيندل.

پداسې ډول چه حتی تر ټولو فقير ماهي نيوونکي هم خپل زرين پاروګان وهي؛ دا پېښه مې يو ځل وليده پداسې حال کې چه ورته کتل مې او اوښکو تويېدو څخه مې سترې نشوم. د زردشت غروب به هم د لمر د غروب پشان وي. اوس هغه دلته ناست دی د زړو او نويو ناتمامو جدولونو او لوحو په منځ کې انتظارکوي.

۴

دلته نويو جدولونو ته وګورئ اما زما وروڼه چېرته دي؟ تر څو هغه درو ته د غوښو څخه جوړو شوو قالبونو ته يوسي؟ دا هغه څه دي چه زما ستره مينه يې تر ټولو لرې کسانو ته وايي: "ځانته تر ټولو نيږدې کسانو باندې رحم ونکړئ! بشر داسې څيز دی چه بايد لوړتيا ومومي."

خبر اوسئ د لوړتيا او پرمختګ موندل معتددې او ډېرې لارې لري اما يواځې لوده فکرکوي چه د بشر له مخه هم الوتی شو. حتی پخپل ګاونډي کې د ځان لپاره لوړتيا ومومه او هغه حق چه په زور نشې اخيستی دا هم مه زغمه چه تا ته به درکړل شي!

هغه چه ته کوې بل هېڅوک به يې ونشي کړی، بيا هم تا تا راګرځي هوښيار اوس چه تلافي شتون نه لري!

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوم کس چه فرمان نشي ورکولی باید فرمان ومني. او ډېرکسان ځانته فرمان ورکولی شي اما تر هغې مرتبې نه رسیږي چه په ځان یې حکمران شي.

۵

د نجیبو خلکو روح دا شان دی. دوی هېڅ شی خوشي نه غواړي. په ځانګړي ډول هېڅ وخت توقع نه لري چه د هېڅ په مقابل کې ژوندون ورته ورکړل شي. اما هغوی چه د اوباشانو په ډله کې دي د هېڅ په مقابل کې د ژوندون توقع لري. مونږ ته یې چه ژوندون راسپارلی تل پدې فکرکې یو چه په بدل کې څه ورکړو؟ واقعا دا خبره شریفه ده "د هر څه وعده چه ژوند ورکوي همغه وعده مونږ هم ژوندون ته ورکوو."
څوک چه خلکو ته خوښي نه ورکوي د خوښۍ توقع هم باید ونلري او بشر باید خوښي ونغواړي ځکه خوښي او بې ګناتوب ډېر خجول دي او هېڅ یې نه خوښېږي چه څوک ورپسې لاړ شي. انسانان باید هغه لاسته راوړي اما د دې کار لپاره باید رنځ او غلطیو ته اماده وي.

۶

اې زما وروڼو پدې پوه شئ هر څوک چه لومړی زېږېږي تل قرباني کېږي او موږ لومړني زامن یو. زموږ وینه به په مخفي قربانتون کې تویي شي او تل به د قدیمي بوتانو په ویاړ سره په اوس کې وسوځول شو.
تر ټولو غوره نمونه مو تر اوسه ځوانه ده او د بوډا ذایقو لپاره ډېره خوندوره ده. غوښه مو لطیفه او نازکه ده او پوستکی مو د غوره پسه پوستکی دی. ولې به پدې حالت کې مونږ بوډا بت پیروه روحانیون په هیجان نه راولو؟ زموږ د باطن په یوه برخه کې اوس هم هغه روحاني بت پرست شتون لري چه زموږ تر ټولو غوره برخه د ځان لپاره کبابوي. افسوس اې وروڼو! څرنګه امکان لري چه لومړي زامن قرباني نشي؟
اما زموږ نژاد همداسې غواړي او زه له هغو سره مینه لرم چه نه غواړي نجات ومومي. چا چه نزول کړی او پناه کېږي له زړه ورسره مینه لرم ځکه دوی خپل عالي هدف ته رسیږي.

۷

څومره کم دي هغه کسان چه ریښتیا ویونکي اوسېدلی شي! او هغه چه ریښتینی اوسېدلی شي تر اوسه نه غواړي واوسي اما د ریښتیني اوسېدو لپاره نېکان له دې ټولوکم دي.
لدې نېکانو امن غواړئ دوی هېڅکله ریښتیا نه وایي او پدې ډول نېک اوسېدل د روح لپاره زیان لري. دا نېکان تسلیمېږي، زړه یې هغه څیزونه تکراروي چه ورته تلقین شویدي او روح یې هم مطیع دی. اما هر

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوک چه مطیع او حکمران دی خپل ځان نشي پېژندلی.
کوم څه ته چه نېکان بد وایي باید سره جمعه شي تر څو حقیقت ورڅخه دنیا ته راشي. اخ! اې ورونړو آیا تاسې د دې ډول حقیقت لپاره په پوره ډول شریر یاست؟
څومره سخته ده چه بې باکه شجاعت، اوږده بې باوري، له بې رحمانه کرکې انکار وکړي او له پخوا سره ناڅاپي پرېکون وکړي او یو له بل سره متصل شي. اما لدې ډول تخم څخه حقیقت نړۍ ته راځي.
تر دې دمه ټولو علومو د یو ناراحته وجدان په څنګ کې وده او نمو موندلې. اې پوهانو دا زاړه او وراسته شوي جدولونه مات اوکنۀ وکېرکړئ.

۸

کله چه میلې په اوبوکې محکمې ولاړې وي، کله چه کوچیني پلونه او پنجرې د نهرونو په سر تېر شوي وي څوک د ووایي "ټول څیزونه تېرېدونکي دي." د خلکو د پاملرنې وړ نه ګرځي. ځکه بې عقلان هغه مسخره کوي، خبرې یې بې ګټې پوچې ګڼي او په فریاد سره وایي: "څه ډول ټول څیزونه تېرېدونکي دي پداسې حال کې چه میلې او پلونه د اوبو په مخ ثابت دي!" د اوبو په مخ ټول څیزونه محکم دي؛ د شیانو ارزښت، پلونه او نظریې ټول هغه څیزونه چه (نېک او بد) نوم لري پخپل ځای کلک او محکم پاتې دي.
څنګه چه سخت یعني د نهرونو رام کوونکی ژمی راورسیږي ټول خلک حتی تر ټولو عاقل به هم بې اعتمادي زده کړي او ریښتیا بې عقلان به هغه وخت ووایي: "آیا واړه څیزونه له حرکته لوېدلي دي؟" او د ژمي شریعت وایي: "ټول شیان پخپل عمق کې آرام او بې حرکته دي."اما دا خبر یوائځې د وخت لپاره بې حاصله شوې، او ښه ده په ژمني خوب تللو او بخارۍ ته ناستو شکایت کوونکو ته ښه تسلا ده. اما یخ وېلې کوونکي بادونه د دې شریعت په ضد وایي: "ټول څیزونه پخپل عمق کې آرام او بې حرکته دي." نصیحت کوي.

یخ وېلوونکی باد هغه غوصه ناک سخوندر دی چه تل یې دکروندو ژغ پخپله غاړه کې مات کړی دی او یخونه پخپلو قهرجنو ښکرو ماتوي. د دې ډول شریعت په ضد پند وایي او د پلونو یخ ماتوي.
اې ورونړو اوس ووایاست! آیا ټول څیزونه په بدلون کې دي؟ آیا ټول پلونه او پنجرې په اوبوکې ندي لوېدلي؟ اوس داسې څوک شته چه په نېکو او بدو وچسپیږي؟ په ټولو لاروکې دا ډول نصیحت کوي: "د یخونو وېلوونکی باد چلیږي پیل یې د مبارک وي!"

۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه بې بنسټه ګروهنه شتون لري چه نېک او بد نوم لري. د فالګیرانو او ستورپېژندونکو په منځ کې هم مخکې دا ډول بې اساسه عقیده رواج وه. داسې وخت وو چه خلکو د فالګیرانو او ستورپېژندونکو په خبرو باور درلود. پدې ترتیب معتقد وو چه :"ټول ځیزونه په تقدیر دي، ژوند جبر دی او باید د اوامرو پیروي وکړو."

د فالګیرانو او ستورپېژندونکو په قول وروسته د بې باورۍ دوره راورسېده نو ځکه خلک ګروهمن شول: "مونږ په ټولوکارونوکې آزادي لرو، د هر څه چه انسان اراده وکړي او وغواړي ترسره کولی یې شي."
اې ورونړو! پخوا د ستورو او راتلونکې په اړه بې اساسه ګروهنې شتون درلود اما چا پدې هکله واقعي پوهه نه درلوده. پدې ترتیب د نېکۍ او بدۍ په اړه هم بې اساسه عقیده موجوده وه اما هېچا یې په هکله واقعي علم نه درلود.

۱۰

"ته باید غله وکړې!" "ته باید څوک قتل نکړې!" یو وخت دا ډول خبرې د خلکو په نظر مقدسې وې. داسې وخت وو چه خلک دې ډول خبرو ته په ګونډو کېدل، سرونه یې ټیټول او بوټونه به یې ورته له پښو ایستل.
اما زه له تاسو تپوس کوم: "لدې ډول سپېڅلوکلمو څخه پرته بل چېرې دا شان غله او قاتلان موندلی شئ؟"
آیا د ژوند په ټولو لاروکې غله او قتل شتون نلري؟ اوکله چه دوی دا خبرې سپېڅلې وشمېرلې آیا خپله یې حقیقت قتل نکړ؟
آیا هغه ځیزونه چه ژوندون یې په بشپړ ډول استهزا کولو او خلک یې د هغه په وړاندې رابلل بې د مړینې له موعظې بل څه ورته ویلی شو؟
اې ورونړو دا جدولونو او زړې تختې ماتې ټوټې ټوټې کړئ!

۱۱

پخوا یوائې لدې امله راته سپېڅلې ښکاري چه د هر نسل په وړاندې بې ځان بې پردې لوڅ او په لېونتوب اچولی دی. هر نسل چه له لارې رارسېږي او له دوی مخکې هر ځیز څخه د ځان لپاره پل جوړوي او مخکې ځي.
کېدای شي یو ستر، د نفوذ لرونکی او مکارکس راورسېږي، په ټوله بې رحمۍ سره پخوا تر فشار لاندې راولي او د یو بشارتي پل په بڼه د خپل راتلونکي سهار لپار پل جوړ کړي. بل خطر او ترحم هم شتون لري.
هغه د اوباشانو له ډلې دی خاطرات یې خپل نیکه ته بېرته رسوي اما نیکه ته یې چه ورسېدل نور وخت له حرکته پاتېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پدې ډول پخوا رسوا کېږي ځکه داسې ورځ هم ممکن راشي چه اوباش د نړۍ ارباب شي نو هغه وخت به وخت په بشپړ ډول په کم عمقه اوبوکې ډوب شي.
لدې امله اې وروڼو! د نويو اشرافو طبقه اړينه ده تر څو د اوباشانو او ظلمونو په وړاندې يې قيام وکړي او د جدولونو او تختو په مخې نوې شريفې کلمې وليکي.
د دې لپاره چه نوې اشرافي طبقې رامنځته شي له ګڼو نوعو څخه شريف خلک لازم دي يا هماغه شان چه يو ځل مې اشاره وکړه: "حقيقي الوهيت قضاوت کوي چه د يو خدای پر ځای متعدد خدايان موجود دي."

۱۲

اې وروڼو زه تاسو د نوې اشرافي طبقې لپاره ځانګړي کوم او د وصول لار يې هم درته ښايم. تاسو به د راتلونکې پلرونه، روزونکي او تخم شيندونکي ياست. اما واقعا زما اشرافيت داسې څه ندي چه د دکاندارانو پشان يې په زرو واخيستلای شئ ځکه هر شی چه د قېمت درلودونکی وي تل بې ارزښته وي.
پس لدې به ستاسو وياړ د پخوا او هغه ځاي په نسبت نه وي کوم چه ترې راغلي ياست، بلکه ستاسو افتخار به د راتلونکي او هغه ځاي په اړه وي چه ورتلونکي ياست. پرېږدئ چه وياړ مو په غوښتنو او پرمختګ کې واوسي او پښې مو اراده وکړي چه له ځانه ډېر لوړ تللی شئ! داسې نه چه افتخار وکړئ د شاهزاده چوپړ مو کړی اوس شاهزادګان څه اهميت لري؟ يا داسې نه په وياړ سره ووايئ د دې لپاره په سنګرونوکې ولاړ يو تر څو هغه څه کلک وساتو چه تر دې دمه پخپل ځای کې محکم ولاړ دي. يا افتخار وکړئ چه تېرونه مو په سمندرونوکې درباريان پاتې شويدي او ستاسو زده دي چه څه ډول د متمادي ساعتونه سره په کم عمقه حوضونوکې په باجلاله جاموکې ودرېږئ. (ځکه د دريدو قدرت د دربارياتو له امتيازاتو څخه دی او ټول درباريان باوري دي چه د جلوس اجازه د هغو سعادتونو له جملې څخه دخ کوم چه يوازې وروسته له مرګه د انسان په نصيب کيږي.)

پدې مه وياړئ چه روح القدس نومی روح ستاسو د پلرونو سره وعده کړل شوی او زه مو هم نه تحسينوم. ريښتيا هر چېرې چه (روح القدس) خپل فدايان وړل هلته وزې، قازونه او بې عقلان تل د دې فدايانو لارښوونکي وو. اې وروڼو، ستاسو اشرافيت به شټ ته ونه ګوري او پر مخ به لاړ شي. تاسو به د خپلو نيکونو او پلرونو له سيمو څخه وترټل شئ. د خپل اولاد له سيمې يعنې هغې سيمې سره به مينه ولرئ چه په ډېرو لېرو سمندرونوکې واقع ده. پرېږدئ چه همدا عشق مو نوی اشرافيت واوسي. زه تل غوښتنه کوم چه د دې سيمې په لور مو بادوانونه زيات کړئ!
له خپل اولاد سره به تاسو د دې تلافي ورکړئ چه د خپلو پلرونو ماشومان اوسيدلي ياست او پدې ډول به بيا پخوا وېبرئ. دا نوي جدولونه زه ستاسو لپاره جوړوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۳

د ژوندون ګټه څه ده؟ ټول څیزونه بې فایدې دي. ژوندکول لکه د وښو ټکول دي، ژوندکول پداسې ډول د ځان سوځول دي چه هېڅ سړی د تودوخې احساس نه کوي.
اوس هم خلک دې ډول چټیاتو ته د (پوهې) نوم ورکوي. پخوانۍ خبرې دي او د مشک بوی ورکوي ځکه د خلکو د احترام وړګرځي. زنګ وهل او خوساتوب د اشرافیت سبب کیږي. د دې ډول خبروکول د ماشومانو لپاره ښه دي ځکه هغوی له اوره وېرېږي او سېځلي یې دي.
د علم په پخوانیوکتابونوکې دا ډول ماشومانه اقوال زښته ډېر دي او هغه‌کس چه تل واښه ټکوي څه ډول دې عمل ته د سپکاوي جرأت‌کولی شي؟ د دې ډول خلکو په خولو باید پوزه بند(ماسک) وتړل شي!
بې لدې چه‌کوم څیز له ځانه سره راوړي حتی بې اشتها د میزونو په سرکښېني او په‌کفر سره وایي چه ټول شیان بې ګټې او فایدې دي. اماا اې ورونو! ښه خوراک او څښناک په هېڅ ډول بې فایدې او بې معنی ندی! د هغوکسانو جدولونه او تختې راته ماتې او نابودې‌کړئ چه هېڅ وخت خوشحالي نه‌کوي.

۱۴

خلک وایي: "اې خلکو! ټول څیزونه سپېڅلي دي." اما زه تاسو ته وایم: "د خوګانو لپاره ټول شیان چټل دی. لدې امله خیال وهونکي حیران پاتې حتی زړونه یې هم ځوړند شوي او داسې نصیحت‌کوي: "نړۍ پخپله یوه ستره چټلي ده" ځکه د ټولو نورو جهانونو خلک په ځانګړي ډول هغوي چه هېڅ سوله او آرامي نه لري، بې لدې چه نړۍ ته له سره وګوري ناپاک افکار خپروي.
په نړۍ‌کې ډېرې چټلۍ اوکثافات موجود دي او دا هېڅ د انکار وړ ندی. اما لدې امله نشوکولای ټول جهان یوه ستر چټلي وګڼو. پدې هر څه سربېره په دې جمله‌کې چه: "د دې نړۍ ډېر څیزونه متعفن دی." لویه پوهه نغښتې ده.
حتی کرکه هم انسان ته د الوتو وزر او د اوبو څاه‌کشفولو قوه ورکوي. حتی په ډېرو غوره څیزونوکې دکرکې وړ شیان موجود دي او حتی ډېره غوره څیزونه باید لوړتیا ومومي!
اې ورونو پدې جمله‌کې: "په نړۍ‌کې ډېرې چټلۍ اوکثافات موجود دي." ډېره پوهه نغښتې ده.

۱۵

لاندې نصیحتونه مې د نورو جهاننونو له زاهدانو او پیرانو څخه واورېدل. بې له ریا او فرېبه یې خپل نفس تلقین‌کولو. که څه هم لدې ډول خبرو بد او فرېبناک څه په نړۍ‌کې شتون نلري: "نړۍ پخپل حال پرېږده! حتی د اعتراض په ډول دې ګوته هم د هغه په وړاندې مه جګوه!"

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرېږده انسان د خلک آزارکړي، په خنجرونو د وهل وکړي، پوست یې دکړي او ضرر د ورته ورسوي خو ته یې حتی پر وړاندې د اعتراض په عنوان ګوته هم مه جګوه! پدې ډول سره به هغوی د نړۍ پرېښودل زده کړي.
اې ورونو! دا زاړه پرهېزګاره جدولونه مات کړی ښکته یې وغورځوی او د خپلو خبرو سره دکنځا کوونکو پندونه ټوټه ټوټه کړئ!

۱۶

دا هغه څه دي چه نن یې خلک په هره تیاره کوڅه کې د یو بل غوږونوکې وایي: "هغه څوک چه واقعي پوهه لري ټول سخت تمایلات هېروي، دا نوی جدول مې حتی د بازارونو په سر هم لیدلی دی چه "عقل زړه آزاروونکی او رنځوونکی دی. هېڅ شی ارزښت نلري او ته باید هېڅ ونغواړې!"
اې ورونو، دا نوی جدول هم مات او له منځه یوسئ! دا جدول هم له نړۍ څخه بېزاره، واعظانو او زندان ساتونکو جوړ کړی دی. وګورئ دا جدول مو څرنګه د غلامۍ په طرف بیایي؟
دوی د ډېرو ښو څیزونو په بدل کې ډېر بد څیزونه زده کړل او هغه یې هم په ډېر سرعت سره ومنل. بد څیزونه یې وخوړل ځکه یې معدې ترشې شوېدې. اندونه یې هم لکه معدې ترش شویدي او همدا د مرګ توصیه کوي ځکه اې ورونو واقعا معده هم د فکر پشان ده. ژوندون د خوندونو او خوښیو څاه دی اما د چا په باطن کې چه معدې ترشي کړې او ناروغي چه د ټولو ناروغیو مور ده وایي ټول څیزونه زهرجن دي.
پوهېدل د هغو لپاره خوندور دي چه د زمري اراده لري اما هغه کس چه ملول دی او خپله اراده نلري نور ورته تصمیم نیسي تل ضعیف کسان پدې ډول وضع کې قرار لري او د خپلې لارې په منځ کې ورک کیږي. بلآخره په ستړي او بېزارۍ سره سوال کوي: "مونږ ولې په لاره روان یو؟" پداسې حال کې چه ټول څیزونه یو شان دي.

دا نصیحت چه "ټول څیزونه بې ارزښته دي، د دې له خاطره باید اراده او د کوم شي تمنا ونکړئ!" د دوی په مخکې ډېر په زړه پورې ښکاري اما دا پند مونږ د غلامۍ په طرف بیایي.
اې ورونو، زردشت د ټولو هغوکسانو لپاره چه له خپلو لارو ستړي او بېزار دي داسې مست او تېز باد دی چه ډېر به په پرنجي راولي.
حتی د دېوالونو له شا څخه زما آزاده ساه تېریږي او ځان د غاښونو او اروا په بندکې محبوسوي. اراده د آزادۍ سبب کیږي ځکه غوښتل پیداکول دي. دا زما تعلیم دی او ستاسوکار به یوائې د خلق کوونکي فن زده کول وي. حتی ښه او واقعي زدکړه به هم تاسو لومړی له ما زده کړئ! هر څوک چه غوږ لري پرېږدئ چه واوري!

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۷

هلته کښتې ولاړې دي اوکېدای شي د لویې نیستۍ په طرف تلونکې وي. اما څوک غواړي چه پدې کښتیو کې د (شاید) په طرف لاړ شي. ستاسو څخه هېڅوک نه غواړي چه د مړینې په کښتیوکې سپاره شي نو څرنګه له نړۍ څخه ستړي او بېزاره یاست؟
تاسو چه تر اوسه له ځمکې څخه سترګې نشئ پټولای څرنګه له نړۍ څخه بېزاره کېدلی شئ؟ زه مو له ځمکې څخه پدې ټوله بېزارۍ او ستړیا اوس هم د ځمکې سرسخت او بې قراره عاشقان مومم.
بې دلیله مو شونډې نه بړوسېږي. اوس هم ځمکنۍ غوښتنې د هغو په مخ ناستې دي او په سترګوکې مو د ځمکه نه هېرېدونکې او سختې هیلې د وربځې په بڼه په لامبو وهي.
په ځمکه کې ډېرې عالي وسیلې موجودې دي چه ځینې یې ګټورې او ځینې یې په زړه پورې دي. د هغوی په خاطر باید له نړۍ سره مینه ولرو. ډېر شیان پکې جوړ شویدي چه لکه د ښځو لاس په یو وخت کې فایدمن او زړه منونکي دي.

اما تاسو اې له جهان بېزارو او تاسو اې د ځمکې ټنبلانو باید په دورو ووهل شئ! او د هغو په ضربو سره مو باید بیا پښې چابکې کړل شي! ځکه که چېرې تاسو ناروغ او ستړي بدبختان چه خپله ځمکه درنه بېزاره ده او لکه ټنبل شپه ګرځېدونکي غله په کمینونوکې ناست یاست که چېرې په خوښۍ او خوشالۍ پسې منډه ونکړئ پوه شئ چه نابود کیږئ!
انسان باید د لاعلاجه ناروغانو طبیب نشي، زردشت داسې تعلیم ورکوي نو پدې اساس به تاسو نابود شئ.
اما هغه شجاعت چه د ژوند ختمولو لپاره اړین دی له هغه شجاعته زیات دی کوم چه د نوي شعر جوړولو لپاره لازم دی. پدې باندې ټول طبیبان او شاعران ښه پوهیږي.

۱۸

اې ورونړو داسې جدولونه هم موندل کیږي چه د بېزارۍ او فاسدې ټنبلۍ په وسیله رامنځته شویدي. که څه هم دواړه په یو ډول خبرې کوي اما دې ته ندي مایل چه خلک یې خبرې په یو ډول برداشت کړي.
دې ډنګر او بې حاله کس ته وګورئ! دا جسورکس تر خپلې موخې ډېره فاصله لري اما د ستړیا او بېزارۍ له امله یې په ټول کوشش سره ځان په خاوروکې نغښتی او هېڅ ټکان نه خوري.
د ستړیا او بېزارۍ له امله نوموړي په جاده، ځمکه او هدف کې ارمګې کوي او دې ته ندی حاضر چه یو قدم هم واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس سوزنده لمر په نومونړي ځليږي او سپي يې خولې څټي اما اتل چه له خپل هدف او موخې سره ډېره فاصله لري په ټولو هڅو سره بوخت دی او غوره ګڼي چه له تندې مړ شي. واقعا نومونړی بايد جنت ته يوونړل شي. اما غوره به دا وي چه نومونړي پخپل ځای پرېښودل شي تر څو تسلې ښونکی خوب په زمزمه کوونکي او يخ باران پرې غلبه وکړي. پرېږدئ چه همالته واوسي! تر څو پخپله وينښ شي ستړيا او بېزاري يو طرف ته کيږدي او هر څه چه بېزاري او ستړيا ورزده کړې ترې انکار وکړي.
اما اې ورونږو يواځې هغه حشرات او ټنبل سپي چه د نومونړي په اطراف کې راټول شوي ترې وشړئ!

۱۹

زه له ځان ګرد چاپېر دايره کاږم او سپېڅلی سرحد جوړوم. هر څومره چه د غره ارتفاع زياتيږي زما د ملګرو شمېر هغومره کميږي. زه د مقدسو غرونو سلسلې ايجادوم. اما اې ورونږو هر ځای چه تاسو له ما سره صعود کوئ فکرکوئ هسې چه نه طفيلي کس هم درسره صعود وکړي! طفيلي يو رقم چنجي ډوله خزنده او التماس کوونکی دی چه تل دې ته په انتظارکې دی تر څو ستاسو په زخمونو ټپونو ځان تغذيه او چاغ کړي. کله چه يو پورته تلونکی ستړی بېزاره کيږي په تېزۍ سره يې پيدا کوي او هوښياري يې په همدې کې ده. ستاسو په غم او حساسه شرمسارۍ کې خپله استغراق کوي او ځاله بنا کوي. هر چېرې چه يو قوي، کمزوری، يو شريف او له حده زيات آرام او بې ازاره کس وي هلته دا طفيلي استغراق کوي او ځاله جوړوي. همدارنګه هر چېرې چه لوی کس کوچيني او پټ زخمونه ولري هلته مسکن غوره کوي.

د واړه موجوداتو تر ټولو لوی او تر ټولو پست کسان څوک دي؟ د موجوداتو تر ټولو پست طفيلي ګان دي. اما تر ټولو لوی کسان له ټولو څخه ډېر طفيلي ګان لري. ځکه هغه روح چه تر ټولو لوړې زينې په اختيارکې لري او له نورو څخه ښکته راتلی شي څرنګه ممکنه ده چه طفيلي ګان له هر چا څخه ډېر په دوی را ونځړيږي.
هغه روح چه له ټولو پراخ روح دی. د وژنې او سرګردانۍ زيات قدرت پخپل ځان کې لري. هغه روح چه د ښو درک کولو لپاره ځان د پيښې په غيږکې اچوي. هغه (شته) روح چه ځان د (کېدو) په سمندر کې اچوي، هغه روح چه (لري) اما لدې ټولو سره بيا هم اراده کوي چه وغواړي او هيله ولري.
هغه روح چه له ځان تښتي بلآخره په ډېره پراخه دايره کې خپل ځانته رسيږي، هغه تر ټولو عاقل روح چه له واړو ډېر د جهل او ناپوهۍ مجذوبيږي.هغه روح چه له ټولو زيات ځان غواړي او هغه روح چه ټول پکې خپلې ريښې لري. څه ډول امکان لري چه دا ډول عالي او لوی روح طفيلي ګان ونلري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۰

اې ورونړو! آیا زه بې رحمه یم؟ اما زه وایم "هغه څه چه همدا اوس لوېږي باید ښکته وغورځول شي."
ټول نن لوېږي او خوساکېږي څوک شته چه هغه وساتي؟ اما زه به یې ښکته وغورځوم.
آیا تر دې دمه مو په غره کې ښکته د تیږو رغړول درک کړیدي؟ نن ورځ دې خلکو ته وګورئ څرنګه زما د تلې په طرف رغړي!
اې رونړو زه به د آواز غږونکو لپاره ښه مقدماتي تمرین وم، زما تمرین عملي او تکرارکړئ!
او څوک چه الوتنه نه زده کوي توصیه کوم چه تېز غورځېدل ورزده کړئ!

۲۱

زه له غیرتي خلکو سره مینه لرم اما یواځې توره وهونکي کافي ندي. هر تورزن باید پوه شي چه د چا په وړاندې توره استعمال کړي!
تر ډېره زیات شجاعت ته اړتیا ده چه انسان خپل ځان وساتي او ځان د ښه لایق دوښمن مقابلې ته وساتي.
ستاسو دوښمنان یواځې هغه کسان کېدلی شي چه دوښمن باید ولري نه هغه کسان چه حقیر باید وشمېرل شي. تاسو باید د دوښمن په درلودلو سره مغرور واوسئ. دا هغه څه دي چه پخوا مې درزده کړیدي.
اې دوستانو تاسو باید ځانونه د لایق دوښمن مقابلې لپاره وساتئ! لدې امله باید ډېر څیزونه نادیده وګڼئ. په ځانګړي ډول سره باید له ډېرو اوباشانو څخه چه په غوږونوکې د خلکو خبرې کوي بې پاملرنې تېر شئ.
د دوی په وړاندې په پاکو سترګو وګورئ! پدې کې ډېر غلط او صحیح نغښتي دي. هر څوک یې چه کتونکی وي غوصه کېږي او په لیدو سره یې توره راکاږي اما دا کار عاقلانه ندی. دا دواړه پدې ځای کې یو دي نو پدې دلیل خپلو ځنګلونو ته پناه یوسه او تور د ویده کړه!

ته پخپله لار لاړه شه او خلک خپلې لارې ته پرېږده تر څو پداسې تیاره لاره کې لاړ شي چه حتی یو امېد یې هم نشي روښانه کولی! چېرته چه کوم څه ځلېږي هغه د دکاندارانو زر دي او دکانداران حکومت کوي. نور د پاچاهانو عمر اخر ته رسېدلی دی ځکه کوم څه چه نن ځان خلک ګڼي د پاچاهانو لیاقت نلري.
وګورئ د دې خلکو رفتار څومره د دوکاندارانو رفتار ته ورته دی! هغوی ډېرکم غنیمت د خاورو خځلو په تل کې پلټي. هغوی یو بل ته په کمین کې قرار لري او یو له بل سره تقلب کوي. او دې ته د (غوره ګاونډې توب) نوم ورکوي. په یاد د وي هغه تېرې ورځې چه خلکو به له ځانه سره ویل: "مونږ به د نورو اربابان وو."

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه اې ورونړو! تر ټولو غوره خلک باید حکومت وکړي او تر ټولو غوره کسان به حکومت وکړي. هر چېرې چه بل ډول شریعت په کار اچول شوی وي عیب او ضرر لري.

کاکشي دوی خپله ډوډۍ د هېڅ شي په مقابل کې لاسته راوړلای، د څه لپاره به یې فریادکړلای! تفریح یې همدا د تنخوا برابرول دي. لدې امله باید د دوی ژوند سخت کړل شي.
دوی ښکاري حیوانات دي. کار یې په غارت اوګټه یې په چپاول د نورو له حقوقو سره ملګرې ده. پدې اساس به د دوی ژوند سخت وي، دوی باید غوره ښکاري حیوانات، چل ناک او هوښیار شي او له انسان سره باید ورته شي؛ ځکه انسان تر ټولو غټ ښکاري حیوان دی. انسان د ټولو حیواناتو خصلتونه تاراج کړیدي ځکه د انسان ژوند له ټولو حیواناتو څخه سخت دی.
یواځې مرغان په دوی باندې غوره والی لري اوکه یوه ورځ انسان الوت هم زده کړي د ښکار شهوت به یې څومره پورته او لوړ یوسي.

۲۳

زما هیله دا ده چه نر او ښځې داسې واوسي: "لومړی د جنګ لپاره آماده او وړ، دوهم د زیږوو لپاره وړ او دواړه رقص وکړی شي." په کومه ورځ کې چه رقص او پایکوبي نه وي ورکه او نه ورځ د وګڼل شي. همدارنګه هر حقیقت چه له ځانه سره خندا ونلري دروغ د وشمېرل شي.

۲۴

هوښیار اوسئ چه د واده عقد مو د بدۍ هوډ ونه اوسي! تاسو ډېر په بېړه د واده عقد وتړلو، لدې امله به طلاق او زنا ورسره وي او پدې ټولو سره طلاق د زنا په اړه له دروغو ویلو څخه غوره دی. یوې ښځې راته داسې وویل: "ریښتا ده چه لومړی ما د واده عهد مات کړ اما ګناه د واده وه چه لومړی یې زما عهد مات کړ. تل مې نامناسبې جوړې خطرناکې او غچ اخیستونکې موندلې دي. دوی یواځې ژوند نشي کولی لدې امله ټول جهان د دې وړګڼي چه د دوی د عمل قرباني ورکړي."
پدې ترتیب کاشکي روغوکسانو یو بل ته ویلای: "مونږ له یو بل سره مینه لرو؛ وبه ګورو آیا کولی شو چه مینه مو تر پایه وساتو؟ یا آیا وروسته به ثبوت شي چه مونږ اشتباه کړې وه؟
زمونږ لپاره د واده کوچینۍ دوره وټاکئ تر څو ووینو چه د لوي واده وړتیا له یو بل سره لرو اوکنه؟ تل جوړه اوسېدل خطرناک دي!"
سمو او صحیحوکسانو ته زما نصیحت دا ډول دی. که چېرې ما بې لدې نورو خبرې کولای له (ستر سړي) سره زما مینه او هغه څه چه باید راورسیږي چېرته به وو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې مقصد ته د رسېدو لپاره تاسو باید د بیا تولید په ځای ډېر تولید وکړئ. اې ورونو هیله مند یم چه د واده باغ ستاسو سره مرسته وکړي.

۲۵

عجیبه ده هغه کس چه په پخوانیو اصولو او ماخذکې استادېږي په تدریج سره به د راتلونکو چینو او اصولو په لټه کې شي.
اې ورونو، ډېر زر به نوي خلک راپورته شي او نوې چینې به د نویو عماقو په طرف جاري کړي. ځکه زلزله به ډېر د اوبو ځاګان وچ کړي او د زیاتو د سختې تندې سبب به شي اما په عین حال کې به د باطني قدرتونو او پټو څیزونو د ظهور باعث شي.
زلزله به نوې چینې ایجادکړي؛ د پخوانیو خلکو د لړزې او ښکته پورته کېدو له امله به نوې چینې جاري شي او هر څوک به فریاد وکړي: "دلته د ډېرو تږو لپاره د اوبو ځاه، د ډېرو هیله مندو لپاره زړه او د زیاتو وسایلو څخه د استفادې لپاره اراده شتون لري." نوموړي ته وګورئ! فورا به یې هغه خلک ګرد چاپېر راټول شي چه غواړي نوي څیزونه زده کړي.

هغه کس چه په فرمان ورکولو توانا دی او هغه کس چه باید د نورو د فرمان مطیع وي پدې ډول تر ازموینې لاندې نیول کیږي. جالبه ده له څومره پلټنې، حدس، ماتې، زدکړې او نوې ازموینې وروسته بلآخره دا کار ښکاره کیږي.
بشري اجتماع یو هدف دی او لکه څنګه چه زه تعلیم ورکوم د یو فرمان ورکوونکي لپاره غوره او لوړه پلټنه ده.
اې ورونو، بشري اجتماع یو قرارداد او قول ندی بلکه یو هدف دی! دا ډول اخلاقي قاعده چه د شکمنو کسانو او سستو زړونو لپاره جوړه شوېده ماته او ټوټې کړئ.

۲۶

اې ورونو، په چا کې د بشر راتلونکي نسل لپاره تر ټولو لوی خطر نغښتی دی؟ آیا په ښو خلکو او سم کار کوونکوکې دا لوی خطر ندی پټ؟ د دوی په منځ کې ندي چه وایي او په زړونوکې دا حس کوي: "اوس موږ پوهیږو چه کوم څیز ښه اوکوم شی بد دي. موږ د دې درلودونکي یو افسوس د هغوی پر حال چه اوس هم د دې په لټه کې دي." هره ضربه چه شریران واردوي زخم به یې د نېکانو له هغې څخه ډېر نه وي.
اې ورونو، یو ځل طبیب د نېکانو او سم کارانو زړه را بهرکړ هغه وخت یې ولیدل او وویل: "دا فریسیان[3]

[3] د یو اسیایي قوم نوم دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي." اما خلک یې په خبرو پوه نشول.
ښو خلکو او صالحینو یې هم خبرې درک نشوای کړی ځکه د دوی فکر په خپل ښه وجدان کې زنداني وو.
د نېکانو حماقت بې اندازې زیرک دی. اما حقیقت دا دی چه ښه خلک که وغواړي کنه باید (فریسي)
واوسي! او دا کار یې پخپل زړه ندی.

۲۷

اې ورونړو، دا خبر او هغه څه چه ما د (اخري سړي) په اړه کړې درک کړې مو ده؟
په چا کې د بشر د اخري نسل لپاره تر ټولو لوی خطر نغښتی دی؟ آیا په نېکانو او صالحینوکې ندی؟
نېکان او صالحان په یو بل مات او نابود کړئ! اې ورونړو، آیا دا خبر مو درک کړېده؟

۲۸

تاسو له ما تښتئ؟ تاسو له ما وېرېږئ؟ تاسو دا خبرې لړزوي؟ اې ورونړو، کله مې چه تاسو ته ووېل نېکان او
جدولونه یې مات کړی هغه وخت مې د بشرکښتۍ د بې پایه سمندر په لور وشړه. تر دې دمه ستر ډار ندی
پرې غالب شوی، چاپېرچل ته یې په ځیر ندي کتلي، زړه یې په شدت ندی تنګ شوی، بېزاره شوی ندی او
په استفراق ندی راغلی. نېکانو تاسو ته غلط ساحلونه او تقلبي وثیقې ښکاره کړې او تاسو د نېکانو په
دروغوکې نړۍ ته راغلي او لوی شوي یاست. ټول څیزونه نېکانو غرق کړي او له بنې یې غورځولي دي.
اې ورونړو، ناوخت شوی ندی په سمه لار لاړ شئ او په سمه لار تلل زده کړئ! سمندر غوصه ناک دی او
ډېر غواړي ځانونه په تاسو لوړ کړي. سمندر غوصه ناک دی او سمندر د ټولو څیزونو محتوا ده. اې غیرتي
خلکو او د سمندریز زړه خاوندانو جګ شئ او مخکې لاړ شئ!
زموږ مو د نیکونو په ځمکه څه کار؟ دکښتۍ سکان مو د اولادنو سیمې ته وړي. په هغې طرف به یې وچلوو
زموږ سترې هیلې له سمندره ډېرې توپاني دي.

۲۹

ذغال الماس ته ووېل: "ولې دومره سخت یې؟" آیا مونږ د یو بل نیږدې خپل نه یو؟
اما زه له تاسو تپوس کوم: ولې دومره نرم یاست؟ اې ورڼو مګر تاسو زما ورونړه نه یاست؟
ولې دومره نرم، مطیع او تسلیمېدونکي یاست؟ ولې مو په زړونوکې دومره انکار او بطلان دی؟ او ولې مو په
کتوکې دومره کم تقدیر شتون لري؟
که چېرې تاسو نه غواړئ سخت زړي او بې رحمه برخلیک واوسئ نو څرنګه یوه ورځ زما سره فتحه کولی
شئ؟ که چېرې مو سختي ځلا نه لري او شخړه ټوټه ټوټه نه کوي څرنګه یوه ورځ له ما سره خلق کولای

(c) ketabton.com: The Digital Library

شئ؟"

ځکه خلق کوونکي سخت دي او ستاسو په نظرکې باید نېکبختي داسې وي لکه چه لاس مو د اوږدو پېړیو لپاره په مومو فشار راوړي! د زرګونوکلونو په اراده لیکل څه نېکبختي ده، لکه د برونزو په مخ او یا حتی له برونزو څخه په سختو فلزاتو! یواځې تر ټولو ډېر شریف کسان بشپړکلک دي.

اې ورونړو په نوي جدول کې تاسو ته لیکم: "کلک شئ!"

۳۰

اې زما ارادې، اې د ټولو بدبختیو زبون کوونکې، اې زما اړتیا ما لدې واړه کوچینیو او ناڅیزه فتوحاتو څخه خلاص کړه. اې زما د روح پایلې چه نوم د تقدیر اېږدم، ته چه زما په باطن کې ځای لرې، ته چه زما په سر قرار لرې ما ته نجات راکړه او د یو ستر تقدیر لپاره مې وساته!

اې زما ارادې خپل تر ټولو ستر عظمت د آخري مجاهدت لپاره وساته تر څو په خپله بریا کې کلکه واوسې!

اخ څوک پخپله کامیابۍ نه مغلوبیږي؟

افسوس! د چا سترګې دي چه په مست ګهیځ کې ندي مستې شوې؟ افسوس! د چا پښه نده ښویېدلې، چه د بریا په وخت کې یې درېدل هم هېرکړي وي؟د دې لپاره چه یو وخت د سترې غرمې په وخت کې حاضر او تیار وم ، همداسې لکه ګداخته فلز یا له برېښنا څخه ډکه وریځ او یا هم لکه له شیدو ډک تی تیار یم.

د ځان او خپلې ارادې لپاره مې داسې حاضر او آماده یم لکه کمان چه د خپل غشي پېژندو له امله سوزیږي او په لېوالتیا سره د خپل ستوري په طرف وارتیګل کوي. همدارنګه ستوری چه په غرمه کې حاضر او رسېدلی غشی خوړلی وارتیګلی شوی د لمر د نابودوونکي غشي له امله دی، خپله لمر دی او لمرینه نه خم کېدونکې او پناه کېدو ته حاضره اراده خپله کامیابي ده.

اې ارادې، اې د هرې بدبختۍ زبون کوونکې، اې زما اړتیا! ما یوې سترې بریا ته وساته!

## مخ په روغېدو ناروغ:

۱

زردشت یې سومڅې ته له راګرځېدو څخه څو ورځې وروسته لکه لېونی له خپل کټه جګ شو او په ډار سره یې چیغې وکړې ځکه داسې یې وانګیرل چه بل څوک یې په کټ کې ویده دي او د پاڅېدو خیال هم نه لري. د چیغې غږ یې دومره وحشتناک وو چه ټول حیوانات یې له شاوخوا څخه په منډه خوا ته راغلل او فرار یې وکړ. پداسې حال کې چه پخپل واک سره الوتل، منډې یې وهلې، ټوپونه یې وهل او څښېدل زردشت داسې ووېل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

"اې ټيټې او پست فکره زما له عماقو راجګ شه! زه ستا مستي او سهار يم. اې خوبيوليه چينچيه راجګ شه! زما د چرګ پشان غږ به تا له خوبه پاڅوي.
خپل غوږونه خلاص کړه او واوره! ځکه زه غواړم چه خبرې د واورم. راپورته شه! جګ شه! دلته داسې لوړ غږ شته چه حتی د مړو ته د تعليم اورولو لپاره هم کافي دی. خوب، ړوندوالی او خمارتوب له خپلو سترګو وشړه او حتی په سترګو د زما خبرې واوره! زما غږکېدای شي حتی له مور څخه ړندو زيږېدلو ته هم درمان وي."
او څنګه چه وينښ شوې د (هو) ويلو لپاره به وبښ پاتې شې. زما هيله دا ده چه اناګانې له خوبه راپاڅوم تر څو بيا يې په خوب وبسم. ته لړزيږې خپلې عضلې چيږې او خرخرکوې؟ جګ شه! جګ شه! د خرخر پر ځای به ما سره خبرې وکړې. خدای نه پېژندونکی زردشت تا لولي؛
زه زردشت د ژوندون مدافع، د رنځېدو مدافع او د حلقې مدافع اې زما دوزخي انده تا احضاروم! اې خوښۍ، رانيږدې کيږې! زه دې د پښو غږ اورم، زما عمق خبرې کوي. تر ټولو ژور عمقونه مې د روښنايۍ په طرف کرځولي دي.
اې خوشحالۍ! نيږدې راشه! او لاس د ما ته راکړه هو، لرې شه! هو څومره کرکجنه يې.
اخ افسوس زما پر حال!

۲

زردشت چه څنګه دا خبرې وکړې لکه مړی په ځمکه د ډېر وخت لپاره مړ او بې حرکته جسد پشان پاتې شو. په هوش چه راغی رنګ يې الوتی وو لړزېدا په سجده پاتې شو او د ډېر وخت لپاره يې نه څښاک او نه هم خوراک وکړ. اووه ورځې پداسې حال وو او حيوانات يې شپه ورځ ورسره نيږدې پاتې وو. اما عقاب يې د مړۍ لپاره کله کله الوتنه کوله، هر څه يې چه راوړل د زردشت په کټ يې اېښودل تر هغې چه زردشت په انګورو، سرو منو، توتو رنګارنګ سبزيجاتو او مېوو کې پټ شو. په پښوکې يې دوه وري وو چه عقاب ډېر په سختۍ له شپنو څخه ښکارکړي وو.

له اوو ورځو وروسته زردشت بيا په کټ کې کښېناست او سره منه يې په لاس کې واخيسته بوی يې کړه او د هغې بوی يې خوښ شو. هغه وخت يې حيواناتو مناسب وګڼله چه خبرې ورسره وکړي او داسې يې ووېل:
"اې رزدشته! اووه ورځې کيږي چه پدې ډول درانه خوب ويده يې. آيا نه غواړې بيا پخپلو پښو ودريږې؟ خپله سومځه پريږده! نړۍ لکه د بڼ ستا په انتظارکې ده. باد، معطر او خوندور باد تا لټوي او ټولې ويالې داسې دي لکه ستا په لټه کې چه منډې وهي.
پدې اووه ورځوکې دې کوم څيزونه چه يواځې پريښې ټول تا غواړي. له خپلې سومځې رابهرون شه! ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library

حاضر دي چه ستا طبيب واوسي. آيا نوې پوهه، تريخ او غمجن علم پر تا ظاهر شويدی؟ ته هم لکه خميره اوړه اوړد پروت يې پداسې حال کې چه روح د له ټولو اړخونو څخه له خپلې محاصرې تنګ شويدی."

زردشت ځواب ورکړ: "اې زما حيواناتو خبرې وکړئ او ما ته اجازه راکړئ چه غوږ شم! ستاسو خبرې ما تازه کوي او چېرته چه بنډار وي زما په نظر لکه بڼ داسې وي او ښکارېږي. څومره ښه! خبرې او نغمې شتون لري. آيا نغمې او خبرې د رنګين کمان او ظاهري پلونو په اندازه د شيانو په منځ کې تر ابده يو له بله جلا دي، ندي؟

هر روح بېل جهان دی، د هر روح لپاره نور روحونه د نورو جهانونو پشان دي.

زما لپاره څنګه ممکن دي چه کوم شی د له ما بهر موجود وي؟ له ما بهرکوم څه شتون نلري! اماکله چه موسيقی ته غوږ کيږم دا مې هېرېږي. هېرول څومره ښه دي!

آيا صرف د بشري روح د تازه کولو لپاره څيزونو ته مختلف نومونه او نغمې ندي ورکړل شي؟ ژبه خوږ لېونتوب دی او د هغې په وسيله بشر د ټولو څيزونو په مخ ګډېږي. ټول موزون دروغ او خبرې څومره خواږه په زړه پورې دي! د اصواتو په وسيله زموږ مينه د بوډۍ ټال پر روښانه رنګونو رقصيږي."

دې وخت کې حيواناتو ووېل: "اې زردشته، هغه کسان چه زموږ پشان فکرکوي پخپله شيان ورته ګډېږي! ټول څيزونه راځي يو د بل لاسونه يې نيولي او خنديږي، تېښته کوي او بيا راځي. ټول څيزونه ځي او بېرته راځي او تل د ابد څرخ په ګرځېدو کې دی. ټول شيان مړه کيږي بېرته راځي، د وجود دوره تل تکرارېږي. ټول څيزونه ماتيږي او بېرته سره يو ځای کيږي، همدا خپله د وجود بنسټ جوړوي. ټول څيزونه له يو بله بېليږي او بېرته يو بل ته رسيږي. د وجود حلقه تل د ځان په وړاندې وفاداره پاتې کيږي.

په هره شېبه کې (کېدل) پيليږي او په هر (دې ځای کې) د (هغې ځای) غونډوسکی څرخيږي. مرکز په ټولو ځايونو او د ابديت په لاره کې يو په بل کې پېچلی دی."

زردشت ځواب ورکړ: "اې نغمه غړوونکو او ټوکيانو" او بيا يې په خندا سره زياته کړه: "څومره ښه کوم څه چه بايد په اووه ورځوکې ترسره شي تاسو پېژندلي دي. دا حيوان څرنګه زما غاړې ته راغی تر څو ما زندی او خفه کړي؟ اما ما يې سره وژولو او لېرې مې وارتيګ!

تاسو همدا اوس له همدې څخه يوه بې سور ه او تاله سندره جوړه کړېده؟ اما زه او سه هم له خولې لګولو او د دې حيوان د سر پر غوڅاوي خفه يم او اوس هم د خپل ځان بښنې نجات ته ببمار يم همدلته څملم.

آيا تاسو دې ټولو ته کتلي دي؟ اې زما حيواناتو حتی تاسو هم بې رحمه شوي ياست؟ آيا تاسو مايل ياست زما ستر مصيبت ته د بشر پشان نظر واچوئ؟ ځکه بشر تر ټولو حيواناتو بې رحمه دی. تر دې دمه بشر تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو غوره نېکبختي په غمجنو صحنو، غوايه لوبو او صليب کښلوکې موندلې ده. کله يې ځانته دوزخ نه واى جوړکړى همدا دوزخ به د بشر لپاره د ځمکې د مخ جنت ګرځېدلى واى.

کله چه سترکس فريادکوي کوچينى سړى په سرعت سره د هغه طرف ته ورځي او د حسرت له امله يې ژبه په خوله کې وهي. اما نوموړى خپل دې حرکت ته د ترحم نوم ورکوي. کوچينى سړى په ځانګړي ډول سره شاعر، ځومره په لېوالتيا دکلمو په وسيله ژوند متهموي! هغه ته غوږکيږئ اما ځېر شئ تر څو پدې اتهام کې د نوموړي د لذت غږ واورئ! د ژوندون متهم کوونکو لپاره ژوند په يوه سترګه وهلو فائق کيږي. ژوندون په بې شرمۍ وايي: "ته له ما سره مينه لرې؟ لږ صبر وکړه! فعلا له تا سره د اوسېدو وخت نلرم."

انسانان د ځان په وړاندې تر ټولو بې رحمه حيوانات دي او ټولو هغو اتهاماتو او شکايتونو ته دقت وکړئ چه (ګناهنګاران)، (په دار ځړېدونکي) او (توبه کوونکي) کوي تر څو د شهوت غږ پکې واورئ! آيا زه پخپله غواړم چه پدې ډول د بشر متهم کوونکى واوسم؟ افسوس اې زما حيواناتو! تر دې دمه مې يوازې دا زده کړي چه د بشر تر ټولو بد څيزونه په هغه کې د ډېرو غوره څيزونو لپاره لازمي دي. اوکوم څه چه پکې تر ټولو بد دي د هغه بهترين قوت دى او له تيرې کلکولاى يې د ډېرو غوره څيزونه لپاره خلق کړى دى. بشر بايد غوره او شرير شي.
زه په صليب نه يم کښل شوى تر څو پوه شم چه بشر شرير دى. اما داسې نعره مې کړې چه تر اوسه هېچا نده کړې: "افسوس، تر ټولو شرير اعمال يې ډېر جزوي او حقير دي! افسوس تر ټولو غوره اعمال يې هم ډېر جزوي او ناڅيزه دي!"

څه چه زما غاړې ته راغلل او نيږدې وو خفه مې کړي، د بشر په وړاندې ستړه کرکه وه. همدارنګه فالګير چه ويل ټول څيزونه يو شى دي هېڅ ارزښت نه لري او پوهه د بشر د خفه کېدو او وېجاړېدو سبب کيږي هم وه. د اوږد ګهيځ انسانه ته چه ترې ستړى او بېزار يې هغه کوچينى سړى به بيا راشي. زما غمګينۍ پدې ډول اوږد اسوېلى وکړ او پښې يې ټولې کړې خو خوب پرې غلبه ونکړه.
زما په نظرکې ځمکه د قبر پشان ده اوکوم څه چه ژوندي دي دګرد وهلي غبار په بڼه لکه د پخواني مړي وراسته او خراب هډوکي داسې راته ښکاره شول. زما آه د انسانانو د هديرو په سرکښېناست او د جګېدو جرأت يې نه درلود. زما آه او پوښتنې کولو د ځنګښو پشان غږ وکړ او شپه ورځ يې د دمې ايسارېدو احساس وکړى او شکايت يې پيل کړ:
"افسوس، بشر تر ابده بېرته راګرځي! حقير اوکوچينى سړى تر ابده بيا بيا ګرځي!"
يو ځل مې په يوه پېښه کې ستر او پست خلک ټول لوڅ وليدل او له حده زيات يو بل ته ورته راته ښکاره شول. تر اوسه ستر خلک هم د عادي انسانانو سره ورته دي. له ټولو ستر خلک تر اوسه ډېرکوچيني دي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا له بشر څخه زما دکرکې سبب شوي. حتی د ډېرو پستو انواعو تل راګرځېدنه له ټولو موجوداتو څخه زما دکرکې باعث شوه.

"افسوس، څومره کرکجنه ده!" زردشت داسې ووېل ، اسوېلی یې وکړ او لړزېدا څکه نوموړی د خپلې ناروغۍ په یادکې ولوېد او حیوانات یې خوښ نه وو چه نوموړی د خبرو په ادامې سره ورنځوي.
حیواناتو یې زردشت ته ځواب ورکړ: "اې مخ په روغېدو ناروغه لدې ډېرې خبرې مه کوه! په بدل کې یې هغه ځای ته لاړ شه چه نړۍ لکه د بڼ پشان ستا د ورتګ انتظارکوي! د سروګلونو، زنبورانو، رمو اوکوترو په طرف لاړ شه! په ځانګړي ډول په بېړه د غزل بوله مرغانو خوا ته لاړ شه کېدی شي نغمې ویل ترې زده کړې!" ځکه د شفا شوي ناروغ لپاره سرود ویل ډېره ګټه لري. روغ سړی خبرې کولی شي اما کله چه سالم سړی د سندرو ویلو شوق پیدا کړي بې له هغو سندرو چه ناروغ ښه کوي نورې وایي.

زردشت یې حیواناتو ته وخندل او ووېل: "اې ټوکیانو او نغمه بولو چوپ شئ! هغه تسلا چه دې اوو ورځو کې مې ځانته برابره کړې وه ترې خبر یاست! دا تسلی چه باید بیا سندرې ووایم د ځان او خپل روغوالي لپاره مې برابره کړېده. آیا تاسو به فورا لدې څخه هم نغمه جوړه کړئ؟"

حیواناتو یې یو ځل بیا ووېل: "لدې زیاتې خبرې مه کوه! شفا موندونکیه لدې به غوره وي ځانته له سره بل نوی چنګک جوړ کړې! ځکه اې زردشته! ستا د نوو نغمو لپاره نوو چنګکو ته اړتیا ده نغمې ووایه او په جوش راشه خپل روح ته د نوو سندرو په وسیله روغتیا ورکړه تر څو خپل هغه برخلیک وزغمې چه تر دې دمه د هېڅ انسان نه وو!
اې زردشته! ځکه ستا حیوانات ښه پوهېږي، ته څه شی یې او څه باید شې! وګوره د همېشنۍ راګرځېدنې تعلیم ورکوونکی یې! اوس ستا برخلیک دا ډول دی. په اوس وخت کې چه ته لومړنی کس یې دا شریعت تدریسوې څنګه ممکنه ده چه دا ستر برخلیک د تر ټولو ستره ناروغي او خطر ونه اوسي؟
وګوره! مونږ پوهېږو چه ته څه تعلیم ورکوې؟ ته وایې: "ټول څیزونه تر ابده بېرته راګرځي او مونږ هم ورسره راځو. تر دې دمه بې انتها دلته وو او ټول څیزونه هم له مونږ سره وو."
ته تعلیم ورکوې چه یو د سترېدوکال شته او د ستروکلونو په منځ کې یوه هیولا ده. هغه باید لکه رېګین ساعت مکرر ډوب شي تر څو بیا بیا رېګونه له پورته ښکته توی شي او خالي شي.
پدې اساس دا کلونو په ټولو سترو اوکوچنیو څیزونه کې یو بل ته ورته دي. همغه شان لکه مونږ چه د لویې په هرکال کې په جزوي اوکلي ډول ځانته ورته یو. اې زردتشه! که چېرې اړینه وي ته مړ شې موږ پوهېږو چه ځانته به مړکړې اما حیوانات دې نه غواړي ته مړ شې!

(c) ketabton.com: The Digital Library

اې صبور او بې لړزې کسه پداسې حال کې چه راحت او آرام نفس وکاږې او له زړه څخه د سنګين بار او عقده اخيستل کيږې وبه وايې: "همدا اوس زه مړکيږم، غايبيږم او لږې شيبې وروسته هيڅ کيږم، روح هم د جسدونو پشان فاني دی. اما د علت په ګنډه کې بيا تکراريږم او ما به بيا له سره پيدا کړئ. زه د همېشني راتګ له علتونو څخه يو يم.

زه دې لمر، دې ځمکې، دې عقاب او دې مار ته بېرته راځم. دې ته ورته يا غوره ژوندون ته نه راګرځم بلکه همدې ژوند ته چه په جزياتو اوکلياتوکې له فعلي ژوند سره هيڅ توپير نلري راګرځم تر څو يو ځل بيا همېشنۍ بېرته راګرځېدنه ټولو ته تدريس کړم. تر څو يو ځل بيا د سترې غرمې او بشر په هکله خبرې وکړم او يو ځل بيا (ستر سړی) انسانانو ته اعلام کړم.

ما مې خپلې خبرې کړېدې او د خپلو خبرو له امله کوچيني شوی يم. زما همېشنی برخليک داسې حکم کوي چه بايد د قاصد پشان پناه شم. اوس هغه ساعت رارسېدلی دی څوک چه نزول کوی بايد ځانته رحمت او برکت ورکړي. د زردشت نزول پدې ډول پای مومي او مني يې."

حيواناتو چه څنګه دا خبرې وکړې چوپتيا يې غوره کړه. منتظر وو چه زردشت به څه ووايي اما زردشت خبر نه وو چه دوی سکوت اختيارکړی دی او په پټو سترګو د هغه کس پشان بې حرکته پاتې وو چه ويده وي اما ويده نه وو ځکه له خپل روح سره يې بنډارکولو. مار او عقاب يې چه نوموړی داسې چوپ وليد نو دا چوپتيا يې غوره وګڼله او يواځې يې پرېښود.

## ستره لېوالتيا:

اې روحه تا ته مې در زده کړي چه ووايې: "نن، يو ځل او مودې مخکې" دلته، هلته او هغې طرف کې خپلې سندرې ته وګډېږه. اې روحه! ما تا ته له ټولو تيارو کنجونو څخه نجات درکړی دی او له ګرد، غبار، غنو، تيارو او رڼاوو څخه مې پاک کړی يې!

اې روحه! له تا څخه مې شرمېدوونکې، د خجلت وړ سپکې او بې ارزښته تقواګانې لېرې کړېدي او ته مې قانع کړی يې چه لوڅ لغړ د لمر سترګې په مقابل کې ودرېږې. د هغې توپان په وسيله چه عقل نوم لري ستا د مست سمندر په سطحه تللی يم او ټولې ورېځې مې ترې ايسته کړېدي. حتی هغه روح چه ګناه نوم لري له منځه مې وړی دی.

اې روحه تا ته مې حق درکړی چه لکه توپان (نه) او لکه صاف روښانه آسمان (هو) ووايې! اوس ته له نوره آرام ولاړ يې او د پوچو خبرو پشان د توپان له منځه تېرېږې. اې روحه تا ته مې په نه پيدا شوو او پيدا شوو څيزنو بيا بيا آزادي درکړې او څوک شته چه ستا پشان د رارسېدونکو څيزونو په خوند پوه شي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

اې روحه تا ته مې ستره کرکه او مينه درزده کړيدي، هر څومره چه ډېره مينه ولرې هغومره ډېر د کرکې لاندې راځې.
زما روحه تا ته مې درزده کړي چه څرنګه نور قانع کړې او همدا اوس ته کولی شې ټول عناصر لکه لمر چه سمندر خپلو ارتفاعاتو ته کشوي داسې د ځان په طرف جذب کړې. اې روحه! له تا څخه مې هر ډول اطاعت کول، په ګونډو کېدل، تکريمول او تعظيمول ايسته کړيدي او تا ته مې د "احتياج خم کوونکی او تقدير" لقب درکړی دی.
روحه! تا ته مې نوي لقبونه او رنګارنګ نوې لوبې درکړېدي. تا ته مې د (تقدير)، (د مدارونو مدار)، او (نيلګونې ګنبدې) لقبونه درکړيدي. اې روحه ستا د فرمان په روايت مې ټول عقل ځښاک ته ورکړی دی. هو، د عقل ټول تازه او بې اندازې زاړه او قوي شرابونه مې ستا ځښاک ته درکړيدي. زه هر لمر، هره شپه، هره چوپتيا او هره لېوالتيا ستا په مخ اچوم اوهغه وخت د سيل چه د انګور ونې پشان په نمو پيل وکړې.

اې روحه له حده زيات غني شوی يې او د هغه انګور تاک پشان ښکارې چه د رحمت او سعادت له امله يې لويې او ښکلې انګور دانې د چاودېدو په حال کې وي. په همدې رحمت او برکت کې انتظارکوې او له انتظاره د خجل يې.
هېڅ ځای داسې مينه ناک روح، د غېږ نيونې لپاره آماده او د ټولو څيزونو احاطه کوونکی روح نه پيدا کيږي! په کوم ځای کې راتلونکې او پخوا ستا په منځ کې يو بل ته نيږدې شي؟ اې روحه! ما تا ته هر څه درکړيدي او لاسونه مې تا ته د ورکړې له امله بېخي خالي شويدي! اوس ته له تشويش څخه ډک په ښځينه موسکا راته وايې: "په مونږ دوه نفرو کې کوم يو بايد له بل څخه منته وکړي؟"
ايا ورکوونکی له اخيستونکي د دې لپاره منته ونکړي چه اخيستونکی دی؟ آيا ورکونه خپله يو احتياج ندی؟ آيا اخيستنه ترحم ندی؟ اې روحه زه ستا د تشويش ډکې خندا په معنی پوهيږم، ستا بېحده زياتوالې همدا اوس خپل لېوال لاسونه د بهر په طرف اوږده کړي دي. ستا کثرت د مستو سمندرونو په طرف نظر اچوي، پلټنه کوي او انتظار باسي. له حده زياته ميل د آسمان له څټه په خندانو سترګو ځليږي.

اې روحه واقعا داسې څوک به وي چه ستا خندا ويني او ونه ژاړي؟ حتی پرښتې هم ستا د مهربانۍ څخه ډکې موسکا (چه نه ژاړې او نه چيغې کوې) له امله په ژړا کيږي. ستا پدې ټوله خندا روح د ژړا لېوال دی او لړزانده خوله د ډکې ژړا ته هيله منده ده.
ته خپل ځانته داسې وايې: "ايا هر ژړا د شکوې ډول ندی؟ او هر شکوه د اتهام ډول ندی؟" لدې امله اې روحه ته غوره ګڼې چه خندا وکړې تر څو ټول غمونه له ځانه بهرکړې او ټول غم چه دکثرت له امله د ځان کې لرې د اوښکو په ډول له ځانه ايسته کړې، خپله لېوالتيا انګور ټولوونکو او انګور ټولوونکي چاقو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وښايي. اما اې روحه! که چېرې نه غواړې خپل ارغواني تشويش د اوښکې په بڼه بېرون وغورځوې حد اقل بايد سندرې ووايې.
وګوره زه خپله موسکا کوم او همدا موسکا تا ته وايي: "ته بايد په لوړ غږ نغمې ووايې تر څو ټول سمندرونه د لېوالتيا ته آرام شي، تر څو د آرامو او لېواله سمندرونو په مخ د معجزې په نوم زرين بادوانونه ونه ښوريږي. پداسې حال کې چه ټول نېک، بد، عجيب ځيزونه، دکوچينيو او لويو حيواناتو ډېرئ او هغه څه چه د اعجاز ډوله تېزو پښو درلودونکي دي کولی شي دکورونو پر بې نفشو لارو منډې وکړي او په نيږدې چاپېرکې يې ښکته پورته شي. ځان (زرينې معجزې) نومي بادوان ته چه د ازادې ارادې دکښتۍ ځښتن ده رسوي اما نوموړی هغه انګور ټولوونکی دی چه الماسي انګور ټولوونکی چاقو ورته انتظارکوي.

اې روحه پوه شه! نوموړی يعني هغه بې نومه کس چه نغمې ورته د لومړي ځل لپاره اسم پيدا کوي او ستا لوی ناجي دی. او واقعا همدا اوس ستا نفس له راتلونکو ترانو څخه معطر شويدی. همدا شېبه ته ځليږې او خوب وينې، همدا اوس ته د ټولو ځاګانو له عماقو څخه په تسلې ځښناک کوې او همدا وخت ستا تشويش راتلونکې سندرې په نېکبختۍ او خوښۍ کې آراموي.
اې روحه همدا شېبه ما ټول ځيزونه حتی اخري دارايي هم تا ته درکړېده او لاسونه مې تا د د درکړې له امله بشپړ خالي شويدي! کله مې چه له تا تقاضا وکړه سندر ووايې دا مې اخري ډالۍ وه چه درته تقديم مې کړه.
ما له تا وغوښتل چه سندر ووايې، ووايه! چه په موږ دواړو کې څوک بايد له بل څخه منن وکړي؟ اما اې زما روحه غوره به وي چه ما ته سندر ووايې، نغمه ووايې او پرېږدې تر څو زه له تا څخه منن وکړم!

## دګډا دوهم غږ:

۱

اې ژونده اوس اوس مې ستا سترګو ته په ځيرکتل، په سترګوکې د چه لکه شپه داسې تياره وه زرينه ځلا مې وليده او زړه مې د خوشحالۍ له امله د حرکت څخه پاتې شو. ما زرينې کښتۍ وليدې چه لکه په شپه داسې تيارو اوبوکې رواني وې او دا کښتۍ په اوبوکې ښکته پورته تلې او بيا بيا ځلېدلې.
ستا نظر خندان، تپوس کوونکی، اوبه کېدونکی اوګډېدونکی دی. په عين وخت کې پداسې حال زما پښو ته نظرکوې چه دګډېدو سختې شيدا او ارمانجنې دي. اما تا بيا د ساز قاشوقې په خپلو ظريفو لاسونوکې په حرکت راوړې دي او همدا شېبه زما پښې چه دګډا لېونۍ دي په حرکت راغلې دي. د پښو تلې مې مخ پورته مايلې شوېدي او پنجو مې غوږ نيولی دی تر څو تا درک کړي ځکه د رقاص غوږونه د پښو په ګوتوکې قرار

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري، مګر داسې نده؟ زه ستا په خوا وګرځېدم خو ته له ما وتښتېدې او د تېښتې لامبوزنې کڅوړې د لکه ژبې زما په طرف ټکان خوړ.

زه له تا او مارانو څخه د لېرې والوتم او ته پداسې حال کې چه ستړګې د له ناهیلۍ ډکې وي زما طرف ته دې کتل. ستا د ستړګو له کنجو څخه کتل ما ته کاږه مسیرونه را زده کوي او پدې کږو مسیرونوکې زما پښې فرېب زده کوي. تر څو پورې چه راته نیږدې يې درنه وېرېږم اما څنګه چه لېرې شې مينه درسره لرم.

ستا فرار ما جذبوي او په تا پسې کېدل مې منجمد او يخ کوي. زه رنځېږم اما څه رنځ دی چه د هيلو په کمال سره يې ستا په لاره کې تحمل نه کړم؟ اې کوډګره، فرېبګره، لټوونکيه او پيدا کوونکيه څوک دی چه له تا سره ميرڅمن ندی؟ اې معصوم او بې صبره ګناهنګاره چه د ماشوم پشان ستړګې لرې! څوک له تا سره مينه نلري؟

اې بد تمرينه او بې شرمې نجلۍ ته اوس ما وژنې؟ اې فراري، خوږې او حق ناپېژاندې ښځې همدا شېبه بيا چېرې رانه تښتې؟ زه تا پسې ګډېږم او تر ټولو ډېر جزوي حرکتونه د تقليدوم. همدا اوس چېرې تللې يې؟

لاس دې که چېرې حتی يوه کوچينۍ ګوته هم وي ما ته يې راکړه!

دلته غارونه اوکوچيني ځنګلونه زښته ډېر دي. مونږ به خپله لاره ورکه کړو پاتې شه! ارامه اوسه! نه وينې کونګان او آسمان ځکالي څرنګه پر پرکوي؟ اې کونګ او آسمان ځکاليه! آيا ما ته فرېب نه راکوې؟ مونږ چېرته يو؟ تا دا زګېروي او عوعوکول له سپيانو زده کړيدي؟

ته خپل سپين غاښونه په جذبه راته راښايې او شريرې ستړګې دې د پېچلو وزرونو له منځه راته راګورې! دا د ونو د کوندو او تيرو په مخ رقص دی، زه ښکاري يم آيا غواړې زما سپی يا هوسۍ واوسې؟ همدا اوس ته زما په څنګ کې يې! اې تېز شيطانه څومره په سرعت سره د ځان ما ته رارسولی دی! اوس جګ شه او لېرې لاړ شه! افسوس زه د الوتو په حال کې ولوېدم!

اخ اې لېونيه وګوره زه څرنګه لوېدلی يم او په زاريو بښنه غواړم! کاشکي کولای مې شوای لدې څخه په غوره مطلوبه لارکې له تا سره لاړ شم! مثلا د مينې په لار د آرامو اوګلونو ډکو بوټو په منځ کې او يا د سمندرګي په څنډو، پداسې ځای کې چه طلايي ماهيان ګډېږي او لامبوکوي.

آيا همدا شېبه ستړی شوی يې؟ په هغه لېرې ځايونوکې مېږې او سور غروب راپيدا شوی آيا لذت نلري چه شپون شپېلۍ وهي او سږی په خوب لاړ شي؟

آيا ته دومره ستړی شوی يې؟ که چېرې د لاس لږ ټيټ ونيسې زه به د هغې ځای ته بوزم اوکه چېرې تږی وې د تندې رفع کولو لپاره به دې کوم څيز راوړم، منتها ستا خوله يې د پيدا کولو لپاره مايله نده.

لدې لعنتي مار څخه امان چه په تېزۍ کلچه وهي او افسو لدې زشت فرار څخه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا اوس چېرې تللی يې؟ تر اوسه مې په غومبورو سرې لکې او سوزنده تڼاکې چه لاس د جوړې کړېدي احساسوم. نور لدې څخه تنګ شوی يم چه ستا چوپان اوسم! اې ابليسه تر دې دمه مې په ځلونو تا ته نغمې ويلې دي اوس ته بايد ما ته وژاړې! زما د متروکې مقام ته کېدی شي وژاړې او يا کېدی شي وګډېږې. آيا فکرکوې چه ما مې متروکه هېره کړېده؟ نه هېڅکله!

٢

هغه وخت چه ژوندانه پخپلو ظريفو غوږونو لاس اېښې وو ما ته يې داسې ځواب راکړ: "اې زردشته خپله متروکه په دومره ډاروونکي غږ مه راوله! ځکه ته خپله پوهېږې چه غالمغال فکر وژني او همدا اوس زه ډېر ظريف افکار پخپله خاطره کې لرم.
موږ دوه نفره داسې کسان يو چه هېڅکله بد او ښه نه کوو. يواځې مونږ دوه کسان يو چه ښېرازه شنه او پاکه جزيره کې مو نېکي او بدي موندلې، نو پدې اساس بايد يو له بل سره واوسو. صحيح ده مونږ له يو بل سره بشپړه مينه نلرو اما آيا اړينه ده څوک چه يو بل سره بشپړه مينه نلري بايد شخړه وکړي؟ ته پخپله پوهېږې چه زه له تا سره فوق العاده علاقه لرم او علت يې همدا دی چه ستا له عقل سره کينه کوم. لدې سپک مغزې ښځې او لدې عقله امان! که کومه ورځ د عقل تا ترک کړي هغه وخت به زما مينه هم په سرعت له تا څخه وخېژي."

دې وخت کې ژوندون خپل چاپېر ته دقيق وکتل او وروسته يې ورو وويل: "اې زردشته ته زما په وړاندې بشپړ وفادار نه يې. په هغه اندازه چه وايې له ما سره مينه نلرې. زه پوهېږم چه څومره زر به ما پرېږدې.
يو زوړ، سنګين او غالمغالي ساعت دی چه غږ يې په شپه کې حتی ستا سومڅې ته هم رسيږي. کله چه اورې هغه ساعت نيمه شپه اعلانوي ته بيا هم ورته ته د يوې او دوولسو بجو په منځ کې فکرکوې."

ما په سستۍ ځواب ورکړ: "هو، همداسې ده! اما ته همدارنګه پوهېږې چه..." او بيا مې يې د ورانې وېجاړې او احمقانه کڅوړې له منځه په غوږ کې وويل.
او هغو وويل: "اې زردشته ته په هغو څيزونو پوهېږې چه نور هېڅوک پرې نه پوهېږي."
مونږ يو بل ته وکتل او د هغه شنه چمن په مخ مو وژړل چه يخې شپې په هغه کې ځان نغښتی وو. هغه وخت مې ناڅاپه ژوندون له ټول عقل او پوهې څخه ګران قېمتي او ارزښتناک شو.

زردشت داسې وويل

٣

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو!

اې انسانه پاملرنه وکړه!

دوه!

چه ژوره نیمه شپه څه وایي!

درې!

"زه ویده یم! زه ویده یم!"

څلور!

زه له عمیق خوبه ویښ شوم!

پنځه!

نړۍ عمیقه ده

شپږ!

او له هغو هم عمیقه ده چه یوه ورځ مې یې فکرکاوه!

اووه!

غم یې هم عمیق دی

آته!

او خوښي یې له غمه عمیقه ده

نهه!

غم وایي: "لدې ځایه لاړ شه او نابود شه!"

لس!

اما خوښي ابدیت پلټي.

یوولس!

عمیق او بې پایه ابدیت

دوولس

## اووه‌ګوتیې (یا د هو او آمین سندر):

واقعا که چېرې زه فالګیر وای، د غیب وینې له روحه ډک، هغه روح چه د دوه تپو په منځ کې د راتلونکي او پخواني سمندر په سر سنګین روان وي، هغه روح چه د مرطوبو او خفه‌کوونکو دښتو دوښمن وي او هغه چه بېزار او زړه تنګی دی، نه ژوندکولی او نه مړکېدلی شي. داسې روح چه حاضر دی ومني برق یې تیاره سینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

رڼا کړي او له هغه نجات موندونکي نور څخه ډک وي چه له (هو وايه) او (خندانه) برقونو څخه ډک وي.
(آفرين د هغه چا په حال چه دا رنګه ډک وي! او رېښتيا هغه کس چه غواړي بلآخره يوه ورځ راتلونکې روښانه کړي بايد همداسې د توپاني وريځې پشان د ډېر وخت لپاره په غرونو سيورى وکړي.)
اخ! ما ولې ابديت او د واده تر ټولو عالي ګوتمۍ يعني د همېشنۍ راګرځېدنې حلقه په لېوالتيا نه غوښته؟
تر دې دمه داسې ښځه نده پيدا شوې چه خوښه مې شي او د اولاد څښتن ترې شم. مګر دا ښځه چه مينه ورسره لرم ، اې ابديته زه له تا سره مينه لرم!

## اې ابديته ځکه زه مينه درسره لرم

۲

که زما غوصې تر دې دمه هديرې رالوځې کړې، آثار يې له منځه وړي او پخواني زاړه جدولونه يې ټوټې ټوټې کړي او تلو ته غورځولي وي، که استهزا مې تر اوسه ورستې او ځګ وهلې خبرې د باد په لاس ورکړې وي، که چېرې زه لکه جارو د صليب په غبو نازل شوى او لکه غوصه ناک باد په زړو او نمناکو جسدونه لګېدلى واى، که چېرې زه د پخوانيو خدايانو په مزار ناست او جشن مې نيولى واى، که چېرې مې نړۍ رحمت کړې واي او د هغې په وسيله مې ټول آثار او د بدانو پخواني عمارات د علاقې وړ ګرځولي واى، (حتى د خدايانو په کليساوو او هديروکله چه د آسمانو پاکه سترګه له وېجاړو سقفونو څخه داخل ته ځليږي مينه ورسره لرم؛ ډېر مې خوښيږي چه لکه شنه واښه او سره شقايق دکليساوو پر خرابوکښېنم.)
اخ، ما ولې له ابديت او د واده له عالي ګوتيې د همېشنۍ راګرځېدنې حلقه په لېوالتيا نه غوښته؟
تر اوسه مې داسې ښځه نده پيدا کړې چه خوښ شوى د وم اولاد ترې ولرم، ځکه اې ابديته زه له تا سره مينه لرم!

## ځکه اې ابديته زه له تا سره مينه لرم

۳

که چېرې يوه ورځ له خلاقه نفسونو يو نفس او آسماني نياز چه حتى اتفاق هم د ستورو په رقص راولي په ما لګېدلى واى، که چېرې يوه ورځ د تندر خلاقه خندا په ټول درز او غرور سره پيوسته مطيعانه ترسره شوې واى خندل مې، که چېرې مې يوه ورځ له خدايانو سره د رباني مېز په مخ پداسې ډول فال اچولى چه ټوله ځمکه ولړزيږي، څيرې شي او د اور رودونه ترې حاري شي، (ځکه ځمکه د خدايانو د لوبو مېز دى چه د خدايان په نوو خلاقه کلمو او فال اچونې سره په لړزه پرې راځي.)
اخ، ما ولې له ابديت او د واده له عالي ګوتيې د همېشنۍ راګرځېدنې حلقه په لېوالتيا نه غوښته؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر اوسه مې داسې ښځه نده پيدا کړې چه خوښ شوی د وم اولاد ترې ولرم، ځکه اې ابديته زه له تا سره مينه لرم!

## ځکه اې ابديته زه له تا سره مينه لرم

۴

که چېرې مې له هغو معطر اوکف وهلي جام ځخه ځنباک کړی وای چه ټولو ځيزونه پکې مخلوط دي. که چېرې مې لاسونو تر ټولو لرې فاصلې نيږدې کولی، اور مې په روح او خوښي مې په رنځ او تر ټولو شرير مې تر ټولو مهربانه کې اچولی شوی.

که چېرې زه د نجاتي مالګې هغه دانه وای چه ټول ځيزونه د ديګ په داخل کې مخلوطوي (ځکه داسې مالګه شته چه نېکي له بدۍ سره ګډوي، او حتی تر ټولو شرير او بد ځيزونه، د جام د ډکولو او په ځګ راوړلو لپاره غوره دواه ده.)

اخ، ما ولې له ابديت او د واده له عالي ګوتيې د همېشنۍ راګرځېدنې حلقه په لېوالتيا نه غوښته؟

تر اوسه مې داسې ښځه نده پيدا کړې چه خوښ شوی د وم اولاد ترې ولرم، ځکه اې ابديته زه له تا سره مينه لرم!

## ځکه اې ابديته زه له تا سره مينه لرم

۵

که چېرې زه د سمندر او هر ځه چه سمندر ته ورته دي لېوال وای، کله چه هغه غوصه کېدای او ما ته يې بې احترامې کولای نور به يې هم پر وړاندې لېوال کېدلای، که چېرې د پلټنې هغه ميل په ما کې وای چه بادوانونه د نه کشف شوې ځمکې په لورکشوي. که چېرې مې ميل د يو سمندرګرځېدونکي د ميل پشان وای، که چېرې مې خوښۍ يو ورځ لوړ فريادکولی چه: "ساحل محوه شوی دی!" اوس اخري قيد او بند له ما لېرې شوی دی اوګرد چاپېره مې بې سرحده سمندر مستۍ کوي او لکه غر لوړېږي او په هغو لېرې ځايونو کې وخت او مکان ځلېږي، اې زما زړه جګ شه!

اخ، ما ولې له ابديت او د واده له عالي ګوتيې د همېشنۍ راګرځېدنې حلقه په لېوالتيا نه غوښته؟

تر اوسه مې داسې ښځه نده پيدا کړې چه خوښ شوی د وم اولاد ترې ولرم، ځکه اې ابديته زه له تا سره مينه لرم!

**ځکه اې ابديته زه له تا سره مينه لرم**

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶

که چېرې مې زهد رقاص وای په خوشالۍ سره په دواړو پښو د طلا او زمردو هوا ته الوتلی شوای، کچېرې مې شرارت خندان شرارت وای د سروګلونو په باغچو او بوټوکې يې تل خوشالي او راحتي موندله، (ځکه ټولو شرارتونه په خنداکې مجتمع دي او پدې سربېره په سعادت او خوشالۍکې يې ځان تطهيرکړی او بښلی دی.)

اوکه چېرې دا الفبا زما وای، هغه څه چه سنګين وو سپک شوي به وای او د يو رقاص جسم به يې پيداکړی وای. کوم څه چه روح لري لکه الوتونکی به شوي وای او واقعا دا زما الفبا دي.

اخ، ما ولې له ابديت او د واده له عالي ګوتيې د همېشنۍ راګرځېدنې حلقه په لېوالتيا نه غوښته؟تر اوسه مې داسې ښځه نده پيداکړې چه خوښ شوی د وم اولاد ترې ولرم، ځکه اې ابديته زه له تا سره مينه لرم!

**ځکه اې ابديته زه له تا سره مينه لرم**

۷

کچېرې مې په سر آرام آسمانونه جوړولی شوای او د وزرو په وسيله مې د آسمانونو په طرف الوتنه کولی شوی، که چېرې د لېرې نور په عمق کې ډوب تللی شوای اوکه چېرې دوربينه عقل له آزادۍ څخه سرچينه اخيستلی شوای. (دوربين عقل داسې وايي: "وګورئ ښکته پورته په کار ندي! اې نوراني موجوده ځانه بهر، څټ او اطراف ته وارکړه! سندر ووايه او نورې خبرې مه کوه!

آيا ټولې کلمې د درنو غوړونو والو ته ندي جوړې شوې؟ آيا ټولوکلمې نور ته دروغ نه وايي؟ ووايه او نورې خبرې مه کوه!")

اخ، ما ولې له ابديت او د واده له عالي ګوتيې د همېشنۍ راګرځېدنې حلقه په لېوالتيا نه غوښته؟

تر اوسه مې داسې ښځه نده پيداکړې چه خوښ شوی د وم اولاد ترې ولرم، ځکه اې ابديته زه له تا سره مينه لرم!

**ځکه اې ابديته زه له تا سره مينه لرم**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**څلورمه برخه**

د نړۍ په کومه برخه د رحم کوونکو له حماقتونو څخه ستر حماقتونه لیدل شویدي؟

اوکوم شي د رحم کوونکو له حماقته نړۍ ته ډېره ضرر رسولی دی؟

افسوس په هغو چه مین دي اما پخپل ترحم نشي مسلط کېدلی.

ابلیس یو ورځ راته داسې ووېل: "حتی خدای هم بې دوزخه ندی. د هغو دوزخ د بشر په وړاندې افراطي مینه ده."

او نوي مې اورېدلي چه ویل کېږي: "خدای د بشر په وړاندې د ترحم په پایله کې ژوند ته خدای پاماني ویلې ده."

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د شاتو فدیه:**

او یو ځل بیا عمرونه د زردشت په روح تېر شول مګر نوموړي پاملرنه نه ورته کوله اما وېښتان يې سپین شول. یوه ورځ د خپلې سومځې په مخ کې د چوپتیا په حال کې په تیږه ناست وو (همغه شان لکه انسان چه سمندرونو او لرې ځایونو ته په ځیرګوري) په ځیر يې کتل. حیوانات يې د نوموړي پر چاپېر په حرکت کې وو او بلآخره ودرېدل داسې يې ووېل:

"اې زردشته کېدی شي پخپلې نېکبختۍ پسې شې؟" او نوموړي ځواب ورکړ: "نېکبختي څه ارزښت لري؟ کلونه کېږي چه د نېکبختۍ له پلټنې مې لاس اخیستی دی زه د خپل کار لپاره هڅې کوم."

حیواناتو يې بیا ورته ووېل: "زردشته! ته د هغه کس پشان وایې چه له حده زیاته يې له نېکیو څخه ګټه ترلاسه کړې وي، آیا ته په یوه کوچیني سیندکې نه يې آرام شوی؟"

زردشت ځواب ورکړ: "اې ټوکمارانو څومره ښه، تاسو خپله تشبیه انتخاب کړېده! اما تاسو پوهېږئ چه زما نېکبختي او سعادت سنګینه ده د روانو ابو له څپو سره ورته والی نه لري. دا نېکبختي ما تر فشار لاندې راوړي او دې ته نده حاضره چه ما ترک کړي او له یوې عمیقې تلې سره بشپړ شباهت لري."

وروسته يې حیوانات یو ځل بیا متفکرانه ګرد چاپېر په حرکت راغلل په مخکې يې ودرېدل او ووېل: "اې زردشته پداسې حال کې چه وېښتان د سپین دي او ورځ په ورځ زېړ او پخېږې له همدې امله دي؟ عجیبه ده! ته پخپله تله کې ناست يې."

زردشت په خندا سره ووېل: "اې زما حیواناتو اوس تاسو څه وایاست؟ کله چه ما د عمیقې تلې په هکله خبرې وکړې ریښتیا مې کفر ویلی او ټول څیزونه چه پخو مېوو ته رسیدلي دي ما ته يې هم لاس راکړی دی. زما په رګونوکې داسې شات دي چه وینه مې غلیظه او روح مې آراموي."

حیواناتو يې ځواب ورکړ: "باید همداسې واوسي زردشته! اما آیا نن نه غواړې لدې لوړ غره هم لوړ لاړ شې؟ هوا صافه ده او نن کولی شو له نورو وختو نړۍ ښه ووینو."

زردشت ووېل: "هو زما حیواناتو تاسو ښه پندونه وایاست او زما د زړه په خوښه خبرې کوئ. همدا نن به زه لدې لوړ غره لوړ لاړ شم اما فکر مو وي د لاسونو په مخ مې باید ، سپین، زېړ او زرین شات باید ښه يخ وي! ځکه زه غواړم د غره په څوکوکې شات فدیه کړم."

اما څنګه چه زردشت د غره څوکې ته ورسېد حیواناتو ته يې هدایت ورکړ او منزل ته يې روان کړل. دې وخت کې يې ډېر یواځېتوب احساس کړ او د زړه له تلې يې وخندل اطراف ته يې وکتل او بیا يې داسې ووېل: "کله چه ما د شاتو له انفاق او فدیې څخه خبرې کولې لفظي مکاري مې استعمال کړه او واقعا دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرېبکاري ګټور لېونتوب وو. دلته د غره په څوکه د منزويانو د سومڅې له مخې او د منزويانو د حيواناتو په منځ کې له خبرو څخه آزادانه خبرې کولی شم."

ومې وېل فديه؟ اما په کوم جرأت زه خپل عمل ته د فديې او انفاق نوم ورکوم؟ کوم څه چه ما ته راکړل شوي هغه تلف کوم زه د سلو او زرو کارونوکاسب یم. کله مې چه د شاتو تقاضا وکړه، يوائې د داسې وسيلې په لټه کې وم چه خوږوالي او سرېښوالي ته يې حتي ترش خرسان او موذي غريب الوتونکي هم شونډې وڅټي.

هو د ډېر غوره طعم په لټه کې وم تر څو د بهترينو ښکاريانو او ماهي نيونکيو په غبطه کې قرار ولرم ځکه، که څه هم نړۍ له تيارو او وحشيانو څخه ډک ځنګله ته ورته ده او د خوښۍ ببنونکي بڼ پشان د ټولو وحشي ښکاريانو لپاره ده. زما په نظر يو لوی او ژور سمندر ته ورته ده چه د ښکلو ماهيانو او خرچنګانو لرونکی اوحتی خدايان هم د ښکار په هوس راولي. نړۍ لدې خاطره د سترو اوکوچينيو عجايبو ډکه ده.

په ځانګړي ډول سره جهان او د خلکو سمندر له عجايبو ډک دي او په همدې سمندرکې زه همدا اوس د ماهي نيونې چنګک غورځم او وايم: "اې د خلکو تلې خلاصه اوسه ځلېدونکي کبان او خرچنګونه ما ته راوغورځوه!" زه ډېره غوره مړۍ لرم تر ټول عجيب بشري کب کېدی شي پرې ښکارکړم. خپله نېکبختي او سعادت خپل چاپېر، مشرق، باختر او جنوب ته اچوم. پرېږده چه ډېری بشري کبان زما د نېکبختۍ په چنګک ځړېدل او په هغې پسې تلل زده کړي. تر څو زما په غيبو او تېزو چنګکو پسې ناچاره شي او لوړو ارتفاع ګانو ته پسې راشي يعني تر ټولو د ښه نقش لرونکي د حيوانات په شريرو ښکاريانو پسې راشي! ځکه زه همداسې يم او له اوله هغه زده کوونکی او تعليم ورکوونکی يم چه ځانته مې رازده کړي هر څه چه يې هماغه اوسه! او دا هم بې دليله او بې ګټې نه وو.

لدې امله کېدی شي خلک اوس هم په ما پسې پورته راشي. ځکه زه اوس هم داسې نښانو ته منتظر يم چه په رارسېدو سره يې زما د نزول وخت معلومېږي او تر هغې وخته به زه د خلکو منځ ته نزول ونکړم.

په مسخرانه او عاجزانه حالت د همدې لوړو غرونو په سطحو انتظارکوم، نه بې صبره يم او نه صبور اما هغه چا ته ورته يم چه صبرکول يې اصولا هېرکړي وي تر څو نور ونه رنځيږي ځکه تقدير ما ته پشېړ وخت راکړی دی. آيا هغه زه هېرکړی يم يا که اوس هم د لويې تيږې څټ ته ناست دی او منګس نيسي؟

واقعا زه له خپل ابدي تقدير څخه په بشپړ ډول سره مننوی يم ځکه زه يې نه يم تعقيب کړی او په بېړه کوي مې هم نه. بلکه برعکس ما ته د شوخۍ او شرارت لپاره کافي وخت راکوي لکه د نن پشان چه د لوړو غرونو په سطحوکې مې دکب نيونې لپاره ځای پيداکړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

آیا تر دې دمه کوم سرې د لوړو غرونو په سرکبان ښکارکړيدي؟ که څه هم ممکن کوم څه چه زه پدې لوړو برخوکې لټوم بې له لټونتوبه بل څه نه وي اما بيا هم دا د لټونتوب کار د غره په لمن کې له انتظارکولو او د غم له امله زېړ او ښېرازه کېدو څخه غوره دی. له شوره ډک مست او غوصه ناک توپان له غرنۍ سيمو مستريږي او لکه کم ظرفيته کس د درو په طرف فريادونه کوي چه "واورئ! کنه تاسو به د خدای په متروکه سزايي کړم."

داسې مه اندئ چه زه د دې ډول کسانو په وړاندې غوصه ناکه کينه په زړه کې لرم ځکه دوی ما خندوي او پدې ډول ما ته غوره خدمت کوي! دا ستاسو ژورې تلې چه نن بايد شونډې په غړېدا راولئ او يا يې هم تر ابده بندې وساتي بايد ډېرې بې صبره واوسي. اما زه او تقدير مې نن او هېڅکله خبرې نه کوو، مونږ د خبرو کولو لپاره بشپړ وخت په واک کې لرو ځکه بلآخره مو ورځ رارسېدونکې ده او هغه به هم تېره نشي. دا څشی دي چه کېدی شي راشي او تېر نشي؟ دا زړ، يعني د لېږې بشر د حکمرانۍ لپاره د زردشت زرکلن پلان دی.

ما ته څه اهميت لري چه دا لېږې وخت له مونږه څومره واټن لري؟ په هر صورت د هغه لېږوالی خپله رارسېدنه نه بې اعتباره کوي او زه هم سخت ورته نا قراره يم. هو، زه د ابدي ځمکې اوکلکې تيږې په مخ چه د لوړ او سختو بدوي غرونو په سلسلو قرار لري چه توپاني بادونه د ابشارو په طرف پکې لګيږي او تپوس کوي: "چېرې؟ او له کوم ځايه ترکوم ځايه؟" محکم اوکلک درېږو.

اې زما روغ او روښان شرارته کېدای شي دلته وخاندې! د لوړو غرونو څخه د مسخره شانته او ځلېدونکې خندا زما لور ته راواچوه او پخپله ځلا سره د بشر تر ټولو غوره کب زما په دام کې راکړه! او هغه څه چه په سمندرونوکې زما دي يعني زما واقعي نفس په ټولو څېزونوکې زما لپاره ښکارکړي او زما په لور يې پورته راکش کړه. زه چه د ټولو بې رحمه ښکاريانو څخه ډېر بې رحمه يم د همدې لپاره دلته څو شېبې انتظارکوم. اې زما چګکه را بهر شه! اې زما د رحمت طعمې دلته داخل شه او پدې سمندرکې ښکته لاړ شه! اې زما د زړه شاتو تر ټولو خوږه نباتي شيره تقطيرکړه او زما چنګک د ټولو تورو غمونو په خېټه کې واچوه! اې زما سترګو وګورئ او څير شئ! زما چاپېر سمندرونه څومره ډېر دي او د بشري طالع راتلونکې څومره معدوده ده! زما په سر سور رنګه ارامښت ته وګورئ څومره بې وربځې سکوت موجود دی."

## د زارۍ غږ:

يوه ورځ وروسته زردشت بيا خپلې سومڅې ته نيږدې په تيږه ناست وو. حيوانات يې بهرنۍ نړۍ ته تللي وو تر څو نوي خوراکونه او تازه شات له ځانه سره خپل منزل ته راوړي ځکه زردشت ټول مخکېني شات په بې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پروایۍ مصرف کړي وو. په ناسته کې یې د خپل سیوري پر مخ په ځمکه خط کشوولو او اندل یې (په ریښتیا د ځان او سیوري په اړه یې فکر نه وو) چه ناڅاپه ووېرېدا او ځان یې څټ ته کش کړ ځکه په ځنګ کې یې بل سیوری ولید. له هغه ځایه جګ شو او هیښنده وچ کلک پاتې شو ځکه هغه فالګیر چه زردشت یو ورځ له خپل دسترخوانه ورته خوراک او څښاک ورکړی وو؛ یعني هماغه د ستړیا او له نړۍ څخه د بېزارۍ تعلیم یې چه ورکولو: "ټول څیزونه یو دي، هېڅ شی ارزښت نلري او نړۍ بې مفهومه ده او علم انسان خواشینی کوي." یې پخپله خوا کې ولاړ ولید.

اما پدې وخت کې د فالګیر بڼې بدلون موندلی وو او زردشت چه څنګه ورته وکتل زړه یې بیا سره ولاړ او وډار شو ځکه قیافه یې د راتلونکو پېښو په وړاندوینه کې زښته ډېره وحشي وه. فالګیرکله چه پوه شو د زردشت په روح کې څه تېرېږي لاس یې د هغه چا پشان پخپله قیافه راکش کړ چه غواړي له خپل مخه چټلۍ پاکې کړي. زردشت هم داسې وکړل او دواړو د چوپتیا په حالت کې ځانونه راټول او تقویه کړل. داسې ښکارېده چه نور د یو بل پېژندلو ته حاضر دي او یو بل ته یې لاسونه ورکړل.

وروسته زردشته هغه ته ووېل: "ښه راغلاست اې د ستړیا او بېزارۍ پیغمبره! بې دلیله نه وو چه یو ځل زما مېلمه او د دسترخوان شریک شوی وې، نن هم د پخوا پشان وڅښه او وخوره او دا چه عمر خوړلی او نېکبخته کس په دسترخوان درسره شریک شوی وبښه!"

فالګیر ځواب ورکړ: "یو عمر خوړلی او نېکبخته سړی د ووېل؟" او سر یې وخوځاوه وروسته یې زیاته کړه: "اې زردشته، هر څومره چه ممکنه وي پاتې شې یا وغواړې پاتې شې په زیاتره وختونوکې د دې غره پر سره توقف د بې ځایه وو اما نور به ډېر وخت دوام ونکړې او کښتۍ به د په وچه کې پاتې نشي."

زردشت په خندا وپوښتل: "آیا زه به ځان په وچه کې پرېږدم؟"

فالګیر ځواب ورکړ: "د ستر احتیاج او غم څپې به په تدریج سره د دې تپې اطراف ته راشي او زر به تا هم له ځایه وکاږي له ځانه سره به د یوسي." هغه وخت زردشت متحیر چوپ شو او فالګیر زیاته کړه:

"آیا څه نه اورې؟" بیا زردشت چوپ او غوږ پاتې شو هغه وخت کې یې ډېر جګ او اوږده فریادونه وواربدل چه له ژورو تلو څخه راجګېدل. دا چه هغه غږونه ډېر وحشي او بدغږه وو هېڅ عمیقې تلې نه غوښتل په ځان کې یې وساتي. پدې دلیل یو له بل سره منعکس او رد بدل کول.
بلآخره زردشت ووېل: "اې د بدۍ او فساد پیغمبره دا د زاریو غږونه د هغه مرسته غوښتونکي کس دي چه په بشپړ ډول سره ممکنه ده له یو تور سمندره رابهر شي اما زما یې په بشري احتیاجاتو څه کار؟ کېدی شي ته زما په اخري ګناه هغه ګناه چه زما لپاره ذخیره شوې پوه شې؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

فالګیر یې خپل لاسونه پورته جګ کړل او په لړزانده زړه یې ځواب ورکړ: "ترحم! اې زردشته! زه راغلی یم چه تا د خپلې اخرۍ ګناه په ارتکاب سره ګمراه کړم!" تر دې دمه د فالګیر له خولې دا کلمې په بشپړ ډول نه وې بهر شوې چه بیا د زاریو غږ واورېدل شو او دا ځل له مخکې جګې، دردناکې وې چه فالګیر چیغه وکړه: "زردشته! اورې؟ دا فریاد ستا لپاره دی او تا غواړي، راشه، راشه، راشه! مناسبه موقع رارسېدلې ده."

هغه وخت زردشت چوپ متحیر او ناراحته پاتې شو او بلآخره د هغه کس په شان چه پخپل باطن مشکوک وي تپوس یې وکړ: "او څوک دي چه ما غواړي؟"
فالګیر په کامل شور سره ځواب ورکړ: "ته پدې ښه سم پوهېږې، ولې ځان پټوې؟ عالي سړی تا غواړي."
زردشت په وحشت سره فریاد وکړ: "ستر سړی؟ هغه له ما څه غواړي؟ ستر سړی؟ هغه دلته څه غواړي؟" او ناڅاپه خولې شو. اما مخاطب د زردشت تپوسونو ته ځواب نه درلود نو هوش او غوږ یې د عمقونو په طرف متوجه کړ. کله چه ټول څیزونه د څه وخت لپاره آرام پاتې شول نوموړي د زردشت په طرف نظر وکړ او ویې لیدل چه هغه ولاړ دی او لړزېږي.

فالګیر په غمجن ډول سره ووېل: "اې زردشته! ته د هغه کس پشان ولاړ یې چه د خوشالۍ له امله یې سر په ګرځېدنه راغلی وي او باید وګڼېږې هسې نه چه په ځمکه ولوېږې! حتی که چېرې ته زما په مخکې وګڼېږې او ټول متعدد قدمونه که ما ته راوښیې هېڅ قدم به دې په دې توانا نه وي چه ووایې: "وګورئ! دلته اخري نېکبخته سړی ګڼېږي."
بې ځایه او بې ګټې هغه کس دی چه پدې نېکبخته کس پسې ګرځي، دې ارتفاعاتو ته راځي ځکه هغه یواځې یو په بل کې داخل سومڅې چه د پټېدونکو پټ ځایونه دي کېدای شي ومومي اما د نېکبختۍ د طلا زګونه، کانونه او خزانې به دلته پیدا نشي کړلی.
پدې ډول مدفونو او منزوي کسانوکې څرنګه نېکبختي پیدا کېدلی شي؟ آیا زه باید اخري نېکبختي په خوښوونکو جزیرو او هېرو شوو سمندرونوکې ویلټم؟ اما ټول یو دي او هېڅ شی ارزښت نه لري او هر ډول پلټنه بې ګټې او عبث ده، نور خوښوونکې جزیرې شتون نلري."

فالګیر پدې ډول اسوېلی وکړ اما د فالګیر په اخري آه کې زردشت یو ځل بیا د هغه کس پشان چه له تیاره عمقونو څخه یو دم نوراني محل ته داخل شوی وي وخوځېد او په مطمئن لوړ غږ سره یې داسې ووېل: "نه! نه! او بیا هم نه!" په بریره یې دوه درې ځله لاس راتېرکړی او زیاته یې کړه: "زه له تا ښه خبر یم. خوښوونکې جزیرې شتون لري. اې له اضطراب، بېزارۍ او غالمغال ډکه، ته پدې هکله هېڅ مجلس مه کوه! اې ګهیځنۍ باراني ورېځې له اورېدو لاس واخله! آیا فکرکوې زه ستا له غمه بشپړ نه یم لوند شوی او لکه موږک له اوبو نه یم کښل شوی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس ځان خوځوم او له تا فرارکوم تر څو وچ شم، ته باید پدې سره ما تعجب نکړې! آیا ستا په نظر زه بې ادبه راغلی یم؟ اما زما دربار همدلته دی. اما ستا د ستر سړي په اړه! ډېر ښه، زه به همدا شېبه په هغه طرف ځنګلونوکې چه غبړ ترې راځي وپلټم. هسې نه چه کوم شریر حیوان پرې حمله وکړي او مرستې ته اړتیا ولري. هغه همدا دم زما د فرمان په ناحیه کې دی دلته نباید بده واقعه رامنځته شي! ریښتیا دلته به ډېر شریر حیوانات له ما سره وي."

د دې خبرو په ویلو سره زردشت وخوځېد او لارې ته یې ادامه ورکړه چه فالګیر ورته ووېل: "اې زردشته ته رذیل او ټیټ فطرته کس یې! زه ښه پوهېږم ته غواړې زما له شره ځان خلاص کړې. ځنګله ته تلل څیرونکو او شریرو حیواناتو ته انتظار زما سره له بنډاره غوره ګڼې. اما دا کار ستا وضعې ته څه ګټه لري؟ په شپه کې به بیا زه له تا سره وم. ستا په سومڅه کې به زه هم لکه سنګینه تیږه صبور کښېنم او ستا انتظار به وکړم."

پداسې حال کې چه زردشت لېرې کېدا فریاد وکړ: "همداسې به وي! اې ملګریه او مېلمه هر څه چه زما په سومڅه کې دي ستا هم دي. اما له وړیو ډکه خرسه که چېرې د زما په سومڅه کې شات وموندل ښه یې وڅټه او خپل روح خوړ کړه! ځکه کېدی شي د شپې مونږ دواړه یو له بل سره خوښ واوسو. خوښ او خوشحاله به وو، دا چه ورځ پای ته رسېدلې ده او ته به پخپله زما د سندرو له غبړ سره لکه ګډېدونکی خرس رقص وکړې. آیا پدې خبر باور نلرې؟ ته خپل سر خوځوې؟ اې بوډا خرسه ډېر ښه، زه هم یو فالګیر او وړاند ویونکی یم!

## له پاچاهانو سره مرکه:

۱

زردشته تر دې دمه د غرونو او ځنګلونو په منځ کې یو ساعت لار نه وه وهلې چه ناڅاپه له عجیبې ډلې سره مخ شو. په هماغه لارکې چه غوښتل یې نزول وکړي دوه پاچاهان په تاجونو او ارغواني کمربندونو سنبال راورسېدل. د پاچاهانو په مخ کې بار وړونکی خر وو.

زردشت چه په زړه کې تعجیب شوی وو ووېل: "دا پاچاهان زما په قلمرو کې څه کوي" او وروسته یې په بېړه ځان د بوټو څټ ته پټ کړ. اما څنګه چه پاچاهان ورته نیږدې شول نوموړی داسې ورو خبرې وکړې لکه څوک چه له ځان سره غبږېږي: "څومره عجیبه ده! څومره عجیبه ده! دا ډول کار څنګه ممکن دی؟ دوه پاچاهان او یواځې یو خر؟"
هغه وخت دواړه پاچاهان ودرېدل او ویې خندل او له کومه ځایه یې چه غبړ اورېدلی وو وروسته هغې ځای ته ځیر شول او نظرونه یې سره رد او بدل کړل. دې وخت کې د ښي اړخ پاچاه ووېل: "واقعا د دې ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library

امورو په هکله مونږ هم اندو اما هيڅ وخت يې په خوله نه راوړو."
اما دکيڼ اړخ پاچا اوږو پورته واچوې او ووېل: "شايد د دې خبرو ويونکی کوم شپون يا منزوي کس وي چه له حده زيات يې د دې ونو او بوټو په منځ کې ژوندکړی، ځکه له خلکو سره عدم معاشرت د انسان ښه ادبونه کموي." بل په سخته غوصه سره ووېل:
"غوره اداب؟ مګر مونږ له څه تنبي يو؟ مګر مونږ خپله له غوره آدابو او غوره اجتماعاتو تېښته نده کړې؟ په ريښتيا زه د منزويانو او چوپانانو په منځ کې ژوند د اوباشانو، دروغجنو او هغه خلک چه ځان ټولنيزګڼي غوره بولم. که څه هم دا اوباشان ځانونه اشراف ګڼي اما په باطن کې ټو څيزونه دروغ او فاسد دي او په ځانګړي ډول سره وينه يې هم د ناروغيو او بېکاره طبيبانو په ولکه کې ده.
ننی سالم، خشن، فرېبکار او بردباره بزګر په ټولو خلکو غوره ګڼم او د نن ورځې تر ټول نجيب نژاد د همدوی دی. نن بزګران له ټولو خلکو څخه غوره دي او د همدوی نژاد بايد حکمران واوسي اما زه بايد له ځانه سره چل ونکړم ځکه د نن حکمراني د اوباش ده او اوباش چټلي ده. د اوباش په چټليوکې ټول څيزونه مخلوط دي. امين او ټوپي لرونکی کس، اغا، يهود او ټول حيوانات چه د نوح په کښتی کې ځای پر ځای شوي وو پدې چټلی کې شتون لري.
وايو غوره آداب! اما زمونږ په حضورکې ټول څيزونه دروغ او فاسد دي. اوس هېڅوک نه پوهيږي چه خلک څه ډول محترم وګڼو او مونږ له همدې امله فرارکړی او دلته مو پناه راوړې ده. ټول سپيان متملق او زشت دي چه د خرما پاڼو ته طلا اوبه ورکوي.

داکرکه چه حتی پاچاهان يې هم په تدريج بدل، بې بقا کړي. ځانونه يې د خپلو اجدادو په زاړه او مړاوي جلال کې سينګارکړي کوم چه د احمقو او مؤذي کسانو وړ دي اما دوی پکې خپلو قيافو ته بدلون ورکړی دی. همدا مې خفه کوي او څوک شته چه نن د قدرت د منبع د معاملې په فکرکې نه وي؟
مونږ لومړني نه يو مګر بايد پېژندونکي يې واوسو، لدې تظاهر او فرېبه بلآخره ستړي او ناروغ شوي يو. مونږ د بدماشانو او اوباشانو له ډلې راتښتي يو. له هغو ليکوالانو مو تېښته کړې چه لکه منګس د غوښو په مخ ګرځي، لدې متعفنه دکانونو او بد بوی لرونکو ځان غوښتونکو مو فرارکړی دی، اوفف توبه له اوباشانو سره د ژوندونه! د اوباشانو او بدمعاشانو په منځ کې لومړی اوسېدل څه چټلي ده! څومره وحشت ډوله استفراق! د پاچاهانوګټه پدې دوره کې څه ده؟"

دکيڼ اړخ پاچاه ووېل: "اې زما بېچاره وروره پر تا د پخوانی ناروغي رانازله شوېده او بدې ورځې لدې امله کوې اما پوهيږې چه زمونږ خبرو ته څوک غوږ نه نيسي."

(c) ketabton.com: The Digital Library

زردشت فورا له خپل پټنځايه رابهر شو ځکه سترګې او غوږونه يې پدې خبرو بشپړ خلاص شوي وو. له همدې امله د پاچاهانو په خوا لاړ او داسې يې وويل: "هغه کس چه ستاسو خبرې يې واورېدې او ستاسو مجلس يې په خوښۍ واورید، اې پاچاهانو! زردشت نومیږي. زه زردشت یم چه یو ځل مې ویلي: "پدې دوره کې د پاچاهانوګټه څه ده؟" ما وبښئ دا چه اورېدلي مې دي تاسو هم یو بل ته وایاست "پدې دوره کې د پاچاهانو فایده څه ده؟" خوښ شوم. اما دا زما قلمرو او ملک دی، تاسو زما په قلمرکې څه لټوئ؟ کېدای شي تاسو هغه څه (ستر سړی) پیدا کړی وي چه زه یې لټوم؟"

پاچاهانو چه دا خبرې واورېدې سینې یې پخپلو لاسونو ووهلې او یو ځای یې وویل: "افسوس راز مو برملا شوی دی! د دې خبرې په خنجر سره د زموږ د زړونو تر ټولو ډبلې تیارې وځیرلې! تا زمونږ اړتیا کشف کړېده ځکه وګوره مونږ د ستر سړي د موندلو لپاره سفر ته اماده شوي یو. که څه هم مونږ خپله پاچاهان یو خو د داسې کس په لټه کې یو چه له مونږ څخه غوره وي. ځکه ستر او غوره سړی به د ځمکې دکرې تر ټولو د لوړې مرتبې څښتن وی.

د انسان په برخلیک کې لدې بده پېښه نشته چه د ځمکې په قدرتمندوکسانوکې تر ټولو مقدم کسان نه وي. پدې ډول حالت کې ټول څیزونه بدل، تقلبي، منحرف او ډارونکي کیږي. اوکه چېرې د هغوی د بدبختۍ له امله آخري سړی له انسان ډېر حیوان ته ورته وي هغه وخت د اوباش ارزښت په تدریج سره زیاتیږي او بلآخره د اوباش تقوا وایي: "وګورئ، یواځې زه تقوا یم!"

زردشت ځواب ورکړ: "څه اورم؟ آیا د پاچاهانو په منځ کې هم عقل شتون لري؟ زه خوشحاله شوی یم او غواړم پدې هکله شعر ووایم حتی که نورو ته واقعي شعر ښکاره هم نشي. ځکه وختونه کیږي زه بې اعتنا یم. پدې اساس زه خپل شعر وایم:

(اما دلته داسې پېښه وشوه چه حتی خر هم د څه ویلو آرزو وکړه او په بشپړ وضاحت او بې له کوم شرارته یې وویل :"هو" په پخوا وختوکې فکرکړم د نجات په لومړي کال وو چه لات مست وو خو شراب یې نه وو خوړلي داسې وویل:

"اوس ټول څیزونه کاږه او منحرف شویدي، افسوس! او سل افسوسه! څه انحطاط! څه زوال! تر دې دمه جهان پدې ډول نه وو پست شوی! روم د یوې فاحشې مقام ته تنزیل کړی، د روم قیصر د سخوندر په بڼه شویدی او خپله خدای د یو یهودي په بڼه حضور موندلی دی!"

۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاچاهان د زردشت پدې شعر سره خوښ شول او د ښي اړخ پاچاه ووېل: "اې زردشته! ځومره ښه وشول چه مونږ د دیدن ته راغلو! ځکه دوښمنانو د انځور په خپلو هېنداره کې راته ښوودلی وو او له همدې امله تا زمونږ په نظرکې زشته، خندا لرونکې او مسخره ډوله لکه د ابلیس داسې قیافه درلوده او لدې خاطره درنه په وېره کې وو.
پدې ټولو سربېره تا په ځلونو پخپلو خبرو سره زمونږ په زړونو او غوږونوکې نفوذ وکړ او بلاآخره مو له ځانه سره ووېل: "ته باید سوله د نوو جګړو د وسیلې په عنوان او لنډه سوله له اوږدې سولې غوره وګڼې!" غوږ یو، هېڅچا لکه د هغه پشان داسې جګړیزې خبرې په ژبه ندي راوړې: "نېک څه دي؟ نېک دا دي چه انسان باشهامته واوسي! یوه غوره جګړه هر سبب سپېڅلی کوي!"
اې زردشته پدې کلمو سره د زمونږ په رګوکې د اجدادو وینه په جوش راوستله او دا خبرې د پسرلي د نغمو په اندازه د شرابو د خمونو لپاره زړې وې!
په هغه وختوکې چه تورو لکه سره خط او خال لرونکي ماران یو بل خوړل زمونږ پلرونه په ژوند ښه پوهېدل. لمر سوله رنګ الوتې او نیمه ګرمه موندلې وه او اوږدې سولې هغوی شرمول. هو، زمونږ پلرونو چه کله د برق پشان تېزې تېرې تورې په وچو او بې وینې دېوالونو موندلې څومره ژور اسویلي یې کول. هغوی د تورې په اندازه د جګړې تږي وو. توره تل وینې غواړي او د وینې څښنو له میله ځلیږي."

کله چه پاچاهانو په لېوالتیا سره خبرې کولې او د پلرونو په خوښیو یې رڼا اچولو ناڅاپه زردشت په بشپړه لېوالتیا سره هغوی ریشخندکړل ځکه دا پاچاهان له څېرې ډېر سوله لټوونکي، پخواني او ظریف ښکارېدل اما ځان یې وساته او ویې وېل: "نو پورته لاړ شئ! لاره له هغه طرف ده. د زردشته سومځ هلته قرار لري. او دا ورځ به اوږده شپه وي اما اوس ما وبښئ ځکه د زاریو فریاد ما په بیړې سره ځانته ورغواړي.
زما ویاړ دی چه پاچاهان زما په سومځ کې په میل سره انتظارکوي اما واقعا موږ باید اوږد انتظار وکړو! نېک څه اهمیت لري؟ چېرته انسان د دربار له داخله بېرون غوره انتظارکول زده کوي. د پاچاهانو له ټولو تقوا ګانو څخه یواځېنۍ تقوا چه باقي باتې شوې ایا نن یې نوم قدرت ته انتظارکول ندي؟

## وینې زبېښونکی چینجی:

زردشت د خپل فکر په سمندرکې ډوب خپلې لارې ته ادامه ورکړه، د ځنګلونو او چټلو ډنډونو څخه ښکته لاړ. اما د هغو چا پشان چه سر یې د تفکر په جیب کې ټیټ کړی وي مخکې تلو ناڅاپه او بې خبره یې یو سړی تر پښو لاندې کړ. وګورئ څرنګه د درد فریاد جګ شو څوکنځاوې او پوچ ویل واورېدل شول. پداسې ډول چه زردشت بلاآخره خپله لکڼه راپورته کړه او هغه څوک چه تر پښو لاندې یې کړی وو تر وهلو لاندې ونیو. اما زر تر زره خپل حالت ته راوګرځېد او ځان یې کنټرول کړ په زړه کې یې خپل لېونتوب ته وخندل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه کس چه تر پښو لاندې شوی وو په غوصه ېېرته راجګ شوی وو او ناست وو ورته مخ یې کړ او ووېل: "ما وبښه! ببښه غواړم او تمثیل مې واوره! هماغه شان چه د لېرې ځیزونو په اړه یو سرګردانه کس اندي او په ناپوهۍ سره په خالي لاره او لمرینه هوا کې ویده سپی تر پښو لاندې کوي او دواړه په شدت سره ډارېږي. همدا د یو بل د وینې دوښمن یو له بل سره اخته کېږي همداسې مونږ هم یو له بل سره شخړه کوو. پدې ټولو سربېره څومره به ښه وای که دې سړي او سپي د شخړې په ځای یو له بل سره مهرباني کړې وای! ځکه دوی دواړه یواځې او بې کسه وو."

سړی چه غوصه یې تر اوسه نه وه آرامه شوې په قهر سره ووېل: "ته چه هر څوک یې په تمثیل او پښو دواړو سره د زه لغط کړم. آیا شرم نه لرې چه له سپي سره مې مشابه کوې؟" او فورا راجګ شو لوخ مټ یې له ډنډه رابهرکړ. ځکه هغه په ځمکه داسې پروت او ځان پټ کړی وو تا به وېل چه په ډنډکې وحشي ځیزونو ته په کمین کې وو!

زردشت په وحشت سره فریاد وکړ: "او ته دلته څه کوې؟" ځکه زردشت ولیدل چه د لغط شوي سړي له مټه زیاتې وینې جاري وې او ادامه یې ورکړه: "آیا په تا څه شویدي؟ اې بدخت سړیه آیا تا ته کوم شریر حیوان ضرر رسولی دی؟"

هغه سړی چه وینې یې روانې وخندل اما غوصه یې نه وه کمه شوې او ووېل: "په تا څه اړه لري؟" پداسې حال کې چه غوښتل یې پخپله لار لاړ شي زیاته یې کړه: "دلته زه پخپل ملک کې یم او د خپل نفس مالک. هر څوک چه هر څه غواړي له ما د تپوس وکړي، پوښتنه د وکړي! اما زه بې تربیه او غرني کس ته په ندرت ځواب ورکوم."

زردشت هغه ټینګ ونیو او په ترحم یې ورته ووېل: "ته غلطي کوې ته پخپل کور کې نه بلکه زما په قلمروکې یې او دلته هېڅوک باید له بلا اوکړواوونو ونه رنځېږي!
ته که هر څه غواړې هغه مې وبوله. زما په ماهیت کې به بدلون رانشي. زه ځانته زردشت وایم.
او اوس د زردشت د سومځې لار لدې طرفه پورته ځي، ډېره لرې هم نده آیا نه غواړې زما په منزل کې د خپل ټپ درملنه وکړې؟ اې بدبخت سړیه! پدې ژوندکې وضعه ستا له موخې سره نده برابره شوې. لومړۍ کوم حیوان چیچلی یې او وروسته کوم لغط کړی یې."
تر پښو لاندې شوي سړي چه د زردشت نوم واورېد په ماهیت کې یې بدلون راغی او فریاد یې وکړ: "ما ته څه پېښه شوې؟ بې له یو نفره چه زردشت نوم لري او بې له یو حیوانه چه له وینې څخه تغذیه کوي یعني زبېښونکي چینجي څخه بل چا ته اړتیا نه لرم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وينې زبېښونکي چينجي لپاره ما پدې ډنډکې دکب نيوونکي پشان پروت کړی وو او تر دې دمه مې دا غځېدلی لاس لس ځله چيچل شويدی. کله چه ستر زبېښونکی چينجی راورسېدل زه يې د وينې څښلو لپاره وچيچم او دا آخري زبېښونکی چينجی زردشته ته خپله وې.

څه نېکبختي او څه معجزه ده! په هغه ورځ د رحمتونه وي چه زه دې ډنډ ته راغلی يم! رحمت د پدې غوره او ژوندي وينې اخيستونکي نېش وي چه تر نن ورځې ژوندی دی! رحمت د دې لوی وجدان لورنکي وينې زبېښونکي چينجي يعني زردشت باندې وي!"

لغط شوي کس دا خبرې وکړې او زردشت لدې ظريفو او مؤدبو خبرو څخه خوشحال شو او د هغه لاس يې په لاس کې ونيو تپوس يې وکړ: "ته څوک يې؟ اوس بايد ما او تا ته ډېر څيزونه روښانه او واضح شي. اما همدا شيبه فکرکوم چه ورځ د رڼا او روښانتيا په طرف ځي."

هغه سړي ووېل: "زه هغه يم چه د خلکو په منځ کې په (معنوي وجدان) مشهور يم او د تعقل او فکر اړوند کارونوکې څوک په ندرت سره په جديت او شدت پيدا کيږي. البته، په استثنا د هغو چه ما علم ترې زده کړی يعني زردشت.

غوره ده چه انسان په څه ونه پوهيږي تر څو په ډېرو څيزونو نيم پوه شي! غوره به وي چه پخپلو عقايدو بې عقل او ابله واوسو تر څو د نورو په عقيدو کې يو پوه کس وګڼل شو. زه ژوره او ريښه يې کارونه کوم خو پدې شرط چه زما ځمکه کلکه او سخته وي، يو وجب يې هم ما ته بس ده او نور د لويی، کوچينوالي، نېکو او بدو پروا نلرم. زه د يو وجب ځمکې طالب يم چه وکولی شم پرې ودرېږم. د واقعي معنوي وجدان لپاره لويي اوکوچينيتوب معنی نه لري."

زردشت تپوس وکړ: "اې با وجدانه! هسې نه چه ته د چينجي پېژندنې متخصص وې او چنجيان تر سختې ځمکې لاندې تعقيب کړې؟"

لغط شوي سړي ووېل: "اې زردشته دا بحث ډېر پراخ دی. څرنګه زه دا ډول لوی بحث په غاړه اخيستلی او پکې متخصص کېدلی شم؟ هغه څه چه زه پکې تخصص لرم د وينې زبېښونکو چينجيو مغز دی او زما نړۍ پر همدې محدوده ده. واقعا همدا خپله يو دنيا ده. ما وبښه که چېرې دلته په غرور خبرې کوم ځکه پدې برخه کې حريف نه لرم او هېڅوک راسره برابر نشته. په همدې دليل مې ووېل: "زه پدې ځای کې کاملا راحت يم."

عمرونه کيږي پدې يو څيز يعني د چينجي د مغز په هکله مې مطالعه روانه کړېده. هسې نه دا د فرار حقيقت بيا هم له ما وتښتي! همدا زما واقعي قلمرو دی! د همدې لپاره مې نور هر شی پرېښې دي، له همدې امله

(c) ketabton.com: The Digital Library

مې نور ټولو څیزونو ته بې پروا کتلې دي او زما په علم کې جهل قرار نلري. زه له نیمه عالمه کسانو او هغه کسان چه زما په رشته کې نیمه عالم دی او هغه کسان چه پخپله رشته کې شکمن وي او مطمئن نه وي کرکه لرم!

چېرې چه زما روغ کارونه پای مومي زما ړوندوالی پیلېږي او زه غواړم چه ړوند پاتې شم. اما چېرې چه زه غواړم هڅه وکړم کوم شی درک کړم همدا رنګه سم یعني سخت، تېز، محدود او تغیر نه منونکی پاتېږم.

اې زردشته! تا خپله یو ځل وېل: "فکر پخپله یو ډول ژوند دی چه د ژوند په داخل کې رسوخ کوي. لدې ځایه زه ستا شریعت ته جذب شوم او په رېښتیا پخپله وینه مې علم او پوهه زیات کړل! لکه څنګه چه لیدونکی شهادت ورکوي."

زردشت د هغه خبرې غوڅې کړې ځکه له لوڅ مټه یې چه لسو وینې زبېښونکو چنجیانو چیچلی وو وینې روانې وې او ووېل: "اې عجیب سړیه! څومره ډېر څیزونه مې همدا اوس لدې منظرې او تا څخه زده کړل! اما هر څه مې چه درک کړي دومره جرأت یې نه لرم چه ستا په محدودو غوږونوکې ووایم.!

ډېر ښه اوس مونږ یو له بله بېلېږو! اما زه غواړم تا بیا ووینم. زما د سومڅې لار له هغه طرفه ده. ته به مې هلته مېلمه وې او غواړم هغه تاوان چه زردشت پخپلو لغطو ستا بدن ته اړول جبران کړم او بیا فکر وکړم اما د زاریو فریاد ما ځانته بولي او باید له تا لېرې لاړ شم."

## کوډګر

### ۱

زردشت چه څنګه تیره لېرې وغورځوه له ځانه لږ ښکته یې یو سړی ولید چه د لېونیانو پشان یې پښې ښورولی او بشپړ په ځمکه لوېدلی وو. زردشت چیغه وکړه: "درغلم!" او هغه وخت یې له ځانه سره ووېل: "په تحقیق سره دا سړی باید (ستر) سړی وي. او دا د زاریو فریادونه باید له نوموړي څخه راغلي وي، باید وګورم چه څه مرسته ورسره کولی شم." په منډه سره هغه ځای ته ورسېد چه سړي په ځمکه ځان اچولی وو. عمر خوړلی لړزاند سړی یې ولید چه سترګو یې سرګردان او ثابت نظر درلود. زردشت چه هر څومره هڅې وکړې هغه جګ کړي او په پښو یې ودروی اما ممکن نشو.

پدې ټولو سربېره دې بدخت سړي داسې حس کوله لکه هېڅوک یې چه په خوا کې نه وي او برعکس په مهربانۍ سره یې د هغوکس پشان چار چاپېرکتل چه نړۍ یې پرېښې او له ټولو هېر شوی وي. اما بلآخره پس له ډېرې لړزې، او سختو ټکانونو څخه یې پدې ډول په شکایت او زاریو پیل وکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library

"څوک به اوس ما تودکړي او څوک راسره مینه لري؟
ما ته د تودوخې لاس راکړئ!
یواځې، یواځې ما ته او لړزان
د نیمه ژوندي پشان یم چه پښې یې ګرموي
ګرم زړونه لکه منقل چه په اور وي ما ته راکړئ!
افسوس د نامعلومو تبو له امله لړزیږم
او د ژمي له تېزو منجمدو غشو په وسیله رپېږدم
او ستا په وسیلې اې فکره تعقیب شوی یم
اې وحشي، پټ او نا ویلیه
اې په وربځوکې غیب ښکاري،
اې سترګې پداسې حال کې چه ستا په وسیله ځمکې ته راغلی یم په تیاروکې ما ته ګورې
دلته لوېدلی یم.
پداسې حال کې چه د ابدي شکنجو په ټولو ډولونو سره رنځول شوی یم ځان پېچم او عذاب وینم اې بې
رحمه ښکاریانو ستاسو په وسیله،
اې نامعلوم خدایه وهل شوی یم...

په شدت سره مې ووهه!
بیا بیا مې ووهه!
دا زړه څېرې او ټوټه ټوټه کړه
په پځو غشو سره له عذابه منظور څه دی؟
په ځیر او خدایي شریرانه کتو بیا څه ته ګورې؟
ایا هېڅکله د بشر له رنځ او مصیبته نه ستړی کیږې؟
ته زما د وژلو قصد نه لرې،
یواځې غواړې ما عذاب او شکنجه کړې؟
ولې مې عذابوې
اې مجهول او شریر خدایه؟

هو! هو! هو!

(c) ketabton.com: The Digital Library

په غله راته نیږدې کیږې؟
د شپې پدې ناوخته
څه غواړې؟ خبرې وکړه!
ته ماکوچینی کوې. ما تر فشار لاندې کوې
هو!
اوس ډېر نیږدې هم یې
لېرې شه! لېرې شه!
ته زما د ساه کښلو غږ اورې
ته زما زړه ته غوږ کیږې
اې کینه کښه!
په څه حسدکوې؟
لېرې شه! لېرې شه! دا زینه د څه لپاره ده؟
آیا غواړې زما د زړه په منځ او تر ټولو مخفي باطني افکارکې نفوذ وکړې؟
اې بې شرمه! اې غریبه! اې غله!
غواړې څه له ما غله کړې؟
څه غواړې واورې؟
زما له عذابولو غواړې څه لاسته راوړې؟
اې عذابوونکیه
اې میرغضبه خدایه
آیا غواړې لکه سپی په پښوکې د ولویږم؟
ستا غوږه مالي وکړم او خوند ترې واخلم
او خپله لکۍ د مننې په عنوان وخوځوم؟

اې، کارونه بې ګټې دي! ټپې کولو ته ادامه ورکړه
اې تر ټولو بې رحمه! نه!
زه ستا سپی نه یم بلکه ښکار د یم
اې د واړه ښکاریانو بې رحمه!
زه د متکبر اسیر یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

اې په وربځ کې پټ قطاع الطريقه!
خو خبرې وکړه
اې چه ځان په تندرکې پټوې! اې مجهول او ناپېژانده! خبرې وکړه!
ته له ما څه غواړې چه دا ډول انتظار مې کوې؟
څنګه؟ فديه غواړې؟
څومره فديه غواړې؟
زما تکبر توصيه کوي چه زياته وغواړه!
بل تکبر مې توصيه کوي چه بېړه وکړه او زر يې واخله!
هو! هو!
ته ما خپله غواړې؟ ما؟
هو! هو!
او ته احمق ما عذابوې
او تکبر مې د مرګ تر حده تر شکنجې لاندې نيسي؟
ما ته مينه راکړه، څوک شته چه اوس ما تود کړي؟
څوک شته چه همدا اوس له ما سره مينه ولري؟
ما ته ګرم لاس راکړه
ما د نړۍ تر ټولو ډېر يواځې کس ته
داسې ګرم زړه راکړه لکه منقل چه په بل اورکې وي
کوم يخ، اووه برابره يخ راکړه
چه رازده کړي څرنګه د دوښمنانو ترې واوسم
هو، حتی د دوښمنان هيله هم وکړم
ما ته د تر ټولو بې رحمه دوښمنان
يعني خپل ځان راکړه!

هغه لېرې شوی دی!
هغه تښتېدلی دی
اخري او يواځې زما بندواري
زما لوی دوښمن

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناپېژاند او مجهول موجود
زما میرغضب خدای! تللی دی!

نه بیا راشه!
له ټولو شکنجو سره د بیا راشه!
اخ! د ټولو منزویانو او بې کسانو اخري کس په لور بیا راشه!
زما اوښکې لکه رودونه
ستا په لوري روانیږي!
او زما د زړه اخرئ لمبه
ستا په طرف شغلې کوي!
اې زما ناپېژاند خدایه، اې زما درده
اې زما نهایي رحمته، بیا راشه!

۲

څنګه چه هغه شکایت کوونکی سړی دلته راورسېد زردشت نور طاقت ونشوای کړی خپله لرګینه لکړه یې راواخیسته او هغه ګیلمن او ویرکوونکی سړی یې پرې وواهه او په غوصه ناکه خندا سره یې فریاد وکړ: "بس کړه! اې لوبغاړیه! اې په زړه سکې وهونکیه، او بې ځایه دروغ ویونکیه، زه تا ښه سم پېژنم. اې بدجنسه جادوګره زه به ستا پښې تودې کړم! څوک چه ستا پشان دروغ وایي زه پوهیږم څرنګه یې پښې سوځنده ګرمې کړم."

بوډا له ځایه جګ شو او ووېل: "اې زردشته، لاس ته د وګوره او ما مه وهه! تا په ریښتیا زه سم پېژندلی یم! او ته، ته اې پوه زردشته کلک یې، سخت حقانیت وایې او لکړې په زور له ما څخه حقیقت بهر کوي."

زردشت چه ډېر غوصه وو او تندی یې تریو نیولی وو ځواب ورکړ: "اې بې ګټې لوبغاړیه، زما چاپلوسي مه کوه. ته دروغجن یې، څرنګه د ریښتیا ویلو په اړه جرأت کوې؟ اې د ټولو طاووسانو طاووسه، اې د ځانښودنې اقیانوسه، اې بدجنس جادوګره، زما د سترګو په مخکې د څه نمایش جوړ کړی وو او د ګیلې او زاریو پدې طریقې سره د غوښتل ما په چا متعقدکړې؟"

(c) ketabton.com: The Digital Library

بوډا ووېل: "ما د يو فکري توبه کار رول لوبولو، ته وې چه خپله دې يو ځل دا لقب اختراکړ. ما د هغه شاعر اوکوډګر تقليدکولو چه بلآخره يې خپل عقل د ځان پر وړاندې راولاړوي او ماهيت ته يې بدلون ورکوي او بد علم او بد وجدان د يخنۍ له امله مري. اې زردشته! اوس اقرار وکړه ډېرکيږي چه ته زما په هنر او دروغو پوه يې! هغه وخت تا زما اړتيا منلې او باور پرې کړی وو چه سر مې د په دوه لاسوکې نيولی وو.
ما واورېدل چه په شکوه سره د وېل: "د هغوی دا بېچاره سړی ډېرکم خوښېدا! لدې بېچاره سړي سره يې ډېره کمه مينه درلوده! اما زما شرارت ستا په زړه کې تر دې مرحلې رسېدلی وو چه فرېب مې درکړی وو او خوشحال وې."

زردشت په تروه ټنډه ووېل: "شايد تا له ما څخه ډېرو هوښيارو ته فرېب ورکړی وي. زه د فرېب کوونکو مراقب نه يم. زه بايد بې احتياطه واوسم، دا هغه څه دي چه زما تقدير يې غواړي. اما ته! ته بايد فرېب ورکړې، او ما تر دې حده مې پېژندلی يې، ته بايد تل دوه، درې، څلور يا پنځه اړخه خبرې وکړې! حتی کوم په کوم څه د چه تر اوسه د ما ته اقرارکړی نه په کافي اندازه دروغ او نه هم په کافي اندازه رېښتيا دي.
اې د زړه د سکو جوړوونکيه، ته بې له دې رفتاره څرنګه بل کولی شې؟ ته حتی خپله ناروغي مخکې لدې چه د ډاکتر په مخکې لوڅ شې په رنګ، غوړو او ځلا پوښې!
په همدې ډول دکله چه زما په حضورکې ووېل: "زه يواځې فرض اداکوم، خپلو دروغ ته د ځلا ورکوله، ټول تقليد نه وو يو څه مقدار يې واقعي هم وو ځکه ته تر يو حده فکري توبه کار يې. ما ستا مفصل خلاص کړ ته د ټولو محسور شوی يې اما د ځان په وړاندې هېڅ ډول دروغ او فرېبکاري نشې کولی. ته د پخپل نظر کې نه يې محسور شوی.! تا نفرت د يواځېني حقيقت په بڼه له ځانه لېرې کړی دی او نور د هېڅ کومه کلمه حد اقل يوه ذره حقيقت هم نه لري اما په خوله کې د چه کوم حقيقت دی هغه کرکه ده چه په خوله کې چسپيږي."

بوډا کوډګر په متعرضانه ډول ووېل: "ته څوک يې چه جرأت کوې له ما (د دې زمانې تر ټولو ستر سړي) سره دا ډول خبرې کوې؟" له سترګو شنې شغلې د زردشت په وړاندې تللې اما شېبه وروسته نوموړي بدلون وکړ او په غمګينۍ سره يې ووېل:
"اې زردشته! زه ستړی شوی يم او له خپلو هنرونوکرکه لرم. زه لوی نه يم او په ځان اړوندول هم بې ګټې دي اما ته ښه پوهيږې چه زه په لويۍ پسې وم. ما غوښتل ځان لوی شخص معرفي کړم او ډېر مې پدې قانع هم کړل اما دا مافوقه دروغ زما قدرت دی او ماکوچينی ټوټې ټوټې کوي.
اې زردشته ټول څيزونه دروغ دي اما دا چه کوچينی او ټوټې ټوټې کيږم رېښتيا دي!"

(c) ketabton.com: The Digital Library

زردشت په غمجن حالت سره ووېل: "دا ستا د وياړ وړ دی؟" او هغه وخت چه د نوموړي له مخې تېرېدا ووېل: "دا ستا د وياړ ځای دی چه په عظمت او لويۍ پسې يې؟ اما همدا تاکوچنی او ټيټوي، ته لوی نه يې؟

اې بوډا او غمجن کوډګره کوم څه چه په تا کې دي له ټولو صحيح او غوره دي او هغه څه چه ستا په وړاندې زما د احترام سبب کيږي دا دي چه ووايې له ځانه بېزار شې او ووايې: "زه لوی نه يم."

پدې کار سره زه تا د فکري توبه کار په بڼه محترم ګڼم اوکه چېرې تا د سترګې وهلو په اندازه ريښتيا ويلې وي په همدې شېبه کې د ويلې دي.

ووايه چه پوه شم ته زما د ځنګلونو او ونو په منځ کې څه لټوې اوکله د چه زما په لار قرار درلود څه ازمايښت د غوښت چه پر ما تر سره کړې؟ او په کوم شي د غوښتل ما اغوا کړې؟"

زردشت داسې ووېل او سترګې يې وځلېدې اما بوډا کوډګر تر يو وخته چوپ پاتې شو. وروسته يې ووېل: "آيا فکرکوې ته مې ازمويلی يې؟ نه داسې نده ما يواځې ته لټولې.

اې زردشته، زه هغه کس لټوم چه صحي، ساده، يو مخی او يوه معنی وي او هغه کس چه بشپړ سم دی او يوه کښتۍ عقل ولري او يو روحاني عالم او لوی سړي وي لټوم. آيا ته زردشت پوهيږې چه زه زردشت لټوم؟"

هغه وخت دواړه د يوې شېبې لپاره چوپ پاتې شول اما زردشت عميقا په ځان کې ډوب شو سترګې يې پټې کړې. وروسته يې خبرې پيل کړې او د کوډګر لاس يې په بشپړ ادب او متانت سره ونيو او ووېل: "ډېر ښه د زردشت د سومڅې لار هغه ده. هلته ته نوموړی موندلی شې او هلته زما له حيواناتو سره يعني له عقاب او مار سره مشوره کولی شې. هغوی به د هغه چا په لټه کې درسره مرسته وکړي چه لټوې يې. زما سومڅه لويه ده.

ما پخپله هم تر اوسه ستر سړی ندی ليدلی! د لوي سړي ليدو لپاره د دې دورې د خلکو سترګې په کافي اندازه ندي ظريفې شوې ځکه نړۍ تر اوس د اوباش قلمرو ده.

ډېرکسان مې ليدلي چه راجګ شوي او لستوڼي يې بډې وهلي دي او خلکو فريادکړی چه : "ستر سړي ته وګورئ!" اما د پښتوب د دې دمونه ګټه څه ده؟ بلآخره به يوه ورځ د هغو باد خارج شي.

په پايله کې به هغه څونګښه چه ځان يې ډډ کړی دی وچوي، هغه وخت يې باد خارجيږي زه غوره تفريح په چينجنو خېټو باندې ستنې وهل ګڼم. اې زامنو آيا اورئ؟

نن ورځ د اوباش ده، د هغوی په منځ کې څوک شته چه پوه شي لويي څه ده اوکوچنيتوب څشی دی؟

څوک شته چه د دوی په منځ کې په بشپړ موفقيت سره لويي وپلټي؟ يواځې يو بې عقل داکارکولی شي ځکه بې عقلان د ښو طالعو لرونکي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اې عجیب بې عقله! ته ستر سړي لټوې؟ تا ته چا دا لټونه درزده کړېده؟ ایا نن د داسې کار وخت دی؟ اخ اې بد لټوونکیه ولې ما اغوا کوې؟"

زردشت داسې ووېل او قلبا یې تسلې ومونده او په خندا سره د خپل مقصد په لور روان شو.

## بېکار:

زردشت تر دې دمه دکوډګر له شره نه وو خلاص شوی چه بل سړی یې ولید د جادې څنډې ته ناست دی. نوموړي لوړ قد، توره څېره، ډنګر مخ او آلوتی رنګ درلود. له همدې امله د زردشت دکرکې سبب شو او له ځانه سره یې ووېل: "افسوس! څوک چه دلته ناست دی ځان غوصه ناک ظاهروي او زما په نظر دکشیشانو له ډلې دی. دی زما په قلمرکې څه کوي او ولې تر اوسه له یوکوډګره نه وم خلاص شوی چه په لاره کې د بل لېوني په لاس کې ولوېدم. یو چلباز، داسې معجزه کوونکی چه د خدای تر لطف لاندې دی او د سپېڅلې نړۍ د یو انکارکوونکي په لاس کې ولوېدم؟ کاشکې شیطان نوموړی نیولی وای! اما افسوس چېرته چه شیطان باید شتون ولري نشته! دا چاغ لعنتي او چلاق تل پس رسیږي."

زردشت پدې ډول پخپل زړه کې بې صبرانه کنځاوې وکړې او په ځړېدلي مخ یې فکر وکړ چه کولی شي د هغه تور سړي له مخې په ناپامۍ کې تېرېدلی شي کنه؟ اما وګورئ چه څه وضعیت منځته راځي، ځکه په همدې شېبه کې د هغه ناست سړي سترګې په زردشت ولګېدې او د ډېرې خوښۍ له امله په پښو ودرېد او د زردشت مخې ته راغی او ووېل:

"اې سرګردان سړیه، هر څوک چه یې کېدی شي له یو لټوونکي، یو عمر خوړلي سړي سره چه لاره یې ورکه کړې ممکنه مرسته وکړې، تر څو څوک ورته ضرر ونه رسوي! دا نړۍ زما په نظرکې ډېره عجیبه او لېرې ښکاري، پدې سربېره ما د ځیرونکو حیواناتو غږ اورېدلی او هغه څوک چه ممکن مرسته یې راسره کړې وای ژوندی ندی.

زه د آخري روحاني کس په لټه کې یم، زه د هغه منزوي او سپېڅلی کس په لټه کې یم چه په ځنګله کې په یواځې ځان ژوند تېروي او له هغه څیز څخه بې خبره دی چه ټوله په دنیا پرې پوهیږي."

زردشت تپوس وکړ: "ټوله نړۍ په څه پوهیږي؟" آیا پدې پوهیږي پخوانی خدای چه پخوا ټولو خلکو پرې اعتقاد درلود نور ژوندی ندی؟"

بوډا په غمجن ډول ووېل: "همدا دي او ما د دې خدای د ژوند تر آخرې شېبې پورې چوپړکړی دی. اما اوس بېکاره او بې څښتنه پاتې یم او په عین حال کې بې له خاطراتو مې نور حتی یو ساعت هم آزاد او خوښ نه یم. زه د دې لپاره د غره سر ته راغلی یم تر څو وکولی شم یو ځل بیا د رباني او مقدسو خاطراتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

جشن په مفصل ډول هماغسې لکه څنګه چه د یو قدیمي پاپ او د کلیسا د پلار وړ وو جوړکړم. نو پوه شه زه آخري پاپ یم! اما اوس حتی دا ډېر مقدس او روحاني ځنګلي سړی چه تل یې خپل خدای په سندرو او نغمو ستایلو مړ شویدی. خپله مې هغه د نوموړي په کورکې پیدا نکړ اما دوه لېوان مې ولیدل چه د مړینې له امله یې بانګونه وهل ځکه ټولو ژوو له نوموړي سره مینه درلوده؟ وروسته په بېړه له هغه ځایه لاړم او له ځانه سره مې وویل:

"آیا زه دې ځنګلونو او غرونو ته عبث راغلی یم؟ هغه وخت مې زړه هوډ وکړ چه بل کس ولټوم یعني په زردشت پسې لاړ شم کوم چه له ټولو هغه کسانو څخه مقدس دی او په خدای اعتقاد نلري."

بوډا سړي دا خبرې وکړې او په لېواله سترګو یې هغه کس ته کتل چه په مخ کې یې ولاړ وو. زردشت د عمر خوړلي پاپ لاس ټینګ کړ او د اوږد وخت لپاره یې په تحسین سره ورته کتل.

وروسته یې وویل: "اې محترم سړیه وګوره، دا لوړ لاس عجیب او ښکلی دی! دا د هغه چا لاس دی چه تل یې خلکو ته رحمت او ښښنه ورکړېده. اما اوس همدا لاس د هغه چا لاس محکم نیسي چه په لټه کې یې یعني زما زردشت لاس. دا زه یم! خدای ناپېژانده زردشت چه ورته وایي: "څوک له ما ډېر خدای نه منونکی شته تر څو له تعلیماتو یې خوښ شم؟"

زردشت داسې وویل او په نظر یې چه د بوډا پاپ په افکارکې یې نفوذ وکړ. بلآخره پاپ داسې وویل: "هغه کس چه تر ټولو ډېره مینه یې ورسره لرله او له ټولو ډېر یې مالک وو اوس یې له هر چا ډېر لاس ورکړی دی. وګوره! په مونږ دواړوکې آیا زه ډېر بې خدایه نه یم؟ اما څوک شته چه پدې حالت کې خوښي وکړي او دا کار یې خوښ شي؟"

زردشت وروسته له یو عمیق سکوته په متفکرانه ډول وویل: "آیا تا تر آخرۍ شېبې دې د هغه چوپړ وکړ؟ آیا پوهیږې هغه څرنګه مړ شو؟ آیا هغه څه چه خلک وایي حقیقت لري چه بلآخره ترحم هغه مړکړ؟ هغه چه بشر ولید څرنګه په صلیب ځوړند دی تحمل یې نشوای کړی، تر دې حده چه د بشر په وړاندې مینه ورته دوزخ ګرځېدلې وه او په پایله کې یې د مړینې سبب شوه؟"

اما عمر خوړلي پاپ ځواب ورنکړ په خجالت او غمګینۍ سره یې خپل تیاره مخ وګرځاوه.

زردشت پداسې حال کې چه د بوډا سترګو ته ځیر وو له اوږده تفکر وروسته یې وویل: "هغه پرېږده، پرېږده چه لاړ شي! همدارنګه هغه اوس له منځه تللی دی اوکه څه هم دا ستا د سرلوړۍ سبب کیږي چه په مړه پسې خبرې وکړې. لکه څنګه چه زه پوهیږم ته خپله هم پوهیږې چه نوموړی څه وو او لارې یې څومره عجیبې وې!"

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بوډا پاپ چه یوه سترګه ړنده وه وویل: "زمونږ تر منځ د وي، په خدای اړوند امورو کې به زه زردشته غوره یم او حق هم دا دی.
زما عشق د ډېرو کلونو لپاره د هغه چوپړکړی دی او ارادې مې یې په ټولو امورو کې پیروي کړېده. یو ښه بنده د خپل ارباب په ټولو څیزونو پوهیږي حتی په هغو څیزونو هم چه ارباب یې خپله ترې پټوي مګر له بنده مخفي ندي. هغه له اسرارو ډک خدای وو. په ریښتیا چه بې له نامشروع لارو د یو زوی څښتن نه شو. په نوموړي د اعتقاد په دروازه کې زنا قرار لري.
هغه کس چه نومړی د عشق د خدای په عنوان ستایي د عشق په اړه غوره نظر نشي درلودلی. آیا همدې خدای نه غوښتل چه قاضي هم واوسي؟ اما هغه کس چه مین دی عشق ته یې له مکافاتو او مجازاتو څخه په مافوق کې ځای ورکوي. په ځوانۍ کې دا ختیځوال خدای ډېر سخت او غچ اخیستونکی وو او د قاریانو د ښه راغلاست لپاره یې خپل مقر دوزخي کړ.
اما بلآخره ډېر نرم له رحم او مهربانۍ څخه ډک شو. پدې وخت کې له یو پلاره یوې انا ته ډېر ورته وو. د کوټې په کنج کې بخارۍ ته نیږدې مړاوی ناست وو اوکمزورې بېزاره پښې یې له ارادې سترې په بې حوصله مندۍ سره تر هغه وخته دې خوا او ها خوا کولې چه یوه ورځ د ترحم له امله مړ شو."

زردشت وویل: "اې بوډا او عمر خوړلیه پاپه! آیا واقعا د دا پخپلو سترګو لیدلي؟ په همدې ډول مړ شوکه په بل ډول، ځکه کله چه خدایان مړه کیږي عموما په څو ډوله مري. اما په هر ډول که مړ شوی وي، پدې یا هغه ډول له منځه تللی دی. نوموړی زما د سترګو او غوږو لپاره بد وو اړینه نده چه په هکله یې کوم بد څه ووایم.
زه له ټولو هغه څیزونو سره مینه لرم چه صافې کتنې او او ریښتیا خبرې لري. اما د پاخه عمرکشیشه ته خپله ښه پوهیږې آیا ستا د قبیلې او نژاده یعني دکشیشانو له قبیلې په هغه کې څه وو، پدې معنی چه نوموړی تل دوه مخی وو.
په دې سربېره د نوموړي روح مغشوش وو. پداسې حال کې چه د غوصې له امله یې نفس شمار ته لوېدا او مونږ ښه نه وو پرې پوه شوي راته غوصه کېدا! اما ولې یې سپېځلې او بې خنډونو خبرې نه کولې؟
اوکه چېرې غلطي زمونږ د غوږونو وه ولې یې مونږ ته داسې غوږونه نه راکول چه ښه پرې پوه شو؟ که چېرې ناپاکي زمونږ په غوږوکې وه، چا دې ناپاکۍ ته زمونږ په غوږوکې ځای ورکړی وو؟
د دې کلال ډېرکارونه ضایع شول ځکه چه پخپل فن کې استاد نه وو او پدې خاطر یې له خپلو لوښو او جوړو شوو څیزونو څخه دا پند واخیست چه ولې له ښو اوبو څخه بد رامنځته شویدي اما نوموړی د غوره سلیقې په وړاندې ګناکار شو. حتی په ترحم کې هم غوره سلیقه شته او دا سلیقه داسې امرکوي: "داسې خدای باید لېرې کړل شي. ښه به وي که اصولاً خدای نه وي، غوره به وي که انسان خپل تقدیر واوسي، بده

(c) ketabton.com: The Digital Library

به نه وي که انسان لېونی واوسي او ډېره به غوره وي چه انسان د ځان خدای واوسي او د دې ډول خدای پیروي وکړي."

عمر خوړلی پاپ چه ډېر غوړ وو ووېل: "دا څه اورم؟ اې زردشته ته دومره بې عقیدې یې! ډېر له هغې چه تصور یې کوې پرهېزګار او متقي هم یې! ستا په باطن کې خدای شته چه تا دې بې خدایۍ او خدای نه پېژندنې ته رابولي.
آیا زهد د ندی؟ چه نه غواړي نور په خدای متعقد واوسي؟ ستا له حده زیات صحیحتوب او رېښتیا به یوه ورځ تا ته له نېکۍ او بدۍ زیات هدایت ونکړي؟ عجیبه ده! ستا لپاره څه څیزونه ذخیره شویدي! ته سترګې، لاس او خوله لرې چه مخکې له وخته د ښنلو او رحمت کولو لپاره خلق شویدي ځکه انسان یواځې په لاسونو خلک نه ښني.
که څه هم ته ځان تر ټولو ستر خدای نه منونکی ګڼې اما زه ستا په حضور کې یو ډول داسې پټ عطر او شات وینم چه د ښنلو او رحمت کولو څخه زیږېدلي دي. دا حال مې په عین وخت کې هم غمګین او هم خوشحالوي.
اې زردشته، اجازه راکړه چه یواځې یوه شپه د مېلمه شم! اوس په ټوله نړۍ کې داسې ځای نشته چه ستا له منزله یې غوره وګڼم."

زردشت ووېل: "ډېر ښه که داسې وي" ډېر حیران شو او بیا یې ووېل: "زما د منزل لار له هغه اړخه ده او هلته د زردشت سومڅ ځای لري."
اې جلیل القدر او محترم انسانه ډېر مې خوښېږي چه تا هلته هدایت کړم ځکه زاهدان مې خوښېږي اما همدا شېبه د زاریو غږ ما په سرعت سره له تا اخلي. زما په قلمرو کې به چا ته ضرر ونه رسېږي او زما سومڅ ښه پناه ځای دی. په بشپړه مینه سره زه هر ماتم لیدونکی بیا په ځمکه کې محکموم او پښې یې قوي کوم.
اما څوک شته چه ستا له اوږو څخه د غم بار واخلي؟ د دې ډول کار لپاره زه کمزوی یم. رېښتیا د ډېرو وختونو لپاره باید انتظار وکړو تر څو ستا خدای بیا څوک له خوبه راویښ کړي.
ځکه دا بوډا خدای نور ژوندی ندی. هغه واقعا مړ شویدی."

## تر ټولو پست سړی:

یو ځل بیا د زردشت پښې په ځنګلونو او تپو وګرځېدې او سترګو یې لټونې وکړې اما په هېڅ ځای کې یې هغه کس پیدا نکړ چه د سختې اړتیا له امله یې رنځېدا او زګېروي یې کول. په ټوله لاره له زړه خوښ او ممنون وو، وېل یې: "څومره ښه څیزونه د بد پیل په جبران سره نن ما ته رسېدلي دي! څه عجیب ویاندان

(c) ketabton.com: The Digital Library

مې ومونډل! د دوی خبرې به د يو وخت لپاره لکه غنم ښې وژويم. زما غاښونه به هغوی واړه او اوړه کړي تر څو دوی هم لکه زمری زما روح ته داخل شي."

اما څنګه چه بيا جاده په لوی کمر سره پېچلې شوه منظرې فورا بدلون وکړی او زردشت د مړينې قلمرو ته داخل شو. دلته بې وښو، بې ونو، بې د مرغانو له غږونو څخه تورې او سرې تپې وې. ځکه دا هغه دره وه چه ټولو ژوو حتی ښکاري حيواناتو هم ترې لرېوالی اختيارولو. يواځې يو شين رنګه چاغ او بد مار چه بوډا کېدا او د مرګ وخت يې رارسېدلی وو دلته يې ځان راکشکولو. له همدې امله شپونکو او د رمو لرونکو دې درې ته د (مار مړينه) لقب ورکړی وو.

اما زردشت ناڅاپه د خاطرو په تياروکې ډوب شو ځکه داسې فکر يې کولو چه پخوا په همدې دره کې تېر شوی وو. په پايله کې د عظيم فکر سنګينۍ نوموړی ناراحته کړ او په تدريج سره يې په لار تګ ورو شو او بلآخره بې حرکته شو. کله يې چه ناڅاپه سترګې خلاصې کړې د جادې په څنډه يې ناست داسې موجود وليد چه په ندرت سره انسان ته ورته وو. زردشت فورا لدې امله ډېر خجالت شو چه پداسې موجود يې سترګې لوېدلې دي. پداسې حال کې چه سپين وېښتان يې هم له شرمه سره شوي وو خپل نظر يې راټول کړ او پښه يې جګه کړه چه لدې چټل ځايه لېرې شي اما پدې وخت کې له مړې دښتې غږ پورته شو.

هلته له ځمکې شړ، شړ او شړک شړک غږ همداسې لکه په شپه کې چه اوبه په لوله کې بندې وي غږ راپورته شو او بلآخره په انساني غږ تبديل شو او بشرې خبرې شوې چه وېل يې:
"زردشته! زردشته! زما معما حل کړه! خبرې وکړه! خبرې وکړه! له شاهد څخه د غچ اخيستل څه منظور؟ زه تا څټ ته کشوم دلته يخ صاف دی! په تېښته او مراقبت کې اوسه هسې نه چه تکبر د خپلې پښې ماتې کړي!
اې مغرور زردشته، ته ځانته پوه وايې! نو بيا دا معما حل کړه! اې د پېچلو او سختو معماوو حلوونکيه دا معما ولوله، هغه معما چه زه يم ولوله! که چېرې کولی شې ووايې زه څوک يم خبرې وکړه؟"

زردشت چه دا خبرې واورېدې فکر يې وکړ په روح يې څه شويدي؟ ترحم پرې غالب شو او فورا لکه د بلوطو ونه چه زيات وخت يې د ونې وهونکي اره زغملې وي ناڅاپه په غير مترقبه سنګينۍ سره په ځمکه ولوېږي او د لرګي وهونکي د وحشت سبب شي، په ځمکه ولوېد اما په سرعت سره راجګ شو او مخ يې زيړ شو. او په سخت غږ سره يې ووېل: "زه تا ښه پېژنم. ته د خدای قاتل يې! پرېږده چه لاړ شم! اې تر ټولو خلکو پسته هغه کس چه ته يې وليدې تحمل د نشوای کړی او له همدې شاهده د غچ واخيست!"

(c) ketabton.com: The Digital Library

زردشت داسې ووېل او غوښتل يې خپلې لارې ته ادامه ورکړي اما هغه د وصف ناوړه موجود يې د چېنې څنډه کلکه ونيوه او د خبرو پيدا کولو هڅې يې وکړې. بلاآخره يې ووېل: "پاتې شه!"

"پاتې شه او له ما مه لېرې کيږه! ما فکرکړی، هغه بېزاري چه ستا د غورځېدو سبب شوې څه ده؟ اې زردشته بې حده درود د وي په تا چه بيا راجګ شوې! زه ښه پوهيږم تا فکرکړی، د هغه قاتل وضعه به څرنګه وي چه خدای يې وژلی دی. پاتې شه! زما په خوا کې کښېنه! دا کار به بې ګټې نه وي.

کچېرې زه تا ته پناه درنه وړم چا ته رجوع وکړم؟ پاتې شه، کښېنه! اما ما ته مه ګوره او پدې ډول زما پستي مفتخره کړه!

هغوی ما تعقيبوي او اوس ته زما آخري پناه ځای يې. اما د هغوی تعقيب په دوښمنۍ يا د ساتونکو په وسيله ندی ځکه زه پدې ډول شکنجې او عذاب خنداکوم او ريشخندوم يې. همدارنګه د دې ډول تعقيب له امله آزاد، مغرور او سر لوړی کيږم او دا کار مې خوشحالوي.

آيا تر دې دمه ټول موفقيتونه د هغوکسانو په نصيب ندي شوي چه سخت تعقيب شويدي؟ او هغه کس چه ښه آزارول کوي د نورو د تعقيب په اثر پيروي کول هم سم نه زده کوي؟ اما د هغوی له ترحمه! هو د هغوی له ترحمه زه تېنتېدلی يم.

اې زردشته، زما حفاظت وکړه! اې ته زما آخري پناه يې، اې زما دکشف رازه، ته پوهېدلی يې چه د خدای د قاتل وضع څرنګه ده! اما اې بې صبره که چېرې غواړې لاړ شې په هغه لار مه ځه چه زه پرې راغلی يم! ځکه چټله او بده لار ده.

د ډېر وخت لپاره مې بدې خبرې کړې او اوس مې چه تا ته نصيحت وکړ آيا زما په وړاندې بدل شوی يې؟ اما پوه شه! زه تر ټولوکسان پست يم او همدارنګه هغه زه يم چه له ټولو سنګينې پښې لرم. هر چېرې چه تللی يم لاره يې خرابه شوېده. زه ټولې لارې د ورانۍ او مړينې خوا ته بيايم.

همدا چه ومې ليدې زما په خوا کې په سکوت سره تېر شې او همدا چه ومې ليدې له خجالته سور شوېې پوه شوم چه زردشت يې. که چېرې بل څوک وای صدقه يا ترحم يې په خبرو اوکتلو سره ما ته را اچولو او زه دومره هم ګدا نه يم چه دا ډول صدقو ته اړتيا ولرم او تا همداسې فکرکړی دی.

زه په بشپړ ډول سره دې شان صدقو ته اړتيا نه لرم، هو، زه په غير قابل د توصيف کې په وېرولو او هيبتناک کولوکې ډېر غني يم! اې زردشته وشرميږه زه د مفتخرکړم!

په ډېر زحمت سره د رحيموکسانو له فشاره تېنتېدلی يم تر څو داسې کس چه تعليم ورکوي: "ترحم د زحمت سبب کيږي" يعنی اې زردشته تا پيدا کړم.

که دا ترحم د خدای له طرفه وي اوکه د بشر، د شرم په وړاندې جرم اوګناه دی او د مرسته کولو په وړاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

عدم تمایل ممکن له هغې تقوا ډېر شریف وي چه له سهولت سره مرسته کوي. ټول پست خلک نن ورځ ترحم ته تقوا وايي او لوی مصیبت، بدبختۍ، فاحشې ماتې او پستۍ ته په هېڅ ټول احترام قائل ندي.

زه لکه د رمې سپی چه د مېږو په رمه پسې له ښته لېرې طرفونو ته ګورې همداسې دې اشخاصو ته له لېرې ګورم. دوی د هغو پستو خلکو ډله دي چه رام شوې او نېک نیت لري. د هغه کب خوړونکي مرغه پشان چه سره يې ځټ ته نیولی اوکم عمقه خبرو ته نظرکوي. زه هم د دې کوچینيو، ایرې رنګه ځپو، ارادو او ارواحو ته نظرکوم.

دا پست خلک د ډېر وخت لپاره د حق قضات وو او په همدې ډول د قدرت قضاوت هم پاتې شویدي او اوس داسې تعلیم ورکوي: "یواځې هغه څیز غوره دی چه پست خلک يې غوره ګڼي او خوښوي يې!"
او نن ورځ هغه څه ته حقیقت وايې چه د اوباشانو د واعظ په وسیله راپورته شوي وي. هغه عجیب روحاني چه پست خلک يې حامیان دي د ځان په اړه داسې وايي: "زه حقیقت یم" تعلیم د ورکړل شي.
دې جسورکس عمرونه پست خلک په ځان راټول کړي او نوموړی تعلیم ورکوي "زه حقیقت یم" په لويه سهوه مرتکب شویدی. آیا تر دې مؤدبانه ځواب دا ډول خشن او جسوروکسانو ته ورکړل شویدی؟ اما اې زردشته، ته د هغوی له څنګه بې اعتنا تېر شوې او وېل دې: "نه! نه! او بیا هم نه!"
تا خلک له هغه لېرې کړل، ته لومړنی کس وې چه له ترحمه د پرهېز تعلیم د ورکړ، اما ټولو ته د ونه وېل یواځې ځان او د ځان پشان نور د له ترحمه لېرې کېدا ته راوبلل.
ته د سترو رنځېدونکو له شرمه شرمېدلی يې او په ریښتیا ته وایې "له ترحمه ضخیمه وریځ راجګیږي، اې خلکو ترې لېرې اوسئ!" او دا رنګ تعلیم ورکوې: "ټول خلق کوونکي سخت دي، ټولو ستر عشقونه پخپل ترحم برلاسي دي." اې زردشته، ته زما په نظر ډېر پوه يې!

اما غوره به وي که ځان هم له خپل ترحمه لېرې وساتې! ځکه ډېر رنځېدونکي، شکمن، په لار پلي شوي دي او تا ته راځي.
زه حتی تا ته له ما لرېوالی غوره ګڼم. تا زما تر ټولو غوره او بده معما یا هغه څه چه زه یم و اندله. زه پوهېږم کومه بېزاري ده چه ته يې غورځولی يې.
اما خدای بې له مړینې بله چاره نه درلوده. هغه ټولو ځایونوپه ته لیدونکې سترګه کتل، هغه د بشر عمقونه، تلې او ټول خفیه شرم او بدۍ يې لیدل او له ترحمه او شرمه بې خبره وو. هغه زما په ډېرو بدو څنډوکې وګرځېد، دې کنجکاو، فضول او رحیم بې له مړینې بله چاره نه درلوده.
هغه تل زه لیدلم او پدې ډول لیدونکي شاهد سره بله چاره نه وه یا به مې غچ اخیست او یا به مې اصولا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند پرېښود! هغه خدای چه ټول ځیزونه حتی بشر یې لیدا بې له مړینې یې بله چاره نه درلوده. بشر نشوای زغملی چه دا ډول ژوندی شاهد ووینې."

تر ټولو پست سړي داسې ووېل زردشت راجګ شو او د تلو لپار یې ځان تیارکړ ځکه کولمې یې یخې شوې وې او ووېل: "اې غیر قابل توصیف انسانه، ته ما له هغې لارې لېرې کوې چه په مخکې یې لرم. د شکرانې په بدل کې زه خپله لار تا ته توصیه کوم. وګوره، هلته د زردشت سومځه ده.
زما سومځ لویه او عمیقه ده او ډېرکنجونه لري. هلته تر ټولو مخفي کسان ځانته خفي ځاینه موندلی شي او په څنګ کې یې سلګونه سوري د حیواناتو، خزندو، مرغانو او ښکاري لپاره شتون لري.
اې له خپلې اجتماع ترټل شویه ځان د شړلی دی ځکه نه غواړې له خلکو او ترحم سره یې واوسې. جګ شه همغه کار چه زه کوم ته یې هم وکړه! او پدې ډول به له ما زده کړې "یواځې هغه کس چه کارکوي زدکړه کوي."
او له هر څه مخکې زما له حیواناتو سره خبرې وکړه! د دوی تر ټولو مغرو او عاقل حیوانات زما او ستا لپاره غوره مشاورین کېدلی شي.

زردشت داسې ووېل مخکې ورو او متفکرانه په خپله لار روان شو ځکه له ځانه یې ډېر سوالونه کول او د هېڅ یوه ځواب یې په اسانۍ نشوای موندلی او په باطن کې یې داسې اندل: "واقعا بشر څومره فقیر دی! څومره بد او څومره له پټ شرمه ډک دی!"
وایي بشر له خپل ځان سره مینه لري، اخ! دا ځان پرستي باید څومره لویه وي! او په څومره کرکه باید وجنګېږي!
حتی دا سړی پدې ټولو سربېره چه څومره له ځانه کرکه لري له ځان سره مینه هم لري. نوموړي په عین حال کې د ځان لوی عاشق او دوښمن دی. ما تر اوسه داسې کس ندی لیدلی چه له نوموړي زیاته له ځان کرکه ولري او دا د نوموړي د مرتبې لوړوالی دی. افسوس! آیاهغه عالي سړی چه د زاریو غږ مې یې واورېد نشته؟ زه د سترو متنفرینو سره مینه لرم اما بشر داسې شی دی چه باید لوړتیا وموميي."

**دواطلب ګدا:**

زردشت چه څنګه تر ټولو پست سړی پرېښود بشپړ یخ وو او د یواځېتوب احساس یې کولو ځکه ډېر غریب، ساړه او یواځې فکرونه یې کول، پداسې ډول چه حتی غړي او تېونه یې هم په لړزه راغلي وو. په همدې وضعه له تېرو په ډک رود کې ښکته پورته کېدا چه ځوانه بې صبره ویاله هم د حادثې په لټونه کې بې صبره ویده وه. ناڅاپه تود او خوښ شو له ځانه یې تپوس وکړ: "څه پېښه شوېده؟"کوم ګرم او ژوندی شی ما ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

روح راکوي او تازه کوي مې، دا څيز بايد ما ته نيږدې وي. همدا شېبه زما يواځېتوب کم شويدی؛ زما ملګري او ورونه پېژ زما په اطراف کې الوت کوي او د هغوی ګرم نفس زما روح لمس کوي."

خپل اطراف ته يې وکتل تر څو خپل تسلې موندونکي ومومي اما تعجب يې وکړ ځکه يو شمېر غواوې يې په غونډۍ ولاړې وليدې او د دوی بوی او نيږدېوالی وو چه د نوموړي د زړه دګرمۍ باعث شوي وو. اما داسې يې وانګيرله چه دې غواوو د چا خبرو ته غوږ نيولی ځکه د زردشت نيږدې کېدو ته يې پاملرنه ونکړه.
زردشت چه دوی ته ډېر نيږدې شو په واضح ډول يې انساني غږ واورېد چه غواوو ته يې خبرې کولې او ويې ليدل چه ټولو غواوو خپل سرونه د وياند په اړخ ګرځولي دي.
زردشت بېړه وکړه او چوپړ يې ها خوا کړل ځکه وېرېدا هسې نه چه پدې منځ کې چا ضرر ليدلی وي او د غواوو ترحم يې درملنه ونشي کړی. اما نوموړی غلط وو ځکه ويې ليدل چه هلته يو سړی د ځمکې په مخ ناست دی او داسې ظاهرېدا چه غواوې يې قانع کړې تر څو له نوموړي ډار ونلري. هو دا سوله لټوونکی او واعظ کس د غره په سر وو او له سترګو يې مهرباني اوربدله. زردشت په حيرانۍ سره ترې تپوس وکړ: "ته دلته د څه په لټه کې يې؟"

سړي ځواب ورکړ: "پوښتنه کوې زه په څه پسې يم؟ په هغه څه پسې ګرځم چه ته ورپسې ګرځې اې د سولې مزاحمه! يعني پر ځمکه کې په نېکبختۍ پسې. له همدې امله هڅه کوم لدې شيدو ورکوونکو غواوو څخه مرسته واخلم اوکوم څه ترې زده کړم. ځکه مې د سهار نيم وخت له دوی سره په خبرو تېرکړی دی او دوی ما ته د ځواب راکولو په حالت کې وې تا ولې ناراحته کړې؟
که چېرې مونږ بدلون ونکړو او دغواوو په بڼه نشو د آسمانونو نړۍ ته به داخل نشو! ځکه موږ بايد له دوی يو څيز زده کړو او هغه هم په تکرار ژوول دي. په ريښتيا که چېرې بشر ټول جهان تر لاسه کړی وای او يواځې دا يو څيز يعني په تکرار ژوول يې نه زده کولی څه ګټه يې لرله؟ پدې صورت کې نوموړي ځان د خپل شر له غمه، هو له همدې لوی غمه چه نن تنفر ورته وايي نشو خلاصولی. څوک شته چه زړه، خوله او سترګې يې له کرکې ډک نه وي؟ ستا زړه، خوله او سترګې هم له کرکې ډک دي اما دا غواې وګوره!"

د غره سر واعظ داسې ووېل او بيا يې خپل نظر زردشت ته وکړ ځکه تر هغه وخته نوموړي په افراطي عشق سره غواوو ته کتل. ناڅاپه يې ماهيت بدلون وکړ او له ډاره يې نعره وکړه: "زه چه ورسره خبرې کوم دا کس څوک دی؟" او له ځايه جګ شو ادامه يې ورکړه:
"دا بې کرکې سړی دی، دا خپله زردشت دی، يعني د لويې کرکې فاتح دی. دا خپله د زردشت خوله، سترګې او زړه دي، پداسې حال کې چه دا خبرې يې کولې د زردشت لاسونه يې په اوښکو له ډکو سترګو ښکل کړل او پدې وخت کې يې حال د هغه کس په شان وو چه ناڅاپې ډالۍ او خزانې له آسمانه پرې رانازل شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي.
غواګانو دا ټوله وضعه وکتله او حيرانې وې.

زردشت وویل: "اې ګران او عجیب سړیه خبرې مه کوه!" په دې وخت کې یې خپله مهرباني او نرمي مهاروله، وویل: "اما لومړی له خپل ځانه خبرې وکړه! آيا ته هغه کس نه یې چه ګدایي د پخپل زړه د ځان کسب ګرځولې او په یو ځل د ټول ستر ثروت له ځانه لیرې غورځولی دی؟
آيا ته هغه کس نه یې چه له بډایانو شرمنده شوی یې او تر ټولو فقیروکسانو ته راتښتېدلی یې؟ تر څو له خپل زيات نعمت او زړه څخه کېدای شي څه ورکړې؟ اما هغوی ته ونه منلې؟"

داوطلب ګدا وویل: "پوهېږم اطلاع لرې چه هغوی زه قبول نکړم او له همدې امله زه د حیواناتو او دې غواګانو طرف ته راغلی یم."

پداسې حال کې چه د هغه خبرې یې غوځولې زردشت وویل: "هلته د زده کړل چه ښه کول له ښو اخیستلو څومره سخت دي او همدار نګه زده دکړل چه ښه کول په حقیقت کې د مهربانۍ تر ټولو غوره، زیرک او ماهرانه هنردی!"

دواطلب ګدا وویل: "په ځانګړي ډول پدې دوره کې هر څیز چه پست وو سر لوړي شوي او لاسرسی ورته ډېر سخت او پخپله خاصه طریقه شوی یعنی د اوباش په طریق متکبر شوی دی.
ځکه ته واقعا پوهیږې چه د اوباشانو بد، ستر، تدریجي او طولاني انقلاب رارسېدلی دی. همدا اوس نیکۍ او جزوي ببښنې اوباشان غوصه کوي. پرېږده هغه بډایان چه ثروت یې له اندازې ډېر دی دځان مواظب واوسي!
هر څوک چه لکه دګړي داسې خپټه او بې اندازې تنګه غاړه لري څاڅکی څاکی محتویات دې بېرون کړي. نن یې غاړه آزادانه ماتوي.
حرص، حسرت، تریخ حسادت، غوصه ناک غچ او د اوباش تکبر دا ټول زما سترګو ته راغلي دي، نور نني فقیران نیکبخته ندي اما د آسمانونو نړۍ همدا اوس له غواګانو سره تعلق لري."
پداسې حال کې چه غواګانو په بشپړه آشنایۍ سره سوله لټوونکی سړی بوی کولو زردشت څټ ته کتل او غوښتل یې هغه وازمویي نو ځکه یې له نوموړي وپوښتل: "او ولې د آسمانونو نړۍ په اغنیاوو پورې تعلق نلري؟"

هغه سړي ځواب ورکړ: "ولې غواړې ما وازمویې؟ ته خپله د دې سوال په ځواب ښه پوهیږې. اې زردشته زه څه شي د فقر په لوري راکش کړم؟ آيا لدې بډایه خلکو څخه کرکې، یعني همدا جنایتکاره بډایانو چه په

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړو سترګو او شهواني افکارو خپلې ګټې په هره ممکنه وسیله لاسته راوړي؟ لدې اوباشانو چه د تعفن بوی یې آسمان ته رسېږي او لدې زرینې او احترام وړ ډلې چه پلرونه یې جیب وهونکي، مړي خوړونکي وو او ښځې یې شهوت پرسته، هېرجنې او هېڅ یوې یې له فاحشو سره فاصله نه درلوده، ندي؟"
اما په سر کې اوباش او په پای کې اوباش دي! نن د فقیر او غني تر منځ توپیر څه دی؟ زه نن د دوی په منځ کې اختلاف نه وینم. له همدې امله زه لدوی لېرې او لېرې وتښتېدم چه دې غواګانو ته راورسېدم."

سولې لټوونکي سړي داسې ووېل له خپلو خبرو یې چیغې کړې او په خولو لوند شو. یو ځل بیا حیران شو اما زردشت تل نوموړي ته کتل او ترخو خبرو ته یې غوږ وو د هغه په مخ یې خندل او آرام آرام یې سر خوځولو بلآخره یې ووېل:
"اې د غره سر واعظه! کله چه ته دا ډول خبرې کوې په ځان ظلم کوې ځکه ستا خوله او سترګې د دې ډول ترخو خبرو لپاره ندي جوړې شوي. حتی فکر نه کوم معده د هم د دې تریخوالي زغم درلودونکې وي. ستا د معدې په نظر کې دا ټوله غوصه، کینه او قهرجنې خبرې ضرر رسوونکې او مکروه دي. ستا معده ملایم او نرم څیزونه غواړي ته قصاب نه یې.
برعکس ته زما په نظرګیاه خوړونکی ښکارې. کېدای شي ته غنم اوړه کړې اما په حقیقت کې ته له جسماني لذتونو سره مخالف یې او شات د خوښېږي."

داوطلب ګدا پداسې حال کې چه زړه یې خوشحاله وو ووېل: "تا څومره ښه زما په باطن فکرکړی دی! زما شات خوښېږي او غنم اوړه کوم ځکه هغه څه غواړم چه مزه یې خوره وي او نفس پاک کړي. همدارنګه د هغه څیز غوښتونکی یم چه وخت ونیسي یوه ورځ یا یوه میاشت کار د تنبلانو او استراحت کوونکو لپاره ایجادکړي! په ریښتیا دا غوایان پدې کارکې له ټولو غوره دي. دوی په تکرار ژوول او لمر ته اوږدېدل اختراع کړي دي. پدې سربېره له هر ډول درانه فکره چه زړه ناراحته کوي لرېوالی یې اختیارکړیدی."

زردشت ووېل: "ځه! ته باید زما ژوي ووینې، باید زما له مار او زما له عقاب سره ملاقات وکړې ځکه د هغوی پشان نن ورځ په ځمکه کې نه پیدا کیږي.
وګوره زما د سومځې لار له هغه طرفه ده. نن شپه زما مېلمه شه او څو چه زه درځم تر هغه وخته زما له حیواناتو سره د ژوو د نېکبختۍ په هکله خبرې وکړه. ځکه همدا شېبه د زاریو فریاد ما د ځان په طرف غواړي. ته زما په کورکې تازه شات، د زرین کندو شات چه لکه یخ داسې ساړه دي پیداکولی شې، له هغو وخوره!
اما اې سرګردان سړیه او زماګرانه همدا اوس خپل غوایان پرېږده! که څه هم ترک کول یې ستا لپاره سخت دي ځکه دوی ستاګران دوستان او ښوونکي وو."

(c) ketabton.com: The Digital Library

داوطلب ګدا ووېل:
"د دوی په منځ کې یواځې له یو غوایي سره ډېره مینه لرم او اې زردشته هغه هم ته یې چه ښه یې او حتې له یو غوایي غوره یې!"
زردشت په شیطانت سره فریاد وکړ: "لېرې شه! زر په لار شه، اې چاپلوسه! ولې مې پدې ستاینو او د غوړه مالۍ په شاتو سره خرابوې؟"
او بیا یې فریاد وکړ: "له ما لېرې شه، لاړ شه! او پدې وخت کې یې لکڼه د مهربان ګدا په طرف هدفي ونیوه او نوموړي هم په سرعت سره د ده له مخې فرار وکړ."

**سیوری:**
داوطلب ګدا تر دې دمه دومره نه وو لېرې شوی او زردشت یې خپل یواځېتوب نه وو موندلی چه له شا یې غبږ واورېد، وېل یې: "ودرېږه! زردشته صبر وکړه! صبر وکړه! دا زه یم ستا سیوری! اما زردشت ونه درېد ځکه ناڅاپه پخپلو غرونوکې د دې غالمغال له امله غوصه شو او له ځانه سره یې ووېل: "نو زما د انزوا کنج چېرې تللی دی؟"
واقعا دا نور زما له زغمه زیات دي. دا غرونه له خلکو ډک شویدي. زما قلمرو نور پدې نړۍ کې بهرنی وجود نلري. زه نوو غرونو ته اړتیا لرم.
زما سیوری ما څاري، سیوري ته څه اهمیت لري؟ پرېږده چه ومې څاري! زه له هغې تښتم." زردشت له ځانه سره دا ووېل و وتښتېد. اما هغه کس چه نوموړی یې څارلا ورپسې وو پداسې ډول لکه دری نفره چه یو بل پسې منډې وهي. ځکه داوطلب ګدا په مخکې وو وروسته زردشت او دریم سیوری وو چه ورپسې وو. پدې ډول یې ډېره لار نه وه طی کړې چه ناڅاپه زردشت خپل لېونتوب ته متوجه شو او زر یې ټوله غوصه اوکرکه له ځانه ایسته کړه  او ووېل: "آیا څرنګه! مونږ سپېڅلو او عمر خوړلو منزویانو ته تل عجیب څیزونه ندي پېښ شوي؟
واقعا زما حماقت په غرونوکې زیات شوی دی! همدا شېبه شپږ احمقې پښې په شور سره په ځان پسې روانې اورم. اما آیا ممکنه ده چه زردشت له خپل سیوري ووېرېږي؟ پدې سربېره فکرکوم چه سیوری مې له ما اوږدې پښې لري."
زردشت داسې ووېل په سترګو او زړه دواړو یې وخندل بیا ودرېد او په سرعت سره یې پخپلو پښو وڅرخېد سیوری او تعقیبوونکی یې چه ډېر ضعیف وو په ځمکه ووهل ځکه زردشت په دقت ورته کتل او ناڅاپه یې داسې فکر وکړ لکه پېری یې چه لیدلی وي. تعقیب کوونکی یې فوق العاده نری، تور، تش او ستړی ښکارېدا.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زردشت په تغیر سره ترې تپوس وکړ: "ته څشی یې؟ او دلته څه کوې؟ او ولې ځانته سیوری وایې؟ زما نه خوښیږې!"

سیوري ځواب ورکړ: "لدې چه دا زه یم ومې ښنه! اوکه چېرې د زه نه خوښیږم تا او سلیقه د دعوت کوم چه عقیده مو تغیرکړئ! زه هغه سرګرداني یم چه تل په لاره وم او ستا په پښو پسې مې بې لدې چه کوم مقصد او منزل ولرم اوږده لاره طی کړېده. ډېره کمه پاتې چه د یهودي پشان ستړی شم او سرګردان شم اما توپیر مو فعلا په منځ کې دا دی چه زه نه تل پاتېدونکی یم او نه هم یهودي.

څرنګه؟ آیا زه باید تل په لار واوسم؟ آیا زه تل باید د هر باد په وسیله وشړل شم او همېشه فراري او ناقراره واوسم؟ دا ځمکه له حده زیاته را ته ګردجنه شوېده."

زه په هره سطحه لکه ګرد او غبار ستړې ناسته یم او د هېندارو او ښیښه یي قابونو په مخ ویده شوې یم. ټول ما ستایي او هېڅوک کوم شی نه راکوي. زه ورځ په ورځ ډنګرېږم او په تدریج سره په یو سیوري تبدیل شوی یم.

که څه هم له تا مې ځان پټ ساتلی خو اې زردشته ستا تر شا مې ډېرې اوږدې لارې طی کړېدې. لدې ټولو سره ستا تر ټولو غوره سیوری وم او هر ځای د چه ناسته کړې هلته کښېناستلې یم. له تا سره په ډېرو لېرې او یخو جهانونوکې لکه پیری پخپله غوښتنه په ژمنیو له واورو ډکو بامونوګرځېدلی یم.

له تا سره مې په ډېرو خوړو، حرامو او لېرې څیزونوکې نفوذکړی دی اوکه چېرې زه تقوا ولرم له هر ډول محرماتو خالي ده. کومو څیزونو ته مې چه زړه احترام درلود ستا له امله مې پرې پل کښښود او هر اثر او انځور مې چه د ځان لپاره ترسیم کړی وو له ځان لېرې کړی ده. تر ټولو خطرناکې غوښتنې مې ځارلې دي، په رېښتیا زه له هر ډول جرم او جنایته تېر شوی یم.

ستا له امله مې په کلمو، ارزښتونو او لویو اسمونو اعتقاد هېرکړی دی. کله چه شیطان ځان پوست کولو آیا خپل نوم یي هم حذف کړ؟ مګر نوم بې له پوسته بل شی دی، چېرې حتی شیطان هم بې له پوسته بل شی ندی؟

او اما په باطن کې له ځانه سره ووېل: "هېڅ شی رېښتیا ندي، ټول څیزونه مجازي دي." ما څو څو ځله سر او زړه دواړه په ډېرو سړو اوبوکې اېښې او د همدې کار له امله لکه خرچنګ داسې سور او لوڅ شوی یم.

اخ! زما ټول ښه، زما شرم او په نېکو ټول اعتقاد څه شویدی؟

اخ، هغه عاجزانه معصومیت چه یو ځل مې درلود، هغه معصومیت چه په نېکانو او شریفو دروغو پورې اړوند وو چېرې تللی دی؟ غالبا، واقعا په پښو حقیقت ته نیږدې شوی یم او ډېر له نیږدې مې ځارلی دی خو بیا حقیقت زما سر په سوټک وهلی دی. ځینې وختونه مې فکرکولو چه دروغ مې ویلې دي اما هماغه وختونه وو چه له حقیقت سره مخامخ شوی وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر څيزونه ما ته ظاهر شول اما زه اوس هغو ته اهميت نه ورکوم. هغه څيزونه چه زما خوښېږي هېڅ يو يې ندی پاتې شوی. اوس زه څرنګه کولی شم له ځانه سره مينه ونلرم؟ هغه څه چه زه يې غواړم دا دي: " هر ډول مې چه زړه غواړي ژوند وکړم يا که چېرې يې امکان نه وي اصولا به ژوند ونکړم؟" او تر ټولو سپېڅلي کسان هم د دې غوښتونکي دي اما افسوس! زه ولې تر دې دمه له ژوند سره مينه لرم؟

آيا کوم مقصد لرم؟ آيا کوم بندر شته چه ما هغې ته د رسېدو لپاره کښتۍ روانې کړېدي؟ مناسب باد؟ اما يواځې هغه کس پوهېږي چېرې روان دی چه پوه شي کوم باد مناسب دی اوکوم مفيد؟ زما لپاره څه پاتې؟ يواځې يو مړاوی او جسور زړه، يوه نامحکمه اراده، لړزانده وزرونه او مات ستون فقرات!

اې زردشته! آيا پوهېږې چې مقصود منزل ته د رسېدو پلټنې زه څومره ستړی او بېزاره کړی يم؟

"زما مقصود منزل چېرې دی؟!" دا هغه څه دي چه ما پوښتلي، لټولي او تر اوسه يې پلټم خوکوم څه مې ندي موندلي. اې ټول هميشني ځايه! اې هېڅ همېشني ځايه، اې همېشني بې ګټې او عبثه!"

سيوري پدې ډول خبرې وکړې او د زردشت مخ د دې خبرو له امله ځوړند شو او بلآخره يې په بشپړ غمجنتوب سره ووېل: "ريښتيا چه ته مې سيوری يې! تا ته متوجه خطرکوچينی او ناڅيزه ندی، اې سرګردان کسه او آزاده روحه! تا بده ورځ درلوده فکرکوه چه له ورځې بده شپه د په انتظارکې نه وي.

ستا پشان نامحکمه کسانو لپاره حتی زنداني کېدل هم نېکبختي ده. آيا تر دې دمه د ليدلي؟ انسان وژونکي په زندان کې څومره آرام پاتېږي؟ هغوی آرام ويده کېږي او له نوي امنيت او حفاظته خوند اخلي.

د ځان په فکرکې اوسه هسې نه چه کوم محدود مذهب د په دام کې واچوي او په سختو محدودو خوبونوکې د بندي کړي! ځکه هغه شی چه اوس محدود او شديد دي تا د ځان په طرف جذبوي."

تا خپل هدف له لاسه ورکړی دی. افسوس! د دې ورکې له امله ځانته څرنګه تسلې ورکولی شې؟ د هدف په ورک کولو سره د حتی خپله لار هم ورکه کړېده.

اې بېچاره سرګردانه، اې احساساتي، اې پاتې شويه الوتونکيه! آيا غواړې نن شپه يو آرام منزل ولرې؟ که چېرې غواړې زما سومځې ته لاړ شه! زما د سومځې لار له هغه طرفه ده. اوس زه بايد په بيړې سره له تا لېرې شم ځکه همدا اوس داسې ښکاري چه سيوری په ما لوېدلی دی.

زه به يواځې منډې کړم تر څو بيا زما چاپېر روښانه شي! دې مقصد ته رسېدو لپاره زه بايد اوس اوږده او خطرناکه لاره طی کړم. اما کېدی شي د شپې زما په منزل کې جشن وي.

## د غرمې وخت:

زردشت منډې کړې، منډې کړې او هېڅوک يې پيدا نکړل. هر ځای يې چه کتل بې له ځانه يې څوک نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليدل او له همدې امله د خپل يواځېتوب څخه خوشحال شو؛ پداسې حال کې چه هره شېبه غوره افكار پرې را اوربېدېدل نو په خوند سره يې وڅښل.

د غرمې په وخت چه لمر بشپړ د زردشت په سر قرار درلود له زړې او ټيټې ونې چه د شديدې مينې له امله يې ځان په محبت سره په غېږکې نيولی وو او له خپل نظره پټه شوې وه، تېر شو. لدې ونې څخه زيات زرين انګور راځړېدلي وو او په جذابه بڼه يې سرګردانه کس د ځان په طرف بللو.
هغه وخت زردشت غوښتل چه لږه تنده يې د انګور دانې په خلاصولو سره کمه کړي اما څنګه يې چه انګور دانې ته لاس کړ احساس يې بدلون وکړ يعني ويې غوښتل چه دا غرمه له همدې ونې لاندې وغځېږي او خوب وکړي.
زردشت همداسې وکړل او تر اوسه د ځمکې په مخ د آرامښت او ګلونو څخه ډکو شنوکې نه وو غځېدلی، چه خفيفه تنده يې هېره کړه او خوب يووړ. ځکه، لکه چه خپله يې وېل: "تل يو څيز له بل څيز مهم دی."
اما سترګې يې هماغه شان خلاصې پاتې شوې ځکه د ونې له ليدو، تحسينولو او پر هغه باندې له شديد عشقه نه ستړی کېدا. پداسې حال کې چه ويده کېدا له ځانه سره يې داسې وېل:
"عجيبه سوله او آرامښت! آيا نړۍ پدې شېبه کې دکمال حد ته نده رسېدلې؟ ما ته څه لاس راکړی؟"
هماغه شان چه نرم او نری باد د سمندر په منقوشه سطحه باندې بشپړ رقص کوي همدا شان خوب هم زما په مخ ګډېږي. اما سترګې مې يو له بل سره نه پيوسته کوي او روح مې ويښ ساتي. واقعا چه دا خوب سپک دی او وزر لري!
نه پوهېږم زه يې څرنګه محاصره کړی يم. دا خوب پر مطربه لاسونو زما په ضمير مهرباني کوي. هو هغه ما په ځان پورې مقيد او تړي، پداسې ډول چه روح مې خپل ځان پراخوي. زما روح څومره عجيب، ستړی او مات شوی دی! آيا د اونۍ د استراحت شپه غرمې ته رسېدلې ده؟
زما عجيب روح له حده زيات ځان اوږد او غځوي او آرام ويده کېږي! څومره ډېر ښه څيزونه يې همدا شېبه څکلي دي. دې طلايي غمګينۍ نوموړی تر فشار لاندې نيولی او خوله کړوي! همداسې لکه يوه کښتۍ چه د اوږدو سفرونو او مشکوکو سمندرونو څخه ستړې شوې يو آرام بندر ته ځان رسوي او د ځمکې طرف ته تلل غواړي ځکه هغه له سمندره باوفا ګڼي.
هماغه شان لکه چه همدا کښتۍ ځان ځمکې ته رسوي او ځان په هغې داسې چسپوي چه حتی د غڼې يو نازک تار د هغو او ځمکې تر منځ کافي دی او له هغې نازکې رشتې محکم طناب ته اړتيا نه لري.
همدا شان زه همدا اوس په ډېر آرام بندرکې يم او له ځمکې سره په ګاونډيتوب کې په داسې حال ژوندکوم چه په نازکو تارونو ورسره متصل شوی يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اې سعادته! اې نېکبختۍ! اې زما روحه کاشکي تا نغمې غږولی! ته په چمن کې ویده یې! اما دا شېبه هغه مخفي ساعت او سنګیني ده چه په هغې که حتی شپانه هم شپېلۍ نه غږوي. نو آرام اوسه! ګرمه غرمه په مزرعو ویده ده. سندرې مه وایه! آرام پاتې شه! نړۍ تکمیلېږي.
اې د چمن مرغه او اې زما روحه مه وایه! چوپ اوسه! بوډۍ غرمه ویده ده او شونډې یې خوځېږي. د هغې قیافه تغیرکوي. سعادت یې لکه خدای خندیږي. آرام اوسه!

یو ځل مې له ځانه سره داسې ووېل: "د سعادت لاسته راوړل څومره اسانه کار دی! "ځان مې ډېر پوه وګڼلو اما دا کفر وو او همدا اوس زه پدې پوه شوم. پوه احمقان لدې ښې خبرې کوي. نه! اما تر ټولو جزوي، ملایم، سپک شی، دکمزورې څرموښکۍ حرکت، یو نفس، یو نظر، یوه شېبه او یوکوچینی څیز ډېر غوره سعادت رامنځته کوي. آرام!
په ما څه شوي؟ عجیبه ده! آیا زمان لدې ځایه تښتېدلی دی؟ آیا زه په ابدي څاګانوکې ډوب شوی یم؟ په ما څه شوي؟ آرام! آیا زما زړه خنجر خوړلی؟ په زړه مې؟ اې زما زړه لدې ډول سعات او دې شان ټپ وروسته مات شه! مات شه!
څنګه؟ آیا نړۍ همدا اوس دکمال حد ته نده رسېدلې؟ او پخه شوې نده؟ دې ګردې او زرینې کرې چېرته الوتنه کړېده؟ پرېږده چه زه منډې ورپسې وکړم! آرام!"
دلته زردشت ځان وښوراوه او پوه شو چه ویده دی! او ځانته یې ووېل: "جګ شه! جګ شه! اې ویده سړیه! اې په غرمه کې ویده، جګ شه! جګ شئ! اې بوډا پښو!
د حرکت کولو وخت رارسېدلی او حتی لږ ناوخته شوی هم دی. تر اوسه اوږدې لارې په مخ کې باقي پاتې دي! بشپړ خوب د وکړ! ستا دې خوب څومر اوږدوالی وموند؟ د ابدیت نیمایي. جګ شه! جګ شه! اې بوډا زړه، لدې ډول خوب وروسته څومره نور وخت د ویښېدو لپاره غواړې؟"

په همدې حال کې خوب یو ځل بیا نوموړی یووړ او روح یې په مقابل کې مقاومت وکړ او له ځانه یې دفاع وکړه ویده شو. "اخ پرېږده چه آرام شم! چوپ اوسه! آیا نړۍ پدې شېبه کې نده تکمیل شوې؟ اوف لدې ګردې او زرینې کرې!"

او زردشت ځانته ووېل: "کوچینی غله جګ شه! اې د وخت غله ولې غواړې تل اسویلې او ژور آهونه وکړې او په عمیقو څاګانوکې ښکته لاړ شې؟ ته څوک یې اې زما روحه؟"

دلته نوموړی وډار شو ځکه د لمر شعاع د ده په مخ ولوید. زردشت پداسې حال کې چه اوسویلې کول کښېناست او ووېل: "اې زما په سر آسمانه ته ماګورې؟ ته زما عجیب مخ ته غوږ نیسې؟ څه وخت به ته دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

شبنمي ځاځکی وځښېږ چه د ټولو ځیزونو په مخ لوېدلی دی؟ زما دا عجیب روح به څه وخت وځښېږ؟ اې د ابدیت کارېزه او اې وحشتناکو تَلو او خندانه غرمې څه وخت به ته زما روح وځښېږ او خپل ځانته به یې راوګرځوې؟"

زردشت داسې ووېل او د ونې له څنګه د هغه چا پشان راجګ شو چه مست وي او عجیبه وه تر اوسه لمر د آسمان په منځ کې د نوموړي په سر قرار درلود. پدې اساس فکرکولای شو چه زردشت د ډېر وخت لپاره ندی ویده شوی.

**ښه راغلاست:**

له غرمې دومره وخت نه وو تېر شوی چه زردشت له ډېرې بې ګټې سرګردانۍ او پلټنې وروسته بلآخره بېرته خپلې سومځې ته ستون شو. اما له خپلې سومځې شل قدمه لېرې وو بیا یې هغه غږ واورېد چه تر ټولوکم یې زردشت په انتظارکې وو. یعني بیا یې د لویو زاریو غږ واورېد اما عجیبه دا وه چه دا ځل فریاد د سومځې له داخله راغی.

اما دا فریاد د عجیبو اوږدو او رنګارنګ زاریو فریاد وو. زردشت په اسانۍ سره پوه شو چه دا غږ له مختلفو غږونو څخه تشکیل شوی دی. که څه هم کله چه چا له لېرې دا غږ اورېدو ګمان یې کولو چه د واحد فریاد غږ دی.

زردشت په بیړې سره خپلې سومځې ته داخل شو او عجیبه نمایشي صحنه یې په انتظارکې وه! د سومځې په داخل کې ټول هغه کسان وو چه نوموړي په لاره کې لیدلی وو او یو له بل سره ناست وو. مثلا د ښي اړخ پاچا، دکین اړخ پاچا، بوډا کوډګر، پاپ، داوطلب ګدا، سیوری، د معنوي وجدان سړی، فالګیر او خر ټول سره راټول شوي وو. تر ټولو پست سړي په سر تاج اېښی وو او ملا یې په ارغواني کمربند تړلې وه ځکه د ټولو پستو خلکو پشان نوموړي هم غوښتل چه ځان زینت او سینګارکړي. پدې غمجنه اجتماع کې د زردشت عقاب ځان ټول کړی وو او ناراحته ولاړ وو ځکه پر له پسې سوالونه ترې کېدل چه د تکبر له امله یې دوی ته حاضر ځواب نه درلود. پداسې حال کې چه مار یې په غاړه کې ځوړند وو.

زردشت دوی ټولو ته په حیرانۍ وکتل او هر یوه مېلمه ته یې په کنجکاوۍ او احترام سره کتل او د دوی ضمیر یې ولوست او بیا متعجب شو. پدې وخت کې ټول له ځایونو جګ شول او په احترام سره په ښو ودرېدل.

پدې انتظارکې وو چه زردشت به خبرې وکړي او نوموړي داسې ووېل:

"اې عجیبو او مأیوسه خلکو! داسې ښکاري چه ستاسو د زاریو غږ مې اورېدلو؟

پدې سربېره اوس پوهېږم هغه څه چه په ټوله ورځ کې یې بې ګټې په لټه کې وم یعني عالي سړی چېرې پیدا کولی شم. داسې ښکاري چه عالي سړی زما په سومځ کې ناست دی! اما زه ولې متعجب شوی یم؟ آیا ما

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپله هغه د شاتو او د سعادت په زیرکو جذبو سره د ځان په طرف ندی راکش کړی؟
اما پدې ټولو سره داسې ښکاري چه تاسې یو له بل سره جوړ نه یاست او تاسو چه د زاریو غږ مې جګ کړی پدې ناست حالت کې هم یو بل ازاروئ او د یو بل د غوصې کولو سبب کیږئ.
لومړی بایدکوم خندان ملقد یا یو رقاص یا یو لېونی ډوله سړی او یوه له شوره او غالمغاله ډکه نجلی یا یو احمق او چټل بوډا راظاهر شي تر څو تاسو بیا په خنداکړي. ستاسو عقیده څه ده؟
اې مأیوسانو! ما وبښئ که چېرې د داسې جزوي موضوعاتو په هکله خبرې کوم چه واقعا ستاسو مېلمنو وړ ندي. اما تاسو نه پوهیږئ څه شی زما د زړه د غیرت او شجاعت سبب شویدي.
ما وبښئ! اما خپله تاسو او ستاسو حالت دی چه ما ته غیرت راولي ځکه د هر چا سترګې چه په ناهیلۍ لګیږي غیرتي کیږي. د یو ناهیلي سړي د هڅونې لپاره هر څوک ځان په بشپړ ډول قوي فرض کوي.
اې ګرانو او عزتمندو مېلمنو، دا قوت تاسو ما ته راکړی او غوره ډالۍ مو راکړې! واقعا دا د یو مېلمه سپېڅلې ډالۍ ده! اوس همداسې ده غوصه کیږئ مه که چېرې زه هم تاسو ته هغه څه تقدیم کړم چه په ما پورې اړوند دي.
دا زما قلمرو او زما د حکمرانۍ محیط دی اما هر څه چه زما دي نن شپه به ستاسو هم وي. زما ژوي به ستاسو د چوپړ ملا وتړي او زما سومڅ به ستاسو استراحتځای او امن ځای وي. زما په کورکې به هېڅوک خواشیني نشي، د سومڅې په محفظوکې به هر څوک له وحشي حیواناتو وساتم او ستاسو با امن ساتنه تاسو ته زما لومړنۍ ډالۍ ده. اما تاسو ته مې دوهمه ډالۍ زماکوچینۍ ګوته ده او څنګه مو چه لاسته راوړه نو ټول لاس مې ونیسئ! هو، او زړه مې په ټولو سره تصرف کړئ! اې مېلمنو او دوستانو ښه راغلاست! دا مو خپل کور دی."

زردشت داسې ووېل د عشق او شرارت له امله یې وخندل. وروسته له ښه راغلاست ویلو یې مېلمنو بیا د زردشت په احترام سکوت او تعظیم وکړی او د ښې اړخ پاچا داسې ځواب ورکړ:
"اې زردشته! لدې طرېقې چه لاس د موږ ته تقدیم کړ او د ښه راغلاست ویلو له طریقې د موږ وپېژندې. تا زموږ په وړاندې ځان حقیرکړ او حتی زموږ احترام د له منځه یووړ. اما څوک شته چه وکولی شي پدې ټول غرور سره ځان حقیرکړي؟ دا هغه څه دي چه موږ سرلوړي کوي او همدا زموږ د زړونو او سترګو لپاره خوندر ځښاک دی.
که چېرې د همدې د دیدن لپاره هم وي موږ حاضر یو چه لدې څخه لوړو غرونو ته صعود وکړو ځکه موږ کنجکاو سیاحت کوونکي یو او تا ته راغلي یو او د هغو لیدو ته مشتاق یو چه دکم نوره سترګو د ځلیدو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سبب کیږي. وګوره زموږ د زاریو فریادونه نور تېر او هېر شویدي. همدا اوس زموږ په روح او زړه کوډې شوې دي او غیرت مو د بې قیدکېدو لپاره کوم څه کم نلري.

اې زردشته! هر شی چه په ځمکه کې نموکوي د یو قوي او لوړې ارادې پشان انسان ته خوند نه ورکوي. دا ډول اراده د ښکلو نباتاتو یو ډول دی. یوه لویه منظره لدې ډول تازه او نوو ونو څخه جوړیږي. اې زردشته! زه هغه څوک د ناجو له وني سره تشبیه کوم چه لکه ته لوړ، چوپ، کلک او منفرد لوییږي او لرګی یې له ټولو لرګیو نرم او غوره لرګی دی.
اما لدې ټولو مهمه دا چا دا ډول ونه خپله شنه او قوي ښاخونه د خپل قلمر اطراف ته غځوي او له باد، هوا او هر هغه شی چه له لوړو مکانونو سره اشنایي لري سخت او قوي سوالونه کوي. خپله دې پوښتنو ته قوي او فاتحانه ځوابونه ورکوي. څوک شته چه د دې ډول ونو د زیارت لپاره له غرونو لوړ لاړ نشي؟

اې زردشته! ستا ونه حتی غمجن او ماتو خوړلی کس هم خوشحالوي. یوه ستره لېوالتیا راجګیږي او ډېرو خلکو زده کړي چه پوښتنه وکړي زردشت څوک دی؟
د اعتکاف کوونکو او منزویانو یا هر چا په غوږونوکې چه تا د خپل آواز شات څڅولي وي یو یو او دوه دوه ټول ناڅاپه له ځانه سره وایي: "آیا زردشت تر اوسه ژوندی دی؟ نور ژوند د کولو وړ ندی. ټول څیزونه یو شان دي او ټول بې ګټې دي اما په هغه حالت کې چه موږ له زردشت سره ژوند وکړو."
ډېرئ خلک تپوس کوي: "ولې نوموړي خو ډېر وخت ځان پټ کړی، ظهور نه کوي؟ آیا هغه یواځېتوب تښتولی دی؟ آیا موږ باید په هغه پسې لاړ شو؟ اوس داسې ده چه انزوا هم له حده زیاته پخه شوېده او هغه قبر ته ورته شوې چه ویې پلټې دفینه ترې بهرکړې خو هغه هم پکې ګډه رابهرکیږي. په ټولو ځایونوکې انسان له هغوکسانو سره مخ کیږي چه صعود یې کړی دی."

اې زردشته! همد شېبه څپې راجګیږي او پورته ستا د غره په طرف راځي او هر څومره چه ستا ارتفاع لوړه وي ډېر خلک باید ستا په طرف راشي. ستا کښتۍ به د ډېر وخت لپاره په سېلاب پاتې نشي! دا چه مونږ مأیوسان ستا سومڅې ته راغلي یو نور ناهیلي او غمجن نه یو. داسې نښانې هم شته چه له موږ غوره په لار راروان دي او ستا په طرف راځي.
ټول هغه کسان چه ستره لېوالتیا، ستره کرکه او لویه زړه توري لري. ټول هغه چه نه غواړي ژوندي پاتې شي مګر بیا هم هیله مندي ورته پیدا شي. پدې معنی چه اې زردشته! تا هغوی ته ستره هیلمندي ورزده کړې! د دې ټولوکسانو لپاره یواځې ستا د لارې ور شته چه د اخري خدای بقایاوې پکې پیدا کولی شي."

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښي اړخ پاچا داسې ووېل د زردشت لاس يې ونيو تر څو ښکل يې کړي اما زردشت نوموړی داسې په بېړه ها خوا ټېله کړ لکه څوک چه غواړي لېرې هېوادونو ته وتښتي او ځان يې څټ ته کړ. اما له څو شېبو وروسته بېرته د مېلمنو منځته راغی او په پوښتنيزو سترګو يې دوی ته په ځيرکتلو ووېل: "زما مېلمنو، اې عالي خلکو! زه به تاسو ته په ساده آلماني ژبه په صراحت سره خبرې وکړم. زه ستاسو لپاره پدې غرونوکې انتظار نه کوم."

زردشت ادامه ورکړه: "واقعا کېدای شي تاسې هم عالي خلک واوسئ اما زما لپاره يعني هغه د تېرې زړه چه همدا شېبه بې غبره زما په باطن کې دی اما تل چوپ ندی تاسو په بشپړه اندازه قوي او عالي نه ياست. حتی که چېرې تاسو په ما متعلق شئ زما د ښي لاس پشان به ما ته نه ياست ځکه هر څوک چه لکه تاسو په ناروغو اوکمزورو پښو په لاره ځي له هر څه زيات بايد خپله غوښتنه وپېژني يا هغه له ځانه پټه کړي او غواړي تر ترحم لاندې وساتل شي.

اما زه پخپلو متېو او پښو رحم نه کوم او او جګړنو ته هم امن نه ورکوم نو بيا به تاسو څرنګه زما په جنګ کې د شرکت وړتيا ولرئ؟

ستاسو له لاسه به زه د بريا او فتحې ټول امکانات له لاسه ورکړم او ستاسو ډېرئ به خالي زما د ډهول په اورېدو سره له وېرې په ځمکه وغځيږئ. پدې سربېره زما په نظر تاسو په کافي اندازه ښکلي نه ياست او له غوره والدينو څخه نړۍ ته نه ياست راغلي. زه د خپلو لارو لپاره روښانه او صافو هېندارو ته اړتيا لرم. ستاسو په سطحو باندې به زما انځور حقيقي بڼه له لاسه ورکړي.

ستاسو په اوږو زيات بار او خاطرې اېښودل شوېدي او ډېر شرير فقيران ستاسو د روحونو په سوريو اوکنجونو کې په کمين کې دي. ستاسو په باطن او ضميرکې اوباشان پټ شويدي. که چېرې له غوره نژاد څخه هم ياست بيا مو هم په ضميرکې ډېرکاږه او بد څيزونه شته. د نړۍ زرګر به پدې نشي توانا چه تاسو پخپل څټک سره جوړ او ښکلي کړي.

تاسو يواځې پلونه ياست، کاشکې عالي خلک ستاسو په سر هغو اړخونو ته تګ کولی شوای! تاسو له زينو زيات نه ياست. له همدې امله که چېرې څوک په تاسو باندې لوړ ارتفاعاتو ته ختل مه غوصه کيږئ! کېدی شي يوه ورځ ستاسو له سپرمه يو واقعي زوی او بشپړ وارث ما ته راجګ شي اما د دې وخت لپار تر اوسه ډېر وخت پاتې دی. تاسو هغه کسان نه ياست چه زما اسم او ارثيه ورپورې تعلق لري.

ستاسو لپاره زه پدې غرونوکې انتظار نه کوم او ستاسو سره به د آخري ځل لپاره نزول ونکړم. تاسو لکه نښې او علامې زما په طرف راغلي ياست چه تر تاسو غوره خلک زما په طرف راتلونکي او په لار دي.

زه د هغو خلکو لپاره چه په ستره لېوالتيا، ستره کرکه او لوی زړه توري وي انتظار نه کوم کوم چه تاسو د خدای بقاياوې ورته ويلې دي. نه! نه! او بيا هم نه! ځکه زما انتظار د نوروکسانو لپاره دی او بې له هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

به زه یو قدم هم د نزول په طرف وانخلم.
زه د داسې کسانو په انتظارکې یم چه له تاسو قوي، بریالي، خوشال او عالي وي او څهارشانه روح او بدن ولري. زه د خندانه زمریانو د راتلو په انتظارکې یم. اې دوستانو، مېلمنو او عجیبو خلکو! آیا تاسو زما د ماشومانو په هکله څه اورېدلي دي؟ او آیا خبر لرئ چه هغوی ما ته د راتلو په حالت کې په لار دي اوکنه؟
ما ته مې د بڼونو، لویو خوښو او تازه کوونکو جزیرو، د ښکلي او نوي نژاد په اړه خبرې وکړئ! ولې د هغو په هکله خبرې نه کوئ؟
د دې ډالۍ غوښتنه له تاسوکوم چه د خپلو ماشومانو له حاله مې خبرکړئ. د دې موخې لپاره غني یم او دې موخې ته د رسېدو لپاره مې ځان فقیرکړی دی او څه شی دي چه دې مقصد ته د رسېدو په لاره کې مې له لاسه نه وي ورکړي. څه شی دي چه د دې ماشومانو، دې ژوندیو نباتاتو او د ارادې د ونو او لوړ امېد لپاره یې له لاسه ورنکړم؟"
زردشت داسې وویل او بیا چوپ شو ځکه ناڅاپه یې لېوالتیا او هیلې پرې غالبې شوې او خوله او سترګې یې د زړه د لړزې په مقابل کې پټې کړې او ټول مېلمانه یې هم چوپ بې حرکته ودرېدل او حیران وو چه څه وکړي؟ یواځې فالګیر وو چه په لاسونو او څیره یې نښانې جوړولې.

**ماښام:**

پدې وخت کې فالګیر د زردشت ښه راغلاست مېلمنو ته غوږ کړ او ځان یې په بیړې سره لومړني قطار ته راورسولو. د زردشت لاس یې ونیو او په فریاد یې وکړ:
"اما اې زردشته تا خپله نه وېل: "تل یو څیز له بل څیزه مهم او اړین دی." او هغه هم په موقع ستا یوکلام دی، آیا موږ د خپل ماښامي ته نه یو دعوت کړي؟ دلته ډېرکسان دي چه له لېرې لارو څخه رارسېدلي دي او آیا ته قصد نه لرې چه موږ پخپلو خبرو ماړه کړې؟
پدې ټولو سربېره زما په فکر تاسو هم له هر څه زیات د یخنۍ، ډوبېدو، غرقېدو او نورو جسمي خطراتو په اړه فکرکړی دی اما هېچا هغه خطر ته پاملرنه نده کړې یعني د لوږې له امله د مړینې په اړه مو خبرې ندي کړې." فالګیر داسې وویل.
د زردشت ژوو چه څنګه دا خبر واورېده له هغې ځایه وتښتېدل ځکه هغوی لیدل کوم څه چه دوی پدې ورځ په سومخه کې برابرکړي وو یواځې د فالګیر خېټه یې نشوای ډکولی. فالګیر خپلو خبرو ته ادامه ورکړه:
"البته پدې کې له تندې مړینه هم شامله ده. که څه هم زه د ډېرو دایمي اوبو غږ اورم چه لکه عقل زمزمې کوي اما کوم څیز چه زه غواړم شراب دي. ټول خو د زردشت پشان یواځې اوبه خوړونکي ندي زیږېدلي.
پدې سربېره اوبه د مړاوو او ستړو خلکو لپاره ښې ندي زموږ لپاره شراب اړین دي. شراب په سرعت سره ګټه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او روغتیا راکوي."
فالګیر چه پدې وخت کې شراب وغوښتل دکینې اړخ پاچا چه تر دې دمه چوپ وو د خبرو مهلت پیدا کړ او وویل: "شراب مونږ برابرکړي دي له مونږه مې مطلب زه او ورور مې د ښي اړخ پاچا دی. مونږ په پوره اندازه شراب له ځانه سره راوړي دي. په حقیقت کې یو بسته پیک شراب لرو او بې له ډوډۍ نور هیڅ کم نلرو."

زردشت وویل: "ډوډۍ!" وروسته یې وخندل او زیاته یې کړه: "واقعا یواځې منزویان او اعتکاف کوونکي کمه ډوډۍ لري. اما واقعي سړی یواځې له ډوډۍ سره ژوند نکوي بلکه د پسه له خوړو غوښو هم تغذیه کوي. زه هم همدا اوس دوه حاضر پسونه لرم هغوی فورا وژنم اوکباب ترې جوړوو ځکه زما دکباب طعم ډېر خوښېږي. پدې سربېره د عالي ونو ریښې او مېوې چه د ښېته پرستانو او اپیکور د لاروپانو لپاره غوره او وړ دي کمې ندي. همدارنګه په کافي اندازه منګېلي او نورې معماوې هم د ماتولو لپاره شته دي.
پدې ډول سره به مونږ په لږ وخت کې رنګین ښکلی ماښامی تیارکړو اما هر څوک چه غواړي له موږ سره ډوډۍ وخوري باید په برابرولوکې یې هم برخمن شي. پاچاهان هم په همدې ترتیب ځکه د زردشت په کور کې آشپزي کول د پاچا لپاره شرم ندی."

د داوطلب ګدا په استثنا چه د شرابو، کبابونو او ادویه جاتو مخالف وو لدې پیشنیهاد سره هم ټولو موافقه وکړه. داوطلب ګدا په ریشخندۍ سره وویل:
"اوس ښېې پرست زردشت ته غوږ شئ، آیا څوک غارونو او لوړو غرونو ته د غذا خوړلو په منظور ځي؟
اوس واقعا د هغه څه په معني چه خپله یې یو وخت ویلي وو: "زما پر فقر د درود وي!" پوهېږم او درک کوم ځکه نوموړي غوښتل چه فقر له نړۍ ورک کړي."

زردشت ځواب ورکړ: "اې عالي مقام سړیه، ته هم زما پشان خوشحال او د خپل عادت پر وړاندې بې شکه اوسه! که چېرې داکار تا خوښوي چه غنم اوړه کړې او اوبه وڅښې او خپل پخلي وستایې، همدا وکړه!
زه یواځې د هغوکسانو لپاره قانون یم چه زما دي د ټولو لپاره قانون نه یم. اما هر څوک چه په ما اړوند دی باید قوي هډوکي او چابکې پښې ولرې. د جشن نیولو او جګړې دواړو حالاتوکې باید تېز چالاک واوسي او سترې او خیال پلو وهونکی ونه اوسي. همدارنګه د سختوکارونو لپاره هم لکه د جشن جوړولو لپاره جوړ تیار او حاضر وي.
د ټولو ښېزونو غوره او د ټولوکسانو ښه به په ما پورې تعلق ولري. که چېرې دا موږ ته رانکړل شي په زور به یې واخلو. تر ټولو غوره ډوډۍ، صاف آسمانونه، قوي افکار او ښکلې ښځې به زموږ وي."

(c) ketabton.com: The Digital Library

زردشت داسې ووېل اما د ښي اړخ پاچا ځواب ورکړ:
"عجیبه ده! آیا تر دې دمه دکوم پوه له خولې داسې الفاظ بهر شویدي؟ واقعا له یو عالمه دا ډول خبرې اورېدل عجیبې ښکاري، په ځانګړي ډول سره که چېرې نوموړی په هوش وي خر او سست هوشه نه وي."
د ښي اړخ پاچا داسې ووېل او حیران پاتې شو اما خره په شریرانه عر عر سره دې خبرو ته ځواب ورکړ او پدې ډول سره هغه تاریخي ماښام چه د (فصح) په نوم ثبت دی پیل شو.
په ضمن کې پدې ماښام بې له عالي (ستر) سړي د بل څیز خبره رانغله.

**د عالي سړي په هکله:**

۱

کله چه زه د لومړي ځل لپاره د خلکو په طرف لاړم په لویه غلطي مرتکب شوم، پدې معنی چه په بازار او عامه لارکې ودرېدم او خبرې مې د ټولو لپاره وې نو ځکه هېڅوک هم ونه رسېدې. اما په شپه له رسۍ لوبوونکو او جسدونو سره ملګری وم او زه خپله هم له جسده زیات نه وم.
اما په سبا کېدو سره نوی حقیقت راته وځلېد او زده مې کړل چه ووایم: "زه د دې بازاري خلکو، اوباشانو، جنجالونو، غالمغال او شورماشور لپاره په کوم ارزښت قائل یم؟
اې عالي خلکو دا له ما زده کړئ: "په ښارکې هېڅوک په عالي سړي اعتقاد نلري اوکه چېرې تاسو هلته خبرې کوئ هېڅ مانع شتون نلري اما اوباش به سترګک ووهي اوکېدی شي ووايي: "مونږ ټول یو بل سره برابر یو!" کېدای شي اوباش سترګک ووهي او ووايي: "تاسو ځانته عالي سړی وایاست؟ اما عالي سړی وجود نلري.
مونږ ټول یو بل سره برابر یو؛ سړی سړی دی او د خدای د پاچاهۍ په مقابل کې موږ ټول یو شان یو! د خدای په مقابل کې! اما اوس دا خدای مړ شویدی او مونږ به د اوباشانو په مقابل کې یو شان نه وو. اې عالي خلکو بازار پرېږدئ!"

۲

د خدای په وړاندې اما اوس دا خدای مړ شویدی، اې عالي خلکو دا خدای تر ټولو لوی خطر وو چه تاسو ته متوجه وو. هغه اوس په خوب کې ویده شوی او تاسو په پښو جګ شوي یاست. یواځې اوس لویه غرمه رارسېدونکې ده او یواځې اوس عالي سړی د ځمکې ارباب کېدلی شي.
اې وروڼو! آیا دا کلام درک کولی شئ؟ تاسو وېرېږئ؟ آیا ستاسو زړونه ګېچ شویدي؟ آیا دلته ستاسو د اخیستنې لپاره نوی دوزخي تازي غپېږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

راپورته شئ او مخکې لاړ شئ! اې عالي خلکو! يواځې اوس راتلونکی بشري غر د زايمان درد زغمي. خدای مړ دی، اوس موږ غواړو چه (ستر سړی) ژوندی واوسي.

۳

بېقرارکسان تپوس کوي: "بشر بايد څه ډول حفظ شي؟" اما زردشت لومړنی او يواځينی کس دی چه پوښتي: "بشر بايد څرنګه لوړتيا ومومي؟"
زما پاملرنه (ستر يا عالي سړي) ته ده. هغه زما د پاملرنې لومړنی او يواځېنی کس دی نه بشر! زما ګاونډيان تر ټولو فقير، رنځېدلي او غوره حاضرکسان دي خو زما د پاملرنې وړ ندي.
اې ورونړو! هغه څيز چه زه په بشرکې خوښوم د هغه طلوع او لوېدل دي او په تاسوکې هم ډېر څيزونه شته چه ما د خوښولو او هيله مندکولو لپاره هڅوي.
اې عالي خلکو زما د امېدوارۍ سبب ياست ځکه تاسو د کرکې احساس کوئ او تر ټولو لوی کرکه کوونکي له ټولو لوي پيروي کوونکو څخه هم دي. دا چه تاسو ناهيلي شوي ياست لوی وياړ پکې شتون لري ځکه تاسو تسليم شوي ياست او بې ارزښته فرېب ورکونې مو ندي زده کړې.
ځکه نن بې مقداره خلک د ځمکې څښتن او اربابان شويدي او هغوی تسليم، حقارت، فرېب او نورو ورته کوششونو او ناڅيزه ارزښتونو تعليم ورکوي. هر څه چه ښځينه، هر څه چه بندګانه دي او په ځانګړي ډول سره په څو رګه اوباش پورې اړوند دي اوس د بشري اربابانو په وسيله تقدير شويدي. اخ دا کار څومره د کرکې اوکراهت وړ دی!
دوی پوښتنې کوي او له تپوسونو څخه نه ستړي کيږي چه : "په څه ډول بشر غوره، تر ډېر وخته او خوښ خوشاله ځان ژوندی حفظ کولی شي؟" او په همدې دليل دوی نني اربابان دي.

اې ورونړو! ما ته پدې پستو او ناڅيزه خلکو لوړتيا راکړئ دوی د (ستر سړي) په مخکې تر ټولو لوی خطر دي! له ناڅيزه او بې مقداره سياستونو او جزوي ميږيانه تجمعاتو، حقيرې راحتۍ، نېکبختۍ او خوشحالۍ څخه لېرې لاړ شئ او لوړتيا پرې وموئ!
پدې کارکې ناهيلي له تسليمېدو غوره ده او په ريښتيا عالي خلکو! زه تاسو پدې کارکې خوښوم چه نه پوهيږئ نن ورځ څرنګه ژوند وکړئ!
ځکه پدې ډول به تاسو ډېر غوره ژوند وکړئ!

۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

اې ورونو تاسو شهامت لرئ؟ آيا ستاسو زړونه قوي دي؟ زه د شاهديو په مقابل کې خبرې نه کوم بلکه د عقابانو او منزويانو له شهامته خبرې کوم چه حتی خدای هم ورته نظر نه کوي او شاهد يې ندی.
د سړو ارواحو خاوندانو، کچرو او ړندو ته زه د قوي زړه خاوندان نه وايم. غيرتي هغه چا ته ويل کيږي چه وېره وپېژني اما له ځانه يې مغلوبه کړي. باشهامته هغه چا ته ويل کيږي چه لوی خطر ووينې ترې ونه ډار شي او په غرور او سرلوړۍ ورته وګوري. هغه کس چه جنجال او خطر ته د عقاب په سترګو وګوري او هغه په خپلو منګلوکې د عقاب پشان ونيسي شجاع دی.

۵

ټولو پوهانو زما د تسلې کولو لپاره ويلي دي: "بشر يوه فتنه ده."کاشکې دا خبر نن ريښتيا شوې وای! ځکه فتنه او شر د بشر تر ټولو غوره قدرتونه دي.
زما تعليم دا دی چه بشر بايد شرير او غوره شي! تر ټولو ستر شريرکس د (ستر سړي) لپاره له هر چا ډېر اړين دی. کېدای شي د هغه واعظ، د پستو خلکو ناصح، رنځېدونکو او  هغوی چه بشري ګناه په غاړه وړي غوره وي اما زه د يو ستر شرارت څخه د لويې تسلې پشان خوند اخلم.
البته دا خبرې د اوږدو غوږونو لپاره نشم کولی. هره خبره په هره خوله پورې تعلق نه لري. دا څيزونه ظريف او له لاسونو لېرې دي. مه پرېږدئ چه د مېږو لاسونه ورته ورسيږي!

۶

اې عالي خلکو آيا فکرکوئ زه د دې لپاره ژوندی پاتې يم تر څو هغه څيزونه ودان کړم چه تاسو وران کړيدي؟
يا فکرکوئ چه تاسو رنځېدونکي به له مخکې روغ او راحت کړم؟ يا تصورکوئ چه تاسو سرګردانه، دوه زړو اوګمراه غره ګرځندويانو ته به نوې او آسانه لار پيدا کړم؟
نه! نه! او درېځله نه! تل به ستاسو د نژاد غوره اوګڼ شمېر خلک تلف شي، ځکه تاسو تل په مخکې سخت له کړاوونو ډک او بد ژوند په مخکې لرئ. يوائې پدې ډول سره بشر هغې ارتفاع ته رسيږي او هلته تندر پرې رالوېږي او قتليږي؛ هو، پدې ډول بشر بشپړې ارتفاع ته د تندر د لمس کولو لپاره رسيږي.
زما فکر او هيلې د لېرې څيزونو په طرف نموکوي. لدې امله به ستاسو ډول ډول ناڅيزه بدبختيو ته کوم اهميت ورنکړم.
زه وايم تاسو تر اوسه په کافي اندازه نه رنځيږئ، ځکه تر اوسه مو د خپل ځان په هکله رنځيږئ او تر دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمه مو د بشر لپار رنځ ندی کښلی. که چېرې تاسو بل څه وایاست دروغ دي. ستاسو څخه هېڅوک زما رنځ نه وکاږئ.

۷

زما لپاره کافي نده چه تندر نور تاوان ونه رسوي. زه به يې له ځانه ونه شړم. هغه به زده کړي چه څرنګه زما په ګټه او زما لپاره کار وکړي.زما عقل ډېر وخت کيږي چه لکه وربځ راغونډ شوی او اوس آرام او تور شوی دی. دا ډول عقلونه يوه ورځ بلآخره له ځانه تندرونه توليدوي.
د دې دورې خلکو لپاره به زه تندر ونه اوسم او تندر به هم ونه ګڼل شم. هغوی به ما ړوندکړي. اې زما د پوهې تندره، د هغوی سترګې ړندې کړه.

۸

هېڅکله مو له خپلې قوته د زيات څه اراده مه کوئ. هغه کسان چه له خپله قوت څخه زياته اراده کوي شرارتي دروغ پکې نغښتي دي. په ځانګړې ډول سره کله چه د لويو څيزونو اراده کوي څکه دا متقلبين او لوبغاړي د خلکو بې اعتمادي د خپل ځان په وړاندې را ولاړوي تر څو هغوی هم بلآخره د ځان په وړاندې دروغجن شي او سترګې يې ککړيږي او په يو سپين چټل چنجي بدليږي. ځانونه د لويو خبرو، غالمغالي تقوا ګانو، ځلانده او دروغجنوکارونو لاندې پټوي.
اې عالي خلکو! د دې خلکو څخه تېښته وکړئ! څکه نن ورځ زه هېڅ شی له ريښتيني توب او صحيح توب څخه کم او قېمتي نه وينم.
آيا دا دوره په اوباشانو پورې تعلق لري؟ اما اوباش څه پوهيږي چه لوی څه شی دي اوکوچينی کوم دی؟ ريښتيا څه دي او صحيح کوم دی؟ هغوی معصومانه مکار دي او تل دروغ وايي.

۹

اې عالي خلکو، اې غيرتيانو او روښان زړو، پدې دوره بې اعتماده واوسئ او خپل دلايل پټ وساتئ! څکه دا دوره د اوباش ده.
اما څوک شته چه په منطق سره د اوباش هغه پخوانۍ عقيده مردوده کړي کوم چه نوموړی پخوا بې منطقه پرې متعقد شوی وو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بازارکې خلک د فريضې په اداکولو قانع کوي اما ډليز منطق بې اعتماده کوي. که چېرې مو وليدل هلته حقيقت بريالی کېدی شي له ځانه په بشپړه بې اعتمادۍ پوښتنې وکړئ:
"دروغ څومره قوي دي چه دفاع يې ترې کړې او د هغې لپاره جنګېدلي دي."
همدارنګه له پوهانو هم تېښته وکړه! هغوی له تاسوکرکه لري ځکه دوی عقيم دي. د دوی سترګې سړې او کاسې وچې دي او په کتو سره يې ټول مرغان الوتي دي.
دا ټول وياړي چه هېڅ وخت دروغ نه وايي اما ډېر توپير شته د حقيقت سره په مينه درلودلو او دروغ ويلو په توانايي نه لرلوکې. په تېښته کې اوسئ!
زيات فرق لري د تبې له امله د ازادۍ سرابونه او د واقعي علم سرابونه، زه منجمدو عقلونو ته ارزښت نه ورکوم. هغه کس چه دروغ نشي ويلی نه پوهيږي چه حقيقت څه شی دی.

۱۰

که چېرې غواړئ ارتفاعاتو ته ورسيږئ خپلې پښې په کار واچوئ! دا مه زغمئ چه نور به مو پورته جګ کړي. ارتفاعاتو ته د رسېدو لپاره د نورو په شا مه سپريږئ!
اما آيا تر اوسه ته په آس سپور شوی يې؟ آيا ته د اوس مقصد ته په سرعت روان يې؟ اې دوسته ډېر ښه! ياد لره ستا چالاقه پښې له تا سره د آس په شا سپرې شوېدي. اې عالي سړيه! کله چه خپل مقصد ته ورسيږي او له آسه ښکته شې په ارتفاعاتوکې به ته هم ګوډ ګوډ شې.

۱۱

اې خلق کوونکو او اې عالي خلکو! هر څوک چه د خپل ماشوم حامل ياست پوه شئ، فريب مه خورئ او قانع شئ! نو ستاسوګاونډی څوک دی؟ حتی که تاسو د همسايه لپاره کار وکړئ د هغو لپاره خلق نشئ کولای. له تاسو غوښتنه کوم چه دا د (لپاره) کلمه هېره کړئ! تقوا به مو پوه کړي چه د لپاره او لپاره کلمه په ياد مه لرئ. تاسو به خپل غوږونه د دې ډول کوچينيو او دروغجنو خبرو په وړاندې بندکړئ.
"دګاونډې لپاره مې" دکوچينيو او حقيروکسانو تقوا ده. د دوی لپاره دا د هغوی په مقابل او مثل تلافي د هر عمل بنسټ دی. هغوی نه ستاسو د نفس پلټلو حق لري او نه هم د قوت.
اې خلق کوونکو! ستاسو په ځان غوښتنه کې د حاملې ښځې احتياط او وړاندوينه نغښتې ده. ستاسو ثمره يعني هغه څه چه تر دې دمه چا ندي ليدلي د بشپړ عشق له خوا حمايت، ساتل او تغذيه کيږي.
چېرته چه ستاسو بشپړ عشق شته يعني د اولادونو په وړاندې مينه هلته مو بشپړه تقوا هم شتون لري. خپل ګاونډی مو هم کار او هم اراده ده. هوښيار اوسئ د دروغجنو تقواګانو فرېب مه خورئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۲

اې خلق‌کوونکو او اې عالي خلکو! هغه چه زېږوي ناروغ دی او هغه چه زیږېږي ناپاک دي.
له ښځو تپوس وکړئ! هېڅوک د لذت او خوښۍ لپاره زېږد نه کوي، درد او رنځ دی چه مرغان او شاعران د چغېدو لپاره اړکوي.
اې خلق‌کوونکو په تاسوکې ډېر ناپاک څیزونه شتون لري او هغه دا دي چه تاسو مور نشۍ کېدلای. عجیبه ده! له یو نوي زیږېدلي ماشوم سره څومره کثافت نړۍ ته راځي او هغه‌کس چه ماشوم یې زیږولی باید خپل روح پاک کړي.

۱۳

د خپل قوت د مېزان له حده زیات متقي او پرهېزګار مه اوسئ او له ځانه د غیر ممکنه څیزونه غوښتنه هم مه کوئ! آیا غواړئ د خپلو پلرونو د تقواګانو په پلونو پل کېږدئ؟ پدې صورت‌کې موکه چېرې د پلرونو اراده راجګه نشي څرنګه ارتفاعاتو ته ځانونه رسوئ؟
هغه‌کس چه غواړي لومړی شي باید هڅه وکړي چه اخري نشي! د پلرونو په‌ګناهونو او عیبونوکې باید تاسو هڅه ونکړئ چه سپېڅلي او معصوم پاتې شئ!
هغه‌کسان چه پلرونه یې په ښځو، قوي مشروباتو او وحشي ښکار پسې تلل څرنګه ځان لدې اعمالو ساتلی او معصوم‌ګڼلی شي؟ دا ډول‌کار به حماقت وي. واقعا داسې ښکاري چه ورته مشکل به وي د دوه یا دریو ښځو مېړه شي.
که چېرې آتشکدې تاسیس‌کړي او پرې ولیکي: "د تقدس لار" بیا به هم زه ووایم: "لدې‌کاره منظور څه دی؟ دا هم د لېونتوب یو نوی ډول دی!" نوموړي د ځان لپاره د توبې او پناه ځای جوړکړی دی. کېدای شي داکار ډېر غوره اوګټور واقع شي! اما زه پدې باور نه‌کوم.
په انزواکې هغه څوک له ځانه سره راوړی دی او همدارنګه ضمیر یې هم مړاوی شویدی. لدې امله باید ډېر خلک له انزوا څخه تېښته وکړي. آیا تر دې دمه په پدې نړۍ‌کې د صحرایي مقدسانو په اندازه ناپاکۍ او چټلي شتون درلود؟ په هغوی باندې نه یوازې شیطان مسلط شوی بلکه خوګ یې هم په باطن‌کې مسکن انتخاب‌کړی دی.

۱۴

اې عالي خلکو ډېر مې لیدلي یاست چه خجول شرمنده او همداسې لکه پلنګ چه خپل هدف ته نه وي رسېدلی ځان مو څنډې ته‌کړی دی. تاسو یو ځل په قمارکې ماتې خوړلې ده. اما اې شطرنج لوبوونکو تاسو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته څه اهميت لري؟ تاسو تر دې دمه لوبه کول او خندل لکه څنګه چه اړين دي ندي زده کړي!
آيا موږ تل د يو ستر ميز په سر په خندا او قمار نه يو ناست؟ او آيا که چېرې مو په لويو څيزونوکې ماتې خوړلې وي بايد ووايو چه تاسو خپله هم بې فايدې او بې ګټې ياست؟ اوکه چېرې تاسو بې فايدې، بې ګټې ياست بايد ووايو چه ټول بشر بې ګټې دی؟ اما که بشر بې ګټې او بې فايدې وي ډېر ښه! پدې صورت کې حد اقل باشهامته واوسئ!

۱۵

هر څومره چه کوم شی په خپل ډول کې غوره وي موفق او نادر دی؛ اې عالي خلکو آيا دلته تاسو ماتې نده خوړلې؟ چالاق اوسئ! څه اهميت لري! تر اوسه ډېر څيزونه ممکن دي. هغه ډول خندل زده کړئ څرنګه چه اړين دي!
څومره عجيبه ده که چېرې تاسو ماته خوړلې او يا مو نيمه بريا تر لاسه کړې وي! اې نيمه ماتو! آيا د بشر راتلونکې په تاسوکې هڅې اوکوشش نه کوي؟ آيا د بشر تر ټولو لېرې، عميق، پراخ بشري جوهر او لويه قوه ټول ستاسو د جسدونو په لوښوکو غليان نه کوي؟
که چېرې ډېرئ دا جسدونه او لوښي مات شي عجيبه نده! څرنګه چه اړينه ده هغه شان خندا زده کړئ! اې سترو خلکو تر دې دمه ډېر څيزونه ممکن دي. په ريښتيا تر اوسه څومره بريا تر لاسه شوې! څمکه څومره په کوچنيو څيزونوکې غوره، بشپړه او په تر سره شووکارونوکې غني شوېده.
اې عالي خلکو په خپل چاپېرچل کې کوچيني غوره او بشپړ څيزونه وکرئ! د هغه زرين پوخوالی زړه ته روغتيا وروبښئ. بشپړ اوکامل شی انسان ته هيله مندي ورزده کوي.

۱۶

تر اوسه کوم شی د ځمکې په مخ تر ټولو لويه ګناه شمېرل شوي؟ آيا د هغه کس خبر نه وه چه ويلي يې دي:
"افسوس د هغه چا په حال چه د ځمکې په مخ وخاندي!"
آيا واقعا هغه د ځمکې په مخ د خندا لپاره کوم دليل ندی موندلی؟ که چېرې داسې وي نوموړي بې له ناروغۍ بل څه ندي لټولي، حتی يو ماشوم هم د خندا لپاره وسيله پيدا کولی شي.
اما دې ګناهنګارکس له کوم شي سره په بشپړه اندازه مينه نه درلوده کنه له موږ خنداکوونکو سره يې هم مينه کولی شوای. اما موږ يې دوښمن ګڼلو او مسخره کولو يې او موږ ته يې ژړا وعده راکوله.
آيا انسان چه له چا سره مينه نلري بايد لعنت يې کړي؟ زما په نظر دا ښه سليقه نده اما دې سړي کاملا همداسې وکړل. هيڅ شک نشته نوموړی د اوباشانو له منځه راجګ شوی وو. نوموړي واقعا له کوم شي سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کافي اندازه مینه نه کوله کنه دا چې د علاقې ور ندی ګرځېدلی دومره نه غوصه کېدا. ستر عشق مینه نه غواړي بلکه ډېر غواړي.
د دې ډول کسانو له لارې مطلقا ایسته شئ! دوی له هغه فقیر او بېمار نژاد څخه دي چه د خطراتو له ډنډه راځي. په کینې سره دې نړۍ ته ګوري او د دې نړۍ د لیدو سترګې نه لري. د دې ډول کسانو له لارې په بشپړ ډول لېرې شئ! هغوی درنې پښې او غمجن زړونه لري. هغوی رقص نشي کول. څه ډول امکان لري چه ځمکه د دا ډول کسانو ته سپکه وي؟

۱۷

ټول څیزونه په منحني اوکاږه ډول خپل مقصد ته رسیږي. لکه پیشوګانې، دوی خپل څټ کږوي او په باطن کې خپل سعادت ته نیږدې کیږي او خرخرکوي. ټول څیزونه ښه خاندي. د یو سړي قدمونه لدې امله نوموړی ټیټوي چه آیا په خپله لار قدم اخلي کنه؟ وګورئ زه څرنګه په لار ځم؟ اما هغه کس چه خپلې موخې ته نیږدې کیږي رقص کوي.
واقعا زه یوه مجسمه نه شوم؛ زه تر اوسه بې حسه، دروند، مستقیم او لکه ستون نشم درېدلی. زما تېزې منډې خوښیږي. که څه هم ځمکه د مصیبتونو له ډنډونو ختو ډکه ده، هغه کس چه چالاکه پښې لري حتی په ختو کې هم منډې وهي. همداسې لکه د صاف یخ په مخ ګډا.
اې ورونو خپل زړونه لوړ او جګ وساتئ! او خپلې پښې هم مه هېروئ! اې غوره رقص کوونکو خپلې پښې لوړې وساتئ او حتی که کولای شئ پخپلو سرونو ودرېږئ غوره به وي.

۱۸

اې د خندانه خلکو تاجه، دا د سره ګل تاج ما خپله په سر ایښې او دا زه یم چه خپلې خندا ته مې تقدس ورکړی ځکه د دې کار لپاره مې نن هېڅوک په کافي قوت سره پیدا نکړ.
رقاص زردشت، چابک زردشت، هماغه کس چه خپلو وزرونو ټپوي الوتو ته حاضر دی او مرغانو ته اشاره کوي، تل حاضر دی او بې مثله چالاق دی. فالګیر زردشت، واقعي خندان زردشت، هماغه کس چه بې صبره او بې حوصلې ندی اما خوښیږي یې چه هڅه وکړي او والوزي. هو، زه چه زردشت یم خپله مې دا تاج په سر ایښی دی.

۱۹

خپل زړونه مو لوړ او جګ وساتئ! پښې مو هم مه هېروئ! خپلې پښې هم لوړې وساتئ! اې غوره رقاصانو، که چېرې په سرونو درېدلی شئ غوره به وي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

حتی د سعادت په عرصه کې هم سنګین ژوي او هغه کسان چه له ابتدا یې لړګینې پښې درلودې پیدا کیږي.
هغوی عجیبه هڅه کوي همداسې لکه فیل چه کوشش کوي پخپل سر ودرېږي. اما غوره به وي چه انسان د بدبختۍ له لارې څخه د سعادت په لاره کې حماقت او خوښي وکړي. غوره به وي چه انسان له ګوډ تګه په ګډا لاړ شي. هیله مند یم دا زدکړه له ما وکړئ: "حتي تر ټولو بد څیزونه ښه اړخ لري، حتی تر ټولو بد شیان د رقص کولو لپاره پښې لري."
اې عالي خلکو دا له ما زده کړئ: "ځانونو ته په پښو قرار ورکړئ او په ذات متکي اوسئ! ټول اضطراب، بې ځایه تشویشونه، اوباشان او ټول سوځوونکي اهونه هېرکړئ!" اخ، په نني عصرکې د اجتماع زړونه څومره غمجن دي! خو دا عصر په اوباشانو اړوند دی.

۲۰

تاسو هم هغه کار وکړئ چه باد یې د غرنیو غارونو په مخکې کوي! باد ښکلې سندرې ته ګډېږي او سمندرونه د پښو لاندې لړزوي.
په هغو بې بندوباره روح د رحمت وي چه حتی خرو ته هم وزر ورکوي، زمرۍ لوشي او د بړبوکیو پشان په ټولو اوباشانو او نن ورځو لګیږي! هغه ټولو په تېغونو مزین لویانو، ګېج شوو او مړاوو پاڼو ته عذاب ورکوي! په هغه وحشي توپاني آزاد روح د رحمت وي چه د چټلو ډنډونو او غمونو په مخ همداسې لګیږي لکه په چمنونو چه رقصیږي او لدې څو رګه پناه منونکې ډلې چه د غم سبب کیږي کرکه لري! د دې ټولو ارواحو په آزاد روح او دې توپاني خنداني روح د رحمت وي چه د ټولو بدبینانو په سترګوکې خاورې اچوي کوم چه د مړینې په لټه کې دي!
اې عالي خلکو ستاسو تر ټولو بد عیب دا دی چه تر اوس مو د یو واقعي سړي رقص ندی زده کړی اما که چېرې بریالي نه شئ څه اهمیت لري؟ تر اوس د زښته ډېرو څیزونو د پېښېدو امکان شته. له ځانه ډېره خندا زده کړئ! اې رقص کوونکو خپل زړونه ښه جګ کړئ تر څو چه کولای شئ هغوی پورته کش کړئ! او هېڅ کله د زړه له تلې خندا مه هېروئ!
اې ورونړو دا د خندان سړي او سره ګل تاج زه تاسو ته ډالۍ کوم. ما خندا مقدسه کړېده. اې عالي خلکو خندل زده کړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د تشویش غېږ:**

۱

زردشت د خپلې سومڅې په مخکې ولاړ وو او خبرې یې کولې. اما وروسته له اخري خبرو یې مېلمانه د لنډ وخت لپاره پرېښودل او آزادې هوا ته لاړ داسې فریاد یې وکړ: "اې زما چاپېر پاکو بویونو، اې زما چاپېر مبارکې چوپتیا! زما حیوانات چېرې دي؟ اې زما عقاب او ماره ما ته نیږدې راشئ او راته ووایاست دا ټول عالي خلک ښه بوی نه ورکوي؟ اې زما چاپېر سپېڅلو او پاکو بویونو! اې زما حیواناتو یواځې اوس نه پوهېږم چه زه څرنګه احساس کوم او له تاسو سره څرنګه مینه لرم!"
او زردشت بیا ووېل: "اې زما حیواناتو تاسو سره مینه لرم!" اما مار او عقاب یې ورته نیږدې شول پداسې حال کې چه نوموړې خبرې کولې دوی یې مخ ته کتل او په همدې ډول یې بیا مشترکه نوې سوله ومونده او غوره هوا یې پخپلوکې سره تنفس کړه ځکه د عالي خلکو یعني سومڅې له منځ څخه بهر ښکلې هوا وه.

۲

تر اوسه زردشت پښه له سومڅې نه وه بېرون کړې چه بوډا کوډګر راجګ شو او په مکارانه ډول یې اطراف او خپل اړخونه بررسي کړل او ووېل: "هغه بهر شوی دی!"
اې عالي خلکو! دا لقب ځکه تاسو ته درکوم تر څو وکولای شم تاسو هم د دې لقب په وسیله په متملقانه ډول وتخنوم. راځئ زما له شریر او فاسد روح، لدې پرېشان ابلیس سره تاسو آشنا کړم چه کاملا د زردشت دوښمن دی او هیله لرم تاسو هم هغه وبښئ! همدا شیبه نوموړی غواړي ستاسو په حضورکې کوډې وکړي. دا ساعت د هغه د غوره والي ساعت دی او زما مجادله لدې خپل چټل روح سره بې ګټې ده.
تاسو ټول که هر ډول لقب د ځانونو د ویاړ لپار ټاکئ غوره یې کړئ؛ یعني ځانونو ته (روښانفکره) یا (ریښتیا ویوونکي) یا (پوه توبه کوونکي) یا (لوی لېوال) او یا (بې قیده) ووایاست. ستاسو ټولو لپاره چه زما پشان له لویې کرکې رنځیږئ، ستاسو ټولو لپاره چه پخوانی خدای مو مړ شوی اوکوچینی خدای مو تر اوسه په زانګوکې ویده دی، ستاسو ټولو لپاره به زما شریر او ابلیس کوډګر روح مناسب وي.
اې عالي خلکو! زه تاسو پېژنم، هغه هم پېژنم او همدارنګه دا دوښمن چه بې له خپل مَیلهَ مینه ورسره لرم؛ یعني دا زردشت هم پېژنم کوم چه زما په نظرکې بې مثله نقاب لرونکی او روحاني ښکلی کس ښکاره شوی دی، زما شریر روح او ابلیس تشویش تر خوند اخلي. ډېر وخت داسې فکرکوم چه له زردشت سره د خپل چټل روح له امله مینه لرم.
اما زه اوس زه د تشویش روح او د شپې شیطان تسخیرکړی یم، مجبوروي مې او اې عالي سترو پوهیږئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوموړي څه هوس کړی دی؟

خپلې ستړګې خلاصې کړئ! هغه هوس کړی چه ځان لوڅ لېږ تاسو ته دروښايي. که څه هم زه تر دې دمه نه پوهېږم چه د ښځې په بڼه که د نر په بڼه تاسو ته ظاهرېږي اما هغه راځي او تحريکوي مو. اخ! خپل حواس مو راټول کړئ!

ورځ په زوال کې ده او شپه حتي په ټولو غوره ځيزونو تياره کېږي. اې عالي خلکو اوس غوږ شئ او وګورئ چه دا زما د شپني روح تشويش څرنګه شيطاني ده، ښځه دی که سړی؟"

بوډا کوډګر داسې ووېل او په مکارانه ډول يې خپل چاپېر وکتل او هغه وخت يې منګولې په لاس کې ونيوې او داسې سرود يې وکړ:

٣

په صافه او رڼه هوا کې
په هغه وخت کې چه تسلې ښښونکې شبنم
په ځمکه تقطيرکېدا
او بې غږه ناليدلی
تر ټولو مهربانه تسلې ورکوونکو پشان
په نرمو او بې غږه بوټونو يې حرکت کولو
اې زما ګرم زړه، په ياد راوړه! په ياد راوړه!
چه څرنګه يو ځل په چاودو او زخمي شونډو
د اوښکو څاڅکو او آسماني شبنم څاڅکو
پيدا کولو لپاره تږی وې!
پداسې حال کې چه د زېړو شوو وښو په سر
بې رحمه لمرينه شعاع
د تياره ونو له څټه
په شرراتې، ګرمه او ړندوونکوکتو په تا پسې ګرځېده.

او په مسخرو سره يې تا ته وېل: "آيا ته د حقيقت عاشق يې؟
نه، ته يواځې يو شاعر يې
او يو حريص مزدور او چاپلوس
چه د ډوډۍ د لاسته راوړو د هوس له امله

(c) ketabton.com: The Digital Library

دروغو او دروغ ویلوته ناچاره یې
او زیرکانه هیله مند شوی یې!
پداسې حال کې چه په چالاقۍ د حتی د خپل ځان فرېب کولو لپاره نقاب په مخ وهلی دی او حتی د ځان لپاره د دام اېښی دی.
.
ته او له حقیقت سره عشق؟
نه! ته یواځې یو احمق! یو شاعر
او یو څو خطه ویاند یې
چه د بې عقلانو په نقاب کې ډول ډول خبرې کوې
او د دروغجنو خبرو په صحنه
او په دروغجنو بوډۍ ټالونو
او د دروغجنو آسمانونو په منځ کې
او دورغجنه ځمکه کې تل
د بدمعاشانو او ولګردانو په بڼه په بې اعتمادۍ سره ګرځې
او بې له یو بې عقل او شاعره نور څه نه یې
ته او له حقیقت سره عشق؟
ته بې حرکته، محکم او سوړ
همداسې یې لکه یوه کاري بتکده
او نه د بتکدې په مدخل کې
په محافظت او ساتندویه دنده بوخت یې
نه! ته لدې سختو ټولو حقایقو بېزار شوی یې
او په دښته کې د بتکدو له داخله راحت یې
او د رنګه پیشو پشان یې
چه له هرې پنجرې ټوپونه وهې
او په هره پېښه کې ځان داخلوې
او نه لاس خوړونکي او تازه ځنکلونه
د لوړې په حرص بویوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر څوکېدای شي پدې ځنګلونوکې وکولی شې
د ژوو په منځ یا خالي لارو
په تندرستۍ، ګنهاکارۍ او خپله دروغجنه ښکلا
او شهواني زامو
په شرارت او تمسخر او وینو ځنبوکې وګرځې
چور وکړې او د غلو پشان په لار لاړ شې دروغ ووایې!

یا لکه عقاب د اوږد وخت لپار
لجنه زارو ته په ځیر ځیرګورې
لجنه زارونه او تلې ګورې
اوګله‌پېړې تاوېږې
او تل ښکته راځي
او ښکته عمق ته د تلو طرف ته ځي
او ناڅاپه یو غشی مستقیم
په حریصانه وزرو سره
په سر مېږې ته راټیټېږي
په زور زیاتي او بې رحمۍ سره
له وږيو ډکې مېږې
او د مېږو په بې آزاره مېږ حمله کوي
د یو شاعر هیلې او شهوات هم
لکه د عقاب یا پلنګ هیلې دي
اې لېونیه! اې شاعره!
هو ستا هیلې په زرګونو نقابونوکې همداسې دي

ستا خوښي او خوند
ته یې چه بشر د هم د خدای په بڼه او هم د مېږې په بڼه لیدلی، دا هماغه دي چه خدای دی
اوکوم څه چه په بشرکې مېره دي ویې څیرې او ټوټه ټوټه یې کړې او د څیرلو په حال کې وخاندې
هو، ستا خوند او خوښي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یو عقاب او پلنګ د خوښي او خوند پشان دی
یا یو بې عقل یا یو شاعر دی!

په صافه او رڼه هوا کې
کله چه زما نوی لور
شین رنګ او د غروب د سرو په منځ کې
په حسرت اوکرکجن حال کې له ورځې ځي
او په غلګن ډول قدم په قدم
د سره ګلاب ګل تاجونه
ربېي او یو له بله یې تیتوي
تر څو هغه ټول سره محوه شي او شپه راښکته شي
پدې ډول ما هم یو ځل
د خپل حقیقت له سرابونو
او نوراني او روښانه هیلو
د ستړیا په حال کې له ورځې او ناروغۍ له نوره وتښتېدم
هو پداسې حال کې چه ما د یو حقیقت په وسیله
خپلې شونډ سېځلې او څیرلې وې
د شپې او تیارې په طرف ښکته لاړم
او اوس د حقیقت له چاپېریاله بشپړ
تبعید شوی یم
او بې له یو بې عقله
او یو شاعره نور څه نه یم!

**د پوهې په هکله:**

کوډګر داسې سندر وویله او ټول حاضرکسان بې خبره لکه مکار په دام پرېوتي مرغان په شهوتي تشویش کې ډوب شول.
یواځې د معنوي وجدان سړی په دام کې نه وو لوېدلی. نوموړي زر له کوډګره ساز واخیست او داسې فریاد یې وکړ: "مونږ ته صافه هوا راورسوئ! آزادې هوا ته د سومځې داخلېدو اجازه ورکړئ! زردشت سومځې ته راوغواړئ! اې بوډا او شریرکوډګره ته دا سومځ مسمومه او چټلوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اې دروغجنه او له اسرارو ډک انسانه، ته مونږ د ناپېژانده او عجيبو غوښتنو په لور اغوا کوې او شړې.
افسوس په هغوکوم چه ستا پشان د حقيقت په هکله خبرې کوي! افسوس پر هغو آزاد اندو چه د دا ډول کوډګرو په وړاندې د ځان مراقبت نه کوي! د دوی آزادي له منځه تللې ده. ته دوی ته تعليم ورکوې او په زندان کې د مسحور کړيدي.
اې د هځونې او اضطراب شيطانه ستا په ژړا کې کوډې نغښتې دي. ته هغوکسانو ته ورته يې چه په بشپړ قوت سره سپېڅلتيا او پاک لمني ستايي اما په پټه بيا خلک شهوت ته رابولي."
وجداني سړي داسې ووېل، اما بوډا کوډګر پداسې حال کې چه له خپلې بريا خوشحاله شوی وو خپل چاپېر ته وکتل او د وجداني سړي خبرې يې هضم کړې. په ډېر متواضع غږ سره يې ووېل: "آرام! چوپ شه! د خوښۍ غږونه بايد د بيا راتګ فرصت پيدا کړي. د خوشحالۍ له غږونو وروسته بايد د يو وخت لپاره چوپتيا اختيار شي. دا ټول عالي خلک همداسې کوي اما کېدای شي تا زما غږ په بشپړ ډول سره نه وي درک کړی؟ په تا کې د لذت او جذبې روح ډېرکم دی."

وجداني سړي ووېل: "دا چه ته ځان له ما بېلوې او ستاينه مې کوې څه ورک شه! اما نورو، تاسو! دا زه څه شی وينم؟ تاسو ټول دلته په شهوتي سترګو بار ناست ياست. اې آزاد روحه ستا آزادي چېرته تللې ده؟ زما په نظر تاسو تقريبا هغوکسان ته ورته ښکارئ چه سترګې يې لېږو او بدکاره رقاصو نجونو ته نيولې وي. حتی اروا ګانې موګڼېږي.
اې عالي خلکو! هغه څه چه کوډګر يې خپل سحر، فرېب او بدګڼې بايد له ما زيات وي او واقعا مونږ بايد يو له بل سره ډېر توپير ولرو. هو رېښتيا مونږ مخکې د زردشت سومځې ته له راتلو څخه دومره يو له بل سره مجلس او فکرکړی چه زه پوهېږم يو له بل سره ډېر اختلاف لرو.
زه او تاسو حتی دلته هم د مختلفو څيزونو په لټه کې يو، ځکه زه د ډېر امن په لټه کې يم او له همدې امله زردشت ته راغلی يم. ځکه پدې ورځ کې ټول څيزونه لړزېږي او ځمکې ټکان خوړلی نوموړی تر ټولو قوي اراده او لوړه څوکه ده. اما ستاسو په سترګوکې چه زه کوم څه وينم فکرکوم تاسو په حقيقت سره د نا امنۍ په لټه کې ياست. تاسو لدې ډېر خطر، وېره او د ځمکې لړزه غواړئ. حتی زه ادعا کولی شم او اې عالي خلکو تاسوکېدای شي زما ادعا ومنئ.
ستاسو هوس د ژوند لپاره تر ټولو بد او خطرناک دی چه ما په وېره کې اچوي او د ځنګلونو وحشي حيوانات، مغارې او ډنډونه مو يو په بل کې خطرناک او هولناک کړي دي. هغه څوک چه تاسو له خطره لېرې کړي نه يې خوښوئ بلکه هغه څوک غواړئ چه دکورنو له لارو مو اور ته يوسي او په بشپړ ډول مو ګمراه کړي اما که چېرې تاسو دا ډول غوښتنه لرئ زما په نظر غير ممکنه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه ډار د بشر يو ارثي او اصلي حس دی. په ويرې سره هر شی توجيه کولی شو، هم اوليه ګناه او هم اوليه او اصلي تقوا. زما ټولې تقواګانې چه علم نوم لري له ډاره سرچينه اخلي.
ځکه له حيواناتو څخه ويره له ابتدا د بشر په باطن کې خلق شوې او وده يې کړېده. دا حيواني ويره چه انسان په خپل ځان کې ځای ورکړی او له هغې ويريري زردشت ورته باطني حيوان وايي او وجود هم لري. دا ډول ډار چه بلآخره د ظريف روح او علم په بڼه راغلی نن د علم په نوم يادېږي."

وجداني سړي داسې وويل. زردشت چه تازه سومڅې ته داخل شوی وو د نوموړي آخري خبرې يې واورېدې او تفسير يې کړې. يوګېډۍ سره ګلان يې د وجداني سړي په سر وپاشل او د هغه حقايقو ته يې په خندا سره وويل:
"څرنګه؟ دا څه دي چه اورم يې؟ واقعا يا ته لېونی يې يا زه اما هغه څه چه ته يې حقيقت ګڼې زه يې فورا ورک کوم او له منځه يې وړم. ځکه ويره زمونږه استثنايي قسمت دی. اما زما په نظر له بشري تاريخه مخکې ټول داستان شجاعت او په نامعلوموکارونوکې خوشحالي خطرناکه او بلآخره بيا هم شجاعت دی.
بشر د وحشي او شجاع حيواناتو د تقوا غبطه خوړلې او تقوا او شجاعت يې له هغوی اخيستی او يواځې په دې ډول سره سړی شو.
دا شجاعت بلآخره ظريف، روحاني او علمي شو. دا بشري شجاعت چه د عقاب وزرونه او مار عقل يې ورڅخه د يو وخت لپاره اخيستی زما په نظر نن..."

ټول هغه کسان چه هلته وو ناڅاپه يې په يو غږ فرياد وکړ: "زردشت نوميږي!" او ټولو يو دم بې اختياره وخندل اما داسې وه لکه له دوی چه سنګينه وريځ پورته کيږي. کوډګر هم وخندل او ډېر په متانت سره يې وويل "عجيبه ده! زما چټل روح زه پرابنبی يم! او آيا کله مې چه تاسو ته وويل زما روح فريب ورکوونکی، دروغجن او چلباز دی ټول مې له خپل روحه په فرارکې نکړئ؟ په ځانګړي ډول سره هغه چه ځان يې لوڅ لېږ تاسو ته دربنکاره کړ اما زه يې لدې فريب او چلونو سره څه کولی شم؟ آيا زه د هغه او نړۍ خالق يم؟ نو ډېر ښه بيا به خوښ او خوشحاله واوسو! که څه هم زردشت ټڼه تريوه کړې، وګورئ چه څرنګه راته غوصه دی!
د لمر له غروب مخکې به بيا زما سره مينه لرل او زما تعريف کول زده کړئ. اما لدې ډول حماقتونو څخه د ډېر وخت لپاره سترګې نشئ پټولی. زردشت له خپلو دوښمنانو سره مينه لري او تر اوسه مې چه کوم کسان پېژندلي له هغوی ټولو ډېر نوموړی پدې کې استاد دی. اما نوموړی په همدې ډول سره له خپلو دوستانو هم غچ اخلي."
بوډا کوډګر داسې وويل او ټولو عالي خلکو لاسونه ورته وپړکول. زردشت د هغوی چاپېر وګرځېد په

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیطانت، مهربانۍ او هیله مندۍ یې ټولو دوستانو ته پداسې ډول لاس ورکړل لکه ښښنه چه غواړي او تېر جبران کړي اما کله چې بیا سومڅې ته ورسېد د آزادې هوای او حیواناتو لېواله شو او غوښتل یې بیا په غله له خپل غاره بهر شي.

## د صحرا د لوږو په منځ کې:

هغه سرګردانه سړی چه ځان یې د زردشت سیوری معرفي کولو دې وخت کې ووېل:

"لدې ځایه مه لېرې کېږه! له مونږ سره پاتې شه! له مونږ سره پاتې شه! هسې نه چه پخوانۍ بدبختۍ او بېزاري د بیا پر مونږ راشي! دې بوډا ساحر تر اوسه د خپل یأس آیاتونه پر مونږ چوف کړي او وګورئ پاک سپېڅلی او نېک پاپ څرنګه له اوښکو ډکې سترګې همدا اوس د تشویش او اضطراب په سمندرکې لوېدلی دی.

واقعاً کېدای شي دا پاچاهان له مونږ سره په مصاحبت کې چالاقه قیافې وساتي ځکه دوی له ټولو ډېر پوهېږي چه څرنګه د نورو په حضورکې خپل باطن پټ وساتي. اما که چېرې څوک د دوی د کتو شاهد نه وای مطمئن وم چه زمونږ په حال اخته کېدل او موحشه لوبه یې له سره نوې پیلوله.

اې زردشته له مونږ سره پاتې شه! دلته ډېره بېچاره د مناسب فرصت په لټه کې ده تر څو وجود یې اظهار کړي. شپه، ورېځ او مړه خفه هوا دلته پیداکېږي. تا مونږ د قوي غذا او قدرت ښښونکي وینا لپاره ډوډۍ ته دعوت کړي یو. مه پرېږده چه له ډوډۍ وروسته د خوږې مېوې په ځای بیا زوړ او ښځینه روح په مونږکې نفوذ وکړي.

ته یواځېنی کس یې چه د خپل چاپېر هوا پاکه او سپېڅلې کوې. ما د ځمکې په هېڅ ځای کې داسې لطیفه هوا نده لیدلې لکه ستا په سومڅ کې چه ستا په شتون کې وي. ما ډېر اقلیمونه لیدلي او د پوزو سوریو مې د ډول ډول هوا پرتله کول او سنجول زده کړي دي اما دلته تا ته نیږدې تر ټولو لوی خوندونه مې د پوزو سوري څکي.

بغیر له پخوانۍ خاطرې ما وبښئ! ما وبښئ که چېرې هغه پخوانۍ سندر ووایم چه مخکې مې یو ځل د صحرا د لوږو په منځ کې ویلې ده! ځکه د هغوی په منځ کې هم دا ډول لطیفه او سپېڅلې شرقي هوا تنفس کېدله. هلته زه له لرغونې او بارانې ورېځې ډکې اروپا څخه ډېر ټنبل وم! هغه وخت شرقي پېغلو او آبي آسمانونو چه په ورېځ یا افکارو یې ځانونه نیولي وو مینه مې ورسره درلوده.

تاسو نه پوهېږئ کله چه هغوی نه رقصېدلې څومره ټنبلې عمیقې اما بې فکره لکه کوچیني اسرار او صحرایي منګېلي کښېناستلې. هغوی ځلانده عجیبې اما بې ورېځې هغو معماوو ته ورته وې چه لوستل او حل کول یې ممکن نه وي. کېدلی شي د دې پېغلو د محفوظولو لپاره ما وروسته له ماښامي سندره جوړه کړې وي."

سرګردانه سړي چه ځان یې د زردشت سیوری معرفي کولوکله یې چه دا خبرې وکړې مخکې لدې چه بل چا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته د څواب فرصت ورکړي د بوډا کوډګر لاس يې ونيو او ډېر آرام او عالمانه يې وکتل. د استفهام او تأخير په علامې سره يې هوا د هغه کس پشان تنفس کوله لکه چه د بېګانه ځمکو څخه راغلی وي او وروسته يې پدې سندر ويلو پيل وکړ:

۲

صحرا پراختيا مومي، افسوس د هغه چا په حال چه په باطن کې صحرا لري!
په بشپړ وقار او عظمت سره
او په دېر مناسب ډول
په افريقايي متانت او وقار
چه ورړ يې يو زمری
يا شادي ده چه اخلاق په نعرې سره تدريسوي
اما ستاسو لپاره
اې ګرانو پېغلو په پښوکې مو
چه زه لومړنی اروپايی يم

د خرما لاندې مې د ناستې اجازه موندلې
دا ځومره اهميت لري! سلام!

واقعا عجيبه ده!
اوس دلته زه صحرا ته نيږدې
پدې ټولو سربېره له دوی لېرې کښېنم.
پداسې حال کې چه له هېڅه مې صدمه نده ليدلې
ځکه زه د دې کوچينيو ابادېو په وسيله خوړل شوی يم.
همدا شيبه هغې ښکلې خوله
کوچينۍ او معطره خوله خلاصه کړې
او زه پکې داخل شوی يم او د هغې له منځه
ښکته تللی يم او ستاسو منځ ته
اې ګرانو پېغلو راغلی يم، سلام!

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هغه نهنګ د ډېر درود او ثنا وي
چه دومره په ښه ډول د خپل مېلمه چوپړ کوي!
آيا تاسو زما کنايې ته متوجه کېږئ؟
د هغه په خېټه دې درود او ثنا وي
اوکه چېرې هغه هم
پدې ډول يوه خوندوره آبادي وي
که څه هم زه پدې اړه شکمن يم
ځکه له اروپا راغلی يم ـ او له همدې امله تل
د يوې بوډۍ ښځې څخه ډېر
شک او ترديد ته حاضر يم
خدای د دا کار اصلاح کړي، آمين!

نو زه پدې ځای کې
پدې کوچينۍ آبادۍ کې
لکه قهوه يي خرما، خوږه او زرينه
غوښنو او پېغلو شونډو ته
د باکره غانښونو پشان د چک لګولو په هيله
لکه سوړ يخ او سپينه واوره تېز ور ته کښېنم
هو، د همدې ځيزونو لپاره د ټولوګرمو خرماوو روح الوت کوي. سلام!

زه هم د دې جنوبي مېوو پشان
(بشپړ هغوی ته ورته)
دلته اوږد غځېدلی يم، پداسې حال کې چه چاپېر مې
کوچينيو وزر لرونکې ګونګټې يو له بل سره
لوبې کوي او په غوښتنو
اوکوچينيو هيلو سره په بې عقلۍ اوګناه سره ځانته خوشحاله دي.
او ستاسو په وسيله اې پېغلو چه لکه د پيشوګانو پشان ځلانده، نازي، چوپې او احساساتي ياست، ستاسو په واسطه،
اې زليخا او اې دو دو احاطه شوی يم

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته زه ناست یم او تر ټولو غوره هوا تنفس کوم
واقعا سپکه او روښانه هوا
داسې هوا چه له هغې غوره هېڅکله
له آسمانه نده راغلې تنفس کوم
کېدای شي دا اتفاقي وي
یا دګستاخۍ له امله لکه څنګه چه زمونږ پخوانیو شعراوو ویلي دي؟
اما زه مشکوک پدې هم شکمن یم
ځکه له اروپا راغلی یم.
او له همدې امله تل له بوډا ښځو څخه ډېر
شک کولو ته حاضر یم
خدای د دا کار اصلاح کړي! آمین

پداسې حال کې چه زه دا هواوې تنفس کوم
زما د پوزو سوري د چلبازانو د پیالو پشان لوییږي
او بې د راتلونکې او پخوا په اړه د فکره
دلته اې ګرانو پیغلوکښېنم
او دې خرما ونو ته ګورم
چه د رقاصې پشان ټیټیږي
او ښکته پورته کیږي او ملا ګډوي
تر څو چه انسان پس له وخته ورته وګوري
او خپله هم له دوی تقلید وکړي
دا خرما ونه زما په نظر لکه رقاصه داسې ده
چه د اوږد او خطرناک وخت لپاره
تل په یوه پښه دربدلې ده
پداسې ډول چه بله پښه یې په بشپړ ډول هېره کړې وي
په هر صورت ما بې ځایه هڅه وکړه
دا جواهر ډوله ورکه شوې پښه
په سپېڅلې محوطه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر ښکلي او مینه ناک
کالي چه د لاندې لړزېږي او باد یې وهي پیدا کړم
هو، اې زما ښکلو دوستانو
باور وکړئ چه هغې
دا بله پښه په بشپړ ډول له لاسه ورکړې وه
هغه بله پښه یې
د ابد لپاره له لاسه تللې وه
ورکه شوې وه.
حیف! هغه بله پښه نوره له منځه تللې وه.
اوس به هغه بله یوائې او منفرده پښه
په غمګین او هېر شوي حال کې چېرې وي؟
شاید د زمري له ډاره
په فرارکې وي؟ یا کېدای شي
همدا اوس په وحشیانه ډول سره خوړل شوې وي! سلام.

اخ، ژاړئ مه!
هو لطیفو او نازکو زړونو
ژړا مه کوئ!
او خوږ زړونو او له زمري ډکو سینو
او اې د زړونو دعاوو
له خوږو ډکو
ژړا مه کوئ
او رنګ الوتیه دوده
نر اوسه اې زلیخا! شجاع اوسه! شجاع!
یا کېدای شي ته یو شربت
د زړه قوي کېدو لپاره؟
یو مقدسه ایه؟
یا یو مناسب تشویق وي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

هو!
پورته راشه!
اې سنګينۍ او متانته
او متقي وقاره! اې اروپايي وقاره!
ولګېږه او بيا ولګېږه
او د تقوا دمونو
بيا چوفېږئ
او خپلې اخلاقي نعرې
لکه د يو زمري اخلاق
د صحرا د لوڼو په مقابل کې بهرکړئ
ځکه د تقوا نعره
اې د صحرا لوڼو
له هر شي زياته
اروپايي شهوت او طمع ده.
او دلته د يو اروپايي په بڼه
درېدلی يم
او بل کار نشم کولی. له همدې امله د خدای راسره مرسته وکړي!
آمين!
دښته پراختيا مومي، افسوس د هغه چا په حال چه پخپل باطن کې صحراوې لري.

**ويښتوب:**

وروسته د سرګردان سړي له خبرو چه ځانته يې سيوری وېل سومڅ د مېلمنو له خبرو او خنداګانو ډکه شوه حتی خر هم تشويق شو او چوپتيا يې ماته کړه. زردشت ناڅاپه پخپل باطن کې په مېلمنو باندې تمسخر وکړ او پرې ويې خندل اما دا چه هغوی ټول خوښ وو نوموړي فکر وکړ چه د شفا او ښه توب نښې يې رارسېدونکې دي. له همدې امله له سومڅې په غله بهر شو آزادې هوا ته لاړ او خپلو حيواناتو ته يې داسې ووېل:
"د دوی غم او خفګان چېرته تللي دي؟" او وروسته لدې خفيف تنفر څخه يې اسوېلی وکړ او ووېل: "داسې ښکاري چه دوی زما په کور کې د زاريوکول هېرکړي دي! که څه هم له بده مرغه تر اوسه يې په بشپړ ډول

(c) ketabton.com: The Digital Library

فریادکول ندي هېرکړي!" زردشت غوږ شو ځکه په همدې وخت کې د خره عر عر په ډېر عجیب ډول سره د عالي خلکو په خوشحالۍ او خندا کې ګډ اوربدل کېدا.

او نوموړي یو ځل بیا ځانته ووېل: "هغوی خوشحال دي او څوک څه پوهېږي؟ کېدی شي خوښي یې د کوربه په خرڅ وي؟ اوکه چېرې یې له ما څخه د خندا ډول زده کړی وي باید ووایم چه تر دې دمه یې زما پشان خندل ندي زده کړي.

اما څه اهمیت لري! هغوی پخواني خلک دي پخپل ډول به روغ شي او پخپله طریقه به وخاندي. زما غوږونو پخوا لدې څخه بد رنځونه زغملي او هېڅکله ندي ستړي شوي. نن د بوډاتوب ورځ ده. د روح ثقل زما اصلي دوښمن د ښتې ته تګ په حال کې دی او همدا شېبه یې پښې فرار ته تیارې کړېدي. دا ورځ چه دومره بده پیل شوې وه څومره به ښه پای ته ورسیږي!

په ریښتیا ورځ پایته رسیږي او همدا شپه دا غوره سپور د سمندر په سطحه ځي او مخکې راځي! وګورئ هغه څنګه په توان سره ځي، ځي او په ارغواني رنګه زین سره دکور په طرف راتلونکی دی! آسمان صاف دی او نړۍ عمیقه؛ اې عجیبو خلکو چه زما په طرف راځئ! له ما سره د اوسیدو څخه به اوس انعام تر لاسه کړئ."

زردشت داسې ووېل او بیا د عالي خلکو خندا او فریادونه د نوموړي غوږ ته راورسېدل او داسې یې ووېل: "هغوی زما د ډوډۍ په تمه ولاړ دي زما خوراک خپل کار په غوره توګه اجرا کړی دی او لدوی څخه هم د دوی دوښمن یعني د روح ثقل فرارکوي. اوس دوی له خپل ځانه سره خندل زده کړیدي، آیا سم اورم؟ زما نارینه غذا او قوي له مغزو ډکوکلمو خپل کار په ښه توګه تر سره کړی دی او ریښتیا کومه ډوډۍ مې چه دوی ته ورکړه بد خو نده سبزي نه وه. ما د جګړنو او فاتحانو په غذا سره په دوی کې نوې هیلې او غوښتنې ویښې کړېدي.

همدا شېبه د دوی په غړو او اندامونوکې هیله پو شوې او زړونه یې روښانه شویدي. هغوی نوې کلمې پیدا کوي او روحونه به یې ډېر زر بې خیالي استشناق کړي.

باید ووایم دا غذا د هغو ماشومانو او ښځو لپاره نده چه ژړاوې او زارۍ کوي، که بوډا وي که ځوان خو د دوی لپاره نده تیاره شوې. د دوی کولمې باید په بل ډول تحریک او راضي کړل شي او زه د دوی طبیب او ښوونکی نه یم.

دا ستر خلک خپله کرکه له لاسه ورکوي او همدا زما بریا ده چه ډېره په ځای او موقع ده. دوی د خپل زړه عقدې خالي کوي او د خوښۍ ساعتونه بیا ورته راځي خوشحالیانې کوي. خپل واښه ژویي او منندوی کیږي. د دوی منندوی توب زه ډېرې غوره علامې ګڼم او ډېر وخت به تېر نشي چه دوی جشنونه ونیسي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پخوانیو خوښیو لپاره د یادونې بنسټونه جوړ کړي.
همدا اوس دوی د غوره توب په لوري دي."
زردشت په فوق العاده باطني خوشحالۍ سره دا کلمې وویل او لرې فضاګانو ته یې کتل حیوانات یې ورته نیږدې شول او د نوموړي خوښي او چوپتیا یې محترمه وګڼله.

۲

اما ناڅاپه د زردشت غوږ ودار شو ځکه په سومځ کې چه تر دې شېبو شور او غالمغال وو یو دم سخت چوپتیا خپره شوه او د کاج مېوې سوځېدو پشان معطر بوی ترې رابهر شو.
زردشت له ځانه وپوښتل: "دا څه شی دي؟ هغوی څه کوي؟" او دې وخت کې یې ځان په غله د سومڅې وره ته ورساوه تر څو وکولی شي پټ مېلمنو ته وګوري چه څه کوي. اما عجیبه وه! د نوموړي سترګو ډېر عجیب څیزونه ولیدل او ځانته یې وویل:
"دوی بیا ټول سپېڅلي شویدي او لمونځ کوي لېونیان شویدي." او فوق العاده حیران او تعجب شوی وو. په ریښتیا ټولو عالي خلکو: دوه پاچاهانو، بیکاره پاپ، شریرکوډګر، دواطلبه ګدا، سرګردانه سړی، سیوری، بوډا فالګیر، معنوي وجدان، او تر ټولو پست سړی لکه د ماشومانو او بوډا ښځو پشان متعقد په ګونډو شوي وو او د خره ستاینه یې کوله! په همدې شېبه کې تر ټولو پست سړي په لړزې پیل وکړه چه کوم نا ویلي څه به زر وایي اما بلآخره په خبرو راغی. عجیبه ده ټولې خبرې، مدحه، عجیبه او مقدسه ثنا یې د معطر خره د ستاینې په هکله وه او ستاینه یې دا ده:
آمین! خوښي، ویاړ، پوهه او احترام د تل او تر ابده زموږ په خدای وي!
او خره ځواب ورکړ: "هو! (عر عر یې کړل)"
هغه مار په اوږو ږدي او زموږ د چوپړ په بڼه راغلی دی. تل یې غم او غوصه تحمل کړې ده او هېڅکله (نه) نه وایي. او هر څوک چه له خپل خدای سره مینه لري هغه آزاروي.
او خره ځواب ورکړ: "هو! (عر عر یې کړل)"
هغه خبرې نه کوي اما تل هغې نړۍ ته هو وایي چه خپله یې خلق کېده او پدې ډول هغه جهان ستایي چه خپله یې پیدا کړی دی. نوموړی د خپلې هوښیارۍ له امله خبرې نه کوي او له همدې امله ډېره کمه اشتباه کوي.
خره ځواب ورکړ: "هو! (عر عر یې وکړل)"
هغه په مبدل لباس سره په نړۍ کې ګرځي او جامې یې ایرې رنګه دي. پدې ډول سره خپله تقوا سینګاروي اوکه چېرې پوهه لري هغه هم پټوي اما ټول یې په اوږدو غوږونو متعقد دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خره خواب ورکړ: "هو! (عر عر یې کړل)"
کوم غیبي عقل دی چه نوموړی هڅوي تر څو اورده غوږونه ولري او تل هو ووایي هېڅکله نه په ژبه رانه وړي؟ آیا نوموړي جهان پخپله بڼه یعني تر ټوله احمقانه ممکنه وجهه ندی پیدا کړی؟
او خره ځواب ورکړ: "هو! (عر عر یې وکړل)"
ته په سمه لار بې تفاوته کوږ ځې او هغه څه چه مونږ ته کاږه او سم ښکاري درته بې تفاوته دي. ستا ملکوت د ښو او بدو له عرصې زښته ډېر دي. ستا معصومیت پدې کې دی چه نه پوهېږې معصومیت او بې ګناه توب څه شی دي؟
او خره ځواب ورکړ: "هو! (عر عر یې کړه)"
وګورئ! ته هېڅوک له ځانه نه شړې که هغه پاچا وي که ګده. هغه ماشومان چه ستا لور ته راځي زغمې یې اوکله د چه ځوانان په سیخ وهي یواځې هو وایې!
خره ځواب ورکړ: "هو! (عر عر یې کړل)"
ستا خرې او تازه انځیرونه خوښېږي او له خوندورو څیزونو څخه د بد نه راځي او یو بوټی اغزي د هم د لوږې په وخت کې زړه تسخیروي. او پدې کارکې د ملکوتي عقل نغښتی دی.
او خره ځواب ورکړ: "هو! عر عر یې کړل"

## د خره جشن:

۱

پدې وخت کې د زردشت صبر د ستاینو په مقابل کې ختم شو او نوموړي هم د خر په شان عر عر پیل کړل او ځان یې د مېلمنو په منځ کې په لېونتوب واچاوه. پداسې حال کې چه لمونځ کوونکي یې له ځمکې جګول فریاد یې وکړ:
"تاسو د انسان زامن دلته څه کوئ؟ افسوس که بې له زردشته تاسو نور چا دلته لیدلي وای!
ځکه هغوکسانو به فورا فکرکړی وای چه ستاسو نوی مذهب د هماغو بدوکفارو مذهب او یا د احمقو بوډا ښځو مذهب دی!
او ته، اې بوډا پاپه! تا څرنګه ځان راضي کړ چه د خره پیروي د خدای په بڼه وکړې؟"
پاپ ځواب ورکړ: "اې زردشته! ما وبښه اما د خدای په هکله امورو کې زه له تا ډېر ښه یم او حق همدا دی چه داسې واوسي.
د خدای پیروي که دا ډول وهم وي په نه ستایلو ترجیح لري. اې زما ګرانه دوسته دې خبرې ته غوږ شه! ته به ډېر زر وګورې چه پدې خبره کې ډېر منطق پټ دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه کس چه ووېل: "خدای روح دی"، د بې اعتقادۍ په عرصه کې یې تر ټولو لوی ګام واخیست او د هغه خبره به په ځمکه کې ډېره په سختۍ هېره شي. زما بوډا زړه الوت کوي او په خوښۍ هڅې کوي ځکه فکر کوم چه تر اوسه په ځمکه کې د عبادت کولو څیز شته. اې زردشته! دا د یو پاپ بوډا او سپېڅلي زړه ته وروبښه!"

زردشت سرګردانه سړي او سیوري ته ووېل: "او ته یې چه ځانته روشن فکره وایې؟ او پدې سربېره د دې ټولوکشیش لوبو او بت پرستیو ته اداه ورکړې، په تا څه شویدي؟
اې متدین شریره! په ریښتیا دا له هغه څه چه تا له قهوه یي رنګه پېغلو سره کړي په مراتبو بد دي."
سرګردانه سړي او سیوري ووېل: "دا چه ته وایې داکار ډېر بد دی. اما څه کولی شو؟ اې زردشته ته که هر څه وایې ووایه اما پخوانی خدای ژوندی شویدی. تقصیر د زشت سړي دی. نوموړی هغه څوک دی چه قدیمي خدای یې بیا راجګ کړ اوکه چېرې نوموړی ووایي چه خدای یې وژلی دی مرګ تل د خدایانو په نفع دی."

زردشت ووېل: "او ته اې بوډا او شریرکوډګره! تا څه کړي؟ کله چه ته پدې ډول احمقانه خدای متعقدکېږې پدې آزاد عصرکې به څوک په تا ایمان راوړي. داکار ستا پشان یوکس ته حماقت دی. ته چه یو زیرک کس یې څرنګه د دا ډول حماقت قبول کړ؟"
زیرک کوډګر ځواب ورکړ: "اې زردشته! ته سم وایې؛ زما داکار حماقت دی. پدې سربېره ما هغه دنده ستونزمنه وموندله."

زردشت معنوي وجدان ته ووېل: "او حتی ته! صحیح فکر وکړه! آیا پدې اطاعت او عبادت کې هېڅ شی ستا د وجدان سره مخالفت نه لري؟ آیا ستا شعور لدې څخه سپېڅلی ندی چه د دې ډول څیز بندګي او عبادت کوې؟"
معنوي وجدان ځواب ورکړ: "پدې منظره کې داسې څه شته چه حتی زما وجدان هم راضي کوي.
کېدی شي زه په خدای باور ونلرم خوکوم څیز چه محقق دي دا دي چه زه خدای پدې ډول سره له بل هر انځور غوره موومم. خدای د ډېرو سپېڅلو افرادو د شهادت له امله همېشنی دی. هغه کس چه ډېر وخت په اختیارکې لري بېړه هم نلري. پدې اساس تر هر ځایه چه ممکن دی بې عقل او چټل به مخکې لاړ شي او پدې همدې ډول سره به مخکې هم لاړ شي. هغه کس چه د بلا هوش درلودونکی دی کېدی شي د حماقت او بې عقلۍ مسحور شي. اې زردشته خپل ځان په نظرکې راوړه! واقعا ته هم کېدی شي د ډېر عقل له امله خر شې! آیا یو عاقل سړی نه خوښوي چه له کږو او غیر مستقیمو لارو څخه ځان مقصد ته ورسوي؟
مشهودات مونږ ته دا ډول تعلیم راکوي، اې زردشته حتی ته هم د دې ادعا لیدونکی یې!."

(c) ketabton.com: The Digital Library

زردشت په داسې حال کې چه تر ټولو زشت سړی تر اوسه په ځمکه پروت وو او لاسونه يې خره ته اوږده کړي وو (ځکه خره ورته د ځښلو شراب ورکول) ورته متوجه شو او ووېل:

"او بلآخره اې د بيان نه وړ انسانه، ته ووايه پدې ځای کې پدې حال څه کوې؟ ګورم چه بڼې د تغير موندلی، سترګې د ځليږي او د روحانيت زشته چپن دې پوښي. تا څه کړي دي؟ آيا هغه څه چه دوی وايي حقيقت لري چه راجګ کړی؟ او ولې؟ آيا هغه يې نه وو وژلی او په دليل سره يې له منځه نه وو وړی؟

داسې ښکاري چه آخرت د موندلی او ويښ شوی يې! ولې بدل شوې؟ ولې د مسلک ته تغير ورکړ؟ اې د وصف نه وړ انسان خبرې وکړه!"

تر ټولو پست سړي ځواب ورکړ: "اې زردشته ته يو رذيل او بې ګټې انسان يې! زه دا له تا پوښتم چه آيا هغه ژوندی ووکه بيا ژوندی شوی او يا بشپړ مړ دی؟ له مونږ دواړو څوک ښه پوهيږي؟ اما اې زردشته زه په يو څه پوهيږم او هغه مې له تا زده کړي دي: "هغه کس چه غواړي په بشپړ ډول سره وژل وکړي خاندي." تا يو ځل ووېل چه په خندا وژل کړي نه په غوصه!

اې زردشته، اې له رازونو ډک انسانه، اې بې غوصې خرابوونکيه! او سپېځلی خطرناک انسانه ته رذيل او مکارکس يې!"

## ۲

پدې وخت کې داسې پېښه وشوه چه زردشت د نامربوطو ځوابونو څه برخه نه وه اورېدلې يو ځل بيا متحير د سومځې وره ته لاړ او پداسې حال کې چه مخ يې ټولو مېلمنو ته کړ فرياد يې وکړ:

"اې د مجتمع ټوکمارانو اې مسخره کوونکو ولې پدې ځای کې له يو بله بېليږئ او ځانونه له ما پټوئ؟

ولې د هر يوه زړه د خوشحالۍ او شرارت له امله په هيجان راغلي او نوي د مقدسو ماشومانو پشان سپېځلي شوي ياست؟

بلآخره مو د ماشومانو د رفتار ډول موندلی دی يعني لمونځ کوئ او لاسونه يو له بل سره متصل کوئ او واياست: "اې ګرانه خدايه!"

اما اوس دا د شيدو خوړو ځای چه نن مو هر ډول ماشومانه د عمل آزادۍ پکې لرلې ما ته پرېږدئ! له سومځې بهر خپله ګرمه او خوشبينه ماشومانه غوغا او د زړه آرام سوړ کړئ!

واقعا تر څو چه تاسو د کوچينيو ماشومانو په بڼه نشئ د آسمانونو جهان ته به داخل نه شئ." او زردشت پورته ځای په لاس سره نښه کړ. اما مونږ نه غواړو د آسمان ملکوت ته داخل شو. مونږ مړه شوي يو او پدې اساس غواړو د ځمکې جهان ته داخل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۳

مجددا زردشت په خبرو پیل وکړ او ووېل: "اې دوستانو زه نوی یم، اې عجیب او عالي خلکو! دا چه تاسو اوس یو ځل بیا خوښ او خوشحاله شوي یاست څومره مو زه خوښ کړی یم! په ریښتیا ټول د غوټیو پشان خلاص شوي یاست. داسې ښکاري چه ستاسو پشان ګلونو ته نوي جشنونه لازم دي.

تاسو بې ځایه چټیاتو، یوه الوهي لمانځه، د یو خره جشن، یوه بوډا او خوښ د زردشت پشان سړي او یو خدایي سړي ته چه ستاسو روحونه خوښ او خوشحال کړي اړتیا لرئ.

اې سترو خلکو، هېڅکله دا شپه او د خره جشن مه هېروئ! تاسو هغه زما په کور کې برابر کړی دی او زه یې په نېک فال نیسم. څکه دا ډول جشنونه یواځې د شفا موندونکي په وسیله اختراع کیږي! اوکه چیرې تاسو بیا دا د خره جشن جوړ کړئ د ځان لپاره د عشق په خاطر او خاص زما د عشق په خاطر په یاد لرئ!"

**مستانه سندر:**

پدې وخت کې ټول مېلمانه یو پر بل پسې له سومڅې بهر په ازاده هوا او یخه شپه کې په فکر کې ډوب شول او خپله زردشت هم د پست سړي لاس ونیو او هغه ته یې له سومڅې بهر لارښوونې کولې تر څو نوموړي ته په شپه کې لویه ګرده سپوږمۍ او نقره یي رنګه ابشارونه وښایي. بلآخره دواړه د یو وخت لپاره چوپ ودرېدل، ټول زاړه وو مګر د ټولو زړونه لدې امله تسکین، متحیر او متعجب وو چه د ځمکې اوضاع یې په غوره توګه درک کولی شوای. اما د شپې اسرار په تدریج سره د دوی زړونو ته نیږدې او یو ناځاپه زردشت له ځانه سره ووېل: "اه دې عالي خلکو زه څومره محفوظ کړی یم!" اما دا یې په لوړ غږ ونه وېل ځکه د دوی سعادت او چوپتیا یې غوره ګڼله. پدې وخت کې د هغې ورځې عجیب او نه بشپړېدونکې پېښه رامنځته شوه. تر ټولو پست سړي نوې او دا ځل د اخري ځل لپاره په زمزمه او غر غرکولو پیل وکړ. کله یې چه بلآخره کاملې سپېڅلې کلمې وموندې له خولې یې بهر کړې، یو غوره، عمیق او روښانه سوال چه د ټولو اورېدونکو غوږونه یې ولړزول مطرح یې کړ.

تر ټولو پست سړي وپوښتل: "اې زما دوستانو تاسو څه فکرکوئ؟ زه خو د لومړي ځل لپاره خاص پدې ورځ له ژونده راضي یم. کېدای شي پدې ټولو پېښو سره ما ته یواځې پاتې کېدل مناسب نه وي. په ځمکه ژوند کول ارزښت لري، له زردشت سره مې چه یو جشن او یوه ورځ تېره کړه ما ته یې له ځمکې سره مینه رازده کړه. زه به مرګ ته ووایم: "آیا د ژوند معنی دا وه؟ که چېرې داسې وي بیا یې غوښتونکی یم."

ملګرو! تاسو څه فکرکوئ؟ آیا تاسو به هم زما پشان مړینې ته ونه وایاست: آیا د ژوند مفهوم همدا دی؟ که چېرې داسې وي د زردشت پخاطر یې بیا غوښتونکي یو؟"

پست سړي داسې ووېل اما تقریب نیم ساعت نیمې شپې ته نیږدې وو څه فکرکوئ پدې وخت کې څه پېښه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وشوه؟ عالي خلکو تر دې دمه دا سوال نه وو اورېدلی چه یو دم یې د ماهیت په تغیروولو سره د هغه کس په طرف منډه کړه چه دوی ته یې شفا او دا ډالۍ عطا کړې وه، د زردشت په طرف یې منډې کړې او له نوموړي څخه یې مننه وکړه، تکریم یې کړ او احترامانه یې لاسونه پرې ښکل کړل. ځینو ژړل او ځینو خندل او هر یوه پخپل ډول له نوموړي مننه وکړه.

اما بوډا فالګیر د خوښۍ له امله رقص کولو او حتی ځینې راویانو فکرکړی چه نوموړي زیات شراب څښلي او مست وو، باید ووایو چه نوموړی حقیقتا په ژوند مست وو او ټولې ستړیاوې او ملامتۍ یې له ځانه لېرې کړې وې. ځینې روایت کوي چه خر هم ګډا کوله ځکه پست سړي (لکه څنګه چه ویل کیږي) بې ځایه هغه ته شراب ورکړي وو. کېدای شي د هغې شپې اوضاع داسې وي اوکه چېرې په ریښتیا خر په هغه شپه ګډا نه وي کړې لدې لوېې او عجیبې معجزې هم پېښې شوېدي. په خلاصه ډول د زردشت په خبره: "څه توپیر کوي؟"

۲

اما کله چه پست سړي داسې رفتار وکړ زردشت د هغه کس په شان ولاړ پاتې شو چه د بادې له امله مست شوی وي او پداسې حال کې چه سترګې یې وچې، ژبه یې درېدلې او پښې یې لړزېدلې. او څوک شته چه پدې حال کې د هغه افکارو په اړه فکر وکړي چه په فکرکې یې وې. اما داسې ښکارېده چه د نوموړي روح په شاتګ کړی و او لېرې سیمو ته تښتېدلی وو. د نوموړي روح د درنې وریځې پشان شوی وو چه په غونډیو تکیه کوي او د دوه سیندونو یعني پخوا او راتلونکې په منځ کې حرکت کوي.
اما لږ وروسته په داسې حال کې چه عالي خلکو زردشت په خپلو لاسونوکې واخیست نوموړی تر یو حده په هوش راغی او په لاسونو سره یې دا مؤدب او مضطرف جمیعت له ځانه لېرې کړ. اما تر دې دمه یې خبرې نه کولې او ناڅاپه یې په تېزۍ سره سر راوګرځاوه ځکه داسې ښکارېده چه کوم څه اوري: هغه وخت یې ګوته په شونډو کېښوده او وویل: "راشه!"

فورا وېروونکې چوپتیا محیط په سر واخیست اما د هغې ځای له عمقه ناڅاپه زنګې غبر تر غوږ شو. زردشت همدې غبر ته غوږ شو او عالي خلکو هم داسې وکړل. هغه وخت نوموړي بیا ګوته په شونډو کېښوده او وویلک "راشه! راشه! تقریبا نیمه شپه ده!" او غبر یې تغیر وکړ اما اوس هم نه خوځېدا او د محیط سکوت نور هم سنګین او له اسراره ډک شو. ټولو حتی خره او د زردشت د احترام وړ حیوانات یعني مار او عقاب هم غوږ وو اما زردشت د دریم ځل لپاره ګوته په شونډو ونیوه او وویل: "راشه! راشه! راشئ چه لاړ شو! وختي دی راځئ چه د شپې داخل ته لاړ شو!"

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳

اې عالي خلکو نيمه شپه رانيږدې ده! اوس زه ستاسو په غوږونوکې هماغه شان خبرې کوم کوم چه زنګ يې زما په غوږکې په اسرار، موحش او صميمي ډول سره وايي او دا د نيمې شپې زنګ تقريبا د نړۍ هر فرد ليدلی دی او وختونه کيږي چه ستاسو د پلرونو د زړه ضربانونه يې شمېرلي دي. داسې وايم: "اخ! اخ! وګورئ! همدا اوس په سړه هوا پداسې حال کې چه ستاسو د زړونو شور او غوغا بشپړ آرام شويدي هغه مجلس کوي. اوس هغه اورېدلی شئ، اوس هغه په غله د ژوندۍ شپې روحونو ته داخليږي.
اخ! وګورئ نيمه شپه څرنګه اسويلي کاږي او څرنګه د خوب په نړۍ کې خاندي! نه اورې دا نيمه شپه څومره په اسرار، موحش، صميمانه او عميق ډول سره تا ته وايي: "اې سړيه! د ځان مراقب اوسه!"

۴

افسوس! وخت چېرې تښتېدلی دی؟ آيا زه په عميقو څاګانوکې نه يم لوېدلی؟ نړۍ ويده شوېده. اخ! اخ! سپې زګېروی کوي او سپوږمۍ ځليږي. غوره ګڼم مړ شم هو مړ شم او تاسو ته ونه وايم چه زما د نيمې شپې زړه څه اندي!
همدا شېبه زه مړ يم. ټول څيزونه پای ته رسېدلي دي. اې غڼې ولې زما په مخ تار اچوې؟
آيا ته وينه ورکوې؟ اه! آه! شبنم راتوييږي، وخت رارسېدلی دی. هغه ساعت چه زه پکې لړزيږم او منجمد کيږم، هغه ساعت چه تپوس کوي او پوښتي: "څوک شته چه په بشپړه اندازه بې پروا وي؟ څوک غواړي د جهان څښتن شي؟ څوک شته چه ووايي: "پدې ډول بايد اې کوچينيو او لويو ويالو بايد تاسو جاري شئ!"
هماغه پخوانی وخت رانيږدې کيږي اې عالي سړيه ته د ځان مواظب او هوښيار اوسه! دا خبر ستا له غوږو څخه د تيزو او دقيقو غوږونو لپاره ده. واقعا عميقه نيمه شپه څه وايي؟

۵

زه له ځانه بې خوده شوی يم او روح مې رقص کوي. دا زما ورځنی کار دی. څوک بايد د ځمکې دکرې څښتن شي؟ مياشت سړه ده او باد نه لګيږي. اخ! اخ! آيا تاسو په کافي اندازه پورته الوتي ياست؟ تاسو ګډېدلي ياست اما تر اوسه پښې لرئ نه وزرا!
اې عالي رقاصانو! همدا شېبه ټولې خوښۍ ستاسو په لاس کې دي. شرابونه له درده ډک، جامونه مات شوي او هديرې ژاړي. تاسې په کافي اندازه روح ندی اخيستی. اوس هديرې ژاړي، مړي راژوندي کړئ! دا شپه ولې دومره لوږه ده؟ آيا سپوږمۍ مونږ ټول نه مست کوي؟
اې عالي خلکو تاسو هديرې رالوڅې کړې او جسدونه راوکاږئ! ولې چنجيان تر اوسه ژوول کوي؟ ټاکل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوی وخت له مخکې ډېر رانیږدې کیږي.
زنګ په غبر راغلی، زړه لړزیږي او د زړه چنجیان تر دې دمه په ژوولو بوخت دي. اخ! نړۍ څومره عمیقه ده!

۶

اې زړه وړونکیه ربابه! اې زړه وړونکیه ربابه! ستا دا سندر چه لکه څرموښکۍ مسته ده ډېره مې خوښیږي.
له څومره کلونو او څه اوږدو فاصلو څخه ستا دا سندر ما ته رارسیږي؟ آیا له لېرې سیمو او د عشق له سیندونو ستا دا سندر راځګیږي؟
اې قدیمي زنګه! اې زړه وړونکیه ربابه! ستا د پلرونو، د هغوی د پلرونو او نیکونو غم ستا زړه زخم کړی دی او ستا خبرې لکه زرین خزان، او ماسپښین داسې د منزویانو د زړونو پشان پاخه توب ته رسېدلې او ته وایې:
"نړۍ خپل ځانته رسیږي او انګور رنګ تویوي! جهان غواړي د خوښۍ او نېکبختۍ له امله مړ او نابود شي.
اې سترو خلکو آیا تاسو دا استشمام کولی شئ؟ له هغې څخه د اسراره ډک بوی جګیږي.
یو بوی او همېشني عطر، د سرو شرابو بوی او زرینې پخوانۍ نېکبختۍ بوی تر پوزوکیږي. د نیمې شپې او مرګ له امله مست سعات داسې زمزمې کوي: "جهان له هغې ډېر عمیق دی چه فکر یې کولی شوا!"

۷

لېرې شه! ایسته شه! زه ستا لپاره ډېر پاک یم! ما مه لمس کوه! آیا زما جهان همدا اوس ندی بشپړ شوی؟
زما د بدن پوست ستا د لاسونو لپاره ډېر پاک دی. اې سنګینې او احمقې ورځې ما پرېږده! آیا نیمه شپه له تا څخه روښانه نده؟
تر ټولو پاک او سپېڅلي خلک به د جهان څښتن شي. د نیمې شپې ناپېژانده او قوي ارواګانې چه له هرې مخکېنۍ ورځې روښانه دي د ځمکې دکرې څښتنې به شي.
اې ځمکه ته ما په احتیاط احتیاط سره لټوې؟ ته زما په سعادت پسې په احتیاط احتیاط راځې؟ ستا لپار زه لکه یوه غني منزوي او له زرو څخه ډکه خزانه یم؟ اې نړۍ! ته ما غواړې؟ آیا ته ما ته د دې جهان تصور کوې؟ آیا ته ما ته د روحاني فکرکوې؟ آیا ته ما رباني ګڼې؟ اما اې ورځې او نړۍ تاسو ډېر ناخیزه او نا ازمویلي یاست! لدې غوره ازمویل شوي لاسونه ولرئ او په عمیقه نېکبختۍ او بدبختۍ پسې وګرځئ. د هر خدای په لور چه ځئ اما زما به لور مه راځئ!
اې عجیبې ورځې! زما بدبختي او سعادت عمیق دي اما پدې ټولو سره زه خدای نه یم او دوزخ زما خدای هم ندی. څومره عمیق دی د هغه غم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸

اې عجيب جهانه! د خدای غم ډېر عميق دی. د خدای په غم پسې لاړ شه نه په ما پسې! زه څه يم؟ يو مست او زړه وړونکی رباب؛ يو د نيمې شپې رباب او زنګ غبر لرونکې ځرموښکۍ چه هېڅوک نه پرې پوهېږي اما څوک بايد له کښو يعني اې عالي خلکو تاسو سره خبرې وکړي؟ ځکه تاسو زما په خبرو نه پوهېږئ.

اې ځوانۍ، اې غرمې، اې ماسپښينه، ټول تللي ياست! واړه تللي ياست! او همدا اوس ماښام، شپه او نيمه شپه رارسېدلې ده، سپی زګېري کوي او باد...

آيا باد خپله يو ډول سپی ندی؟ باد هم زګېروي کوي او عو عوکوي غپېږي. اخ دا نيمه شپه اسوېلي کوي او نفس کاږي! او دا مسته شاعره اوس څومره هوښيارانه خبرې کوي! کېدی شي له حده زياته يې خپله مستي څښلې وي! آيا هغه له حده د زيات مراقبت څخه ستړې شوېده؟ آيا هغه ګياه خوړونکې ده؟

دا عميقه او بوډا نيمه شپه د خپل خوب په نړۍ کې له هر څه زيات خپله خوښي خوري. ځکه که څه هم غم ممکن دی عميق وي اما خوښحالي له غمه عميقه ده.

۹

اې تاکه! ولې زما ستاينه کوې؟ آيا ته مې نه يې قطع کړی؟ زه بې رحمه او تيز زړی يم او همدا اوس له تا څخه وينې روانې دي، له مستانه بې رحمۍ څخه ستا مفهوم او تعريف څه دی؟

ته وايې: "هر څه کمال موندلی او هغه چه رسېدلی مرګ غواړي او د تاک اېښودونکي په چاقو رحمت وايي اما هغه څه چه نارسه دي ژوند غواړي. افسوس!"

غم وايي: "لدې ځايه لېرې شه. اې غمه!" اما هغه کسان چه رنځېږي غواړي ژوند وکړي تر څو وکولی شي له ځانه لېرې، لوړو او روښانه ځايونو ته ورسيږي.

ټول هغه چه رنځېږي وايي: "مونږ د ځان لپاره ځايناستي غواړو، مونږ زامن غواړو، مونږ ځانونه نه غواړو. اما خوښي ځايناستی او زوی نه غواړي. خوښي ځان او ابديت او بېرته راتلنه غواړي او تل په هغه بڼه ارزوکوي په کومه چه ده.

غم وايي: "مات شه او وينه تويې کړه اې زړه! اې پښې په لار لاړه شه او اې وزره الوت وکړه! په مخ او جګ لاړ شه اې درده!" هغه وخت غم وايي: "اې زما بوډا زړه لدې ځايه لاړ شه!"

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰

اې عالي خلکو تاسو څه فکرکوئ؟ آیا زه پیغمبر یم؟ یا یو خیال وهونکی سړی یا یو مست یا یو د خوب تعبیرونکی یا یو د نیمې شپې زنګ یم؟ یا د یو شبنم څاڅکی یا یو نفس او د ابدیت عطر یم؟ آیا تاسو هغه نشئ استشمام کولی؟ آیا تاسو یې نه اورئ؟ همدا شېبه زما جهان بشپړ شویدی، نیمه شپه همداسې ده لکه غرمه.

درد هم خوښي ده، لعنت هم سعادت، شپه هم نور دی، لدې ځایه لېرې شئ! هسې نه پدې ټکي هم پوه شئ چه پوه سړی هم احمق دی! آیا تاسوکله هم خوښۍ ته هو ویلي دي؟ که چېرې داسې وي اې دوستانو تاسو ټولو غمونو ته هو ویلي دي ځکه ټول څیزونه په یو بل پورې مربوط دي، په یو بل متصل او یوه غېږه کې دي.

که چېرې تاسو یو ځل دوه ځله وغوښتل اوکه چېرې تاسو یو ځل ووېل چه: "اې سعادته، اې شېبې، اې زه له تا خوند اخلم." هغه وخت تاسو ټول هغه څیزونه غوښتي چه وروسته راتلونکي دي.

ټول څیزونو تجدیدېږي او همېشني دي. ټول څیزونه په یو بل مربوط، متصل او یوه غېږه کې دي. پدې صورت کې تاسو له جهان سره مینه درلودې ده.  پدې صورت کې مو اې جاوېدانو خلکو له نړۍ سره مینه کړېده او حتی کېدای شي تاسو هم ووایاست: "لدې ځایه لېرې شه! اما بیا راوګرځه ځکه خوښي د ابدیت غوښتونکې ده."

۱۱

ښادي تل د ټولو څیزونو د ابدیت غوښتونکې ده، د شاتو غوښتونکې، د شرابو د درد، د نیمې مستانه شپې، هدیرو، او همدارنګه د هدیرو په څنګ کې د اوښکو او ماښامنۍ طلا غوښتونکې ده.

څه شته چه خوښي ونه غواړي؟ هغه له هر غمه ډېره تږې، ګرمه، وږې، موحشه او له اسراره ډکه ده. هغه خپل ځان غواړي او له ځانه تغذیه کوي او حلقوي غوښتنې یې په باطن کې په هڅه کې دي. هغه مینه غواړي او د کرکې طلب کوي، هغه ډکه ده وېشل کوي او لېرې یې اچوي او التماس کوي چه ترې واخیستل شي او څوک چه کوم څه ترې واخلي مننه ترې کوي. دا چه دکرکې اوکینې وړګرځېدلی خوشحاله دی.

خوښي دومره غني ده چه د غم، جهنم، کینې، مغلوبانو، او دې نړۍ تږې ده. آیا تاسو پدې پوهېږئ؟

اې عالي خلکو ستاسو نامحدوده هیله منده خوښي او غم ماتې خوړونکي دي ځکه ابدي ښادي تل د ماتو آرزومنده ده او له همدې اساس تل غم لټوي. اې ښادۍ، اې رنځه، اې زړه، مات شه! اې عالي خلکو پدې پوه شئ چه ښادي د ابدیت غوښتونکې ده.

خوښي د ټولو څیزونو د ابدیت غوښتونکې ده هغه هم د ډېر ژور او عمیق ابدیت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



آیا تر اوسه مو زما سندر زده کړېده؟ آیا په مطلب مو يې فکرکړی دی؟ نو اې عالي خلکو جګ شئ د زردشت سرود زمزمه کړئ!
دا سرود چه نوم يې (بيا هم) او معني يې (د تل او ابد لپاره ده) ووایاست! اې عالي خلکو د زردشت سندر زمزمه کړئ!
اې بشره! ځان ساتئ
چه نیمه شپه واقعا څه وايي؟
"زه ویده وم. ویده وم
او ناڅاپه له عمیق خوبه ویښ شوم
نړۍ عمیقه ده
او له هغې ډېره عمیقه چه تصور يې کولای شئ!
غم يې عميق دی.
او خوښي يې له غمه ډېره عمیقه ده"
غم وايي: "لدې ځایه لاړ شه!"
اما خوښي ابدیت غواړي
هغه هم ژور او ډېر عميق ابدیت.

**نښانه:**

د بلې ورځې په سبا زردشت له خپله کټه جګ شو، لنګ يې وتړلو او له خپلې سومڅې څخه لکه سهارنی لمر چه ګهیځ ځلانده د غرونو له سرونو رابهرکيږي بېرون شو. تقریبا لکه څنګه يې چه پخوا ویلي وو ووېل:
"اې لویه ستوریه، اې د سعادت عمیقې چینې، هغوی چه همدا اوس نور ورقربانوې، که نه پرې ځلېدلی نېکبختي به د چېرته وه؟ اوکله چه ته ویښېدې او راتللې هغو ته د نور ور عطا کولی اما دوی پخپلو حجرو کې پاتېدلی پدې وخت کې به ستا مغرور شرم څومره غوصه کېدلا؟
دا عالي خلک تر اوسه ویده دي پداسې حال کې چه زه ویښ یم. دوی زما حقیقي ملګري ندي. د دوی لپاره زه په غرونوکې انتظار نه کوم. زه د خپل کار او خپلې ورځې لپاره انتظارکوم اما دوی زما دګهیځ نښانې نه درک کوي، زما قدمونه دوی له خوبه نه ویښوي. دوی تر اوسه زما په سومڅ کې ویده دي. خوب يې تر دې دمه زما له مستانه سرودونو څخه څښل کوي. داسې غوږ چه ما ته غوږ شي یعني مطیع او فرمانبردار غوږ د دوی په منځ کې نه پیدا کیږي."

(c) ketabton.com: The Digital Library

زردشت په زړه کې داسې ووېل چه لمر راجګ شو. پدې وخت کې نومړی آسمانونو ته ځير شو او په څه پسې يې کتل ځکه په سر يې د مرغه او عقاب غږ واورېد او فرياد يې وکړ: "ښه! دا مې خوښ شو او د همدې انتظار مې کولو ځکه زه ويښ يم او حيوانات مې هم ويښ دي.
زما عقاب ويښ دی او زما پشان د لمر احترام کوي. زما عقاب په منګلو سره تازه نور اخلي، تاسو زما واقعي ژوي ياست او زه درسره مينه لرم. اما تر دې دمه مې واقعي خلک ندي موندلي."
زردشت داسې ووېل.
پدې وخت کې يوه داسې پېښه وشوه لکه چه بې شمېره مرغانو يې چاپېر احاطه کړی وي او پخپلو وزرونو سره شور او فريادکوي اما د مرغانو د وزرونو وهلو غږ دومره د نوموړي په چاپېر زيات شو چه خپلې سترګې يې پټې کړې او رېښتيا دا مرغان د ورېځې په بڼه وو، د هغې ورېځې پشان چه د دوښمن غشو ويشتلو له امله جوړه شوې وي. اما وګورئ دا د مينې ورېځ وه چه د يو نوي ملګري په سر يې سيوری اچولو!

زردشت له ځانه سره ووېل: "په ما څه شويدي؟" او ځانته يې اجازه ورکړه چه په لويه تيږه خپلې سومڅې ته نيږدې کښېني. پداسې حال کې چه تر اوسه يې لاسونه خپل چاپېر ښکته پورته کول او مهربانه مرغانو ته يې کتل عجيبه پېښه پرې وشوه. ځکه لاس يې په ډېلو، ګرمو او خشنو وېښتانو ولګېد او په همدې وخت کې د زمري نرم د غرا غږ جګ شو.
او زردشت له ځانه سره ووېل: "دا زما نښه ده! او زړه يې مضطرب شو. او په رېښتيا څنګه يې چه سترګې خلاصې کړې په مخ کې يې لوی زېړ حيوان پداسې حال کې وليد چه د زيات محبت له امله په ګونډه وو او د سختې علاقې له امله د ده له څنګه نه لېرې کېدا. د هغه سپي پشان کړنې يې کولې چه له مودو وروسته يې خپل پخوانی ارباب بيا پيدا کړی وي. کوترې هم د نوموړي پر وړاندې په محبت څرګندولوکې له زمري کمې نه وې او هر ځل چه کوترې زمری د تېرېدو په حال کې لمس کولو زمري سر خوځولو او تعجب کېدلا خندل يې.

د دې صحنې له کتلو وروسته زردشت يواځې يوه جمله ووېله: "زما زامن ما ته نيږدې دي، ماشومان مې په څنګ کې دي." پدې وخت کې يې بيا چوپتيا غوره کړه او زړه يې اوبه شوی وو له سترګو يې اوښکې په لاسونو څڅېدلې او نور يې څه نه ليدل بې حرکته ناست وو او موجودات يې له ځانه نه شړل.
وروسته کوترې دې او هغه طرف ته والوتې او د نوموي په اوږو يې ځای ونيو او سپين وېښتان يې په شفقت سره لمس کړل او د مينې، خوښۍ له امله يې د ستړيا احساس نه کولو. اما قوي زمري پدې ټول جريان کې هغه اوښکې چه د زردشت په لاسونو څڅېدلې څټې او خجولانه غورېدا يې کوله. د حيواناتوکړنې داسې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې ټول وخت ډېر زيات يا کم وخت ونيو ځکه که حقيقت يې وغواړئ د دې ډول کارونو لپاره هېڅ وخت په ځمکه کې شتون نلري. اما په همدې وخت کې عالي خلک د زردشت په سومځ کې له خوبه ويښ شول او پلان يې جوړ کړ؛ ډله يې جوړه کړه چه په تشريفاتو سره د زردشت ملاقات ته لاړ شي او درود پرې ووايي. هغوی پخپله وينېدا سره پوه شول چه زردشت په سومځ کې نشته اما څنګه چه د سومځې وره ته ورسېدل د پښو غږ يې له ځانونو ډېر لاړ او زمری سخت غوصه ناک له زردشت مخ واړاوه او ناڅاپه په وحشيانه غورېدا سره د سومځې په طرف لاړ. عالي خلکو چه څنګه د غورېدا غږ واورېد د يو سړي پشان ټولو يو ځای فرياد وکړ او فورا غار ته وګرځېدل او ورک شول.

اما خپله زردشت هم متحير او تعجب شوی وو او له ځای يې جګ شو يو طرف او بل طرف ته يې وکتل او حيران پاتې شو له خپل زړه يې پوښتنې وکړې د څه وخت لپاره په فکرکې ډوب لاړ او ځان يې يواځې وموند بلآخره يې په آرامښت سره ځانته وويل: "دا څه وو چه ما واورېدل؟" او همدا اوس زما له سره څه تېر شول؟"

ډېر زر يې خاطرو نوموړي ته راوګرځېدې او په يوه شيبه کې په هغو ټولو پوه شو چه د پرون او نن په منځ کې تېر شوي وو. پداسې حال کې چه خپله بږيرې يې لمس کوله وويل: "واقعا دلته هماغه تيږه ده چه پرون زه پرې ناست وم. په همدې ځای کې فالګير ما ته راغی او په همدې ځای کې مې د لومړي ځل لپاره همدا فرياد وارېد، يعني د لويې زارۍ غږ مې غوږ ته ورسېد. اې عالي خلکو ستاسو اړتيا وه چه بوډا فالګير پرون ورځ ما ته وړاندوينې کولې. هغه ما ته وېل: "اې زردشته! زه د دې لپاره راغلی يم چه تا د خپلې اخرۍ ګناه په لور اغوا کړم. "او زردشت فرياد وکړ: "د اخرۍ ګناه په لور!" او په غوصې سره يې پخپله خبرو وخندل او وويل: "هغه څه وو چه د اخرۍ ګناه په عنوان له ما سره ذخيره شوي وو؟"

يو ځل بيا زردشت په خپل ځان کې ډوب شو او بيا د تيږې په مخ کښېناست او په فکرکې ډوب شو. ناڅاپه له ځايه جګ شو او فرياد يې وکړ: "ترحم! د عالي خلکو په وړاندې ترحم زما اخري ګناه ده." او مخ يې لکه وريژې زېړ شو وويل: "ځه! د هغې دوره هم تېره شوه."

زما رنځ او همدردي څه اهميت لري؟ مګر زه په سعادت پسې يم؟ نه! زه يواځې د خپل کار په فکرکې يم. جګ شه! زمری راغلی دی. زما ماشومان نيږدې شويدي. زردشت پوخ شوی دی. ټاکل شوی وخت رارسېدلی دی. دا زما ګهيځ دی! زما ورځ د طلوع په حال کې ده! په خوشحالۍ راشه اې لويې غرمې!"

زردشت داسې وويل او لکه سهارنی قوي ځلانده لمر چه ګهيځ د غرونو له تياره څټه راشي د خپلې سومځې څخه روان شو.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**